# امامت او مشري

**ټولنه مشر ته اړتیا لري که نه؟**

**(د قرآن عظیم الشأن، احادیثو، تاریخ، نقل او عقل په رڼا کې، مشر او مشرتوب)**

څېړونکی او له اسلامي سرچینو راټولونکی:
عزت الله حنیف

## بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې :
د کتاب نوم: امامت په اسلام کې
څېړونکی او له اسلامي سرچینو راټولونکی:
قاري عزت الله حنیف
د چاپ کال: ۱۳۹۱
شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

## فهرست

**فهرست** ........................................................................................ ۳

**له تاريخه د امامت چار ته د ورننووتو دريمځه**.....................................۲۵

**د امامت د بهير څلور پړاوونه** ............................................................ ۳۰

**امامت**..........................................................................................۳۳

**توحيد او امامت دوه سترې کلکې الهي کلا ګانې دي**...............................۳۴

**امام ته اړتيا**...................................................................................۳۵

**امام لارښود دی** ................................................................................۳٦

**امام بېلګه ده** ..................................................................................۳۷

**په ټولنه کې د بېلګو ونډه** ...................................................................۳۷

**د تاريخ پوه پانه** ..............................................................................۳۸

**په قيامت کې د امامت انعکاس**..............................................................۳۸

**واکمنان هم خلکو ته بېلګه دي** .............................................................۳۸

**امامت يا مشرتوب** ............................................................................۳۹

**د امامت نصوص** ..............................................................................٤۰

د اهل بيتو د مشرۍ د زباد دلايل..................................................................٤۰

**د اهلبیتو پر پاکلمنتوب نور دلایل ............................................ ٤٧**
**١-د ثقلینو حدیث................................................................................ ٤٧**
**٢-د بقرې سورت ١٢۴ آیت........................................................................ ٤٨**
**د نبي مکرم د خلفاوو شمېر ............................................................... ٥٠**
**د علي کرم الله وجهه د خلافت دلایل.................................................... ٥٣**
**د علي کرم الله وجهه خلافت ته نور دلایل............................................ ٥٦**
**د امامت موخې ......................................................................... ٦٨**
**د امامت نښې................................................................................. ٦٩**
**د حضرت پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم هڅې ....................... ٧٠**
**د یوې پوښتنې ځواب .............................................................. ٧٢**
**د حق پلي کولو ته هڅې او چغې وهل ............................................ ٧٢**
**امامت ته د امام صادق بلنه ..................................................... ٧٨**
**په شیعي فقهې دود د دین د احکامو تبلیغ ................................. ٨١**
**د پټو ایدیولوژیکو-سیاسي تشکیلاتو درلودل ............................... ٨٥**
**د امام ځانګړنې ....................................................................... ٨٧**
**عصمت ....................................................................................... ٨٧**
**پراخه سینه .................................................................................. ٨٧**

**عدالت..................................................................................88**

**له ځاني غوښتنو ډده کول...................................................88**

**مړانه.....................................................................................89**

**فضیلت او نېکه مخېنه ..........................................................89**

**د حکم بنسټ يې د خدای کتاب وي ....................................89**

**عطوفت او سیاست ...............................................................90**

**زهد او سادګي .....................................................................90**

**حق پلوی او حق پلي کوونکی وي.......................................90**

**په حق پلي کولو کې پرېکندتوب ........................................91**

**په چارو کې مخکښي ...........................................................91**

**بې تکلفه وي.........................................................................91**

**له خلکو سره ګوزاره ............................................................92**

**له تېر تاریخه خبر وي...........................................................93**

**د خلکو د ستونزو هوارول ....................................................93**

**صبر او پر خدای ایمان .........................................................93**

مادیات یې پر ځان بوخت نه کړي او اخلاص ولري ........................ ۹۳

په پوهه او وړتیا کې تر ټولو وړ وي............................................ ۹٤

له امتیاز غوښتنې ځان وژغوري ............................................ ۹٤

د اسلام د ګټو ساتل؛ نه د خپلو ګټو ............................................ ۹۵

د امام ټاکنه ............................................................ ۹۵

امام یوازې خدای ټاکي ............................................................ ۹٦

الهي انتصاب د حق لار ده ............................................................ ۹۸

د ابوعلي سینا بلخي وینا............................................................ ۹۹

پوښتنه او ځواب ............................................................ ۹۹

امام او د قدر په شپه کې د پرښتو راکېوتل ............................................ ۹۹

د امام او امت حقوق............................................................ ۱۰۰

د امت دنده............................................................ ۱۰۱

امامت او حج ............................................................ ۱۰۱

له امام څخه د لاروی اغیزې............................................................ ۱۰۲

واقعي یاران ............................................................ ۱۰۲

**دروغجن یاران** ........................................ ۱۰۳

**پر امامت د ظلم ډولونه** ........................................ ۱۰۳

**اقتصادي تېري**........................................ ۱۰٤

**فکري تېری** ........................................ ۱۰٤

**دروغ جوړول** ........................................ ۱۰٤

**تحریف او مخونه** ........................................ ۱۰٤

**فرهنګي ظلم** ........................................ ۱۰۵

**د پوه پر ځای ناپوه** ........................................ ۱۰۵

**پلمې او کینې** ........................................ ۱۰۵

**د حق وژنې او تېري پراخوالی**........................................ ۱۰٦

**د امامانو پر لارویانو تېري**........................................ ۱۰۷

**ډېری تېروتلي**........................................ ۱۰۷

**د شیعه و او اهل سنتو همغږي** ........................................ ۱۰۸

**منع شوې مشري** ........................................ ۱۰۸

**اهل بیت** ........................................ ۱۱۱

**اهل بیت څوک دي؟ ........................................ ۱۱۱**

**د کسا حدیث ........................................ ۱۱۱**

هره ورځ معرفي کول ........................................ ۱۱۲

**په لمانځه کې پر اهلبېتو درود ........................................ ۱۱۲**

**اولی الامر څوک دی؟ ........................................ ۱۱۲**

**اولی الامر دولس تنه دي ........................................ ۱۱٤**

**د دولس ګونو امامانو موخه یوه ده ........................................ ۱۱٤**

**مهدي اخر زمان ........................................ ۱۲۳**

**له کله د امامت بحث پیل شو؟ ........................................ ۱۳۰**

**د امام د شتون فلسفه ........................................ ۱۳۳**

**د امام ځانګړنې او شرایط ........................................ ۱۳۵**

**څوک امام ټاکي؟ ........................................ ۱۳۷**

**امامت په قرآن کې ........................................ ۱٤۱**

**امامت د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم په سنتو کې ........................................ ۱٤٦**

**د منزله او یوم الدار حدیثونه ........................................ ۱٤۸**

**د منزلت حدیث منځپانګه ........................................ ۱۵۰**

د یوم الدارحدیث.................................................. ۱۵۰

د ثقلین حدیث او د حضرت نوح بېړۍ................................ ۱۵۱

د ثقلین حدیث، د منځپانګې پاموړ خبرې .............................. ۱۵۲

د حضرت نوح د بېړۍ حدیث .......................................... ۱۵۳

دولس امامان........................................................ ۱۵٤

روایتونه: ............................................................۱۵٤

دولسم امام؛ حضرت امام مهدي ....................................... ۱۵۷

خطر او د ستر سمونپال راتګ......................................... ۱۵۷

عقلي دلایل: ......................................................... ۱۵۹

قرآن کریم او د امام مهدي راتګ...................................... ۱٦۱

امام مهدي، په احادیثو کې ........................................... ۱٦۱

امام مهدي، د شیعیانو په منابعو کې .................................. ۱٦۲

د امامت ماناوې او پړاوونه .......................................... ۱٦٤

د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم شئون .......................... ۱٦٦

د ټولنې د مشرۍ په مانا، د امامت مانا ................................. ۱٦۸

امامت، د دیني مرجعیت په مانا ...................................... ۱٦۸

امامت، د ولایت په مانا ........................................ ۱۷۱

د امامت په اړه یو حدیث ........................................ ۱۷۲

امامت په قرآن عظیم شان کې ........................................ ۱۷۵

تر پېغمبر اکرم روسته امامت او د دین ښوونه ........................................ ۱۷۹

د مسئلې ناسم مطرحول ........................................ ۱۷۹

حکومت د امامت یوه څانگه ده ........................................ ۱۸۱

په دین په ښوونه کې امام د پېغمبراکرم ځایناستی دی ........................................ ۱۸۱

د "ثقلینو" حدیث او د دولس گونو امامانو د عصمت مسئله ........................................ ۱۸۳

د احادیثو له لیکلو منع ........................................ ۱۸٤

له قیاسه گټنه ........................................ ۱۸۵

قیاس د شیعه وو له نظره ........................................ ۱۸٦

د معصوم په شتون کې ټاکنې ته ځای نه پاتې کېږي ........................................ ۱۸٦

د ثقلینو د حدیث ارزښت ........................................ ۱۸۸

د خم غدیر حدیث ........................................ ۱۸۸

د امامت کلامي څېړنه ........................................ ۱۹۱

**د امامت تعریف ........................................ ۱۹۲**

**د امامت په هکله د شیعه وو عقلي دلیل........................ ۱۹۲**

**امام؛ یعنې د دیني چارو کارپوه.............................. ۱۹٤**

**د عصمت مسئله ........................................ ۱۹٤**

**د تنصیص مسئله........................................ ۱۹۵**

**د حضرت علي کرم الله وجهه پر امامت د رسول اکرم د نصوصو څېړنه ............ ۱۹۷**

**د یوم الانذار کیسه........................................ ۱۹۹**

**له رسول اکرم سره د یو ټبر مشر کتنه ................................ ۱۹۹**

**د غدیر حدیث او تواتر یې ........................................ ۲۰۰**

**د منزلت حدیث ........................................ ۲۰۱**

**د ((الْيَوْمَ يَئِسَ)) آیت او امامت........................................ ۲۰٤**

**د ((الْيَوْمَ يَئِسَ)) آیت ........................................ ۲۰۵**

**د اکمال او اتمام توپیر ........................................ ۲۰٦**

**له ((الیوم)) نه مراد کومه ورځ ده؟ ........................................ ۲۰۸**

**د ((الیوم)) په اړه بېلابېلې څرګندونې ........................................ ۲۰۹**

۱-د بعثت ورځ:........................................ ۲۰۹

۲_د مکې د سوبې ورځ:........................................................................... ۲۰۹
۳-په منی کې حضرت علي حاجیانو ته د برائت سورت ولوست ........................... ۲۱۲
د شیعه و وینا ................................................................................ ۲۱۳
۱- له تاریخي اړخه:............................................................................ ۲۱۳
۲- په آیت کې د شته قرآینو له اړخه ........................................................ ۲۱٤
محکمات او متشابهات ................................................................ ۲۱۵
امامت په قرآن کریم کې............................................................... ۲۲۵
د اهلبیتو په اړه، د آیتونو ځانګړې وضع ......................................... ۲۲۵
د تطهیر آیت.................................................................................. ۲۲٦
ددې چار راز ................................................................................ ۲۲۸
تاریخي شواهد ............................................................................ ۲۳۰
د (إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ. . .)) آیت.......................................................... ۲۳۱
د عرفاوو خبره.............................................................................. ۲۳۲
په شیعه وو کې امامت، د نبوت په څېر مفهوم دی .............................. ۲۳۲
امامت......................................................................................... ۲۳٤
د حضرت ابراهیم علیه السلام په څوځات کې ................................... ۲۳٤

**حضرت ابراهیم علیه السلام ازمېیل کېږي ........................ ۲۳٤**

حجاز ته د مهاجرت حکم ........................................................... ۲۳٤

د زوی حلالو حکم......................................................................... ۲۳۵

**امامت؛ الهي ژمنه ده .................................................. ۲۳۷**

**امامت د امامانو له نظره ............................................... ۲٤٦**

**انسان څرنگه موجود دی؟................................................ ۲٤٦**

**لومړنی انسان، په قرآن کې ............................................. ۲٤۷**

د امام صادق روایت ......................................................................... ۲٤۹

**زید بن علي او امامت ...................................................... ۲۵۰**

د امام صادق دوه نور حدیثونه ............................................................ ۲۵۲

**پایله ............................................................................. ۲۵۵**

**قرآن او سنت یو د بل مکمل دي ........................................ ۲۵۸**

**د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم اټکل ...................... ۲٦۰**

**پېغمبراکرم تر ځان روسته، د ځایناستی موضوع ته پام درلود ......... ۲٦۳**

**د پېغمبراکرم د وصي ټاکنه............................................. ۲٦٦**

**لومړی: د بعثت پر درېیم کال............................................ ۲٦٦**

**دويم: په تبوک غزا کې ........................................................ ۲٦۸**

**د ((مِنی)) مطلب .............................................................. ۲٦۹**

**د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د علومو حاملان ................ ۲۷۰**

**درېيم: د خم ډنډ تر غاړې............................................................ ۲۷۲**

**پېغمبراکرم علي ته پګړی وتړله.......................................................... ۲۷۵**

**د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم دولس ځایناستي ................ ۲۷٦**

**د تېرو احادیثو نچوړ..................................................................... ۲۸۰**

**علما څرنګه د دولس ګونو امامانو حدیث تفسیر وي............................ ۲۸۱**

**ددې روایتونو حقیقي مفهوم............................................................ ۲۸۵**

**د اهل سنتو په سرچینو کې د دولس ګونو امامانو نومونه: ................ ۲۸۷**

**د دولس ګونو امامانو نومونه ............................................................ ۲۸۹**

**لومړی امام: امیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه.................................. ۲۸۹**

**دويم امام: حسن بن علي بن ابیطالب................................................ ۲۸۹**

**درېيم امام: حسین بن علي بن ابیطالب.............................................. ۲۹۰**

**څلورم امام: علي بن الحسین............................................................ ۲۹۰**

**پينځم امام: محمد بن علي ........................................... ۲۹۰**

**شپږم امام: جعفربن محمد ........................................... ۲۹۱**

**اووم امام: موسی بن جعفر........................................... ۲۹۱**

**اتم امام: علي بن موسی ........................................... ۲۹۱**

**نهم امام: محمد بن علي ........................................... ۲۹۲**

**لسم امام: علي بن محمد........................................... ۲۹۲**

**یولسم امام: حسن بن علي ........................................... ۲۹۲**

**دولسم امام: حجة بن الحسن ........................................... ۲۹۳**

**د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وصیان؛........................................... ۲۹۳**

**د شریعت ساتندویان او مبلغان ........................................... ۲۹۳**

**دښوونو منظمې ناستې ........................................... ۲۹٤**

**نامنظمې ناستې ...........................................۲۹٦**

**نورو وصیانو ته الهي علوم ولیکه ........................................... ۲۹۷**

**دوه ډله تبلیغ ...........................................۲۹۷**

**د ښوونې روستۍ ناسته ........................................... ۲۹۸**

وصيان په مسلمانانو کې اسلامي شريعت خپروي ............................ ۲۹۹

جامعه يا د امام علي کتاب ............................................ ۲۹۹

له امامانو سره د امام علي کرم الله وجهه کتابونه ............................ ۳۰۰

*د امام حسن، امام حسين او امام سجاد مواريث ............................ ۳۰۰

د امام محمدباقر مواريث ............................................ ۳۰۱

د امام صادق مواريث ............................................ ۳۰۱

د امام موسی بن جعفر مواريث ............................................ ۳۰۲

د امام رضا مواريث ............................................ ۳۰۲

امامانو"جامعې"ته مراجعه کوله ............................................ ۳۰۲

*"جامعه" د امامانو مرجع کتاب و ............................................ ۳۰۲

په اهلسنتو کې پر ............................................ ۳۰۶

مهـــــــــدويـــــت ............................................ ۳۰٦

گروهه ............................................ ۳۰٦

پر امام مهدي عليه السلام ټول مسلمانان گروهن دي ............................ ۳۰۷

مهدي د حضرت پېغمبر همنومی دی ............................................ ۳۰۷

**مهدي له اهل بيتو دی ............................................. ۳۰۷**

**مهدي د فاطمې(س) له ځوځاته دی............................................ ۳۰۸**

**مهدي د حسين عليه السلام له اولادې دی ..................................... ۳۰۸**

**مهدي د امام حسن عسکري زوی دی ............................................ ۳۰۸**

**امامت.......................................................................... ۳۲۰**

**تل يو امام وي ............................................................... ۳۲۰**

**د امامت حقيقت............................................................... ۳۲۱**

**امام له گناه معصوم او پاک دی ............................................... ۳۲۲**

**امام د شريعت ساتی دی...................................................... ۳۲۲**

**امام په اسلام تر ټولو باخبر او پوه دی....................................... ۳۲۲**

**امام بايد منصوص (ټاکل شوی) وي ............................................. ۳۲۲**

**امامان، پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ټاکلي دي ......................... ۳۲۳**

**د پېغمبرصلی الله عليه و آله وسلم لخوا د علي عليه السلام ټاکنه ............ ۳۲۴**

**تر ځان روسته په امام د هر امام ټينگار ........................................ ۳۲۵**

**علي عليه السلام تر ټولو اصحابو غوره و........................................ ۳۲۶**

امامت
اصحاب د عقل او تاریخ د قضاوت پر وړاندې ........................................ ۳۲۷

## د مقدمې په توګه

کېدای شي د امامت د بحث مطرحول، د لوستونکیو په ذهن کې نیوکې رامنځ ته کړي. دلته ددې نیوکو د مطرحولو تر څنګ مو خپل نظر هم ویلی دی. په اړه دوه بنسټیزې نیوکې دي [1]:

۱- هر ملت تل کوښښ کوي، چې د خپل تاریخ ښکلي ټکي بهر راوړاندې کړي او څومره، چې شونې وي؛ نو د خپل تاریخ پر ناړوه پېښو پرده اچوي. د یو مسلک او دین ویاړنې پېښې یې اصالت او حقانیت ګڼل کېږي او لېوالتیاوې ورته ډېروي؛ خو د تاریخ ناوړه پېښې یې په اصالت کې د شک لاملېږي او د خلاقه ځواک د کمزورۍ نښه یې ګڼل کېږي. د خلافت او امامت او د صدر اسلام د ناوړه پېښو په اړه بحث او په ناوړو بهیرونو کې یې تکرارېدل ـ په تېره په اوسني پېر کې، چې له دیني پلوه نوی کهول په روحي کړکېچ کې دی ـ اسلام ته لېوالتیا کمزورې کوي. په تېر وخت کې شونې وه، چې دا بحثونه مطلوب اغېز ولري او پامونه یې له یوې اسلامي څانګې بلې ته اړول؛ خو په اوسني پېر کې یې مطرحول او ویل، پر اصل او جرړه د فکرونو ګروهه څپڅپانده کوي. ولې نور تل په دې هڅه کې دي، چې د خپل تاریخ پر ناوړه پېښو پرده واچوي؛ خو زموږ د مسلمانانو کوښښ دادی، چې و یې وایو او احیاناً تر هغه څه یې زیات ښیو، چې دي؟!

موږ له پورتني نظر سره موافقه نشو کړای. تصدیقوو یې، چې که د تاریخ کره کتنه یوازې د ناوړه پېښو په ویلو وي؛ نو هماغه اغېز به ولري، چې پورته وویل شو؛ خو بلخوا که یوازې د تاریخ په ویاړنو برخو ډډه وکړو او پر ناوړه پېښو پرده واچول شي؛ نو دې ته د تاریخ کره کتنه نه ویل کېږي؛ بلکې د تاریخ اړونه او تحریف دی.

کوم تاریخ دی، چې له ناوړه پېښو پاک وي؟ د هر قوم او بشریت تاریخ د ناوړه او مطلوبو پېښو یوه ټولګه ده او بې له دې څه کېدای نشي. خدای یو قوم هم د پرښتو په سیرت له ګناه پاک پنځولی نه دی. د ښکلا او ناوړو پېښو له پلوه د اقوامو، ملتونو، ادیانو او. . . . تاریخ توپیر په دې کې نه دی، چې یو مخې ټوله ښکلا او بل یې ټول ناوړه وي؛ بلکې د ښکلا او ناوړو تر منځ یو تړاو دی.

قرآن کریم دا حقیقت په لطیفه بڼه ویلی دی:

[((وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاء وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ (بقره/۳۰): (هغه وخت

[1] آیت الله العظمی علامه شیخ شهید استاد مطهري په "امامت و رهبري" کتاب.

درياد کړه) چې ستا پالونکي پرښتو ته وويل: ((زه پر ځمکه ځايناستی، خليفه (استازی) ټاکم.)) (پرښتو) وويل: (((پالونکيه!) ايا ته داسې څوك ټاکې چې فساد او وينه تويه کړي؟ (؛ ځکه له آدم نه مخکې ځمکني موجودات پرفساد او وينه تويدنه ککړ وو، که ددغه انسان له پيدايښته موخه عبادت وي)؛ نو موږ (خو) ستا ستاينه کوو او تا پر سپېڅلتوب ستايو.)) خدای وويل: ((زه، چې پرڅه پوهېږم تاسې پرې نۀ پوهېږ ئ.))]

که تراو يې په پام کې ونيسو؛ نو د اسلام تاريخ له زښتې ښکلا، انساني او ايماني وړانگو ډک دی او د يوه څو رېتو شتون زموږ د تاريخ ښکلا او ستروالی نه کموي.

څوک هم ادعا نشي کړای، چې د اسلام تر تاريخه يې د تاريخ ښکلا ډېره ده او يا د اسلام د تاريخ ناوړې پېښې د هغوی تر تاريخه ډېرې دي.

يو يهودي حضرت علي کرم الله وجهه ته د خلافت پر سر ناوړه پېښو پېغور ورکړ، و يې ويل: تر اوسه مو خپل پېغمبر ښخ کړی نه و، چې په هکله يې مو اختلاف وکړ. امام علي کرم الله وجهه ورته وويل: ته تېروتی يې! موږ د خپل پېغمبر په اړه اختلاف نه دی کړی، زموږ اختلاف په هغه حکم و، چې د پېغمبر له اړخه رارسېدلی و، چې آيا داسې دی که هاغسې؛ خو ستاسې پښې لا د سمندر له اوبو وچې شوې نه وې، چې خپل پېغمبر ته مو وويل: موږ ته ددې بوت لمانځو په څېر يو بوت جوړ کړه او پېغمبر مو درته وويل: په رښتيا، تاسې هغه قوم ياست، چې ناپوهي کوئ. (نهج البلاغه/۳۱۷ حکمت)

يعنې زموږ اختلاف د "توحيد" او "نبوت" له منلو سره و. زموږ اختلاف داسې بڼه درلوده، چې آيا هغه چې بايد د اسلام او قرآن په حکم د پېغمبراکرم ځايناستی شي، ټاکل شوی دی يا هغه دی، چې پخپله خلک يې بايد وټاکي؟؛ خو تاسې يهودو د خپل پېغمبر پر ژوندون داسې خبره راوايسته، چې له بېخه مو له دين او د دپېغمبر له ويناوو سره مخالفه وه.

که له دې تېر شو که په عادي ځايونو کې د تاريخ له ناوړو پېښو سترگې پټول روا وي، چې د اسلام له متن او د اسلام له بنسټيزې مسئلې؛ يعنې په مشرۍ پورې اړوند دی او د اسلامي ټولنې برخليک ورپورې تړلی دی؛ نو له داسې مسئلو نه د سترگو پټولو مانا د مسلمانانو له نېکمرغۍ نه سترگې پټول دي.

پردې سربېره، که په تاريخ کې يو شمېر حقوق تر پښو لاندې شوي وي ـپه تېره کې ددې حقوقو خاوندان د امت تر ټولو غوره وگړي هم وي ـ؛ نو دلته د تاريخ د حقايقو له څرگندولو سترگې پټول؛ له ظلم سره د ژبې او قلم د همکارۍ په مانا دي.

۲-دويمه نيوکه داده، چې ددې خبره په مطرحولو به اسلامي يووالی څنگه شي؟ همدا اختلافات ول، چې مسلمانان يې د نامسلمانانو تر لاس لاندې کړل. که زوړ ښکيلاک و که نوی؛ نو تر

ټولو غوره اوزار یې همدې زړو دښمنیو ته لمن وهل دي. په ټولو اسلامي هېوادونو کې شکېلاک پر دین د زړه سوي په نامه په مسلمانانو کې درز اچوي؛ نو آیا دومره کافي نه دي، چې له دې اختلافه راباندې راغلي دي، چې بیا هم دا خبرې مطرحوو؟ آیا د دا ډول بحثونو مطرحول د ښکېلاکي موخو له پلې کولو سره مرسته نه ده؟
ځواب: شک نشته، چې د مسلمانانو یووالی خورا مهم چار دی او د اسلامي نړۍ ستر درد هم په خلکو کې زړې دښمنۍ دي او دښمن هم تل له همدې اختلافه ګټنه کوي؛ خو ښایي نیوکه کوونکی د "اسلامي اتحاد" په مفهوم کې تېروتی دی.
اسلامي اتحاد، چې په دې روستیو سلو کلونو کې په اسلامي مؤمنو علماوو او روښانفکرو کې مطرح دی، مانا یې دا نه ده، چې اسلامي مذاهب دې د اسلامي اتحاد په پار له خپلو اعتقادي او نا اعتقادي اصولو تېر شي او په اصطلاح د ټولو مذاهبو ګډ ټکي راواخلي او د ټولو ځانګړنې او مختصات شاته واچوي، چې دا چار نه منطقي دی او نه عملي.
څنګه شونې ده، چې د یو مذهب له لاروي وغوښتل شي، چې د اسلامي یووالي په پار د خپل مذهب له پلاني اعتقادي او یا عملي اصله تېر شه، چې له نظره یې دا اعتقادي یا عملي اصل د اسلام متن ګڼي؟ مانا خو یې داده، چې ترې وغواړو د اسلام په نامه د اسلام له یوې برخې سترګې پټې کړه.
پر یو مذهبي اصل د خلکو پابندول او یا له هغه یې سړول خپلې لارې چارې لري، چې خورا طبیعي یې منطق او برهان دی. د مصلحت په نامه په هیله کولو او زاریو یو قوم هم پر کوم اصل مؤمنولای نه شو او نه کړای شو، چې ایمان یې ترې واخلو.
موږ شیعه یو او د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له اهلبیتو د لاروۍ ویاړ لرو؛ تر ټولو کوچنی څیز ان یو مستحب او مکروه هم د مصالحې وړ نه ګڼو او نه په دې اړه د چا هیله او توقع منو او نه له چا داسې توقع او هیله لرو، چې د مصلحت په نامه د خپلو اصولو له یوه اصله لاس واخلي. موږ چې د څه توقع او هیله لرو داده، چې د حسن تفاهم چاپېریال رامنځ ته شي، چې موږ چې خپل اصول، فروع، فقه، کلام، تفسیر، ادبیات، فلسفه او حدیث لرو، چې وکړای شو خپل توکي د غوره توکیو په نامه راوړاندې کړو، چې تردې ډېر نور شیعه په ګوښه کې نه وي او د اسلامي نړۍ د بازارونو ورونه د شیعه معارفو پر مخ پرانستې وي.
د اسلامي ګډو ټکیو راخستل او د هر مذهب مختصات شاته اچول یو ډول خرق اجماع مرکب دی، چې محصول یې غیر له واقعي اسلامه بل څیز دی؛ ځکه بالاخره د یوې ډلې مختصات د اسلام د متن برخه ده او له دې مشخصاتو، ممیزاتو او مختصاتو مجرد اسلام نشته.

د اسلامي اتحاد د عالي فکر طراحانو، چې په شيعه وو کې د "مرحوم آيت الله العظمی بروجردي" او په اهلسنتو کې د "علامه شيخ عبدالحميد سليم" او "علامه شيخ محمود شلتوت" يې په سر کې ول، په فکر کې يې داسې طرح نه وه. په پام کې يې ول، چې اسلامي مذاهب په شته اختلافاتو او په ګډو ټکيو سره يې کړای شي د اسلام د دښمنانو پر وړاندې د وروری لاسونه ورکړي او واحده ټلواله جوړه کړي. هغوی هېڅکله د مذهبي وحدت په نامه د اسلامي اتحاد غوښتونکي نه ول.

په اصطلاحاتو کې "واحدګوند" او "واحده ټلواله" يو له بل سره توپير لري. د ګوندي وحدت غوښته ده، چې وګړي د فکر، ايديولوژۍ، کړنلارو او بالاخره د فکري ځانګړنو له پلوه سره يو رنګ او يولوري وي.

د واحدې ټلوالې مانا داده، چې ګوندونه او ډلې په ايديولوژۍ، لار او کړنلار کې د اختلاف په درلودو، د ګډ دښمن پر وړاندې واحده جبهه جوړه کړي او ځرګنده ده، چې د دښمن پر وړاندې د واحدې ليکې جوړول، له خپله مسلکه په دفاع، له ټينګار او د نورو پر مسلک له نيوکې او خپل مسلک ته د نورو مسلکونو د لارويانو رابلل، هېڅکله منافات نه لري.

د ايران مشهور عالم "آيت الله بروجردي" ګروهن و، چې په اهلسنتو ورونو کې د اهلبيتو د معارفو د خپراوي لپاره زمينه چمتو کړي، چې دا چار يوازې په حسن تفاهم شونې و. او دا شيعه وو ته ستر توفيق و، چې نوموړي وکړای شول، په مصر کې ځينې شيعي فقهي کتابونه چاپ کړي، چې دا چار د هغه حسن تفاهم پايله وه، چې په مصريانو کې يې رامنځ ته کړې وه.

په هر حال د "اسلامي اتحاد" له نظره، د لاروی غوښتنه نه ده، چې حقايق و نه ويل شي؛ خو هغه څه بايد ونشي، چې د مخالف لوري احساسات او تعصبات راپاروي او د علمي چار سروکار له عقل او منطق سره دی؛ نه له عواطفو او احساساتو سره.

. . . . . له نېکه مرغه، چې زموږ په پېر کې په شيعه وو کې داسې څېړونکي راپيدا شوي، چې له همدې غوره لارې ګټنه کوي، چې په سر کې يې "علامه شرف الدين عاملي" او "علامه شيخ محمد کاشف الغطاء" او "شيخ عبدالحسين اميني" د "الغدير" د کتاب ليکوال دی.

پخپله د حضرت علي کرم الله وجهه هېر شوی سيرت، چې ژوند له تاريخه يې راڅرګندېږي، په دې اړه غوره زده کړه ده.

حضرت علي کرم الله وجهه د خپل حق په غوښتو کې ناغېړي و نه کړه او په څرګند ډول يې هر څه وويل او له اسلامي اتحاد سره مينه يې په دې لار کې خنډ نه شوه. په نهج البلاغه کې خورا خطبې پردې مدعا شاهدې دي؛ خو په عين حال کې دا تظلمونه لامل نه شول، چې د

پردیو پر وړاندې د مسلمینو له لیکي بهر شي، د جمعې په لمانځه کې یې ګډون کاوه، له جنګي غنیمتونو یې خپله برخه اخسته او خلفاوو ته یې سمه لارښوونه هم کوله، سلامشوره ورسره کېده او ناصحانه نظر یې ورکاوه.
له ایرانیانو سره د جګړې پر مهال د وخت خلیفه (رض) لېوال و، چې خپله هم په جګړه کې ګډون وکړي؛ خو حضرت علي کرم الله وجهه ورته وویل: پخپله په جګړه کې ګډون مه کوه؛ ځکه که په مدینه کې یې؛ نو دښمن به انګېري، چې که د جګړې د ډګر لښکر یې له منځه یووړ؛ نو له مرکزه به مرستندوی ځواکونه وړورسي؛ خو که پخپله د جګړې میدان ته ولاړ شې؛ نو وایي به: ((هذا اصل العرب)) دا د عربو جرړه ده؛ نو خپل ځواکونه به راټول کړي او له منځه به دې یوسي او که ته یې له منځه یووړې؛ نو په اوچته روحیه به له مسلمانانو سره هم وجنګېږي. [1]

په عمل کې هم د حضرت علي کرم الله وجهه سیرت داسې و. له یوې خوا له یوه خلیفه یې هم یو منصب هم و نه مانه؛ ځکه د منصب منل یې په دې مانا و، چې له خپل څرګند حقه تېر شوی دی او په بله وینا: دا کار له همکارۍ، همګامۍ او د اسلامي وحدت تر ساتلو هاخوا چار و؛ خو سره له دې، چې پخپله یې منصب نه مانه؛ خو هېڅکله یې خپل یاران او کورنۍ منع نه کړل، چې منصب ومني؛ ځکه د دوی منل یوازې همکاري او همګامي ده او هېڅکله د خلافت د لاسلیکولو په مانا نه و. [2]
په دې اړه د حضرت علي کرم الله وجهه سیرت خورا دقیق دی او د اسلامي موخو په لار کې د هغه د متفاوتوالي؟ توب نښه ده، حال دا، نورو به څېرول او ده به ګنډل.
ابوسفیان وخت غنیمت وګاڼه، غوښتل یې د حضرت علي له نارضایتۍ ګټه وکړي او غوښتل یې له پېغمبراکرمه، د پېغمبر د وصیت د پلي کېدو په بڼه غچ واخلي؛ خو حضرت علي تردې هوښیار و، چې ابوسفیان یې وغولوي او د هغه وړاندیز یې و نه مانه.
په هر وخت کې ابوسفیانان او حیی بن اخطبان شته. زموږ په پېر کې هم د د حیی بن اخطب لاسونه په ډېرې ځایونو کې راڅرګندېږي؛ نو ښایي چې په دې اړه مسلمانان او په تېره د حضرت علي لارویان د حضرت علي کرم الله وجهه سیرت خپله کړنلار کړي او دښمنان یې و نه غولوي.

---

[1] (وګورئ: نهج البلاغه/۱٤٤)

[2] وګورئ: د ابن ابي الحدید د نهج البلاغې شرح، تر ٦۲ لیک لاندې.

دا وو ددې ډول مسئلو د مطرحولو د مخالفینو نیوکې او دا و زموږ ځواب او نظر.
عجیبه خو داده، چې ځینې ددې نیوکو په مخالف اړخ کې نیوکې کوي او وایي: دا ډله او بر عکس هغه ډله تمه لري، چې د "خلافت او امامت" مسئله د یوې سرګرمۍ او بوختیا بڼه غوره کړي، په دې بڼه، چې تل ددې موضوع خبره وي؛ یعنې د شعار په بڼه مطرح شي او هېڅکله په مستنده او څېړونکې بڼه مطرح نشي! احساسات تونداو غوځوونکي وساتي؛ خو عقلونه ماړه او پیاوړي نه کړي او دا هماغه څه دي، چې دښمن یې غواړي؛ خو که یو بحث په علمي او څېړنیزه بڼه مطرح شي؛ نو دلیل نشته، چې د سرګرمۍ په بڼه مطرح شي.

## له تاریخه د امامت چار ته ورننوتل

امامت؛ یعنې د ټولنې د سمبالنې د مطلوبې معنا هسکه څوکه، د هغو بېلابېلو سمبالنو پر وړاندې، چې له انساني کمزوریو، شهواتو، کبر، ځان وینیو او ډېر غوښتنې سرچینه اخلي.
اسلام د امامت کړنلار او نسخه بشریت ته وړاندې کوي؛ یعنې داچې د انسان زړه هم باید له الهي هدایت او فیض نه ډک وي؛ هم دیني ښوونې وپېژني او پرې پوه شي -؛ یعنې سمه لار تشخیص کړي- هم د عمل کولو ځواک ولري- چې ((یا یحیی خذ الکتاب بقوة[1])) هم ځان، غوښتنې او وګړیز ژوند ورته ارزښتمن نه وي؛ خو د انسانانو ځان، ژوند او نېکمرغي ورته هر څه وي، چې حضرت امیرالمؤمنین تر پینځو کلونو په لږ وخت حکومت کې، دا چار په عمل کې وښود. تاسې وینئ، چې علي په خپل لږ وخت حکومت کې، د یوې بېلګې په توګه او د هغه څه په نامه، چې بشریت به یې هېڅکله هېر نه کړي، د پېړیو پېړیو په ترخ کې ځلېږي او پاتې دی. دا د غدیر پېښې د زده کړې پایله، معنا او تفسیر دی.
د امامت اصطلاح یا ویی- چې په اصل او آر کې د مطلقې مشرۍ پر معنا ده- په اسلامي فرهنګ کې، ډېرې پر یوه ځانګړې او خاص مصداق اطلاقېږي او دا په ټولنیزو چارو کې مشري ده؛ که اندیزه وي یا سیاسي. د قرآن عظیم الشان په هر ځای کې چې د امامت د ټکي مشتقات- لکه امام او ائمه- کارېدلي، همدا معنا ښیي؛ یعنې د امت مشري. اندیزه مشري، سیاسي مشري یا دواړه یې، د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم تر وفات روسته او د مسلمانانو سیاسي او فکري انشعاب، چې د اسلام لارویان یې په څو ډلوو و ویشل، له هغه ځایه چې د اختلاف آریز ټکی د امت سیاسي مشرۍ وه؛ نو د امامت او امام ټکي ځانګړې برخلیک پیدا کړ او تر بلې هرې معنا ډېر د ((سیاسي مشرۍ)) په مفهوم کې وکارول شو او سوکه سوکه نورې معناوې ددې معنا تر سیوري لاندې راغلې؛ داسې چې کله په دویمه هجري پېړۍ کې یو په بل پسې د اسلام کلامي ښوونځي رامنځ ته شول او بېلابېل اسلامي څوبتیاوې د ایدیولوژیو او ښوونځیو په بڼه شول، ددې ټولو ښوونځیو له مهمو مسایلو یې د امامت مسله وه، چې د سیاسي مشرۍ په معنا وه. په دې مسله کې عموما د امام- یعنې د ټولنې واکمن- د شرایطو او ځانګړنو په باب خبرې کېدې او هرې ډلې په دې باب خپله ګروهه او خبره درلوده.

---

[1]. د مریم سورت، دولسم آیت. ژباړه: یحیی! (د الله) کتاب ټینګ ونیسه

د تشیع په ښوونځي کې هم – چې د لارویانو له نظره یې د اسلام خورا اصلي اندیز بهیر دی- امامت په همدې معنا په پام کې نیول شوی و او د امام په باب ددې ښوونځي نظریه په دې ډول خلاصه کېده: د اسلامي ټولنې مشر او سیاسي چارواکی باید د خدای له لوري ټاکل شوی وي او حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم معرفي کړی وي او باید اندیز مشر، د قرآن مفسر او د دین له ټولو خوالو او ځیرونو خبر وي او باید پاک او سپین لمنی معصوم وي او له هر ډول خلقي (بدني او اروایي)، خُلقي او نسبي نیمګړتیا لرې وي او باید له پاکې او پاک لمنې کورنۍ وي او باید او باید. او په دې توګه، امامت، چې د لومړۍ او دویمې پېړۍ د مسلمانانو په عرف کې د سیاسي مشرۍ پر معنا و، د شیعیانو په خاص عرف کې یې بې له سیاسي مشرۍ، اندیزه او اخلاقي مشري هم راونغاړله. چې کله به شیعه یو څوک د امام په نامه پېژنده؛ نو نه یوازې د ټولنیزو چارو د سمبالنې تمه یې درلوده؛ بلکې د دیني، اندیزو او اخلاقي تزکیې د چارو د زده کړې او لارښوونې تمه یې هم ترې درلوده او که دا چارې به یې له لاسه نه کېدې؛ نو دا به یې د ((پرحق امام)) په نامه نه پېژنده او یوازې ددې وګړي ښې سیاسي سمبالنې، پوځي چارو او هېواد پراختیا- چې د نورو له نظره یوه ښه معیار شمېرل کېده- ته یې نه کتل او قناعت یې پرې نه کاوه.

د امامت له مفهوم نه د شیعه د انګېرنې پر بنسټ، د یوې ټولنې امام، هغه لاسبر او واکمن څواک دی، چې ددې ټولنې ډله ایز حرکت او د وګړیو وګړیز چلن ته مخونه ورکوي او مشري یې کوي او په همدې وخت کې هم د دین او اخلاقو ښوونی او هم ددوی د ژوند او هڅو واکمن دی؛ نو په دې وینا، حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم هم امام دی، چې د هغې ټولنې فکري او سیاسي مشري یې په لاس کې ده، چې خپله یې بنسټګر دی او تر حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روسته، امت یو امام ته اړمن دی، چې وکولای شي، چې د پېغمبر ځایناستی-خلیفه- او دده د مسوولیتونو ذمه وار- او له دې جملې څنې سیاسي مشر- وي او شیعه ګروهن دی، چې دا ځایناستي، د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د ټینګار له مخې، د علي ابن ابي طالب ده او ورپسې د نبوي کورنۍ د سپین لمنو امامانو ده.

دا ټکی د ویلو دی، چې د اسلام په حکومت او خلافت کې د ((سیاسي مشرۍ))، ((دیني زده کړو)) او ((اروایي تهذیب)) د مفهومونو ګډېدل- چې د اسلام حکومت او امامت یې د درې اړخونو درلودنکی ښودلی دی؛ لکه څنګه چې ددې مهال ځینو سترو اندیالانو په ښه توګه بیان کړی دی- ددې له لامله دي، چې په اصل کې یې دا درې اړخونه یو له بله بېل کړي نه دي او له دې دریو اړخونو یې دا کړلار انسان ته وروړاندې کړې ده؛ نو د امت مشري، په دریو

اړخونو کې د مشرۍ په معنا هم ده او د امامت د معنا د همدې پراختیا له لامله شیعه ګروهن دی، چې امام باید د خدای له لوري وټاکل شي.
پایله داچې د ځینو رغي اندو د نظر او اند پر خلاف، چې ((امامت)) یې یوازې ((خلافت)) او ((حکومت)) ګڼلی او دا یې یوازې یو مانیز، ارواییي او اندیز منصب شمېرلی دی، د تشیع په فرهنګ کې امام، د ((امت مشر)) دی. هم په دنیوي چارو کې او هم د خلکو ژوند ته د نظم ورکولو په چارو کې او هم د ټولنې د سیاسي او ټولنیزې سمبالنې په چارو کې (د دولت رئیس) او هم د مانیزو، ارواییي ښوونو په چارو کې او د اندیزو ستونزو هوارونکی او د اسلام د ایدیولوژۍ بیانونکی (ایدیولوګ) دی.
دا څرګند مطلب، لکه څنګه پر امامت د ډېرې ګروهنو له ذهنه پردی دی؛ نو ښه به وي، چې له هغو سل ګونو قرآني او حدیثي مدارکو، یو څو یې راوړو:
د کافي په ((الحجه)) کتاب کې د امامت پېژندو او د امام د ځانګړنو په باب، له حضرت علي بن موسی الرضا علیه السلام نه یوه مبسوط حدیث رانقل شوی دی، چې خورا له معنا ډک او په زړه پورې مطالب لري، او د امامت په باب وايي: د دین رشته (جرړه)، د مسلمانانو سمبالنه، د نړۍ ابادونکی، د مؤمنان سرلوړونکی، د پېغمبرانو مقام، د ځایناستیو میراث، د خدای خلافت او د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ځایناستي. او د امام په باب وايي: د عمومي شتمنۍ ډېرونکی، د الهي حدودو او احکامو پلي کوونکی، د بریدونوساتونکی، په بندګانو کې د خدای امین، پر ستر مقام ځلنده وړانګه، د خدای د لارې مشال، د خدای د حریم ساتونکی، د منافقانو غوسه کوونکی، د کافرانو د بنسټ ورانونکی، مؤمنانو ته عزت ورکوونکی، په واکمنۍ کې تکړه او کارپوه، سیاستپوه، د خدای د حکم ملاتړکوونکی، د خدای د بندګانو خیرښېګڼه غوښتونکی، د خدای د دین ساتونکی.[1]

---

[1]. الکافي، لومړی ټوک، ۲۰۰ مخ، ((الامامة زمام الدین و نظام المسلمین و صلاح الدنیا و عز المؤمنین ان الامامة اس الاسلام النامی و فرعه السامی بالامام تمام الصلاة و الزکاة و الصیام و الحج و الجهاد وتوفیرالفیء و الصدقات و امضاء الحدود و الاحکام و منع الثغور و الاطراف الامام یحل حلال الله و یحرم حرام الله و یقم حدود الله و یذب عن دین الله و یدعو الی سبیل ربه بالحکمة و الموعظة الحسنة و الحجة البالغة الامام کالشمس الطالعة المجللة بنورها للعالم و هی فی الافق بحیث لا تنالها الا یدی والابصار الامام البدر المنیر و السراج الزاهر والنور الساطع و النجم الهادی فی غیاهب الدجی و اجواز البلدان و القففارو لجج البحار: په رښتینه، چې امامت د دین رسۍ، د مسلمانانو د نظام، د دنیا د صلاح او د مؤمنینو د عزت لامل دی، په رښتینه، چې امامت د اسلام وده کوونکې جرړه او اوږده څانګه یې ده، د لمانځه، زکات، روژې، حج او زکات بشپړېدل او د غنیمتونو او صدقاتو ډېرول، د الهي احکامو او حدودو ساتل او د بریدونو او شاوخواو ساتل امام

په يوه بل روايت کې امام صادق په زغرده وايي: د حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ټول امتيازات او هم ټولې ژمنې حضرت علي کرم الله وجهه او نور امامان لري. [1]
له امام صادق نه په بل روايت کې، له اوصياوو د لاروی وجوب رانقل شوی او بيا يې توضيح ورکړې، چې اوصيا هماغوی دي، چې په قرآن کې يې د ((اولی الامر[2])) په نامه ياد کړي دي.[3]
په بېلابېلو کتابونو کې په سل گونو نور روايتونه دي، چې په شيعي فرهنگ کې يې د امامت معنا ((واکمني)) او ((د مسلمان امت د چارو سمبالنه)) گڼلې او د نبوي کورنۍ امامان يې د حکومت حقيقي خاوندان معرفي کړي دي، چې منصف پلټونکي ته د شک ځای نه پاتېږي، چې د اهلبيتو د امامانو له خوا د امامت ادعا، له فکري او معنوي مقام ورهاخوا، دقيقا د حکومت ادعا هم ده او د دوی پراخ بنسټه بلنه او سياسي- پوځي مبارزې ته بلنه يې حکومت لاس ته راوړو ته وه.
که څوک تصور وکړي، نهو امامانو او اتو امامانو له امام سجاد نه تر امام عسکري پورې، يوازې خلکو ته د دين احکام او ديني ښوونې درلودې او له خپل وخت سره يې همغږې سياسي مبارزه نه درلوده؛ نو هرومرو به يې د دوی په ژوند کې بسيا غور نه وي کړی. څه چې د دوی له حالاتو راڅرگندېږي او له بيخه په اسلام کې د امامت معنا او هغه فلسفه، چې شيعه امامت ته قايله ده، بې له دې هم هېڅه نه مني. او که موږ د اهلبيتو امامانو د مبارزې لپاره څرگند دليل هم نه درلود، بايد گروهن وای، چې موږ خبر نه يو، موږ ته يې مبارزاتي اخبار نه دی رارسېدلي؛ خو هغوی مبارزه کړې ده. او نه شي کېدای، چې موږ د امامت معنا هاغسې چې د اسلام-نه يوازې په تشيع- په فرهنگ کې ده، وگڼو او پرې گروهن ووسو او په عين حال کې ومنو، چې د بېلگې په توگه، يو سل او پنځوس کاله او يا ډېر، امامان په خپل کور کې ناست وو او ښېنه يې پر ښېنه اړولې وه او يوازې پردې يې زړه خوشحاله کړی و، چې د قرآن احکام او اسلامي

کوي؛ امام دی، چې د خدای حلال، حلالوي او د خدای حرام، حراموي او د خدای حدود پلي کوي او د خدای له دينه دفاع کوي او په حکمت، نصيحت او غوره غاړه خلاصوني، خلک د خپل خدای لارې ته رابلي، امام د بخت د لمر په څېر دی، چې رڼا يې نړۍ رانغاړي او په خپله په ځنډه کې دی، چې لاسونه او سترگې ور و نه رسي، امام ځلنده سپوږمی، بل څراغ او په تورتمونوکې لارښود ستوری دی.

[1]. الکافي، لومړی ټوک، ۱۹۶ مخ. جری له من افضل ما جری لمحمد. . . . و لقد حلمت مثله حموله. . . . و کذلک يجری الائمه الهدی واحدا بعد واحد.

[2]. د نساء سورت، ۵۹ آيت. ((يا ايها الذين آمنوا اطيعوا الله و اطيعوا الرسول و اولی الامر منکم: مؤمنانو! له الله، استازي او اولوالامر څخه مو اطاعت وکړئ))

[3]. الکافي، لومړی ټوک، ۱۸۹ مخ.

ښووني نورو ته ورښيي او سياسي مبارزه يې نه درلوده؛ داسې يوه خبره له بيخه سمه نه ده؛ البته چې کله وايو، چې د نبوي کورنۍ امامانو مبارزه کوله، بايد پوه شو، چې هر وخت يې، ځانګړې مبارزه درلوده. کله مبارزه په فرهنګي، علمي او سياسي چارو وي او په ګوند جوړولو او سازماندهۍ او کله په خونړيو چارو، جګړه ايز فعاليتونو او ښکاره جګړې وي او هر وخت خپله ځانګړې مبارزه لري.
شونې ده يو څوک نيوکه وکړي، چې د نبوي کورنۍ امامانو څنګه د حکومت تر لاسه کولو لپاره مبارزه کوله، حال دا، په خپل الهي علم پوهېدل، چې حکومت ته به و نه رسي. څرګنده ده، چې د امامانو ژوند وښووله، چې دوی و نه شو کولای، چې حکومت لاس ته راوړي او ټولنه او اسلامي نظام، هاغسې چې د هغوی خوښه او دنده وه، جوړه يې کړي؛ خو سره له دې چې امامان په الهي الهام پوهېدل؛ نو څنګه يې دا کار وکړ؟ د دې فکر په ځواب کې بايد ووايو، په دې پوهېدل، چې موخې ته نه رسېدل يې، د دندې د نه ترسره کولو لامليږي نه. تاسې د حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ژوند ته وګورئ. حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په احد جګړه کې پوهېده، چې ماتې به خوري او پوهېده، هغوی يې چې د غره په کنډو کې کېنولي دي، کېښني او د غنيمت پر تمه به راکوز شي. حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم پر هغه ورځ، چې طايف ته ولاړ، چې بني ثقيف هدايت کړي او د مکيانو له شره يې طايفيانو ته پناه يووړه، پوهېده، چې طايفيان به يې په ډېرو استقبالوي. دومره به يې په ډېرو وولي، چې پښه يې وينې کېږي او اړ کېږي، چې راستون شي. د نبوي کورنۍ امامان په دې هر څه پوهېدل. حضرت اميرالمؤمنين پوهېده، چې د رمضان مياشتې پر يوويشتمه شپه شهيديږي؛ خو تر رمضان مياشتې يو څو ورځې مخکې يې په کوفه کې يو ستر غونډ جوړ کړ، چې له معاويه بن ابي سفيان سره جګړې ته دوام ورکړي. که د حضرت اميرالمؤمنين پوهېدل د دې لامليږي، چې د عادي او معمول بهير مطابق چلن و نه کړي؛ نو ولې يې دا غونډ جوړ کړ، ولې يې لښکر مخې ته کړ؟ خلک يې بوتلل او له کوفې بهر يې پر تمه کړل، ولې؟ څه ګټه يې درلوده؟ داچې د نبوي کورنۍ امامان پوهېدل، چې حکومت ته نه رسي؛ نو نه بايد لامل شي، چې خپلې هڅې و نه کړي. بايد هڅې او مبارزه وکړي، کټ مټ د هغوی په څېر، چې نه پوهېږي او خبر نه لري، چې څه به کېږي، بايد د هغه چا په څېر ټولې چارې پر مخ بوځي، چې نه پوهېږي، چې څه به کېږي.

# د امامت د بهیر څلور پړاونه

د امامت بهیر، د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د وفات پر لومړۍ ورځ- د یوولسم هجري کال د صفرې میاشت- رامنځ ته شو او د حضرت امام حسن عسکري د مړینې تر کال – د دوه سوه شپېتم هجري کال د ربیع الاول میاشت- پورې یې د مسلمانانو په ټولنه کې دوام درلود. په دومره موده کې، امامت په تقریبي ډول څلور پړاو کړې دي، چې د سیاسي واکمنو ځواکونو پر وړاندې، د هرې پړاو دریځونو یې خپلې ځانګړنې درلودې.

لومړۍ پړه یې، د چوپتیا پېر او له دې ځواکونو سره د امام د همکارۍ پړه ده. نوې پر پښو درېدلې اسلامي ټولنه او نوزېږې اسلامي ټولنه، له ځواکمن او بهرنی ځپل شوي دښمن سره، له نویو مسلمان شویو وګړیو او کورنیو وګړیو سره، هېڅکله د لیکو د دوه لاسۍ او اختلافونو زغم نه لري؛ ځکه دباندې ځواکمن ځپل شوي دښمن پروت دی او په دننه کې تازه مسلمان شوي لا سم روزل شوي نه دي. د دې ټولنې په کوټلې تنه کې د خورا کوچنۍ سوړې پیدا کېدل هم کولای شي، چې اصل او بنسټ ته یې ستر ګواښ شي. بلخوا له حقیقت نه د واقعیت د کرېدو زاویه، دومره فاحش نه ده، چې د حضرت امیرالمؤمنین په څېر وګړي ته چې په خپله پر اسلامي ټولنې او اسلامي ښوونځي خورا زړه سواند او ورته ژمن دی- د زغموړ نه وي او کېدای شي مخکې له مخکې حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم خپل دې زده کړیال ته حکم کړی و، چې د داسې پېښو پر وړاندې به زغمناک وسې.

دا پېر، پینځه ویشت کاله د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د مړینې له کال نه- یوولسم هجري کال- د حضرت امیرالمؤمنین د خلافت تر پیل کلونو پورې- پینځه دېرشم هجري کال- رانغاړي. حضرت امیرالمؤمنین مصریانو ته په یوه لیک کې د دې دوو پړاونو ترمنځ خپل حالات داسې تشریح کوي: ((فامسکت یدی حتی رایت راجعة الناس قد رجعت الناس قد رجعت عن الاسلام یدعون الی محق دین محمد-صلی الله علیه وآله وسلم- فخشیت ان لم انصر الاسلام و اهله ان اری فیه ثلما او هدما تکون المصیبة به علی اعظم من فوت ولایتکم فنهضت فی تلک الاحداث)) لومړی له ټولو بهیرونو ګوښی شوم، تردې چې و مې لیدل، له اسلامه ستنې شوې ډلې، د اسلام ورکاوي ته بلنې کوي، د دې وېره وه، که له اسلام او مسلمانانو سره مرسته و نه کړم، په اسلام کې داسې سوړه او ورانی رامنځ ته شي، چې تاوان یې د خلافت تر لاسه ورکولو څخه ډېر وي؛ دا وه چې راپاڅېدم او ملا مې وتړله.[1]

---

[1]. نهج البلاغه، ٦٢ لیک.

په دې پېر کې د حضرت علي علیه السلام ژوند، پر اسلام او د مسلمانانو پر ټولنې د زړه سواندۍ له مخې، له فعالې ونډې او ملاتړیزو مرستو ډک دی. د سیاسي، پوځي او ټولنیزو چارو په باب د خپل وخت خلفاوو ته یې لارښوونې او د هغوی پوښتنو ته یې ځوابونه ورکول، چې نهج البلاغه او نور کتابونه د هغه پر دا ډول نانتې او انکارناپذیر ژوند لووي او شاهدان دي.
دویمه پېره، ځواک ته د امام رسېدل دي. دا پېر د حضرت امیرالمؤمنین د خلافت هماغه څلور کاله او نهه میاشتې او د حسن بن علي د څو میاشتو د خلافت دوره ده، چې د یوه انقلابي حکومت له هغو ټولو ستونزو او د وخت له پلوه له لنډوالي سره سره، اسلامي حکومت له ځلندو دورو څخه شمېرل کېږي. له پرېکندتوب، سپیناوي او مړانې سره د ټولنې په ژوند کې انساني کړنلارې، مطلق عدالت او د اسلام د بېلابېلو اړخونو رعایتول، تر هر کله ډېر په دې دوره کې په تاریخ کې ثبت دي.
د نبوي کورنۍ د امامانو دا دوره، د هغو حکومتونو او ټولنو لپاره یوه بېلگه وه، چې تر ده دوه پېرۍ روسته ترې د نبوي کورنۍ امامانو، بلنه ورته کوله او په دې لار کې یې هڅې کولې او شیعه وو د یوې عزتمنې خاطرې په نامه یادوله او ورپسې نظامونه یې له دې نظام سره په پرتلنه، محکومول. په عین حال کې له عبرته ډکه زده کړه او تجربه وه، چې کولای یې شول په اسلامي ټولنه او ناروزل شویو او انحراف ته په راکاږل شویو خلکو کې، د یوه انقلابي او سل په سلو کې اسلامي حکومت حالات وښیي او له هغې ورځې، پر ورپسې امامانو اوږدمهال، سختې گوندي کړنلارې، له سختو روزنو او گوندي قیوداتو سره وروټپي.
درېیم پېر، د حضرت امام حسن د سولې- یو څلوېښتم کال- او د حضرت امام حسین د شهادت –د یو شپېتم کال د محرم میاشت- تر منځ د کلونو پېر دی. تر سولې روسته، تقریبا داهل بیتو د لارویانو نیمه پټ کار پیل شو او هغه کړلار پیل شوه، چې موخه یې په یوه مناسب وخت کې نبوي کورنۍ ته د ځواک بېرته ورستنول وو. دا مناسب وخت د برآورد او سنجش له مخې، دومره لرې نه و او د معاویه بن ابي سفیان له شره ډک ژوند په پای ته رسېدو یې هیلې ډېرې وې؛ نو درېیمې دورې ته ((د اسلامي حکومت جوړولو ته د لنډمهاله رغنده هڅو دوره)) ویلای شو.
او بالاخره څلورمه دوره، د همدې کړلارې اوږدمهاله تعقیب او دوام دی، نږدې دوه پېرۍ، په بېلابېلو پړاوونو کې، له ماتو او بریاوو او په ایدیولوژیک چار کې له پرېکنده بریا او د وخت له د همغږو تکتیکونو سره او د اسلامي انسان د خلوص، سرښندنو او د انسان د عظمت له زرگونو پلوشو سره مله یوه دوره ده.

د نبوي کورنۍ د امامانو په ژوند کې هغه خورا عنصر، چې پام ورته نه دی شوی، د ((حادې سیاسي مبارزې)) عنصر دی، چې د لومړۍ هجري پېړۍ د دویمې نیمایي له پیله، چې اسلامي خلافت په ښکاره ډول د سلطنت په کچو وتلل شو او اسلامي حکومت په جابرانه پادشاهۍ بدل شو؛ نو د اهلبیتو امامانو د حالاتو او شرایطو مطابق، خپلې مبارزې ته زور ورکړ. ددې مبارزې تر ټولو ستره موخه د اسلامي نظام او امامت پر بنسټ د نظام جوړول وو. بېشکه د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د اهلبیتو په ځانګړې لیدلورې، د دین تفسیر، له دیني ښوونو او په احکامو کې د تحریفاتو او کږپوهیو له منځه وړل هم د اهلبیتو د جهاد مهمه موخه وه؛ خو د حتمي قراینو له مخې، د اهلبیتو جهاد په دې موخه کې نه را ایساریده او ستره موخه یې د ((علوي حکومت جوړول)) او عادلانه اسلامي نظام جوړول وو او د امامانو او د دوی د یارانو ټولې هڅې او کړاوونه او ستونزې ګالل د همدې موخې لپاره وې او امامانو د امام سجاد او د کربلا تر پېښې روسته دې موخې ته د رسېدو لپاره اوږدمهاله کړلار درلوده.
د کربلا د پېښې او د اتم امام تر ولایتعهدۍ، د اهلبیتو په امامانو- شیعیان- پورې اړوند بهیرونه د خلافت دستګاه لپاره تر ټولو ستر او خطرناک دښمنان شمېرل کېدل. په دې موده کې، څو څو ځل چمتو زمینې رامخې ته شوې او د تشیع مبارزې- چې باید د ((علوي خوځښت)) نامه پرې کېږدو- سترو بریاوو ته ورنږدې شول؛ خو هر ځل د نهایي بري پر سر به یو شمېر خنډونه رامخې ته کېدل او غالبا تر ټولو ستر ګوزار، به دې خوځښت هغه مهال خوړ، چې اصلي چورلیځ او یا مرکز به ضربه وخوړه یا به یې امام بندي کړ، یا به یې شهید کړ او چې وار به بل امام ته ورسېد؛ نو چاپېریال به دومره زندۍ او تر دباو لاندې و، چې د زمینې د بیا چمتو کولو لپاره به خورا وخت ته اړتیا وه.
د نبوي کورنۍ امامانو د پېښو په دې سخت توپان کې، تشیع، په خورا هوښیارتیا او مړانه، د یوه کوچني؛ خو ژور، تېز او کوټلي بهیر په څېر د خطرناکو او ستونزمنو پاټونو راتېره کړ او امویانو او عباسیانو هېڅکله و نه شو کولای، چې د امام په شهیدولو د امامت بهیر پوپناه کړي او دا تېره چاړه تل د خلافت په بډوډو کې ورننوتې پاتې وه او د یوه همېشني ګواښ په بڼه یې هوساینه ترې اخستې وه.

## امامت

((امام)) د پېشوا او جمع يې ائمه ده. په حقيقت کې له هر څه چې لاروي کېږي، امام ورته ويل کېږي؛ که کتاب وي که انسان که حق که باطل.[1].

۱ـخدای په حجة الوداع کې خپل استازي صلی الله عليه و آله وسلم ته وايي: ((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ: پېغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پرتا نازل شوي، بشپړ (خلکو ته) ورسوه اوکه داسې دې و نه کړل؛ نو د هغه پېغام دې نه دی رسولی، خدای تا د خلکو (له احتمالي زيانونو) ژغوري، هو! خدای (ځېلي) کافرانو ته سمه لار نه ښيي.)[2]

۲ـپه ډېرو روايتونو کې امامت د اسلام د بنسټيزو مسئلو په نامه ښوول شوی دی؛ لکه څنگه چې د وسايل الشيعه په ۳۹ حديث[3] او مستدرک الوسايل په ۱۷ حديث[4] کې راغلي دي: د اسلام بنسټ پر څو څيزونو ايښوول شوی دی، چې ولايت او مشري پکې ترټولو مهم دی.

امام محمد باقر وايي: د اسلام بناوې لمونځ، روژه، حج، زکات او ولايت دی. "زراره"، چې د امام له شاگردانو و، وپوښتل: کوم يو پکې تر ټولو مهم دی؟ امام ورته وايي: ولايت او بيا وايي: ځکه ولايت د مسايلو کونجي ده.

توحيد، چې د دين لومړی آر دی؛ نو هله به پلي شي، چې د ټولنې واکمن، پاکلمنی مشر وي او که داسې نه وي؛ نو د توحيد پر ځای به شرک او طاغوت په ټولنه کې ريښې ښخې کړي. نبوت او شريعت هله غښتلېدای شي، چې د معصوم مشر پرې څارنه وي او که داسې نه وي؛ نو شخصي سليقې او بدعتونه به پکې رانوځي او وحې به له اعتباره ووځي. که رښتيا راباندې وياست؛ نو له قانون او پر حق مشر پرته ټولنه؛ يعنې ځنگل، او هر قانون او مشر يو د بل بشپړونکي او نه بېلېدونکي دي. پر معاد او مسايلو يې ځان پوهونه، يوازې د پاکلمنی مشر له لارې شونې او د ډاډ وړ ده. امامت دی، چې لمونځ ته روح ورکوي، حج او روژې ته لوري ورکوي، جهاد ته مشروعيت ورکوي او الهي فرايض بيا ژوندي کوي.

---

[1] مفردات راغب

[2] (مائده/٦٧)

[3] وسائل الشيعه ١/ ١٣- ٢٩)

[4] مستدرك ١/ ٦٩- ٧٥)

امام د برېښنا د کارخانې په څېر ټولو څراغونو ته رڼا ورکوي، هو! د مشرۍ او امامت مساله په اسلامي ټولنه کې دومره مهمه ده، چې چاته هيڅ اړنگ نه پاتې کيږي.

[په افغانستان کې ددې مسلې اهميت هېوادوالو ته د لمر په په څېر برېنډ دی؛ موږ جهاد وکړ، شهيدان مو ورکړل، هېواد مو کنډواله شو؛ خو د سمې مشرۍ د نشتون له امله دا ټول پوپنا شول؛ نو اړينه ده، چې په ټولنه کې د مشروع او ټولمنلي مشر د منځ ته راتگ لپاره خلک له ديني اړخه وپوهول شي، چې همدا مبحث به مو لږو ډېر له دې چارو سره بلد کړي]

## توحيد او امامت دوه سترې کلکې الهي کلا گانې دي

امام رضا، چې د نيشابور له ښاره تېرېده؛ نو مينه والو ورنه د يو حديث روايت وغوښته؛ نو امام رضا ورته د سلسلة الذهب مشهور حديث ووايه، چې هغه له خپل پلار او هغه هم د خدای له استازي صلی الله عليه و آله وسلم او د خدای استازي صلی الله عليه و آله وسلم هم له حضرت جبرائيل امين څخه را نقل کړی و:

کلمة لااله الاّ اللّه حِصنی فمَن دَخل حِصنی أمن من عذابی - " توحيد زما ستره کلکه کلا ده او څوک چې ورننوت؛ نو زما له عذابه به ژغورل شوی وي. "

بيا امام وويل: " بشروطها و أنا من شروطها" – توحيد، له شرطونو سره الهي کلا ده او زه يو له دوی شرطونو يم [1]. دلته امام رضا د توحيد او امامت ترمنځ د شرط او مشروط اړيکه ټينگه کړه؛ هماغه اړيکه، چې د لمونځ او اودس تر منځ ده؛ يعنې له امامت پرته د توحيد پښه ښوييدلې ده او له اودس پرته لمونځ نه کيږي او چې د توحيد خبره مطرح وي؛ نو د معصوم مشر خبره هم مطرح ده. په دې حديث کې امام رضا توحيد کلکه الهي کلا ښوولې او په يو بل حديث کې د خدای استازي صلی الله عليه و آله وسلم د حضرت علي ولايت کلکه الهي کلا ښوولې ده او ويلې يې دي، چې لوی خدای ويلي دي:

" ولاية علیّ بن ابيطالب حصنی فمَن دخل حصنی أمن مِن عذابی" - د علي بن ابيطالب د ولايت منل زما کلا ده او څوک چې ورننوت؛ نو له الهي عذابه ژغورل شوی دی. [2]

ددې دوو روايتونو په رڼا کې توحيد او ولايت دوه سترې الهي کلاگانې دي، چې دواړه يو د بل تر څنگ له الهي عذابه د ژغورلو تومنه ده.

---

[1] عيون الاخبار، ۲/ ۱۳۵

[2] بحارالانوار، ۳۹/ ۲۵۶

# امام ته اړتیا

د امام د اړتیا لپاره یو لړ دلیلونه دادي:
۱ـ د الهي احکامو د پلي کولو او ساتنې لپاره حکومت او ځواک ته اړتیا ده او ځواک او حکومت هم غوره مشرۍ ته اړتیا لري؛ په تېره چې د پېغمبرانو شمېرۍ پای ته رسېدلې وي او د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم خاتمیت مو منلی وي.
۲ـ آیا داسې کېدای شي، چې خدای د یو قوم لپاره پېغمبر راولېږي او دا پېغمبر د سختیو په ګاللو احکام اوقوانین راوړي او بیا ټولنه همداسې بې برخلیکه پخپل سر ایله پرېږدي؟ آیا دا د حکمت کار دی؟
پېغمبر په سختیو د ښوونځي او امت بنسټ کېښود او ولاړ؛ نو د خدای حکمت او د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم زړه سوانې ته به څه ځواب ورکوي؟ کوم مسئول مقام به خپل خلک بې برخلیکه پرېږدي؟!
۳ـ اساسا دین یا باید له دننیو غوښتنو او بهرنیو پېښو سره همغږي ولري او په ځرګندنه-اصطلاح وده راوړونکی او وده ورکوونکی وي او د هر وخت غوښتنو ته ځواب ورکوونکی اویا داچې لنډ مهاله وچ قوانین ولري، چې د وخت په تېرېدو سره هېر شي.
که له دین سره په څنګ کې امام وي؛ نو د ړومبي ډول په څېر به وي او که امام ورسره نه و؛ نو دویم ډول به وي؛ ځکه په یوه روایت کې راغلي: پر حق امامت او مشري د دین چارواکي ده او د مسلمانانو د راټولېدو او د مؤمنینو د عزت او د دنیوي چارو د اصلاح لامل دی. [1]
امامت د پر مختللي اسلام بنسټ دی؛ یعنې، چې وکړای شي، د بشري کاروان د وګړیو، ټولنیز، توکیزې او مانیزې اړتیاوې پوره کړای شي.
پورتنی روایت مو پوهوي چې بې له امامه اسلام، زړېدونکی او له منځه تلونکی دی. هر وخت انساني ټولنې ته یو شمېر ګواښونه په ځار کې وي، چې که پردې مهال امام، الهي احکام له وحې څخه په الهام کې راونه سپړي؛ نو په ټولنه کې به ګډ وډې راشي؛ نو د هر ښوونځي تر څنګ د امام شتون ډېر ضروري دی.

[1] عیون الاخبار ۱/ ۲۱۶

٤_لکه څنګه چې په ډنډ کې لامبو، تکړه لامبو وهونکي استاد ته اړتیا لري او له سمندره تېرېدو لپاره بېړۍ او ماڼو ته اړتیا وي؛ نو دنیا هم ژور سمندر دی، چې کشتۍ او ماڼو ته اړتیا لري.[1] دا له کوم منطق او حکمت سره اړخ لګوي، چې خدای په دې ستر سمندر کې کمزوري او ناآشنا لامبو وهونکي همداسې پر خپل حال پرېږدي!
٥_ لکه څنګه چې خدای په بدن کې عقل واکمن کړی، چې غړي له بې لارۍ وساتي؛ نو ټولنې ته یې هم واکمن ټاکلی، چې پر کږه ولاړه نشي او ګډ وډې پکې رانشي.
آیا قرآن شریف کافي دی؟
د قرآن شریف په شتون کې امام ته څه اړتیا ده؟
قرآن شریف د قانون کتاب دی او قانون مفسر او پلي کوونکي ته اړتیا لري. د نن سبا په نظامونو کې هم د مقننه قوې تر څنګ مجریه او قضایه قوې هم شته؛ ځکه قانون پلي کوونکیو او د پلي کېدو ضمانت ته اړتیا لري.
د هر څه جزییات؛ لکه د لمونځ د رکعتونو شمېر یا د طوافونو شمېر په قرآن شریف کې نه دي راغلي او ډېر جزیي او مقطعي مطالب نه دي راغلي او پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم په خپل وخت کې امامانو او د خپل وخت خلکو ته بیان کړي دي.
قرآن شریف وایي: په پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم پسې ولاړ شئ او خپل حکمونه ترې واخلئ.
((وَمَا آتَاکُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاکُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا))[2] څه چې د خدای استازی وایي؛ نو ویې کړئ او له څه مو، چې ژغوري؛ نو مه یې کوئ او پرېږدئ یې.
دا آیت له نبوي سنته پر لاروۍ دلالت کوي؛ ځکه دخدای له استازي صلی الله علیه و آله وسلم لاروي له څښتنه (ج) لاروي ده. ((مَّنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ))[3] د امامت او ولایت منل هم د خدای د استازي صلی الله علیه و آله وسلم له سنتو څخه لاروي ده.

## امام لاربنود دی

په هر توکیز او مانیز خوځون کې څو څیزه مطرح دي:

[1] کافی ۱/ ۱۵
[2] حشر/۷
[3] نساء/۸۰

۱_ لار او مسیر. ۲_وسیله او اوزار. ۳_موخه او مقصد. ٤_ مشر او لارښود.
چې په دوی کې تر ټولو د امام او مشر ونډه ممهه ده؛ ځکه که دا نه وي؛ نو هم به لار ورکه کړو او هم موخه او هم له وسیلو به په سم او مناسب ځای کې کار وانخلو.

## امام بېلګه ده

امام بېلګه دی. که ځان ته بشپړ او واقعي بېلګې انځور نه کړو او مینه ورسره و نه کړو؛ نو ذهن ته به د باطلو تبلیغاتو دروغجنې او باطلې بېلګې راشي او پر لوري به یې ورمات شو او هغوی به موږ خپلې لوري ته راکاږي.
امام یوازې لارښود نه دی؛ بلکې امام هم دی، یوازې پالندوی نه دی؛ بلکې امام دی؛ یعنې د ده کار، عبادت، خوړل، جنګېدل، چوپتیا، فریاد او . . . . موږ ته بېلګه او زده کړه ده.

## په ټولنه کې د بېلګو ونډه

قرآن شریف د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم مېرمنو ته وایي: ((یَا نِسَاء النَّبِيِّ مَن یَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَیِّنَةٍ یُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَیْنِ [1]: د پیغمبرمیرمنو! له تاسې چې هره یوه ښکاره بدکار وکړي (؛ نو) هغې ته به دوه ګرایه عذاب ورکړای شي)). ؛ ځکه، د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم مېرمنې په عملي بڼه نورو ته بېلګه دي.
په حدیث کې راغلي دي: [یُغفر للجاهل سبعون ذنباً قبل أن یغفر للعالم ذنب واحد [2]- مخکې تردې، چې د یوه یوه ګناه و ښښل شي د ناپوه به اویا ګناهونه وښښل شي.] هو! پوهان په ټولنه کې خلکو ته بېلګه دي؛ نو تېروتنه یې هم ستره شمېرل کېږي.
مشرانو ویلي دي: عالم، چې صغیره ګناه کوي؛ نو ورته کبیره ګناه شمېرل کېږي؛ ځکه دده کړه وړه پر نورو د نورو په پرتله خوار اغېز لري. داچې د بدعتګر او د بې لارې د بنسټګر ګناه د نورو په پرتله څو ځل ډېره ده، دا ځکه دوی په ټولنه کې د بېلګې او مشرۍ ونډه لري.

[1] احزاب/۳۰
[2] کافي ۱/ ۴۷

## د تاریخ پوه پانه

امام هادي يې وپوښت: چې د جمل په جګړه کې به څوک ټپي شو؛ نو حضرت علي پرېښووه؛ خو ولې يې د صفېن په جګړه کې د ټپيانو د وژلو حکم کاوه؟ امام ورته وويل: د صفين په جګړه کې لا د مخالفينو مشران ژوندي و؛ نو هغوی به بېرته ټپيان او تبنتېدلي راټولول او تنظيمول يې او د فساد ريښـه لا په اوبو کې وه (چې ريښه په اوبو کې وي؛ نو د ثمر هيله ترې درلودلای شو)؛ نو د فساد د جرړې د راايستولو او د دسيسو د پای ته رسولو لپاره بايد کوم اغېز يې پاتې نشی؛ خو د جمل په جګره کې دهغوی د مشرانو تر وژل کېدو روسته ټپيانو او تبنتېدليو ته پناه ځی نه و پاتې؛ نو چې څوک به ټپيکېده او يا تبنتېده؛ نه تعقيبيده[1].

## په قيامت کې د امامت انعکاس

په قرآن شريف کې راغلي دي: ((يَوْمَ نَدْعُو كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ [2] (: (درياده کړه هغه ورځ) چې موږ هره ډله د هغې له مشرانو سره راغواړو)).
دې آيت په سپينه د خلکو په لارښوونه او بې لارۍ کې د امام پر ونډه رڼا اچولې. هغه ونډه، چې لارويان دوزخ او يا جنت ته بوتلای شي. په قيامت کې بېوزله خپلو فاسدو مشرانو ته وايي: ((لَوْلاَ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ [3]: که تاسې نه واست؛ نو موږ به هرومرو مؤمنان وو))

## واکمنان هم خلکو ته بېلګه دي

خدای د توبې په سورت کې مسلمانانو ته فرمان ورکوي، چې د مبارزې او جهاد په ډګر کې د کفر پر ريښو او مشرانو ګوزار وکړئ: ((فَقَاتِلُواْ أَئِمَّةَ الْكُفْرِ)) [4]؛ نو د کفر له مشرانو سره مبارزه وکړئ. د امامانو په ويناوو کې هم دې مهمې خبرې ته پام شوی دی.

---

[1] تحف العقول ۵۰۸ مخ

[2] اسراء/۷۱

[3] سباء/۳۱

[4] توبه/۱۲

حضرت علي وايي: الناس بامرائهم أشبَه منهم بآبائهم - له خپلو مشرانو د خلکو بېلګه اخستل تر مورو‌پلار له بېلګه اخستو ډېر اغېز لري. [1]

په بل روايت کې راغلي دي: الناس على دين ملوکهم - د ولس دين د چارواکو دين دی. [2]

د خدای استازی وايي: ((صِنفان من امّتی اذا صلحا صلحت امّتی و اذا فسدا فسدت امّتی - چې په امت کې مې دوه ډلې فاسدې شي؛ نو ټول به فاسد شي او که صالح ول؛ نو پر ټولو به اغېز وکړي او ټول به صالح شي.))؛ نو په دې وخت کې وپوښتل شو، چې دا دوه ډلې څوک دي؟ ورته يې وويل: ((الفقهاء و الأُمراء- پوهان او چارواکي.)) [3]

## امامت يا مشرتوب

امامت يا خلافت د مشرتوب پر مانا دی او په اصطلاح کې، د رسول اکرم تر وفات روسته د مسلمانانو پر مشرتوب اطلاق شو، چې څوک هم له دې مانا نه منکرېږي؛ ځکه مشرتوب هر ډلې او امت ته يوه فطري مساله ده او په واقع کې د سني او شيعه ترمنځ د امام او خليفه د ټاکنې د څرنګوالي په دود او دا چې څه ونډه لري، اړپېچ شته، دا د مسلمانانو ترمنځ خورا مهم او ستر اړپېچ – اختلاف دی، چې نور اختلافات يې له همدې راولاړ شوي دي؛ ځکه امامت د شيعه وو له نظره، د رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په نص دی او د اهل بيتو په دولس ګونو امامانو پورې ځانګړی دی او د نبي کريم تر وفات روسته، د اسلام د احکامو د پېژندنې او پوهاوي لپاره بايد همدوې ته رجوع وشي، يا ترې د روايت شويو سمو رواياتو لاروي وشي او که د دوی او نورو د خبرو ترمنځ ټکر راشي؛ نو واجب دي، چې د همدوی خبرو ته غوږ کېښودل شي او عمل پرې وشي؛ ځکه دوی د نبي کريم د سنتو امين زېرموال دي.

خو اهل سنت، امامت په شورا کې عملي بولي، که څه، د راتلونکي خليفه په اړه، د تېر خليفه نص مني؛ لکه چې د حضرت عمر (رض) په اړه دغسې وشو او د حضرت ابوبکر (رض) په نص خليفه شو او همدغسې په زور او توره هم خلافت ته رسېدل روا بولي؛ لکه د امويانو، عباسيانو او عثمانيانو خلافت او د اسلامي احکامو د پېژندنې او پوهاوي لپاره د اصحابو رضی الله عنهم له لوري د سمو احاديثو رواياتو ته رجوع کوي، چې ګرسره اصحاب عادل بولي او ترمنځ يې پر کوم توپير قايل نه دي، که څه، ډېرو يې د جمل او صفين په جګړو کې ګډون

---

[1] تحف العقول ۲۰۸ مخ

[2] کشف الغمّه ۲/ ۲۱

[3] بحارالانوار ۲/ ۴۹

درلود او ډېرو يې يو د بل وژنه روا ګڼله او داسې چارې يې کړي، چې د ډېرو اصحابو عدالت يې تکنی کړی، چې انشاء الله راروسته به په دې اړه خبرې وکړو.
اوس دا دواړو لوريو (سني- شيعه) استدلال ته غوږ ږدو.
لومړی د شيعه دلايل راوړو او ورپسې، په رد يې د اهل سنتو.
۱-د اهل بيتو د مشرتوب د زباد دلايل
۲-د اهل بيتو د امامانو د شمېر د زباد دلايل
۳-هغه دلايل چې نبي کريم صلى الله عليه و آله وسلم، علي کرم الله وجهه خپل ځايناستی کړی دی.

## د امامت نصوص

### د اهل بيتو د مشرۍ د زباد دلايل

دا چې تر رسول اکرم روسته، اهل بيت د امت مشري پر غاړه لري، په دې اړه ډېر روايات شته، چې مهم يې دا دي:
صحيح مسلم په خپل سند له حضرت زيد بن ارقم (رض) روايتوي، چې رسول اکرم وايي:
«خلکو! زه هم ستاسې په څېر يو انسان يم او ژر مې د پالونکي استازی ( حضرت عزرائيل ) راځي او د خپل پالونکي بلنه مې منم او په واقع کې، په تاسې کې دوه ګرانبيه څيزونه پرېږدم؛ لومړی د الله کتاب، چې پکې لارښوونه او رڼا ده؛ نو منګولې پرې ښخې کړئ او زده يې کړئ.... او اهل بيت مې (پرېږدم) تاسې ته پر الله د اهل بيتو په اړه مې[1]»
په صحيح ترمذي کې يې په خپل سند، له حضرت جابر بن عبدالله (رض) روايت کړي: رسول اکرم د عرفات پر ورځ پر اوښ سپور دا خطبه وويله او وا مې ورېدل:
«خلکو په تاسې کې دوه څيزونه پرېږدم، که منګولې پرې ولګوئ، بيخي به بې لارې نه شئ: د الله کتاب او ځوځات مې، اهل بيت مې[2]»
او که بې له دې بل کوم حديث پيدا نشي؛ نو يوازې همدا حديث د شيعه مذهب حقانيت او ورتيا ته بس دی؛ ځکه پر اهل بيتو منګولې لګول، پر کتاب الله له منګولو سره جوختې بولي؛ ځکه په دې روايت کې ګورو، چې رسول اکرم صلى الله عليه و آله وسلم په ډاګه امر کوي،

---

[1] (صحيح مسلم (۱۵ ۲۷۲ مخ) کتاب الفضائل، باب فضائل علي د نووي له شرح سره)
[2] (صحيح ترمذي (۱۲ ۳۰۸ مخ)، ۳۷۸۸ ګڼه حديث)

چې تر ما روسته پر اهل بیتو مې منګولې ولګوئ او که دا منګولې لګونه، له قرآنه په ګټنه وي؛ نو ژغورنه به یې پر برخه وي او له بې لارۍ به بچ پاتې شي.
او پر صحیح مسلم سربېره، د اهل سنتو په صحاحو او مسانیدو کې دا حدیث راغلی؛ خو حیران یم چې اهل سنت یې ولې نالیدی ګڼي؛ بلکې د اورېدو پر مهال ترې منکرېږي؛ لکه چې له آره دغسې حدیث نشته او استدلال کوي، چې په دې باب سم روایت هماغه دی، چې حضرت ابوهریره، له حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم روایت کړي:
«په واقع کې، په تاسې کې دوه څیزونه پرېږدم، که عمل پرې وکړئ، بیخي به بې لارې نشئ: د الله کتاب او سنت مې»!
ددې حدیث په اړه مې پلټنه وکړه؛ په صحاحو کې نه دی راغلی او بخاري، نسایي، ذهبي او نورو کمزوری ګڼلی.
(داکتر احمد بن مسعود بن حمدان « د اهلسنت والجماعه د ګروهو د اصولو په شرح » کتاب، ۸۰ مخ وایي:
«ددې روایت سند کمزوری دی؛ ځکه په روایاتو کې صالح بن موسی طلحي شته، چې ذهبي یې کمزوری ګڼي.»
یحیی وایي: «کوم ارزښت نه لري او روایت یې نه کښل کېږي» امام بخاري ویلي: له حدیث ویلو یې منکر دی او نسایي وایي: پرېښوول شوی دی) او یوازې حاکم په خپل مستدرک (۱۲ ۹۳ مخ) کې راوړي، چې د اهل سنتو د علماوو د اجماع له مخې، تر صحیح مسلم لاندې درجه کې دی.
او فرض دا، که دا دواړه روایت یو له بل سره په ټکر کې نه وي؛ نو لازم دي، چې ومنو، د حاکم په روایت کې له «سنتي» مراد هماغه سنت دي، چې د اهل بیتو له لارې په لاس راغلي وي، نه نورو؛ لکه چې د مسلم په روایت کې راغلي دي.
نو ځکه د حاکم د روایت «.... کتاب الله و سنتي» متن او د مسلم د روایت «.... کتاب الله و عترتي اهل بیتي» پرېښوول نه یوازې، د اهل سنتو د عالمانو له هغې اجماع سره مخالف دی، چې د مسلم احادیث، د حاکم پر احادیثو ړومبي بولي؛ بلکې له منطق او عقل سره هم اړخ نه لګوي؛ ځکه دلته د «سنتي» اصطلاح په یوازېتوب یاده شوې او څه ترې نه په ګوتو کېږي او بیا خو ټولې اسلامي ډلې، د نبوي سنتو د لارۍ ادعا کوي او ترمنځ یې ډېر اختلاف دی، چې غالباً د نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم په سنتو کې د راغلیو بېلابېلو روایتونو له لامله دی او ټولې اسلامي ډلې دا مني، چې سنت، د قرآن تفسیروونکي او مکمل دی؛ خو ددې بېلابېلو

روایاتو له لامله یې د قرآن په تفسیر کې هم اختلاف کړی، چې له لامله یې مسلمانان د بېلابېلو مذاهبو لارویان شوي او په یوه روایت یې شمېر، درې اویاوو ته رسي....
اوس نو، په دې ټولو سنتو کې کوم یو سنت، د لاروی او اطاعت وړ دی؟ او چې څوک دا حدیث واوري؛ نو طبیعي یې ذهن ته همدا پورته پوښتنه راځي؛ نو دا حدیث څکه راغلی، چې دا پوښتنه ځواب کړي او مسلمانان د خپل پیغمبر تر رحلت روسته سرګردان او حیران نه کړي؛ نو څکه د نبي کریم د سپېڅلیو لاربووونو غوښتنه ده، چې پاک نبوي سنت، د اهل بیتو له لارې تر لاسه کړو؛ څکه قرآن یې پر پاکلمنتوب او عصمت منښته کوي او دا اصطلاح (اهب بیت) پوره څرګنده ده او تاویل نه مني او یوازې همدا لار، د ژغورنې او له فتنې او بې لارېتوبه د بچېدو لار ده.
دلته دوې پوښتنې رامنځ ته کېږي، چې ځواب شوې نه دي او مطلب نه پر ډاګه کوي:
لومړی: په تېر حدیث کې له اهل بیتو مطلب څه دی؟
دوم: ولې د نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم حدیث، یوازې له اهل بیتو زده کړه مني او نه د ټولو اصحابو؛ لکه چې اهل سنت یې انګېري؟ **اهل بیت څوک دي؟**
مسلم په خپل سند په صحیح کې یې د شیبه له لور صفیه څخه روایتوي، چې حضرت عایشې بي بي (رض) وویل:
«.... رسول اکرم توره نخچې وړینه چپن اغوستې وه، چې حسن بن علي راغی او تر خپلې چپنې لاندې یې کړ، بیا حسین راغی او دا یې هم ترې ورلاندې کړ، ورپسې فاطمه راغله، چې دا یې هم تر خپلې چپنې لاندې کړه او بیا علي راغی او علي ته یې هم ځای ورکړ، بیا یې وویل:
[إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً[1]]
او بیا هم په صحیح مسلم کې راغلي:
.... د مباهلې آیت چې نازل شو [فَقُلْ تَعَالَوْاْ نَدْعُ أَبْنَاءنَا وَأَبْنَاءكُمْ وَنِسَاءنَا وَنِسَاءكُمْ وَأَنفُسَنَا وأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَةُ اللّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ[2]]؛ نو حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم، علي، فاطمه، حسن او حسین راوبلل او و یې ویل: «یا الله! دوی مې اهل بیت دي[3]»

[1] (احزاب: ۳۳)
[2] (آل عمران: ٦١)
[3] (صحیح مسلم (۱۵ ۳۲ مخ) باب: فضایل علي)

له تېرو دوو احادیثو څرګندېږي، چې د نبي مکرم په زمانه کې، اهل بیت دا دي: علي، فاطمه او دوه زامن یې؛
نو د پیغمبر مېرمنې څه دي؟
مسلم په خپل صحیح کې په خپل سند له زید بن ارقم (رض) روایتوي، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل:
«په تاسې کې دوه ګرانبیه څیزونه پرېږدم، یو د الله کتاب دی، چې هماغه الهي رسۍ ده، چا چې ونیوه؛ نو هدایت یې موندلی او چې چا ډډه ترې وکړه؛ نو په بې لارېتوب کې دی او بل مې اهل بیت... »
روایت زیاتوي: نو یو وویل: اهل بیت یې څوک دي؟
مېرمنې یې؟!
زید وویل: نه په الله قسم، مېرمن له خپل مېړه سره تر یوې مودې وي، بیا شونې ده، طلاقه یې کړي او خپل پلار او قوم ته ورستنه شي؟
خو اهل بیت یې آر، بېخ او د بدن ټوټې دي، چې تر نبي مکرم روسته، صدقه پرې حرامه کړای شوې ده.»[1]
صحیح ترمذي، په خپل سند له عمرو بن ابی سلمه (د نبي مکرم پرکټی) روایتوي:
«انما یرید الله... آیت ام سلمه بي بي (رضی الله عنهما) په کور کې نازل شو، حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم، فاطمه، حسن او حسین را و غوښتل او چپن یې ترې راتاوه کړه او علي ورپسې و؛ نو ټول یې په چپن کې راتاو کړل، بیا یې وویل:
«یا الله! دوی مې اهل بیت دي؛ نو ناپاکي او چټلي ترې لرې او سپېڅلي یې کړه!»
ام سلمې (رض) وویل: رسول الله! زه هم ورسره یم؟ ځواب یې ورکړ: «پر خپل ځای وسه او البته ته به په خېر یې»[2]
امام احمد په خپل مسند کې له ام سلمې بي بي روایتوي: «رسول اکرم فاطمې ته وویل: مېړه او اولادونه یې راوله؛ را یې وستل، بیا آنحضرت فدکي چپن پرې واچوله، چې ټول یې را و نغاړل او و یې ویل:
یا الله! دوی «آل محمد» دي؛ نو خپل درود، صلوات او برکتونه پر «محمد او آل محمد» واستوه، چې په رښتیا، ته ستایل شوی او د ستریا څښتن یې.

[1] (صحیح مسلم (۱۵/ ۲۷۴) باب فضایل علي.)
[2] ( صحیح ترمذي (۱۲/ ۲۰۹)، ۳۷۸۸ ګڼه حدیث.)

ام سلمه وايي: چېن مې لرې کړه، چې ورننوځوم؛ نو حضرت مې چېن له لاسه واخسته او و يې ويل: ته به په خير وې.[١]

سره له دې چې اهل بيت په ډاگه ټاکل شوي؛ خو بيا هم ځينې يې نه مني او د احزاب سورت په دې آياتو دليل نيسي، چې د پېغمبر مېرمنې په اهل بيتو کې دي:

[يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلاً[٢]]

ژباړه: پېغمبره! خپلو مېرمنو ته دې ووايه: ((که تاسې د دنيا ژوند او ښکلا يې غواړئ؛ نو راشئ، چې زه گټه (= ښه خوري) درکړم او په ښه وضعيت مو خوشې کړم.

[وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا[٣]]

ژباړه: او که الله، استازی يې او د آخرت کور غواړئ؛ نو [پوه شئ چې] الله ستاسې نېکانو ته ستره بدله چمتو کړې ده.))

[يَا نِسَاء النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيراً[٤]]

ژباړه: د پېغمبر مېرمنو! له تاسې چې څوک څرگند ناروا کار وکړي (؛ نو) عذاب يې دوه گرايه کېږي او دا (کار) الله ته اسان دی.

[وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا[٥]]

ژباړه: او له تاسې چې څوك د الله او دهغه د استازي امر ته په عاجزۍ پوره غاړه کېدي، او ښه (چارې) وکړي (؛ نو) دوه گرايه بدله به يې ورکړو، او ارزښتمنه روزي مو ورچمتو کړې ده.

[يَا نِسَاء النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفًا[٦]]

---

[١] (امام احمد حنبل، مسند (٦\ ٣٢٣ مخ)

[٢] (احزاب\ ٢٨)

[٣] (احزاب\ ٢٩)

[٤] (احزاب\ ٣٠)

[٥] (احزاب\ ٣١)

[٦] (احزاب\ ٣٢)

ژباړه: د پیغمبر میرمنو! تاسې هیڅ د (نورو) ښځو په څېر نه یاست (او غوره او خورا پازوالې یئ)؛ که پرهېزګاري کوئ؛ نو په نرمۍ (او ناز) خبرې مه کوئ، چې پر زړه ناروغ تن درته تمه پیدا شي او سمې روغې سنجول شوې خبرې کوئ.

د پیغمبر میرمنې څکه د اهل بیتو برخه ګڼي، چې د «انما.... » آیت، د هغه آیت برخه ده، چې د پیغمبر میرمنو ته په خطاب کې راغلی، چې دا استدلال له څو اړخونو باطل دی:

۱-په دې آیتونو کې چې یوه برخه یې د نبي مکرم د میرمنو د طلاق د ګواښ په اړه ده او ورپسې د اهل بیتو په سپېڅلتیا کې راغلی، هیڅ اړتیا نه لري، چې له دواړو څایونو، مراد، د پیغمبر ښځې وي؛ څکه ددې آیت په څېر، نور ډېر آیتونه دوه جلا جلا مطالب رانغاړي، چې ښایي علت یې زماني یووالي وي. بېلګه یې دا ده:

[حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلاَّ مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِالأَزْلاَمِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ[1]]

ژباړه: پر تاسې یې (خوړل) حرام شوي دي: مرداره غوښه، وینه او د سرکوزي غوښه او هغه څاروي، چې بې له ((الله)) د بل په نامه ذبح شي او هغه چې په (زندۍ) کېدو او په څورېدو یا له لوړې په راغورځېدو مړه شوي وي او یا هغه چې د کوم ځناور په ښکر څیرې شوی وي او د داړن ښکاري څاروي پاتې شونې وي؛ خو داچې (په موقع کې ښکار شوي څاروي ته ورسئ، حلال او) سر یې غوڅ کړئ او هغه څاروي، چې د بوتانو لپاره (یا یې په مخکې) ذبح شوي وي او (همداراز) دا هم درته ناروا ده، چې د پال (او جوارۍ) پر ځانګړیو غشیو د څاروي غوښه ټوټه ټوټه کړئ. دا ټولې چارې (ګناه او) فسق دي، نن کافران ستاسې د دین (له زواله) نهیلې شوي؛ نو څکه ترې مه وېرېږئ؛ بلکې زما له مخالفته ووېرېږئ ! نن مې ستاسې دین دربشپړ کړ او خپله لورنه مې درتمامه کړه او اسلام مې ستاسې (تلپاتې) دین درته غوره کړ (؛ نو څکه د حلالو او حرامو کوم بندیزونه، چې درلګول شوي، عملي یې کړئ)؛ خو څوک چې د سوکړې او سختې لوږې په حال کې (حرام خوراک ته اړ) شو او د ګناه نیت یې نه وي (؛ نو باك نشته، چې له منع شویو غوښو وخوري؛ څکه) چې الله لورین ښښونکی دی.

[1] (مائده|۳)

په دې آيت کې وګورئ، چې د دين دا کمال او د نعمت د اتمام بحث، د حرامو خوړو په ترڅ کې راغلی دی.
۲-د نبي مکرم مېرمنې ځکه د «اهل بيتو» په آيت کې نه راځي، چې د پېغمبر ښځې د «جمعِ مونث» په صيغه راغلي؛ لکه دا افعال: «کنتن، منکن، لستن، تخضعن، و قرن فی بيوتکن، تبرجن....»
او چې کله د اهل بيتو د تطهير او سپېځلتيا په اړه خبره کوي، مخاطب ضمير، له مونثه د «جمعِ مذکر» پر ضمير اوړېدلی: عنکم .... و يطهرکم.... او ويلي يې نه دي: عنکن... و يطهرکن.
۳-په صحيح مسلم، ترمذي سننو او د امام احمد حنبل په مسند کې د سمو احاديثو له مخې، د پېغمبر مېرمنې، په اهل بيتو کې نه شمېرل کېږي؛ ځکه حضرت صلی الله عليه و آله وسلم د ام سلمې د پوښتنې په ځواب کې وايي: رسول الله! زه هم ورسره يم؟ و يې ويل: پر خپل ځای وسه او پايله به دې پر خير وي.
او د مسلم په روايت کې په ډاګه ټېنګار شوی، چې د پېغمبر مېرمنې، په اهل بيتو کې نه شمېرل کېږي.
۴-د ثقلينو په حديث کې، چې امام مسلم، امام احمد او نورو روايت کړی، جوته شوه، چې د اهل بيتو او نبوي ځوځات لاروي لازم ده او که فرض کړو، چې په دې روايت کې د پېغمبر مېرمنې هم مطلب دي؛ نو د نبي مکرم تر وفات روسته يې څرنګه لاروي وکړو، حال دا، قرآن عظيم الشأن ورته وايي: «و قرن فی بيوتکن- کورمېشتې شئ «لکه چې د پېغمبر ټولې مېرمنې په يوه وخت کې وې او که څوک ووايي: له رواياتو يې ګټېنه وکړئ؛ په ځواب کې يې وايو: له ځينو مېرمنو خو يې ان يو روايت هم نه دی روايت شوی.
۵-په «انما يريد الله... » آيت کې چې «رجس» راغلی، په لغت کې د چټلۍ پر مانا دی او مطلب ترې «ګناه» ده او طهارت په لغت کې د پاکۍ پر مانا دی او مطلب ترې «تقوا» ده؛ نو د چټلۍ لرې کول ترې، مراد دا دي، چې سبحان خدای، اهل بيت له هرې (سترې او کوچنۍ) ګناه پاک کړي، چې دا يې بې له عصمت او پاکلمنتوبه نور څه نه دي.
او که وويل شي چې په آيت کې د تطهير مطلب، يوازې ديني تقوا؛ له منهياتو ډډه کول او له اوامرو اطاعت کول دي، دا چار بيخي مردود دی؛ ځکه په دې مانا تطهير په اهل بيتو پورې ځانګړې نه دی؛ بلکې ټول مسلمانان مؤظف دي، ديني احکام پوره عملي کړي او دغسې سپېځلتيا، ټولو متقي، مسلمانانو ته ده.
الله تعالی وايي:

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاةِ فاغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُواْ بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَينِ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُواْ وَإِن كُنتُم مَّرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاء أَحَدٌ مَّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لاَمَسْتُمُ النِّسَاء فَلَمْ تَجِدُواْ مَاء فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ مَا يُرِيدُ اللّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَـكِن يُرِيدُ لِيُطَهَّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ[1]]

ژباړه: مؤمنانو! چې لمانځه ته پاڅېدئ؛ نو خپل مخونه او لاسونه ترڅنګلو ووینځئ او خپل سرونه مسح کړئ او پښې مو تر پړکيو ووینځئ او که په جنابت کې یاست؛ نو (په لمبلو) ځان پاك کړئ او که ناروغ یا مسافر یاست او یا له تاسې خوك له اودسماتي راشي یا مو پر ښځو لاس لګولی وي (او کوروالی مو کړی وي) او (غسل یا اوداسه ته) اوبه و نه مومئ؛ نو پر پاکه خاوره تیمم وکړئ او پر مخ و لاس يې راکاږئ، الله مو تنګول نه غواړي؛ بلکې غواړي پاك مو کړي او خپله لورنه درتمامه کړي. ښايي مننه يې وکړئ.

او په دې شان، د هغو وګړيو په پاکلمنتوب ګروهن شو، چې دا آيت يې په حق کې راغلی دی. د پېغمبر مېرمنې يې خو په اهل بيتو کې نه دي؛ ځکه دوی معصومې نه دي او له دې سره سره، تر اوسه يې چا هم په اړه دغسې ادعا نه ده کړې؛ ځکه حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم هغوی په طلاق ګواښي او نور مسايل هم شته، چې و به يې ولولئ.

## د اهلبيتو پر پاکلمنتوب نور دلايل

### ۱-د ثقلينو حديث

«.... انی ترکت فيکم ما ان تمسکتم به لن تضلوا کتاب الله و عترتي اهل بيتي»

د نبي مکرم صلی الله عليه و آله وسلم له دې لارښوونې پوهېدای شو، چې د نه بې لارېتوب شرط، په واقع کې، پر کتاب الله او عترت منګولې لګول دي او بيخي معقوله نه ده، په چا کې چې د تېروتنې او ګناه احتمال وي، له بې لاريتوبه دې خوندي وي او دا د ثقلينو پر پاکلمنتوب او عصمت خورا ښه دليل دی:

د خدای کتاب «ثقل اکبر» دی، چې بيخي ورته باطل ننوتلای نشي او اهل بيت «ثقل کبير» دی.

---

[1] (مائده\۶)

**۲-د بقرې سورت ۱۲۴ آيت**

[وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ]

ژباړه: او (درياد کړئ) چې کله، الله ابراهيم په ډول ډول وسايلو وازمېيه او هغه هم له دې ازمېښتونو ښه راووت (؛نو) الله ورته وويل: ((په رښتينه کې زه دې د خلکو امام او مشر ټاکم.)) [ابراهيم] عرض وکړ: ((او له ځوځاته مې هم (مشران او امامان وټاکه.))) [الله] ورته وويل: ((ظالمانو ته مې ژمنه نه وررسي (او يوازې ستا د اولادې سپېڅلي ددې مقام وړ دي))).

دا آيت د امامت د مقام ستروالی راښيي او هم څرګندوي، چې د امت امامت به بيخي د ظالم پر برخه نشي او ګناه که کوچنۍ وي که لويه، تر سره کوونکی به يې ظالم کړي؛ نو اړينه ده، امام، له هرې تېروتنې او ګناه معصوم او پاکلمنی وي.

۳-په مستدرک الصحيحين (۲\ ۳۴۳ مخ) کې، حاکم په خپل سند له «حنش کناني» روايتوي: حضرت ابوذر (رض) مې وليد، چې د کعبې ور يې نيولی او ويل يې: خلکو! چې څوک مې پېژني؛ خو مې پېژني او چې مې نه پېژني، زه ابوذر يم، په رښتيا، وا مې وربېدل، چې حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم ويل: «زما د اهل بيتو مثال د نوح د بېړۍ په مثال دی، چې څوک پکې سپاره شول، وژغورل شو او چې چا ډډه ترې وکړه؛ نو ډوب شو.[1]»

حاکم وايي: ددې روايت سند سم دی.

۴-او همدغسې په مستدرک الصحيحين (۳\ ۱۴۹ مخ) کې له حضرت ابن عباس راغلي، چې حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم وويل: «ستوري د ځمکوالو له ډوبيدو څخه ژغورندويان دي او اهل بيت مې، زما د امت له اختلاف او درزه ژغورنې دي؛ نو که د عربو کوم يو ټبر مې له اهل بيتو سره مخالفت وکړي؛ نو درز به پکې رامنځ ته شي او د ابليس په ګوند کې به شي.»

۵-امام بخاري رحمت الله عليه په خپل صحيح کې، د اهل بيتو د مقام د درناوي لپاره، دوی پر «عليهم السلام» اصطلاح ياد کړي او دا اصطلاح يې د پېغمبر مېرمنو او يارانو ته کارولې نه ده:

[1] (صحيح بخاري (۸\ ۲۴۵ مخ) کتاب الدعوات، باب علی النبي، د مکتبة الرياض چاپ.)

د صحیح بخاري (۳\ ۱۷۱ مخ) په کتاب البیوع، (د مکتبة الریاض الحدیثه چاپ) کې له حضرت علي کرم الله وجهه روایت شوی، چې په پیل کې یې لیکلي دي:
«عن علي علیه السلام قال: کانت لي شارف.... فلما اردت ان اابني بفاطمة علیها السلام بنت رسول الله... »
او په دویم ټوک ۱۲۶ مخ کې یې راغلي:
«و طرق النبي صلی الله علیه و آله وسلم باب فاطمة و علیا علیهما السلام لیلة للصلاة»
او په څلورم ټوک، ۴۸۶ مخ، کتاب المناقب کې راغلي:
«.... رایت النبي و کان الحسین بن علي علیهما السلام یشبهه»
او په نهم ټوک، ۴۱۸ مخ، کتاب التوحید، باب المشیئة والارادة کې راغلي:
«.... عن علي بن الحسین علیهما السلام اخبره.... »
ښایي ځینې نیوکې وکړي، چې دا یې د امتیاز دلیل نه دی؛ خو په ځواب کې وایو: که دا یې د امتیاز دلیل نه وای؛ نو نورو ته به یې هم کارولی وای؛ خو خپله پرې شاهدان یو، چې دا یوازې د اهل بیتو ځانګړنې دي.
٦-نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم لارښوونه کړې، چې پر حضرت صلی الله علیه و آله وسلم صلوات، پر اهل بیتو یې له صلوات سره جوخت او همغږی وي. امام بخاري رحمت الله علیه پخپل صحیح کې له عبدالرحمان بن ابي لیلي روایتوي: «کعب بن عجره (رض) ورته وویل: پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم راغی او ورته مو وویل:
رسول الله! پوه شو، چې څرنګه درباندې سلام واچو؛ خو پوه نشو، چې څرنګه درباندې درود ووایو؟»
آنحضرت وویل: ووایاست: «اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم و علی آل ابراهیم انک حمید مجید.»[1]
مسلمانانو ته لارښوونه شوې، چې د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم تر وفات روسته رجوع ورته وکړي لکه چې په یوه روایت کې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم علي ته وویل:
«ایا ښه دې نه راځي، چې ته راته داسې وسې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو دا چې تر ما روسته کوم بل پیغمبر نشته.»[2]

---

[1] (صحیح بخاري (۸\ ۲۴۵ مخ) کتاب الدعوات، باب علی النبي، د مکتبة الریاض چاپ.)
[2] (صحیح بخاري (۵\ ۴۹۲ مخ) کتاب المعازي چاپ.... مکتبه الریاض چاپ.)

او چې څه مو وويل، ترې پوهېدای شو، چې الله تعالی، عصمت په اهل بيتو پورې ځانګړې کړې او دوی يې راتلونکې کهول ته د نبوي رسالت حاملان او لېږدوونکې ټاکلي، چې نبوي سنت، د اړوونکيو له اړونې وساتي او د شک اچوونکيو له شکه يې خوندي کړي او له آره دا امين وګړي دي، چې تر پيغمبر روسته، د الهي رسالت د تبليغولو خونديېنه تضمينوي او چې څه پر تېرو شرايعو تېر شول، دې پوښتنې ته په ډاګه ځواب دی، چې د دوی لارويانو، د خپلو پيغمبرانو تر رحلت روسته، د شرايعو احکام، له هر چا واخستل، تر دې چې ډېرې اړونې پکې رامنځ ته شوې، چې الله (ج) ترې خبر کړي يو:

[أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُواْ لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلاَمَ اللّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ[1]]

ژباړه: [مؤمنانو!] ايا هيلمن ياست، چې (سرسخت يهود) به ستاسې پر (دين) ايمان راوړي؟ حال دا يوې ډلې يې تل د الله خبرې اورېدې، چې پرې پوه به شول (بيا) روسته يې آګاهانه اړولې!.

او لنډه خبره دا چې له هر زياتي او کمي څخه د قرآني متونو ساتنه، په يوازې ځان، الهي شريعت له اړونې نشي ژغورلای.

نو ځکه، امامت او مشرتوب په ګردو چاور کې (بې له وحې چې د نبوت له ځانګړنو څنې ده) د پيغمبرۍ غځونه ده او د پيغمبرۍ له غځونې مراد دا دی، چې امامت، په ويناوو او کړنو کې، د شرعي احکامو پاسوال دی او په دې شان، د امامانو د عصمت اړتيا رادبره کېږي؛ ځکه لازم دي، له پاکې لارې او بې له څه ټګۍ برګۍ او سوچه سرچينې، اسلامي شريعت؛ راتلونکي کهول ته ولېږدول شي، چې بېشکه دوی د نبوي کورنۍ دولس ګوني امامان دي.

## د نبي مکرم د خلفاوو شمېر

حضرت رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم خبر کړي يو، چې له ما روسته خلفاء او امامان؛ له قريشو څنې دي، چې شمېر يې دولس تنه دی.

امام بخاري رحمت الله عليه په خپل صحيح کې له جابر بن سمرة (رض) روايتوي، چې نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم وويل:

---

[1] بقره|۷۵

«له ما روسته به دولس تنه امیران راشي، بيا يې يوه خبره وکړه، چې ما وا نه ورېده؛ خو پلار مې وويل، چې ويلي يې دي:
«دا ټول له قريشو څنې دي[١]»
په صحيح مسلم کې راغلي:
«دين به تر قيامته همدغسې پر خپل ځان ټينګ ولاړ وي او دولس تنه خلفا به دربانديې راشي، چې ټول يې قريش دي.[٢]»
او بيا هم په صحيح مسلم کې راغلي:
«پر خلکو چې دولس تنه واکمني ولري؛ نو چارې به يې همدغسې پر مخ ولاړې شي.[٣]»
د امام احمد رحمت الله عليه په مسند کې، له «عبدالله بن مسعود» رضی الله عنه څخه روايتوي، چې نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم د خلفاوو په اړه وپوښتل شو او و يې ويل:
«دولس تنه د بني اسرائيلو د نقيبانو په شمېر.[٤]»
او له کتابيانو سره په شته تورات کې راغلي:
«الله تعالی، حضرت ابراهيم ته د اسماعيل په نامه د يوه زوی زېری ورکړ او دا چې ځوځات به يې غځوي او په ځوځات کې يې دولس تنه اميران دي او يو ستر امت رادبره کوي.[٥]»
او بېشکه له ستر امته مراد، هماغه د حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم امت دی، چې د حضرت اسماعيل له ځوځاته دی او دولس تنه اميران، هماغه له نبي مکرم روسته امامان او خلفاء دي، چې نسل يې ور رسي او همغوی دي، چې په تېرو رواياتو کې يې يادونه وشوه.
خو د اهل سنتو عالمان، په دې اړه سرګردانه دي او د دولس ګونو خلفاوو په شمېرنه کې په ټپه ولاړ دي؛ لکه سيوطي رحمت الله عليه وايي:
«له دې دولسو تنو، د څلور خلفاوو (ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضی الله عنهم) حسن (رض)، حضرت معاويه بن ابوسفيان، عبدالله بن الزبير، عمر بن عبدالعزيز رحمت الله عليه نامې اخستای شو، چې دوی اته تنه دي او شونې ده، مهدي عباسي هم ورزيات پرې کړو؛ څکه دا په عباسيانو کې داسې و لکه عمر بن عبدالعزيز چې په امويانو کې و او طاهر عباسي

---

[١] (صحيح بخاري (١٩/ ٢٥٠ مخ) کتاب الاحکام چاپ مکتبة الرياض چاپ.)
[٢] (صحيح مسلم (١٤/ ٤٨٢ مخ) کتاب الاماره، چاپ: دارالشعب.)
[٣] (صحيح مسلم (١٤/ ٤٨٢ مخ) کتاب الاماره، چاپ: دارالشعب.)
[٤] (امام احمد حنبل، مسند (١/ ٣٩٨ مخ)
[٥] (سفر (برخه): تکوين (١٧: ٢)

هم ښايي، يو له هغو دولسو تنو څنې و؛ ځکه چې دا هم يو عادل سړی و او دوه نور يې پاتېږي، چې يو يې مهدي دی، چې له اهل بيتو څنې دی.»[1]

دا خو د دوی د عالمانو سرگرداني ده؛ خو عوامو يې له آره دغسې احاديث بيخي اورېدلي نه دي، چې د پېغمبر د خلفاوو شمېر دولس تنه دی يا يې د ثقلينو حديث اورېدلی وي، چې د اهل بيتو په ځانگړنو کې راغلی دی، که څه، د اهل سنتو په صحاحو او مسانيدو کې راغلی هم دی.

اوس د اماميه شيعه وو (دولس گونو خلفاوو لارويان) نظر ته راځو:

دوی د اهل بيتو لارويان دي او له دولس گونو خلفاوو يې مراد، د اهل بيتو دولس گوني امامان دي او په دې اړه ورته د نبوي سپېڅلي څوڅات له لورې روايات راغلي، چې د دوی حديثي ټولگې ترې ډکې دي، چې دا (عليهم السلام) دي:

۱-امير المؤمنين علي بن ابی طالب

۲-حضرت حسن بن علي «السبط»

۳-حضرت حسين بن علي «سيدالشهداء»

۴-حضرت علي بن الحسين «زين العابدين»

۵-حضرت محمد بن علي «الباقر»

۶-حضرت جعفر بن محمد «الصادق»

۷-حضرت موسی بن جعفر «الکاظم»

۸-حضرت علي بن موسی «الرضا»

۹-حضرت محمد بن علي «الجواد»

۱۰-حضرت علي بن محد «الهادي»

۱۱-حضرت حسن بن علي «العسکري»

۱۲-حضرت حجة بن الحسن، امام زمان عجل الله فرجه الشريف.

[1] (سيوطي، تاريخ، ۱۲ مخ، د قاهرې د الفجالة الجديرة چاپ.)

## د علي کرم الله وجهه د خلافت دلایل

پر تېرو احادیثو سربېره، د ثقلینو حدیث هم د علي کرم الله وجهه خلافت جوتوي. نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم د هجرت پر یوولسم کال تر حجة الوداع روسته هم په «خم» نومې ډنډ کې یوه خطبه وویله، چې د «خم غدیر» پر خطبې یادېږي.

امام ترمذي، له حضرت زید بن ارقم (رض) روایتوي، چې آنحضرت وویل: «د چا چې زه مولا یم؛ نو علي یې هم مولا دی.[1]»

امام ابن ماجه پخپل صحیح کې د دې خطبې یوه برخه پخپل سند، له حضرت برا بن عازب (رض) څخه روایت کړې:

«له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم سره له حج نه راستانه او په لار کې تم شو او د جماعت د لمانځه امر یې وکړ، بیا یې د علي لاس پورته کړ او و یې ویل: ایا زه پر مؤمنانو تر ځانونو یې وړ نه یم؟ وویل شو: هو! و یې ویل: ایا زه پر هر مؤمن تر ځان یې وړ نه یم؟ وویل شو: هو! و یې ویل؛ نو د چا چې زه مولا یم، دا یې مولا دی، یا الله، دوست یې دوست وګڼه او دښمن یې دښمن.[2]»

او د امام احمد په مسند کې د براء بن عازب (رض) په روایت کې راغلي: په مسافرت کې له نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم سره وو او په خم غدیر کې تم شو. منادي غږ کړ: د جماعت لمونځ کېږي. نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته یې تر دوو ونو لاندې ټغر خور کو؛ نو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د ماسپښین لمونځ وکړ او علي یې له لاسه ونیو او و یې ویل: «ایا نه پوهېږئ، چې پر مؤمنانو تر ځانونو یې وړ یم؟ وویل شو: هو! و یې ویل: ایا نه پوهېږئ، چې زه پر هر مؤمن تر ځان یې ړومبی یم؟ وویل شو: هو! نو علي کرم الله وجهه یې له لاسه نیولی و، و یې ویل: د چا چې زه مولا یم؛ نو علي یې هم مولا دی. یا الله! دوست یې دوست وګڼه او دښمن یې دښمن وګڼه.

راوي وايي: تر دې روسته حضرت عمر بن خطاب (رض)، علي کرم الله وجهه ولید او مبارکي یې ورکړه، چې د ابوطالب زویه، سهار او بېګاه د هر مؤمن او مؤمنې مولا یې. [3]»

د «غدیر حدیث» د اهل سنتو عالمانو له اتیا لارو روایت کړی دی.[4]

---

[1] صحیح ترمذي (۲/ ۲۹۸ مخ) ۳۷۱۳ ګڼه حدیث.

[2] (ابن ماجه سنن (۱/ ۴۳ مخ) ۱٦ ګڼه حدیث، باب: فضایل علي (ک).

[3] (امام احمد حنبل، مسند (۴/ ۲۸۱ مخ)

[4] (د غدیر حدیث د پېژندنې لپاره وګورئ: علامه اميني، الغدير چې په شلو ټوکو کې په فارسي ژباړل شوی

او له دې حدیث څخه پوهېدای شو، چې نبي کریم صلی الله علیه و آله وسلم مسلمانان، پر دوی د خپل ولایت گواهان ونیول، چې و یې پوښتل: ایا نه پوهېږئ، چې پر مؤمنانو تر ځانونو یې وړ یم؟.... ایا نه پوهېږئ، چې زه پر هر مؤمن تر ځان یې ړومبی یم؟ او څرگندېږي ځوک چې پر مؤمنانو د ړومبېتوب صفت او ځانگړنه لري؛ نو هرومرو د مؤمنانو مشر دی، چې نبي مکرم هم د مؤمنانو مشر دی او علي کرم الله وجهه یې، چې له ځان سره په دې صفت کې ورگډ کړ او و یې ویل: «د چا چې زه مولا یم؛ نو علي کرم الله وجهه یې هم مولا دی»

نو څرگندېږي، چې تر ځان روسته یې د مؤمنانو مشري ورترغاړې کړې او له همدې لامله؛ شیعه هر کال د ذي الحجې اتلسمه، په دې اړه اختر کوي او د «غدیر اختر» یې نوموي؛ خو اهل سنتو دا حدیث په بله مانا نیولی او د خلافت مانا ترې نه اخلي؛ بلکې «مولی» یې پر دوست، رفیق او ملگري مانا کړی؛ نو ځکه یې له نظره، د حدیث مانا دا ده:

«د چا چې زه دوست او ملگری یم؛ نو علي کرم الله وجهه یې هم دوست او ملگری دی!!»

حقیقت دا دی، چې مولی په عربي کې بېلابېلې ماناوې لري، ان چې (۱۷) ماناوې لري، چې یو یې «ازاد کړای شوی مریی» او «نوکر» دی؛ خو د قراینو له مخې، په دې حدیث کې د «مولی» مانا؛ مشرتوب دی او له قراینو یې دا دي:

۱-[يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ[۱]]

ژباړه: او [د الله] استازیه! څه چې ستا د پالونکي له لوري درنازل شوي، (ټول یې خلکو ته) ورسوه او که داسې و نه کړې؛ نو د ده پیغام دې نه دی رسولی او الله دې د خلکو (له احتمالي زیانونو) ساتي. هو ! الله، " الله ناپېژاندو" ته سمه لار نه ورښیي.

لکه چې په بېلابېلو تفاسیرو کې راغلي:

دا آیت د غدیر تر خطبې له مخه نازل شوی او مفهوم یې د الله له لوري یو مهم چار راښیي، چې لازم دي، خلکو ته ابلاغ شي او د آیت له توند لحنه هم څرگندېږي، چې دا یو مهم او ستر چار دی او موخه یې بیخي په دوستۍ او ملگرتوب کې نه رانغاړېږي[۲].

دی.)

[۱] (مائده\ ٦٧)

[۲] (واحدي، اسباب النزول، ۱۳۵ مخ + رازي، تفسیر کبیر (۱۲\ ۴۸ او ۴۹ مخونه)

۲-[حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلاَّ مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِالأَزْلاَمِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ[1]]

ژباړه: پر تاسې يې (خوړل) حرام شوي دي: مرداره غوښه، وينه او د سرکوزي غوښه او هغه ځاروي، چې بې له ((الله)) د بل په نامه ذبح شي او هغه چې په (زندۍ) کېدو او په ځورېدو يا له لوړې په راغورځېدو مړه شوي وي او يا هغه چې د کوم ځناور په ښکر ځيرې شوی وي او د داړن ښکاري ځاروي پاتې شونې وي؛ خو داچې (په موقع کې ښکار شوي ځاروي ته ورسئ، حلال او) سر يې غوڅ کړئ او هغه ځاروي، چې د بوتانو لپاره (يا يې په مخکې) ذبح شوي وي او (همداراز) دا هم درته ناروا ده، چې د پال (او جواری) پر ځانګړيو غشيو د ځاروي غوښه ټوټه ټوټه کړئ. دا ټولې چارې (ګناه او) فسق دي، نن کافران ستاسې د دين (له زواله) نهيلي شوي؛ نو ځکه ترې مه وېرېږئ؛ بلکې زما له مخالفته ووېرېږئ ! نن مې ستاسې دين دربشپړ کړ او خپله لورنه مې درتمامه کړه او اسلام مې ستاسې (تلپاتې) دين درته غوره کړ (؛ نو ځکه د حلالو او حرامو کوم بنديزونه، چې درلګول شوي، عملي يې کړئ)؛ خو څوک چې د سوکړې او سختې لوږې په حال کې (حرام خوراک ته اړ) شو او د ګناه نيت يې نه وي (؛ نو باك نشته، چې له منع شويو غوښو وخوري؛ ځکه) چې الله لورين ښنونکی دی.

ددې آيت په اړه، ډېرو مفسرينو ويلي: د غدير تر پېښې روسته نازل شوی، چې د «محمد صلی الله عليه و آله وسلم» د رسالت تمامېدل راښيي او لکه چې بې له دې مهم چاره، رسالت تبليغ او تمام شوی نه دی، چې دا يوازې د علي او اهل بيت له ولايته بل څه نه دي او دا له حقيقته ډېره لرې ده، چې د پېغمبر د رسالت د تبليغ تمامول، له علي کرم الله وجهه سره د مينې په ښودلو کې راونغاړو.[2]

۳-دا چې نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم په سختو او مهمو شرايطو کې د غدير خطبه وويله، په تودې بېديا کې يې مسلمانانو ته (چې تر نوي زرو تو ډېر وو) د راټولېدو حکم وکړ او له دوی يې مخکې تر دې چې، د علي د ولايت منلو امر ورته وکړي، د الله او پېغمبر پر

[1] (مائده\۳)

[2] (سيوطي دارالمنثور، (۱۲ ۲۵۹ مخ)+ بغداد تاريخ (۱۸ ۲۹۰ مخ)

ولایت یې منښته واخسته؛ نو دا ټولې چارې راښيي، چې دا چار له علي سره په دوستۍ کولو کې رانغاړېږي؛ بلکې تر دې هم خورا مهم دی.

۴-تېرو احادیث او په تېره د «ثقلينو» حديث او هغه احاديث چې روسته به وويل شي، په ټولو کې په ټينګه د علي خلافت راښيي، چې د هيڅ شک او شبهې ځای نه پاتېږي.

## د علي کرم الله وجهه خلافت ته نور دلایل

په صحيح ترمذي کې له عمران بن حصين (رض) څخه روايت دی:

«رسول اکرم د علي په بولندوينې يو لښکر ولېږه، لښکر روان و او لکه چې يو پوځي پر يوې مينزې تېری وکړ. څلورو تنو اصحابو، نبي مکرم ته د علي له لاسه شکايت وکړ، چې د پوځي ګناه پر علي ده. حضرت رسول غوسه ورته وويل: «له علي څه غواړئ؟ علي زما او زه له علي يم او تر ما روسته د هر مؤمن ولي دی.[1]»

[إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ[2]]

ژباړه: ستاسې ولي او پالندوی خو يوازې الله، استازی يې او هغه مؤمنان دي، چې لمونځونه کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي.

د اهلسنتو ډېرو مفسرينو روايت کړی، چې دا آيت د علي کرم الله وجهه په اړه نازل شوی؛ هغه مهال يې چې په رکوع کې خپله ګوته يو بېوزلي ته ورکړه. په صحيح بخاري کې له معصب بن سعد له پلاره يې (رضی الله عنهما) روايتوي چې:

رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم تبوک ته روان شو او علي کرم الله وجهه يې په مدينه کې خپل ځايناستی کړ؛ نو علي کرم الله وجهه وويل: رسول الله! ما کوچنيانو او ښځو ته خپل ځايناستی کوې. آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم وويل: «ايا خوښ نه يې، مقام دې راته داسې وي لکه هارون چې موسی ته و، خو بې له دې چې تر ما روسته بل پېغمبر نشته؟[3]»

---

[1] (طبري تفسير، (٦\١٨٦) + واحدی اسباب النزول ١٣٣ مخ+ حاکم حسکاني حنفي شواهد التنزيل (١١ ١٦٤ مخ) + انساب الاشراف (١٢ ١٥٠ مخ، ١٥١ ګڼه حديث.)

[2] (مائده\ ٥٥)

[3] (صحيح بخاري (٥\ ٤٩٢ مخ) کتاب المغازي.)

او دا حدیث راښيي، چې هارون بې له نبوته، په بني اسرائیلو کې د موسی علیه السلام ټول منصبونه درلودل، چې قرآن د دې منصبونه په اړه وايي:

[وَاجْعَل لِّي وَزِيراً مِّنْ أَهْلِي[1]]

ژباړه: او له کورنۍ مې یو وزیر (مرستیال) راوټاکه؛

[هَارُونَ أَخِي[2]]

ژباړه: رور مې هارون.

[اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي[3]]

ژباړه: ملا مې پرې ټینګه کړه؛

[وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي[4]]

ژباړه: او زما په کار کې يې رابرخوال کړه؛

[كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيراً[5]]

ژباړه: چې ستا ډېره پاکي ووايو؛

[وَنَذْكُرَكَ كَثِيراً[6]]

ژباړه: او تا ډېر یاد کړو؛

[إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيراً[7]]

ژباړه: ځکه ته همیش زموږ پر حالاتو څارن وې.

له دې آیتونو پوهېدای شو، چې هارون علیه السلام د موسی علیه السلام وزیر، ملګری او د امت په مشرتوب کې يې برخوال و.

او د علي دا وړتیا ددې له لامله وه، چې د نبي مکرم په ټولو یارانو (رضی الله عنهم) کې پوه و.

---

[1] (طه|۲۹)

[2] (طه|۳۰)

[3] (طه|۳۱)

[4] (طه|۳۲)

[5] (طه|۳۳)

[6] (طه|۳۴)

[7] (طه|۳۵)

امام بخاري رحمت الله علیه له حضرت ابن عباس (رض) څخه روایتوي، چې حضرت عمر بن خطاب (رض) وویل: «په موږ کې په قرآن لوستو کې ابی خورا غوره او په قضاوت-ورمندون کې علي دی.[1]»
او په حقیقت کې په ورمندون کې هغه خورا غوره وي، چې تر نورو پر احکامو او قوانینو ښه پوه وي او د پوهې د جوتولو لپاره یې بسیا ده، چې هغه په ټولو اصحابو کې د نبي مکرم د علم او حکمت د ښار ور و.
په مستدرک الصحیحین (۱۲۲\۳ مخ) کې له حضرت ابن عباس (رض) څخه روایتوي: «رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل:
«زه د علم ښار یم او علي یې ور دی؛ نو چې څوک د علم ښار ته راننوځي، باید پر وره، یې راننوځي.»
په صحیح ترمذي (۲۹۹ \۲ مخ) کې له احضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي:
«زه د حکمت ښار یم او علي یې ور دی.»
او په مستدرک الصحیحین (۱۲۲ \۳ مخ) کې راغلي: رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم علي کرم الله وجهه ته وویل: «تر ما روسته، امت مې چې اختلاف- اړپیچ وکړ؛ نو ته به یې ور څرګند کړې.»
تر دې اوچت خو دا چې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم له علي کرم الله وجهه سره دښمني، د نفاق نښه ښودلې ده.
په صحیح مسلم (۲۶۲ \۱ مخ) باب: حبِ علي کرم الله وجهه کې له علي کرم الله وجهه روایت شوی:
«پر هغه الله قسم، چې دانه یې وچوله او انسانان یې وپنځول، قسم چې اُمّي نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم راسره ژمنه وکړه، چې یوازې مؤمن به دې ښه ګڼي او یوازې د منافق به بد راځي.»
او ان که پیغمبر خپل ځایناستی هم نه وای ټاکلی، ایا وړ نه ده، چې اسلامي امت خپلې مشرۍ ته اعلم او هغه غوره کړي، چې تر نورو ښه حق له باطلو بېلولای شي؟
مخکې مو وویل: علي کرم الله وجهه تر ټولو اصحابو پوه و او هره ستونزه یې هواري ته وروړه؛ لکه:
ابو داوود له ابن عباس (رض) څخه روایتوي:

[1] (صحیح بخاري (۱۰۱۶ مخ) کتاب التفسیر، باب قوله: «مان نسخ من ایه... »

حضرت عمر (رض) ته يې يوه لېونۍ زاني ښځه راوسته، حضرت عمر (رض) له ځينو سره مشوره وکړه؛ بيا يې امر وکړ، چې سنگسار يې کړي. علي کرم الله وجهه له هغه ځايه تېرېده و يې پوښتل: څه خبره ده؟ وويل شو: د پلاني ټبر پر لېونۍ زاني ښځې د سنگسار حکم شوی دی. راوي وايي: علي وويل: راستنه يې کړئ. بيا په عمر پسې ورغی او و يې ويل: عمره! نه پوهېږې چې درې تنه بچ دي: لېونی چې روغ شي، پر خوب ويده چې راويښ شي او کوچنی چې عقلمن شي؟ و يې ويل: هو! و يې ويل: نو ولې دا ښځه سنگساروئ.
حضرت عمر (رض) وويل: نه پوهېږم. و يې ويل: نو خوشې يې کړئ. راوي وويل: عمر (رض) پر تکبير ويلو پيل کړل.[1]»
امام بخاري رحمت الله عليه هم په خپل صحيح کې ددې داستان يوه برخه راوړې ده.[2]
پر دې سربېره، علي د زاهدانو پر امام مشهور شوی و او مړانه يې د ټولو پر خولو وه. د اسلام لومړنی سربښندوی و او د نبي مکرم په هرې غزا کې يې ستره ونډه درلوده.
د بدر په غزا کې يې په خپله توره، د قريشو دېرش تنه اتلان ووژل.
د احد او حنين په غزاگانو کې هغه تاريخي مړانه وکړه، چې ډېر اصحاب تښتېدلي وو او اتلانه يې له پېغمبر څخه دفاع وکړه او د انسانيت په تاريخ کې يې خپله خورا سرښندنه وکښله.
د خندق په غزا کې چې د مشرکانو اتل عمرو بن عبدو عامري، مسلمانان مبارزې ته راوبلل؛ نو په مسلمانانو کې چا ورسره د مبارزې جرئت نه درلود، حال دا، نبي کريم صلی الله عليه و آله وسلم درې ځل له مسلمانانو وغوښتل، چې جگړه ورسره وکړئ، دغه مهال، د علي کرم الله وجهه عمر تر نورو اصحابو لږ و؛ خو يوازې علي و، چې ډگر ته يې ورودانگل او و يې واژه.
د خيبر په غزا کې، الله تعالی دده په لاس د کلا ور پرانست، حال دا، د پېغمبر تر نورو اصحابو مستثنی و؛ ځکه بيخي يې په جاهليت کې بوتان نه ول لمانځلي او روزنه يې د بشريت د لومړي استاد او لومړني بشپړ انسان حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم پر غاړه وه او تر مړينې پورې يوه شېبه ترې جلا نشو، د مړينې پر مهال د نبي مکرم سر د علي کرم الله وجهه په غېږ کې و او ټول عمر يې له نبي مکرم څخه پوهه او حکمت زده کړی و؛ نو په حق وړ و، چې د پېغمبر د علم او حکمت ښار او ور يې و.
امام بخاري په خپل سند، له ابن عمر (رض) څخه روايتوي: رسول اکرم د خپلو اصحابو ترمنځ روري جوړه کړه، علي په ژړا راغی او و يې ويل: رسول الله! د خپل اصحابو ترمنځ دې روري

[1] (ابو داوود سنن (۴/ ۱۴۰ مخ) ۴۳۹۹ گڼه حديث.)
[2] (۲ صحيح بخاري (۸/ ۲۰۴ مخ) کتاب المجانين.)

وکړه؛ خو زما دې له بل سره روري و نه کړه. رسول اکرم وویل: «ته مې په دنیا او آخرت کې رور یې.»[1]

تر دې اوچت خو لا دا، حضرت رسول، علي له ځانه ګاڼه، په بخاري کې راغلي چې علي ته یې وویل: «ته له ما یې او زه له تا یم.[2]»

علي تر ټولو اصحابو افضل و؛ ځکه فضایل یې تر نورو ډېر وو.

حاکم په خپل مستدرک (۱۳\ ۱۷۰ مخ) کې د امام احمد حنبل له خولې وایي:

«د پیغمبر یو صحابي هم، د علي کرم الله وجهه هومره فضایل نه لري»

په کنزالعمال (۱۱۳\ ۳۰ مخ) ۳۷۷۵۳ ګڼه حدیث کې راغلي، چې نبي مکرم وویل: «الله امر راته وکړ، چې لور مې فاطمه، علي ته ورواده کړم» او له دې لامله، چې نبي مکرم د ډېر و اصحابو غوښتنه رد کړې، چې له فاطمې سره واده وکړي او د یوه ستر شرافت خاوندان شي؛ هغه فاطمه، چې د پیغمبر د تن ټوټه، د نړۍ د ښځو سرداره، د جنتي ښځو سروره او هماغه چې په غوسه یې، الله غوسه کېږي او څه سم ویل شوي: «که علي پیدا شوی نه وای؛ نو د فاطمې سیال به نه و.»[3]

---

[1] (صحیح ترمذي (۱۲\ ۲۹۹ مخ) ۳۷۲۰ مخ)

[2] (صحیح بخاري (۱۵\ ۴۳ مخ) کتاب الفضایل الصحابه.)

[3] (صحیح بخاري (۱۵\ ۴۳ مخ) کتاب الفضایل الصحابه)

نه باید د مشرۍ نصوص له پامه غورځول شوي وای[1].
موږ چې څه وویل، په څرګندو دلایلو مو د اهل بیتو د ولایت اړتیا جوته کړه، چې تر نبي مکرم روسته، د امت د مشرۍ لپاره امام علي او یوولس زامن یې دي.
اوس یوه مهمه پوښتنه رامنځ ته کیږي او هغه دا چې:
که دا روایات او احادیث د اهل بیتو د مشرۍ په اړه وي؛ نو ولې او څرنګه خلافت نورو ته ورسېد؟
ایا په رښتیا اصحابو د نبي مکرم لاروي نه کوله او امرونه یې نه منل؟
ددې پوښتنې ځواب ته، لومړی د اسلامي تاریخ مهمې پېښې یادوو، چې د اسلامي تاریخ د بهیر په ادلون بدلون کې یې ستر اغېز درلود او قضاوت- ورمندون یې لوستوونکیو ته پرېږدو.
**مهمې پېښې دا دي:**
۱-نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم ځینو اصحابو د وصیت له لیکلو منع کړ.
۲-ځینو اصحابو د اسامه په لښکر کې برخه وا نه خسته او د ده بولندوینه یې و نه منله.
۳-د سقیفې پېښه او له حضرت ابوبکر (رض) سره بیعت.
۴-د حضرت عمر (رض) خلیفه کېدل.
۵-د حضرت عثمان (رض) خلیفه کېدل.
۶-د زمانې پر خلیفه د ام المؤمنین راپاڅېدل او د «جمل» جګړه.
۷-د حضرت معاویه بن ابوسفیان سرغړونه او د «صفین» پېښه.
۸-د حضرت علي شهادت.
۹-د سولې تړون او د امام حسن مجتبی (رض) شهادت.
۱۰-د کربلا خوځښت او د امام حسین (رض) شهادت.
دا هره پېښه تر یوې اندازې څېړو.
ځینو اصحابو، نبي مکرم د وصیت له لیکلو منع کړ، امام بخاري په دې اړه په خپل صحیح کې شپږ احادیث روایت کړي، چې آریزه پېښه، د حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم تر وفات څلور ورځې مخکې وه. له ابن عباس (رض) څخه روایتوي:

---

[1] د غدیر حدیث د پېژندنې لپاره وګورئ: اروابناد اميني، الغدیر چې په شلو ټوکو کې په فارسي ژباړل شوی دی.

«د پنجشنبې ورځ! او څه پنجشنبه تېره شوه! د پېغمبر ناروغي سخته شوې وه، و یې ویل: راشئ، یو مطلب درته ولیکم، چې روسته ترې بیخي بې لارې نشئ. په ناسته کې ګډونوالو یو له بل سره په لوړ غږ خبرې اترې وکړې، حال دا، روا نه ده، د یوه پېغمبر په مخ کې هم په لوړ غږ خبرې وشي. بالاخره یې وویل: څه پرې شوي؟ پرتې خو به نه وایي؟!! او په هر حال، خبرې یې نالیدې وګڼلې؛ نو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «ما پرېږدئ، پر کوم حال چې یم، تر هغه غوره یم، چې تاسې مې وربولئ.[1]»
په بل روایت کې له ابن عباس (رض) څخه روایتوي: هغه مهال چې حضرت نبي صلی الله علیه و آله وسلم د احتضار پر حال و، یوه ډله یې په کور کې راټوله شوې وه. نبي مکرم وویل: راشئ، یو څیز درته ولیکم، چې روسته ترې بې لارې نشئ. ځینو ګډونوالو وویل: د رسول الله درد زیات شوی او قرآن هم راسره دی، قرآن راته بس دی او بیا یې اختلاف وکړ او غږونه یې پورته شول، ځینو وویل: یو کاغذ ورکړئ، چې یو څه درته ولیکي، چې روسته ترې بې لارې نشئ او ځینو نورې خبرې کولې. چې خبرې اترې ډېرې شوې او اختلاف زور واخست، حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم وویل: پاځئ، وځئ!
عبیدالله وایي: ابن عباس (رض) تل ویل: مصیبت! ډېر سخت مصیبت هغه ورځ و، چې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم یې پرېنښود، چې څه ورته ولیکي؛ ځکه پر هغه ورځ یې ډېره شخړه وکړه.[2]
او په درېیم روایت کې له ابن عباس څخه روایتوي: هغه مهال چې حضرت رسول صلی الله علیه و آله وسلم د احتضار په حال کې و، یو ټولی د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم په کور کې و، چې عمر بن خطاب (رض) هم پکې و. نبي مکرم وویل: «هن! راشئ، یو څه درته ولیکم، چې تر ما روسته بیخي بې لارې نشئ. بیا نو حضرت عمر (رض) وویل: «د پېغمبر درد زیات شوی او قرآن هم درسره دی، د الله کتاب راته بس دی!»
په کور کې ګډونوالو په شخړه لاس پورې کړ، یوې ډلې وویل: پرېږدئ، پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم درته یوه لیکنه وکړي، چې روسته ترې بیخي بې لارې نشئ او بلې ډلې، د عمر بن خطاب (رض) خبره وویله، چې شخړې او غږونو زور واخست؛ نو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: پاځئ او وځئ!

[1] (صحیح بخاري (۵\ ۵۱۱) کتاب المغازي، باب مرضی النبي ووفاته)
[2] (صحیح بخاري (۵\ ۵۱۲) کتاب المغازي، باب مرضی النبي ووفاته)

عبيدالله وايي: ابن عباس (رض) هم همېشه ويل، مصيبت، ګرسره مصيبت پر هغه ورځ و، چې غالمغال او شخړو پرېښود، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم هغه مطلب ورته وليکي.[1]
او په صحيح مسلم کې دا لفظ راغلی: «.... نو يې وويل: رسول الله پرتې وايي».[2]
او په بل روايت کې راغلي: «نو عمر (رض) يوه خبره وکړه، چې مانا يې دا وه: د پېغمبر درد زيات شوی دی. بيا يې وويل: موږ قرآن لرو او قرآن راته بس دی.[3]
وينئ چې په دې روايت کې «پرتې وايي» (يهجر) مودبانه شوی او راوي وايي: عمر (رض) يوه خبره وکړه، چې مانا يې دا وه، چې پېغمبر د درد د غلبې له لامله دا خبرې کوي!!
په تېرو رواياتو کې له ځېرنې ډاډمنېږو، چې يوازې حضرت عمر بن خطاب (رض) ويل، چې پېغمبر پرتې وايي، چې ځينو ګډونوالو اصحابو هم دا خبره تاييد کړه او په پايله کې حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم يې غوسه کړ او له غونډې يې وشړل او و يې ويل: قومواعنی: ولاړ شئ! او رانه پاځئ.
حقيقت دا دی، بېشکه د پېښې پايله دا ده، چې رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم ته سپکاوی شوی او الله پوهېږي، چې ددې روايت په لوستو ماته يو ستر ټکان و او زما په اند، چې ډېر اهل سنت له دې پېښې او خطرناکو پايلو يې هډو خبر نه دي.
ان ځينو وګړيو د سخت ټکان له لامله په پيل کې باورولای نشول او ډېر حيرانېدل ان ځينو قسمونه وخوړل، که په رښتيا، په بخاري کې دغسې يوه پېښه وي؛ نو تر دې روسته ددې کتاب په يوه روايت هم نه ډاډمنېږي او يو يې په پيل کې روايت ومانه (ځکه له صحيح بخاري روايت شوی و)؛ خو چې پوه شو، حضرت عمر (رض) يې تر ټولو ډېر، نبي مکرم صلی الله عليه و آله وسلم ته په «پرتې ويلو» تورن کړی؛ نو ډېر غوسناک او روايته منکر شو؛ بلکې و يې ويل، تر دې روسته به نه پر صحيح بخاري او نه بل حديثي کتاب ډاډمن نه شي، چې داسې صالح سلف تر پوښتنې ګروېګنې لاندې نيسي.
په هر حال، په دې حديث کې د هېښنې- حيرانتيا خواله- راز دا ده، چې د رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په ناسته کې پر ټولو ګډونوالو اصحابو اړين وو، چې بې ځنډه يې د آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم امر منلی وای، چې خپل روستی وصيت ورته وليکي، چې دې

[1] (صحيح بخاري (۱۷ ۳۸۹ مخ) کتاب المرضی، باب: قول المريض قوموا عنی)
[2] (صحيح مسلم (۱۴ ۱۷۵ مخ) ۲۱ ګڼه حديث، کتاب الوصيه.)
[3] (ابوبکر جوهري، السقيفه، ۷۳ مخ+ صحيح مسلم (۱۳ ۱۲۵۹ مخ) ۲۲ ګڼه حديث)

وصيت تر پېغمبر روسته مسلمانان له هر ډول کوږوالي او بې لارۍ خوندي ساتل او د رسول امر يې منلی وای.
ايا کوم يو اهل سنت تمه لري، چې رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم له سترو اصحابو سره په روستۍ کتنه کې دوی هله وشړل، چې دغسې دردناکې خبرې يې حضرت رسول صلی الله عليه و آله وسلم ته وکړې، هغه خبرې چې يوازې يوه مانا يې درلوده، چې هغه «نووي» پر صحيح مسلم باندې په خپلې شرح کې راوړي، چې العياذ بالله پېغمبر پرتې وايي.[1]
امام شرف الدين په دې اړه وايي:
«که د پېغمبر په دې خبره کې ځير شو، چې وايي:
«کاغذ او قلم راوړئ، چې يو څه درته وليکم، چې روسته ترې بيخي بې لارې نشئ»
او بله خبره يې چې د ثقلينو په حديث کې کړې:
«زه په تاسې کې دوه څيزونه پرېږدم، که منګولې پرې ولګوئ، بيخي به بې لارې نشئ؛ د الله کتاب او ځوځات مې اهل بيت مې»؛
نو مومو، چې په دواړه احاديثو کې موخه يوه ده او نبي مکرم د خپلې ناروغۍ پر مهال (چې د ژوند روستۍ ورځې يې وې) په تفصيل غوښتل، چې يو څه د ثقلينو په حديث کې پرې واجب شوي ول، ورته وليکي! خو له هغې دردناکې خبرې سره چې مخ شو؛ نو له ناچارۍ يې له خپلې موخې لاس پر سر شو، هسې نه ځينې وګړي، د نبوت د غندنې يو باب پرانځي؛ ځکه د ليکنې يوازېنۍ اغېز به تر رسول اکرم روسته فتنې او اړو دوړ ته لار پرانستې وای؛ ځکه تر دې روسته بلوا او اړو دوړ رادبره کېده، چې ايا نبي مکرم (العياذ بالله) پرتې ويلي يا يې نه دي ويلې؛ لکه چې دده په مخ کې يې اختلاف او غالمغال جوړ کړ او حال دا، پېغمبر ناروغ و، دوی اعلان وکړ، چې قرآن راته بس دی او د نبي مکرم له خبرې واوړېدل؛ لکه چې د دوی هېر شوي ول، چې الله تعالی د خپل ګران پېغمبر په اړه وايي:
[وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى[2]]
ژباړه: او نه د ځاني غوښتنو له مخې غږېږي
[إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى[3]]
ژباړه: (بلکې) خبرې يې يوازې وحې ده، چې ورته رالېږل کېږي.

---

[1] (صحيح مسلم (۱۴/۱۷۴ مخ) د نووي له شرح سره، دارالشعب چاپ.)
[2] (نجم/۳)
[3] (نجم/۴)

[عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى[١]]
ژباړه: هغه ته پیاوړي ځواکمن ورښوولي دي؛
[مَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاء مِنكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ[٢]]
ژباړه: ددغو کلیو د اوسېدونکیو کوم څه چې الله پر خپل استازي لورولي؛ نو دا یوازې د الله، استازي (د رسول الله) خپلوانو، پلارمړیو، مسکینانو او مسافرو لپاره دي، چې (دا ډېره شتمني) ستاسې د بډایانو ترمنځ لاس په لاس نشي او څه چې د (الله) استازي درکړي، وا یې خلئ (او عمل پرې وکړئ) او چې له څه مو منع کوي؛ نو ډډه ترې وکړئ او د الله له (مخالفته) ځان وساتئ، چې الله سخت عذابی دی.
[إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ[٣]]
ژباړه: بېشکه چې دا (قرآن) د عزتمن استازي [= جبرئیل امین] وینا ده.
[ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ[٤]]
ژباړه: چې ډېر ځواکمن او د عرش د څښتن په نزد لوړپوړی دی.
[مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ[٥]]
ژباړه: هلته بولندوی او امین دی.
[وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ[٦]]
ژباړه: او ستاسې ملگری [= پېغمبر] لېونی نه دی.
[وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ[٧]]
ژباړه: او په یقین هغه (د وحې امین = جبرئیل) په روښانه څنډه کې لیدلی دی.
[وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ[٨]]

---

[١] (نجم\ ٥)
[٢] (حشر\ ٧)
[٣] (تکویر\ ١٩)
[٤] (تکویر\ ٢٠)
[٥] (تکویر\ ٢١)
[٦] (تکویر\ ٢٢)
[٧] (تکویر\ ٢٣)
[٨] (تکویر\ ٢٤)

ژباړه: او هغه د غیبي وحي (په رسولو او تبلیغولو کې) کنجوس نه دی.
[وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ[1]]
ژباړه: او دا (قرآن) د شړلي شیطان خبره نه ده؛
[فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ[2]]
ژباړه: نو چېرې درومئ؟!
او په رښتیا ابن عباس (رض) څه ښه دا پېښه انځور کړې:
«او په رښتیا، مصیبت، ستر مصیبت دا و، چې د اختلاف د اړو دوړ له لامله یې پېغمبر پرېښود، چې یو څه ورته ولیکي، چې روسته ترې بیخي بې لارې نشي.»
له دې ټولو مطالبو سره سره او په صحیح بخاري کې د ابن عباس (رض) د روایت له مخې، نبي مکرم صلی الله علیه و آله وسلم هله له نړۍ ولاړ، چې دا وصیت یې وکړ:
«ما پرېږدئ، پر کوم حال چې یم، تر هغه غوره یم، چې تاسې مې وربولئ. او په هر حال د درېیو ځیزونو وصیت یې وکړ: و یې ویل: مشرکان له جزیرة العربه وباسئ، له پلاویو سره هماغه چلن وکړئ، چې ما دوی ته ډالۍ ورکولې او له درېیم وصیت چوپ شو یا (راوي) وویل: هېر شوی مې دی.»!![3]
نبي کریم دا وصیتونه د خپل اهل بیتو او ځینو خپلوانو په مخ کې کړي، چې حضرت عبدالله بن عباس (د تره زوی یې) هم پکې و او دا وصیتونه د پنجشنبې ورځې تر مصیبت روسته، په څلورو ورځو کې په یوه ورځ و؛ خو هېښنده دا ده، چې درېیم وصیت (لکه چې څنګه یې بخاري روایتوي)، ابن عباس و نه غوښتل، رایاد یې کړي! او په هر حال، شیعه د اهل بیتو د روایاتو له لارې ویلي، چې هېر شوی وصیت یا هېر کړای شوی وصیت، یې بې د علي کرم الله وجهه له خلافته بل څه نه و.

[1] (تکویر\ ۲۵)
[2] (تکویر\ ۲۶)
[3] (صحیح بخاري (۵\۱۱ ۵ مخ) کتاب المغازی، باب مرضی النبي)

## یو مهم حدیث

په یوه روایت کې راغلي:

قال اللّه تبارك و تعالی: لاعذّبنّ کلّ رعیّة فی الاسلام دانت بولایة کلّ امام جائر لیس من اللّه و اِن کانت الرعیة فی اعمالها بَرَّة تقیّة و لاعفونّ عن کلّ رعیّة فی الاسلام دانت بولایة کلّ امام عادل من اللّه و اِن کانت الرعیّة فی انفسها ظالمةً مسیئة - خدای وایي: هرې ډلې، چې د ظالم مشر مشري ومنله؛ نو زما پر عذاب به ککړ شي، که څه دوی د تقوا خاوندان او صالح خلک وي او کوموخلکو چې د عادل امام مشري ومنله؛ نو د خدای لطف په پرې وي که څه دا خلک پخپله ظالمان او بد خلک وي. [1]

له دې حدیثه ګټنه کېږي، څه چې تر عمله غوره دي، د عادل امام د مشرۍ منل دي؛ لکه څنګه چې د موټر چلونکی هوښیار، د تجربې خاوند او سم انسان وي؛ نو دا موټر به ترمنزله ورسي، که څه په دې موټر کې داسې سپرلۍ ناستې وي، چې په موټر کې سیګرټ څښې، موټر چټلوي او د مېوو پوټکي پکې اچوي او یا داچې بد خلک وي؛ خو که موټر چلونکی مست، ړوند او یا ناسم انسان وي؛ نو که سپرلۍ څومره هم پاکې او تکړه وي؛ نو سپرلۍ به مقصد ته ونه رسي. هو! څه چې په حرکت کې اصالت لري، مشري او په مسیر کې یې حرکت دی.

په قرآن شریف کې راغلي دي: ((فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءهُمْ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [2]: نوکه ستا دا وړاندیز یې و نه مانه؛ نو پوه شه چې هغوی یوازې د خپلو هوسونو لارویان دي او تر هغه به څوك لوی بې لارې وي، چې له الهي لارښوونې پرته په خپل هوس پسې ولاړ شي؟! په رښتیا خدای ظالمانو ته سمه لار نه ښیي.)).

د پورتني آیت تر تفسیر لاندې روایت دی: چا چې پخپله خوښه خپله لاره وټاکله او له حقیقي امام یې لاروي و نه کړه؛ نو په دې آیت کې شاملېږي او تر ټولو بې لارې دی[3].

په بل حدیث کې راغلي دي: څوک چې ډېر عبادت کوي؛ خو حقیقي امام او مشر و نه لري؛ نو ټولې هڅې او کوښښونه یې اوبه وړې او په حقیقت کې بې لارې دی او خدای یې هم د عبادتونو او کړنو دښمن دی. ((والله شانئ لاعماله)) [4]

---

[1] کافی ۱/ ۳۷٦

[2] قصص/۵۰

[3] تفسیر المیزان ۱٦/ ۵٦

[4] کافی ۱/ ۱۸۳

## د امامت موخې

د مشرۍ موخه د الهي احکامو پلي کول او ولس کمال ته رسول او له ظلم، تېري، ناپوهۍ او تفرقې یې ساتل دي او نه ځواک او شتمنۍ ترلاسه کول؛ نو په اسلام کې امامت څوکۍ نه ده؛ بلکې مسئولیت دی. سوکالي نه ده؛ بلکې پېټی دی او امام د عادي ژوند خاوند دی او عادي خواړه خوری او د نورو په څېر کار کوي او ساده جامې اغوندي او ځان ته هېڅ ډول امتیاز نلري.

حضرت علي په یوه لیک کې ابن عباس ته لیکي:

((امّا بعد، فلا یکن حظّك فی ولایتك مالا تستفیده و لا غیظا تشتفیه ولکن اماتة باطل و احیاء حقّ: په واکمنۍ کې نه باید جېب ډک کړی او حق نه لرې، چې له خپل ځواکه ناوړه ګټه وکړې او سیال ته دې د خپل ځواک ښوولو په هڅه کې نشې؛ بلکې موخه دې د باطل له منځه وړل او د حق ژوندي کول وي)) [1]

حضرت علي د حکومت ترلاسه کولو روسته خلکو ته وویل: ((دخلتُ بلادکم بأشمالی هذه و رحلتی و راحلتی ها هی فاِن أنا خرجتُ من بلادکم بغیر ما دخلتُ فانّنی من الخائنین: له ساده سامان، زړو جامو او له دې سپرلۍ سره ستاسې ښار ته راننوتم او که تر څه مودې روسته مې په وضع کې بدلون راغی؛ نو پوه شئ، چې په بیت المال کې مې خیانت کړی دی.)) [2].

او همداسې حضرت علي (نهج البلاغه، ۲۱٤ مه خطبه) وایي: خدای پر ما او تا یو د بل حقونه ایښي دي او داسې نه ده، چې واکمن به یوازې "امر و منع" کوي او له مقامه به خوند اخلي او حکمونه به کوي.

نو پردې بنسټ په اسلام کې د حکومت موخه د واکمن مزې چړچې نه دي او که داسې نه وه؛ نو حضرت علي به د خپل حکومت پر مهال خپل بوټان پخپله نه ګنډل او په سخته کې به یې ژوند نه کاوه او د خپل ورځېني ژوند لګښت پوره کولو ته به نه اړېده، چې خپله توره وپلوري او وایي: ((واللّه لو کان عندی ثمن اِزار ما بِعتُه: پر خدای قسم که د یوه جوړ جامو د اغستو هومره پېسې مې درلودې؛ نو خپله توره مې نه پلورله.)) [3]

---

[1] بحارالانوار ۴۰/ ۳۲۸

[2] بحارالانوار ۴۰/ ۳۲۵

[3] بحارالانوار ۳۴/ ۳۵۰

هماغه مهال، چې پر امام رضا وليعهدي ور وتپل شوه؛ نو پر پوزکي به يې ژوند کاوه او له مريانو سره به يې خواړه خوړل.
سليمان عليه السلام هم له هاغومره شان وشوکت او دبدبې سره، له بېوزليو سره خواړه خوړل او ورسره يې ناسته پاسته کوله[1].

## د امامت نښې

د خدای استازی، چې د خپل عمر له روستي حجه راستنېده؛ نو غدير خم نومي ځای ته چې راورسېد، چې حاجيان پکې يو له بله بېلېدل او خپلو سيمو (يمن، مدينه، عراق، حبشه) ته ستنېدل؛ نو پردې مهال د خدای له لوري پېغمبر صلى الله عليه و آله وسلم ته دستور راغی او پېغمبر هم دا امر په ځانگړو تشريفاتو ترسره کړ او د ((اليوم اکملت لکم دينکم.......)) آيت نازل شو:

۱ـنن کفار نهيلي شول؛ ځکه د شاعر، ساحر او مجنون تورونو هېڅ هم و نه کړای شول او د بدر، خيبر او خندق جگړې هم د مسلمانانو پر گټه شوې وې او د کفارو يوازېنۍ هيله د خدای د استازي صلى الله عليه و آله وسلم له دې نړۍ سترگې پټول و او له ځان سره يې ويل، چې پېغمبرخو زوی نه لري او ځايناستی يې هم نه دی ټاکلی؛ نو په مړينې به يې د دين ځراغ هم مړ شي؛ نو همداچې ويې ليدل، چې د خدای او د هغه د استازي صلى الله عليه و آله وسلم له لوري حضرت علي ځايناستی وټاکل شو؛ نو د کفارو د هيلې دا کاسه هم په خاورو ايرو شوه.
هو! پر هغه ورځ کفار نهيلي شول.

۲ـنن دين بشپړ شو؛ ځکه د قانون تر څنگ واکمن هم راغی. د حکم ترڅنگ پلي کوونکی هم راغی او د طرح په څنگ کې بېلگه هم راغله او د اسلام موټر چلولو لپاره چلوونکی و ټاکل شو.
هو! بې مشره دين، له بې درملو ډاکټر په څېر بشپړېدای نشي.

۳ـ نن تاسې مسلمانانو ته، الهي نعمتونه د تمامېدو پړاو ته ورسېدل.
که ټول نعمتونه وي؛ خو د مشرۍ نعمت نه وی؛ نو چارې نيمگړې دي؛ ځکه د مشر په لارښـوونو، انسان له الهي نعمتونو سمه گټه اخستی شي.

٤ـنن چې تاسې د قانون او واکمن خاوندان ياست؛ نو اسلام له هر اړخه بشپړ شو او زه داسې ښوونځی درته خوښوم.

[1] الحياة ۲/۲۳۳

## د حضرت پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم هڅې

د اسلام پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم له هماغه پیله په بېلابېلو مناسبتونو کې د مشرۍ لیکه مطرح کړې وه. پېغمبر، چې لومړی ځل خپله بلنه ښکاره کړه او دا آیت راغی، ((وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ[1]: او خپل نژدې خپلوان دې وویروه.))
نو پېغمبرصلی الله علیه و آله وسلم خپل ټبر راوغوښت او تر خوړو روسته یې ورته وویل: په تاسې کې، چې څوک تر ټولو ړومبی پر ما ایمان راوړي؛ نو په تاسې کې به هغه زما ځایناستی، وصي او خلیفه وي؛ نو پردې مهال تر ټولو ړومبی، چې خپل ایمان یې څرګند کړ، حضرت علي و[2]. د تبوک په جګړه کې هم پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم حضرت علي په مدینه کې خپل ځایناستی کړ او ورته یې وویل: ((ته ما ته داسې یې؛ لکه هارون، چې موسی ته و؛ خو په دومره توپیر، چې تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي)) [3].
پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم به تر ځان ورسته د مشر د معرفي کولو لپاره د خلکو پام، زهرا بي بي ته وراړاوه او ویل به یې: ((فاطمة بضعة منّی - فاطمه مې د وجود ټوټه ده.)) [4].
د فاطمې بي بي خوښي او ناخوښی به یې د حق اوباطل کچه ښووه او ویل یې: ((یا فاطمة انّ اللّه یرضی لرضاك- فاطمې! د خدای خوښي ستا په خوښۍ کې ده.)) [5]
کله به پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په زړه پورو تشبیهاتو، په راتلونکیو فتنو رڼا اچوله او له دې فتنو د وتو لار به یې هم ښووله؛ لکه د فتنو په طوفانو او سیلابونو کې یې خپل اهل بیت د نوح بېړۍ ته تشبیه کول او ویل یې: ((مثل اهل بیتی کسفینة نوح مَن رَکبها نجی - اهل بیت مې د نوح د بېړۍ په څېر دي؛ نو څوک چې پکې سپاره شول؛ نو ژغورل شوي به وي.))[6].
یعنې یوازې دوی دي، چې په سختو ناوړو پېښو او فتنو کې کړای شي، چې موږ له دې فتنو رابهر کړي او که څوک بې له دوی په بل پسې ولاړل؛ نو ډوب شوي به وي. پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم به د امام د معرفي کولو او ورته د رجوع په هکله هم ویناوې کولې؛ لکه:

---

[1] شعراء/ ۲۱۴
[2] بحارالانوار ۱۸/ ۱۶۲
[3] بحارالانوار ۵/ ۲۰ او د تفسیر نمونه ۶/ ۳۴۳ کې په دې اړه مفصل بحث شوی دی
[4] شرح نهج البلاغه۱٦/ ۲۷۲
[5] بحارالانوار ۴۳/ ۴۸
[6] الغدیر ۲/ ۳۰۱

((أنا مدينة العلم و عليّ بابها- زه دعلم ښار يم او علي يې ور دی.)) [1] يوه ورځ پېغمبر اکرمصلی الله عليه و آله وسلم حضرت عمار ته وويل: ((يا عمار تقتلك الفئة الباغية- عماره! باغي ډله به دې ووژني.)) [2] د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم دې خبرې کلونه روسته د اسلام پر دښمن گوزار وکړ؛ ځکه د صفين په جگړه کې حضرت عمار د حضرت علي کرم الله وجهه په پلوۍ د معاويه پر خلاف جنگېده او همداچې د معاويه له لورې ووژل شو؛ نو خلکو ته د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم دا خبره ورياده شوه او خلکو غوښتل، چې د معاويه پلوي پرېږدي؛ خو معاويه د عمرو عاص په مرسته خلک وغولول او د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم خبرې ته يې داسې مخونه ورکړه، چې عمار موږ نه دی وژلی؛ بلکې هغوی وژلی، چې عمار يې دلته جگړې ته راوستی او ساده خلک هم پردې خبره وغولېدل.

پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم به کله ابوذر د حق ملاک کاوه او ويل به يې: ((ژبه يې رېښتينه او وينا يې حق ده او يا داچې ويل به يې: بې له ابوذره پر ځمکه لا لمر رڼا نه ده خپره کړې.)) [3]

يعني خلکو! وگورئ، چې د مشرۍ په مسئله کې ابوذر په چا پسې ځي؛ نو تاسې هم په هماغه پسې ولاړ شئ.

د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم د خپل ځايناستي په ټاکلو کې خورا کوښښ وکړ، چې تر ځان روسته خلکو ته سمه لار وښيي، ان تردې چې له حضرت علي روسته امامان يې هم خلکو ته ور وپېژندل، چې خلک لار ورکه نه کړي.

د ځلکدن پر مهال يې هم له خپلو هلو ځلو او کوښښه لاس وا نه خست او ويې ويل: ما ته قلم او کاغذ راوړئ، چې تاسې ته داسې څه وليکم، چې تر ما روسته بېخي بې لارې نشئ؛ خو په خواشينۍ وايم، چې په دې وخت کې دويم خليفه وويل: دا سړی د ناروغۍ له امله پرتې وايي!! [4]

هغه د خدای استازی، چې خدای يې په هکله وايي:

---

[1] شرح نهج‌البلاغه ۷/ ۲۱۹

[2] بحارالانوار ۱۲۳/۱۸

[3] بحارالانوار ۴۰۴/۲۲

[4] بحارالانوار ۴۶۶/۳۰

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى. إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى [1]: او هغه د ځاني غوښتنو له مخې نه غږيږي. (بلکې) خبرې يې يوازې وحې ده، چې ورته وحې کيږي.

## د يوې پوښتنې ځواب

پوښتنه: د پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د ټولو هلو ځلو او د حضرت علي له وړتيا سره، ولې خلکو ورته د يوې مودې لپاره ورشا کړه؟
لومړی داچې د خدای له حکمه سرغړونه څه نوې خبره نه ده، ايا ابليس د خدای په حکم ادم ته سجده وکړه، ايا د موسی امت ددې له امله بې لارې نشو، چې حضرت موسی عليه السلام يې څو ورځې ونه ليد؟ د قرآن شريف دومره آيتونو موږ ايمان، تقوی، صالح عمل، پر ژمنه او امانت کې وفا او امانتوالی ته رابللي يو؛ نو ولې بيا هم د ايمان، تقوی او نېکو کړنو خاوندان لږ دي؟
دويم ځينو په زړونو کې له حضرت علي سره کينه درلوده چې لامل شوه خلک په حضرت علي پسې ولاړ نه شي؛ ځکه د دوی خپلوان، حضرت علي د بدر، احد، خيبر او حنين په جګړو کې وژلي ول.
دريم داچې خلکو امام پيژانده او له عادلانه چلنه يې خبر ول؛ نو د خپلو ګټو په خاطر يې د امام امامت ونه منه او ځينو په پيل کې د امام امامت ومانه؛ خو په لار کې ترې بېل شول، خلکو چې دريم خليفه وواژه؛ نوله امام سره يو ځای شول او بيا يې ژمنه ماته کړه او د جمل جګړه يې رامنځ ته کړه؛ ځکه دوی له امامه د ټولنيز، سياسي او اقتصادي امتيازاتو تمه درلوده؛ خو امام د بيت المال په ساتنه کې سخت دريځی و او حاضر نشو د چا غير عادلانه غوښتنو او خبرو ته غوږ شي.

## د حق پلي کولو ته هڅې او چغې وهل

پردې سربيره، چې پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم خلکو ته خپل ځايناستی ور وپيژانده، په خپله حضرت علي به هم د خپل حقانيت په هکله خلکو ته خبرې کولې. د ساری په توګه

[1] نجم/۳،۴

د هغه سړي په څواب کې يې چې ((ولې دومره د حکومت لاس ته راوړو ته حريص يې؟ وويل: ((انّما طلبتُ حقّاً لی- زه په حقه خپل حق غواړم.)) [1]
په بل ځای کې وايي: ((أری تُراثی نَهباً - خپل ميراث لوټ شوی وينم.)) [2] او په بل ځای کې وايي: ((لقد علمتم أنیّ أحقّ الناس بها من غيری - تاسې په خپله پوهېږئ، چې زه د خلافت لپاره تر ټولو وړ يم.)) [3]. او همداسې وايي: ((انّ مَحلّی منها مَحلُّ القطب من الرّحی - په خلافت او حکومت کې زما ځای د ژرندې د تيګې چورخلک ته ورته دی.)) [4]
چې کله امام باقر وفات شو، د هغو فعاليتونو له لامله، چې په دې وخت کې په خپله امام باقر او امام سجاد تر سره کړي وو، د حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم د کورنۍ په ګټه حالات خورا بدل شول. په دوو ټکيو کې زه د امام باقر او امام صادق نقشه افشا کوم، چې البته هغه مهال يوه خواله وه، د امام صادق نقشه دا وه، چې د امام باقر تر وفات روسته د چارو سمبالنه وکړي او يو ښکاره پاڅون پيل کړي او د امويانو حکومت- چې هره ورځ يې يو حکومت بدلېده، چې د دوی د حکومت د کمزورۍ ښکارندوی دی- را و پرځوي او له خراسان، ری، اصفهان، عراق، حجاز، مصر، مراکش او ټول مسلمان مېشتي سيمې، چې په دې ټولو سيمو کې د امام صادق ګوندي شبکه -يعنې شيعه- په هر ځای کې خپاره شوي وو، چې دا ټول ځواکونه مدينې ته راشي او د شام پر لوري وخوځي او شام راوپرځوی او خپله د خلافت بيرغ هسک کړي او بيا مدينې ته راشي او د حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم حکومت جوړ کړي؛ دا د امام صادق نقشه وه.
نو د امام باقر د ژوند په روستيو ورځو کې، چې په مخ کې يې خبرې کېږي او پوښتل کېږي، چې ((قائم آل محمد)) څوک دی، آنحضرت امام صادق ته ورګوري او ګواکې ويل غواړي، چې قائم آل محمد دا دی. البته پوهېږو، چې قائم آل محمد يوه عامه نامه ده، خاصه نامه نه ده، د ولي عصر صلوات الله عليه نامه نه ده، ولي عصر د آل محمد نهايي او روستی قائم دی؛ خو په دې موده کې له آل محمد څنې هر چا چې پاڅون کړی- که بريالی شوی که نه- دوی قائم آل محمد دي او دا روايتونه، چې وايي، چې کله زموږ قائم پاڅون وکړي؛ نو دا او هغه کارونه به وکړي، داسې هوساينه به راوړي، داسې عدل به خپور کړي، مراد يې پر هغه مهال حضرت

[1] نهج‌البلاغه ۱۷۲خطبه
[2] نهج‌البلاغه۳ مه خطبه
[3] نهج‌البلاغه ۷۴مه خطبه
[4] نهج‌البلاغه۳ مه خطبه

ولي عصر نه و، مراد دا و، چې له آل محمد ځنې هغه وګړی، چې د عدل او حق حکومت جوړول غواړي، چې هغه کله پاڅون وکړي؛ نو دا چارې به ترسره کړي او دا سمه هم وه او د هغه مهال د آل محمد قائم به امام صادق کېده. په داسې یو حالاتو کې امام صادق امامت ته ورسېد.
امام صادق علیه السلام د مبارزې سړی و، د پوهې، علم تشکیلاتو سړی و، دا خو ټولو خورا اورېدلي، چې د پوهې او علم سړی و، کوم د زده کړې محفل او زده کړیالیز ډګر یې چې جوړ کړ، هم ترې مخکې او هم ترې روسته، د نبوي کورنۍ په امامانو کې بې ساری و. د اسلام ټولې سمې خبرې او د قرآن اصیل مفاهیم، چې څه د پاسه په یوه پېړۍ کې مغرضانو او مفسدانو تحریف کړي وو، دا ټول امام صادق په سمه بڼه یې بیان کړل او همدا لامل شول، چې دښمن ترې د خطر احساس وکړي؛ خو دا به مو لږ اورېدلي وي، چې د مبارزې سړی و. امام صادق رحمت الله علیه پر یوې پراخه پرله پسې مبارزې بوخت و؛ د حکومت قبضه کولو او قدرت ته د رسېدو لپاره مبارزه او د اسلامي او علوي حکومت جوړولو ته؛ یعنې امام صادق رحمت الله علیه دې ته زمینه چمتو کوله، چې امویان له منځه بوځي او پر ځای یې علوي حکومت، چې هماغه رښتین اسلامي حکومت دی، رامنځ ته کړي او دا چار هغوی ته ورڅرګند دی، چې د امام صادق په ژوند کې څېرنه او مطالعه کوي؛ خو درېیم اړخ یې مو بیخي نه دی اورېدلی، او هغه دا چې د تشکیلاتو سړی و. امام صادق رحمت الله علیه پر ځان د مؤمنانو راټولولو او د علوي حکومت د بهیر لپاره، په ټوله اسلامي نړۍ کې -له خراسان تر ماوراء النهر او د افریقا تر شماله تشکیلات جوړ کړي ول.
تشکیلات؛ یعنې څه؟ یعنې هغه مهال، چې امام صادق غواړي پر څه چې باید خلک پوه شي؛ استازي یې په ټوله نړۍ کې خلکو ته ووایي، چې پوه پرې شي؛ یعنې له هر ځایه وجوهات او بودجه د آل علي د سترې سیاسي مبارزې لپاره راټوله کړي؛ یعنې وکیلان او استازي یې په ټولو ښارونو کې وي، چې خلک او د امام صادق لارویان مراجعه ورته وکړي او خپل سیاسي او دیني مکلفیت او مسوولیت ترې وپوښتي. سیاسي مکلفیت او مسوولیت هم د دیني مکلفیت او مسوولیت په څېر واجب الاجرا دی، هغه څوک چې زموږ لپاره واجب الاطاعة او ولي امر دی، د لمانځه، روژې، زکات او نورو واجباتو په باب یې سیاسي او مذهبي فتوا، د جهاد، سیاسي اړیکو، په هېواد کې د دننه اړیکو او نورو مسایلو په باب، سیاسي فتوا او حکم یې یو شان دی؛ ټول واجب الاطاعة دي. امام صادق داسې یو ستر تشکیلات جوړ کړي وو او په دې تشکیلاتو او د هغو خلکو په مرسته، چې په دې تشکیلاتو کې وو، د امویانو له حکومت سره یې مبارزه کوله. البته د امام سرګذشت خورا مهم او له عبرته ډکه دی، لس کاله یې له امویانو

سره او د یوه اوږد مهال لپاره یې له عباسیانو سره مبارزه وکړه او هغه مهال، یې چې پر امویان بری حتمي و؛ نو عباسیانو د یوه مزاحم او فرصت طلب بهیر په نامه ډګر ته راودانګل او ډګر یې ونیوه او تر دې روسته امام صادق هم له امویانو او هم عباسیانو سره مبارزه وکړه.
د طبري – مشهور مورخ- له قوله یو شمېر څېزونه رانقل شوي، چې آنحضرت د امامت په لومړیو لسو کلونو کې له امویانو سره وجنګېد. په دې پېر کې د امام صادق مبارزه څرګنده او په ډاګه وه؛ یعنې پوښنه، تقیه او پټونه یې نه کوله. لامل یې هم دا و، چې په دې وخت کې د اموی خلفاء دومره سرګرم او بوخت وو، چې د دې وخت یې نه درلود، چې په امام صادق او لارویانو پسې یې راشي او پر خلاف یې شدت وکاروي؛ نو امام صادق اړ نه و، چې پټ پټونی وکړي. . . امام صادق به د عرفات پر ورځ دې سترې غونډې ته ورتله- چې له کوم ځایه راغلي وو؛ له ټولې اسلامی نړۍ نه؛ له افریقا، له منځنی ختیځ نه، له عراق نه، د هغې ورځې له ایران نه، له خراسان نه، د هغې ورځې له افغانستان نه، له ختیز ترکستان نه- له هر ځایه دلته انسانان شته دی، که دلته دې یو بمب وچاوه؛ لکه چې په ټوله اسلامي نړۍ کې دې چوولی وي، که یوه خبره دې وکړه؛ لکه په یوه نړیواله تبلیغاتي شبکه کې چې دې کړې وي. امام صادق به دې سترې پرتمینې غونډې ته راتله او په خلکو کې به یې په زغرده او ډاګه ویل، چې ای خلکو! نن په حقه امام او واکمن جعفر بن محمد دی او نه اموي واکمن، دې خبرې ته به یې دلیل هم راووړ؛ خو نه کلامي او عقلي دلیل؛ ځکه څرګنده دهچې هومره ډلې د دومره استدلال اورېدو حوصله نه درلوده؛ خو یو بل ډول استدلال به یې کاوه؛ ځکه عباسي منصور او نورو یې، د دې لپاره چې د خلکو ذهنونه قانع کړي او داچې وښیي، چې د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ځایناستي دي، د نسب یوه شمېرۍ یې جوړه کړې وه او ویل یې، موږ د عباس ځوځات یو. دوه د نسب شمېرۍ یې درلودې او هر ځل یې یوه له دې دوو شمېریو ځنې ویله.
د عباسیانو یوه خبره دا وه، چې ویل یې، موږ د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د تره عباس ځوځات یو او د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم تر وفات روسته، خلافت زموږ د بني هاشمو و او په بني هاشمو کې هم تر ټولو سپین ږیری او ټولمنلی عباس د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم تره و؛ نو تر حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روسته خلافت د عباس و او بیا چې موږ د عباس ځوځات یو، موږ ته رارسي. دا یې یوه خبره وه. یوه بله د نسب شمېرۍ یې هم ویله، چې موږ د علي عباسي زامن یو، علي بن عبدالله بن عباس. رښتیا وایي. دوی د علي عباسي لمسیان وو یا د علي عباسي زامن وو او هغه هم د محمد حنفیه زده کړیال دی او محمد حنفیه د حضرت امیرالمؤمنین علي بن ابیطالب

زوی دی او علي د حضرت پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم زوم دی. خلافت له حضرت پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه علي ته ور رسېدلی او له هغه هم محمد حنفیه – نه حسن او حسین ته- ته ور رسېدلی او له هغه هم د عبدالله بن عباس زوی ته- چې هغه زموږ نیکه دی- او له ده هم موږ ته رارسېدلی؛ نو خلیفه یو.

داسې د نسب یوه شمېرۍ یې جوړوله او دا خبره یې د هغه مهال خلکو ته قانع کوونکې وه؛ ځکه د اندنې کچه یې ټیټه وه؛ نو چې امام به په دې ستره غونډه کې ودرېد، د امامت سمه شمېرۍ به یې بیانوله؛ ((ایها الناس ان رسول الله کان الامام)) په خپله پیغمبر امام و؛ یعنې د ټولنې مشر او لارښود و. ((ثم من بعده علی بن ابیطالب)) هماغه د شیعه منطق؛ ورپسې حسن، ورپسې حسین، ورپسې علي بن الحسین، ورپسې محمد بن علي او ورپسې زه. ځان به یې د امام په نامه معرفي کاوه، چې دې چار یې خورا مهانه غوښته. دا یوه عادي خبره نه وه، یوه ساده خبره نه وه، دا د ستر مخالفت اعلانول وو او دا کار به امام صادق د امویانو پر مهال کاوه، د امویانو په روستیو وختونو کې. د عباسیانو پر مهال به یې چارې په پټه او تقیه ترسره کولې؛ لامل یې هم دا وچې عباسیانو به هماغه د آل علي شعارونه او ددوی څرګندونې کولې، څېره یې د آل علي څېره وه او کړنې یې د امویانو وې.

د امویانو د حکومت پر مهال یې مبارزه هاغسې وه؛ د عباسیانو پر مهال- چې حکومت یې اوږد هم و- مبارزه یې په پټه ترسره کوله او عباسیان هم هغه انحرافي بهیر و، چې له یوه فرصته یې ګټه وکړه، انقلاب یې؛ یعنې هماغه انقلاب، چې امام صادق رامنځ ته کړی و، منحرف یې کړ او دا د انقلابونو همېشنی خطر دی. د انقلاب هغه سمه لیکه، چې د انقلاب له آریزو معیارونو او ضوابطو سره سمون خوري؛ کله خپل ځای یوې بدلې، منحرفې، فاسدې او باطلې لیکې ته ورکوي چې د حق شعار ورکوي؛ نو ځکه انسان باید په دې چارو کې هوښیار وي؛ د هغه مهال د خلکو دې خبرې ته پام نه و؛ تر کلونو کلونو روسته، شاید تر شلو یا دېرشو کلونو روسته د لرې پرتو سیمو خلکو ګومان کاوه، چې دا د دوی د مبارزاتو محصول دی، چې د آل علي لپاره یې کړې دي؛ ګومان یې کاوه، چې د آل علي حکومت همدا دی؛ خو خبر نه وو، چې دوی –عباسیان- غاصب دي.

امام صادق په دې پېر کې له دوو پړاوونو تېرېږي؛ یو یې له یوسل څوارلسم کال نه د منصور تر خلافت پورې، دا یو پړاو دی، چې د پراختیا او هوساینې پړاو دی. هغه چې مشهوره شوې، چې د امویانو او عباسیانو د اختلاف له لامله، نبوي کورنۍ لږه ساه واخسته، په دې پېر پورې اړوند دی. د امام باقر پر مهال داسې نه وه. د امام باقر پر مهال د امویانو ځواک و او هشام بن عبدالملک، چې هغه هم ((و کان هشام رجلهم))، د امویانو سړی او تر عبدالملک روسته د

امويانو ستر شخصيت هشام و؛ نو پردې بنسټ، د امام باقر پر مهال د چا له چا سره اختلاف نه و، چې له دې لامله يې د نبوي کورنۍ امامان ساه واخلي او دا خبره د امام صادق په پېر پورې اړوند ده، هغه هم په دې پېر پورې اړوند دی، چې سوکه سوکه د عباسيانو د بلنې د پيل او خپرېدو او په ټوله اسلامي نړۍ کې د علوي شيعي بلنې د اوج پړاو دی.

. . چې کله منصور واکمن شو، البته حالات ستونزمنېږي او د امام صادق د ژوند حالات د امام باقر د ژوند د حالاتو په څېر ستونزمنېږي، زندۍ چاپېريال واکمنېږي، هماغه وخت دی، چې امام تبعيدوي، څو ځل يې حيره، رُميله او خدای خبر چې کوم کوم ځايونو ته تبعيدوي. څو څو ځل منصور امام راوغوښت. يو ځل يې وويل: ((قتلنى الله ان لم اقتلک[1])) يو ځل يې د مدينې واکمن ته وليکل: ((ان احرق على جعفر بن محمد داره))، چې کور ته يې اور ور واچوه، چې امام د اور منځ ته راغی او هېښنده ننداره يې وښووله ((انا ابن ارعراق الثرى[2])) چې دې چار ډېری مخالفين هک پک کړل او د امام صادق او منصور ترمنځ ډېر سخت برخورد دی. څو څو ځل يې امام وګواښه.

البته هغه روايتونه سم نه دي، چې آنحضرت د منصور په مخ کې زارۍ وکړې او ځان يې ورته سپک کړ. زه په روايتونو پسې ولاړم، دا خبره بې بنسټه ده او غالبا ربيع حاجب ته رسي. ربيع حاجب يو چورلټ فاسق دی. د منصور له خپلوانو څنې دی، ځينو هم ساده لوحانه وويل، چې ربيع شيعه و. ربيعه کله شيعه و؟ د ربيع بن يونس په ژوند پسې ولاړو، ربيع بن يونس له هغو وګړيو څنې و، چې د عباسيانو نوکري يې کړې ده او د هغوی خورا خدمتونه يې کړي دي او چې کله منصور مړ کېده، که ربيع نه و، خلافت به د منصور د کورنۍ له ګوتو وتلی و. ترونه يې وو؛ نو دا وو، چې يوه وصيتپاڼه يې د منصور د زوی د مهدي په نامه جعل کړه او مهدي يې خلافت ته ورساوه او بيا فضيل بن ربيع هم د همدې وګړي زوی دی او دا کورنۍ د عباسيانو له تابعدارانو څنې دي او بيخي د اهلبيتو تابعدار نه وه او څه يې چې جعل کړي، دروغ يې

---

[1]. الاحتجاج على اهل اللجاج، طبرسي، لومړی ټوک، ۱۶۳ مخ. ژباړه: ((خدای دې ما مړ کړي که به تا و نه وژنم.))

[2]. الکافي، لومړی ټوک، ۴۷۳ مخ. ((وجه المنصور الى حسن بن زيد و هو واليه على الحرمين ان احرق على جعفر بن محمد داره فالقى النار فى دار ابى عبدالله فاخذت النار فى الباب و الدهليز فخرج ابوعبدالله يتخطى النار و يمشى فيها و يقول انا ابن اعراق الثرى انا ابن ابراهيم خليل الله؛ منصور دوانيقي د مدينې واکمن حسن بن زيد ته خپل يو وګړی ور واستاوه، هغه ته يې پيغام ورکړ، چې د جعفر بن محمد کور ته اور واچوي. د امام کور ته يې اور واچو. اور د کوره تمبو او خونو ته ورسېد. امام صادق پر اور پښه کېښووله او پر اور ګرځېده او ويل يې: زه د ځمکې د درزېدونکيو رګونو زوی يم، زه د ابراهيم خليل الله زوی يم.))

جعل کړي او د دې لپاره، چې د هغې ورځې په اسلامي چاپېريال کې انسان داسې وښيي، چې باید د خلیفه پر وړاندې تذلل وکړي، چې نور هم دا چار خپله دنده وګڼي. په هر حال د امام صادق او منصور ترمنځ برخورد خورا تند و، چې پایله یې یو پر سل و څلوېښتم کال د امام صادق شهادت دی.
د امام صادق په ژوند کې ستري او غوره لیکې، تر هغه چې زموږ په بحث پورې اړوندې دي، په لاندې توګه دي:
۱-د امامت څرګندونه او تبلیغ.
۲- په شیعي فقهې دود د دین د احکامو بیانول او همداراز په شیعي لیدلوري د قرآن تفسیر.
۳-د پټو ایدیولوژیکو-سیاسي تشکیلاتو درلودل.

## امامت ته د امام صادق بلنه

اوس به اصلي خبرې ته ورستانه شوو؛ یعنې د نورو نبوي کورنیو د امامانو په څېر د امام صادق د بلنې ستره برخه، امامت ته تبلیغ و او د دې خبرې د اثبات لپاره مو، سند هغه ډېرې روایتونه دي، چې له امام صادق نه د امامت په باب رانقل شوي دي.
لکه چې روښانه به یې کړم، د دې مطلب د خپرولو او تبلیغ پر مهال یې ځان د مبارزې په هغه پړاو کې لیده، چې باید نېغ په نېغه واکمنان نفې کړي او ځان د ولایت او امامت واقعي حقوال معرفي کړي او قاعدتا دا کړنه یوازې هغه مهال تر سره کېدونکې ده، چې د مبارزې تېر پړاوونو په بریالي توګه پر مخ تللي وي، په پراخه کچه سیاسي او ټولنیز پوهاوی رامنځ ته شوی او په هر ځای کې بالقوه چمتوتیاوې حس کېږي او په ډېرې ځایونو کې ایدیولوژیکې زمینې تر سترګو کېږي، د حق او عدل د حکومت لزوم، د ډېرې خلکو لپاره جوت شوی او بالاخره رهبر هم، د نهایي مبارزې لپاره خپل کوټلی هوډ نیولی دی. بې له دې ټولو، د امام او د ټولنې د واکمن په نامه د یوه ټاکلي وګړي معرفي کول به یو بېړنی او بې ګټې کار وي.
بل ټکی چې باید پاموړ وي، دا دی، چې په ځینو ځایونو کې یې یوازې په دې بسنده نه کوله، چې امامت د ځان لپاره اثبات کړي؛ بلکې د خپلې نامې ترڅنګ یې د نورو پر حقه نبوي کورنۍ د امامانو او د خپل پلار نیکونو نومونه هم اخستل او په حقیقت کې د نبوي کورنۍ د امامانو شمېرې پرله پسې او نه شلېدونکې ګڼي، دا کړنه د دې خبرې په پامنیوي، چې شیعي تفکر، ټول پخواني ناحقه واکمنان محکوم کړي او هغوی یې طاغوت شمېرل، کولای شي په دې وخت او تېر وخت کې د شیعیانو د جهاد پیوستون ته هم اشاره شي. په واقع کې امام

صادق په دې بيان، خپل امامت يوه قهري پايله ګڼي، چې د نبوي کورنۍ د امامانو شمېرۍ ده او خپل امامت له بې مخينې توب او بې ريښېتوب راباسي او خپله شمېرۍ د يوه ډاډمن چاينل له لارې په حضرت پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم پورې ورتړي. اوس د امام د بلنو ځو بېلګو ته پام وکړئ:
تر ټولو جالب روايت، چې مې په دې باب ليدلی دی، د عمرو بن ابي المقدم روايت دی، چې خوار هېښنده ننداره انځوروي. د ذی الحجې نهمه ورځ – د عرفې ورځ- ده. ډېری خلک د ځانګړيو مراسمو ترسره کولو لپاره راټول شوي دي او له خراسانه تر مديترانې ساحل پورې د مسلمانانو استازي شتون لري، دلته يوه پر ځای خبره کولای شي، دا چې امام د هغه مهال د خورا پراخو ډله ايزو اړيکو د شبکو کار وکړي، ځان يې دې ډلې ته ور رسولی دی او يو پيغام ورته لري، وايي: و مې ليدل، چې امام په خلکو کې ودرېد- او په لوړ په زړه پورې غږ، چې ټولو ته ور ورسي او د اورېدونکيو په واسطه ټولې اسلامي نړۍ ته ور ور سي- او خپل پيغام يې درې ځل ووايه. مخ يې بل لوري ته ور واړاوه او درې ځل يې هماغه خبره وکړه او هماغه پيغام يې ورکړ. او په دې توګه امام خپله خبره او پيغام دولس ځل تکرار کړ. دا پيغام په دې عبارتونو وويل شو: ((ايها الناس! ان رسول الله کان الامام ثم کان علی بن ابی طالب ثم الحسن ثم الحسين ثم علی بن الحسين ثم محمد بن علی، ثم. . . .[1]))
يو بل حديث له ابی الصباح کناني دی، چې په کې امام صادق ځان او نور د نبوي کورنۍ امامان داسې معرفوي: ((موږ هغه خلک يو، چې خدای مو پر خلکو اطاعت لازم کړی دی. انفال[2] او صفوالمال زموږ په واک کې دی)). صفوالمال، هغه ټاکل شوې شتمني ده، چې سرغړاندو طاغوتانو ځان ته ځانګړې کړې ده او مستحق لاسونه يې ترې پرې کړي وو او چې کله دا مغضوب مالونه، د مسلمان ځواکونو په بريا د مغلوبو ظالمانو له ګوتو را ايستل کېږي، د نورو غنايمو په څېر نه ويشل کېږي، چې يوه وګړي ته ورکړل شي، چې يو دروغجن وياړ ور وبښي؛ بلکې اسلامي واکمن ته ورسپارل کېږي او دا يې د عمومو مسلمانانو د مصالحو لپاره کاروي. امام په دې روايت کې ځان د صفوالمال او انفال- چې دا هم په امام پورې اړونديږي- واکوال معرفي کوي او په دې بيان په زغرده وايي، چې نن هغه د اسلامي ټولنې واکمن دی او دا ټول بايد د هغه په واک کې وي او د هغه په نظر په سم ځای کې يې ولګول شي.

---

[1]. بحار الانورا، ۴۷ ټوک، ۵۸
[2]. هغه غنيمت، چې بې له جګړې د اسلامي حکومت لاسونو ته ورځي.

په یوه بل حدیث کې د نبوي کورنۍ د تېرو د بېل بېل امام نامه اخلي او داچې اطاعت یې واجب دی او پر امامت یې شهادت ورکوي او چې خپله نامه یې رارسي چوپ کېږي. د امام د خبرې اورېدونکي په ښه توګه پوهېږي، چې تر امام باقر روسته د علم او حکومت میراث د امام صادق په واک کې دی او په دې توګه هم د خپلې واکمنۍ حق مطرحوي او هم په استدلالي لحن، له خپل نیکه علي بن ابي طالب سره خپل تړاو بیانوي.[1] د ((الحجه)) کتاب په ابواب کې له کافي او همداراز د بحارالانوار په اوه څلوېښتم ټوک کې دا ډول روایتونه، چې امام صادق نېغ په نېغه او په کنایه ځان امام معرفي کړی، خورا تر سترګو کېږي.
بل پرېکنده مدرک، هغه لاسوندونه دي، چې په ټول اسلامي هېواد کې د امام د پراخه تبلیغاتي شبکې یادونه کوي او د داسې شبکې شتون څرګندوي. دا لاسوندونه دومره پاخه دي، چې که په دې باب ان یو حدیث هم نه وای؛ نو بیا یې هم دا موضوع ردولای نه شوه.
د نبوي کورنۍ د امامانو د نامدون ژوند څېړونکي، له ځانه پوښتي، چې شیعه امامانو، د امویانو د پېر په پای کې د اسلامي هېواد په ګوټ ګوټ کې داعیان او مبلغان نه درلودل، چې د دوی امامت تبلیغ کړي او له خلکو د دوی د لاروۍ ژمنه واخلي؟ نو په دې بڼه کې، د دې تشکیلاتي تړاو نښانې- که د شیعه وو او نبوي کورنۍ د امامانو ترمنځ، په مالي او فکري اړیکو کې لیدل کېږي- څنګه د مخونې وړ دي؟ مدینې ته د دومره اموالو او نغدو وروړل؟ دا دومره دیني پوښتنې؟ دا په هر ځای کې د تشیع پراخ بنسټه تبلیغ؟ او بیا د اسلامي هېواد په مهمو ځایونو کې د آل علي دا دومره مینوال او محبوبیت؟ او د امام په شاوخوا کې د دومره خراساني، سیستاني، کوفي، بصري، یماني او مصري راویانو او محدثانو راټولېدنه؟ کوم ځواکمن واکمن لاس دا هر څه جوړ کړي؟ آیا ویلای شول، چې په تصادفي بڼه رامنځ ته شوي دي؟
له دې دومره مخالفو تبلیغاتو سره سره، چې د اموي رژیم له لوري په هر ځای کې تر سره کېدل او ان پر ممبرونو به د حضرت علي بن ابي طالب نامه د اسلام د محکوم ترینې څېرې په نامه یادېده؛ نو آیا د یوې پیاوړې تبلیغاتي شبکې پرته شونې ده، چې آل علي په دومره لرې پرتو سیمو کې دومره جذابیت او محبوبیت ولري، چې خلک ورته له دومره لرېیو لرېیو ځایونو کتو او د مینې څرګندولو ته ورشي او حجاز او مدینې ته ورمخه کړي او دیني پوهه -چې د شیعه وو په عقیده، د سیاست او حکومت په شان ده- ترې زده کړي او په ډېری ځایونو کې له دوی نه د پوځي- د روایتونو په ژبه د پاڅون او- اقدام غوښتنه وکړي. که د شیعه وو تبلیغات یوازې د علم او زهد د اثبات لپاره و؛ نو د پوځي اقدام غوښتنې څه معنا درلوده؟

---

[1]. الکافي، لومړی ټوک، ۱۸۶ مخ.

شوني ده، چې وپوښتل شي، په رښتيا که داسې کومې پراخې تبليغاتي شبکې شتون درلود؛ نو ولې يې په تاريخ کې نامه نه شته او ولې يې کومه کيسه په تاريخ کې نه شته؟ ځواب –لکه څنگه چې مخکې هم اشاره ورته وشوه- يې په لنډو کې دا دی، چې د دې بې نښانېتوب لومړی دليل ((تقيه)) وه، چې د امام تشکيلاتو ته يې د هر پردي له راننووتو مخنيوی کاوه او بيا په هغه پړاو کې، د شيعه جهاد، د ناکام پاتې کېدو او قدرت ته نه رسېدل يې څو لاملونه درلودل. که عباسيان قدرت ته نه وو رسېدلي، بېشکه د هغوی پټې هڅې او فعاليتونه او هغه خوږې او ترخې خاطرې، چې له دې تبليغاتي فعاليتونو يې درلودې، په تيرونو کې به پاتې شوې وې او څوک به ترې نه خبرېده او په تاريخ کې به نه ثبت کېدې.

چې کله د تقيه په باب خبره کوو، ممکن وویاست، چې تقيه په هغه مهال پورې اړوند ده، چې يو ځواکمن دولت واکمن و او موږ هم پټ وو او له وېرې مو څه نه ويل. نه، پر هماغه مهال هم تقيه د وېرې له امله نه وه. ((التقيه ترس المؤمن[1])) تقيه د مؤمن ډال دی. ډال په کوم ځای کې کارول کېږي. ډال د جگړې په ډگر کې کارول کېږي او د جگړې پر مهال په کار راځي؛ نو تقيه په جگړه کې ده، پر هماغه مهال هم همداسې وه. چې کله مو تقيه کوله، معنا يې دا وه، چې پر دښمن مرگونی گوزار وکړو؛ خو داسې چې دښمن، نه داتوره ووينې او نه هغه لاس، چې پر دښمن وار کوي؛ بلکې يوازې درد يې احساس کړي. تقيه دا وه. هغوی چې پر هغه مهال تقيه کوله، داسې تقيه يې کوله. هغوی په پټه، د دښمن له سترگو لرې، په پټو کورونو کې، له ډول ډول ملاحظاتو او څارنو سره، د بېلگې په توگه اعلاميې يې تنظيم کولې او چې خپرې به شوې؛ نو د نظام آبرو به يې له خاورو سر يو ځای کوله. دا کار د تورې د گوزار په څېر و، چې کله به راپورته شو؛ نو د دښمن پر سر او شا به يې گوزارونه کول؛ نو پردې بنسټ، تقيه مو کوله؛ يعنې اجازه مو نه ورکوله، چې دښمن پوه شي، چې څه کوو. تقيه ډال و او تقيه کوونکی د ډال تر شا پټېده. د تقيه معنا داده. اوس هم همدا معنا ورکوي.

## په شيعي فقهې دود د دين د احکامو تبليغ

دا هم د امام صادق په ژوند کې يوه روښانه ليکه ده، چې د نورو نبوي کورنۍ له امامانو سره يې توپير درلود او خورا څرگند و چې د شيعه فقه ((جعفري فقه)) نومول شوې ده او هم په

---

[1]. بحارالانوار، ۷۲ ټوک، ۳۹۴ مخ.

دې ټول راسره يوه خوله دي، چې امام صادق د خپل وخت تر ټولو ستر او پراخه علمي حوزه درلوده. اوس پرې له موضوع سره په تړاو د شيعه و پر فقهي دود څه رڼا وراچوو:
مقدمتا بايد پوه شو، چې په اسلام کې د خلافت غونډال، د نورو حکومتونو له دستگاه سره توپير لري، چې دا يوازې سياسي تشکيلات نه؛ بلکې يوه ديني- سياسي مشري هم ده. د اسلامي واکمن لپاره د ((خليفه)) لقب د همدې حقيقت څرگندوی دی، چې تر سياسي مشر ورهاخوا هم، يو څه دی؛ د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ځايناستی دی او حضرت پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم د يو دين راوړونکی او د اخلاقو ښوونکی او البته په عين حال کې واکمن او سياسي مشر هم دی؛ نو په اسلام کې خليفه، بې له سياسته، د خلکو د ديني چارو متکفل او ديني مشر يې هم دی.
دا څرگند حقيقت لامل شو، چې د اسلامي خلفاوو تر لومړۍ شمېرۍ روسته، روستي واکمنان، چې له لږې ديني پوهې او يا په ټوليزه توگه پر دين نه پوهېدل، په دې تکل کې شي، چې دا کمبود په درباري سترو ديني شخصيتونو جبران کړي او د درباري فقهاوو، مفسرانو او مزدورو محدثانو له لارې، خپل حکومت د دين او سياست يوه گډوله کړي.
په حکومت کې د شريعت ډولو عناصرو د شتون يوه بله گټه دا وه، چې دوی د مستبد او ظالم واکمن په خوښه په اسانۍ کولای شول، چې د مصالحو په غوښتنه د استنباط او جهاد تر پوښښ لاندې- چې عادي او عام خلک يې تشخيصولای نه شي- د خدای حکم د واکمن په غوښتنه واړوي او بدلونونه پکې راولي او. . .
ليکوالو او مورخانو، د احاديثو د جعل او په رای د تفسير وحشتناکې بېلگې را نقل کړي، چې د سياسي ځواک لاس پکې څرگند دی.
دا چار چې په ړومبي وخت کې- د لومړۍ هجري پېړۍ تر پايه- يې ډېری د روايت او حديث بڼه درلوده، لږه لږه يې د فتوا بڼه واخستې وه؛ نو د امويانو او عباسيانو د پېرونو په پای کې ډېری داسې فقها وو، چې د قياس او استحسان په څېر، په بدعتي کړلارو يې اسلامي احکام، د خپل خوښې له مخې- چې په واقع کې د واکمنانو نظر و- صادرول. همدا چار کټ مټ د قرآن د تفسير په باب هم ترسره کېده.
او په دې توگه له پخوانيو اسلامي پېرونو، فقه، حديث او تفسير په دوو ټوليزو بهيرونو وويشل شو: يو يې په غاصبو حکومتونو پورې اړوند بهير، چې په ډېری ځايونو کې يې، حقيقت د حکومت له مصالحو ځار کړی دی او د ناځيزه بيو پر وړاندې يې د خدای حکم تحريف کړی دی او بل آريز او رښتين بهير، چې پر سمو الهي احکامو يې مصلحت ته هم لومړيت نه ورکاوه

او قهرا په هر قدم کې د حکومت او مزدور فقاهت پر وړاندې درېدل او له هغه ورځې يې په ډېرى وختونو کې بېرسمي او قاچاقي بڼه درلوده.
له دې پوهې سره، په څرګنده ويلی شو، چې جعفري فقه، د هغه مهال د رسمي فقيهانو د فقهې پر وړاندې يوازې يوه ساده ديني عقيدې اختلاف نه و؛ بلکې په عين حال کې يې دوه معترضانه مضمونونه هم له ځان سره لېږدول. لومړی او خورا مهم يې ديني پوهې او د خلکو د فکري چارو له سمبالنې د خلافت بېوسي وه-؛ يعنې په واقع کې، د خلافت مقام له سمبالنې يې د صلاحيت نه درلودل- او بل په رسمي فقه کې د تحريف څرګندول، چې فقيهانو د خلفاوو د مصلحت په پار په فقه کې راوستي وو. امام صادق د علمي، د فقهې د بيان، اسلامي ښوونو او د قرآن د تفسير د دسترخوان په غوړولو، په خلافت پورې د تړلیو علماوو د کړلارې پر خلاف، عملاً د خلافت له دستګاه سره خپله معارضه پيل کړه او آنحضرت په دې توګه، ټول رسمي مذهبي او فقهي تشکيلات له پوښتنې سره مخ کړل او د حکومت دستګاه يې له ديني اړخه تشه کړه.
داچې اموی حکومت، څومره د امام صادق علمي او فقهي معارضه آميز مفهوم ته ورپام و، په دې باب کوم پرېکنده او څرګند دليل نه شته؛ خو اغلب ګومان دادی، چې د عباسيانو پر مهال، په تېره، د منصور پر مهال- چې خورا هوښيار و؛ ځکه تر خلافت مخکې خپل ټول ژوند يې د امويانو پر خلاف په مبارزه کې تېر کړی و او د علويانو د مبارزې په باب له خورا دقيقو ټکيو خبر و- نو يې د علويانو مبارزه څارله.
د امام صادق د تدريسي او فقهي فعاليتونو په باب د منصور نامحدودو ګواښونو او سخت دريځې- چې په تاريخي روايتونو کې يې يادونه شوې ده- د منصور د حکومت د همدې حساسيت او ځيرنې له لامله وو او همداراز د خپل حکومت په پلازمېنه کې يې د حجاز او عراق د مشهورو فقهاوو راټولول- چې د څو تاريخي روايتونو مضمون دی- د همدې اړتيا د احساس له لامله دي.
له خپلو يارانو او ملګرو سره د امام په مذاکراتو کې، له دې ټکي کار اخستنه او پرې زور اچونه، چې خلفاء له ديني پوهې بې برخې دي او دا خبره د دې لپاره لاسوند کول، چې هغوی د حکومت کولو حق نه لري، خورا زيات ليدل کېږي؛ يعنې امام چې د فقهې او قرآن په درس کې کوم اعتراض درلود، په ډاګه يې مطرح کاوه.

له امام نه په یوه حدیث کې رانقل شوي دي: ((نحن قوم فرض الله طاعتنا و انتم تاتمون بمن لا یعذر الناس بجهالته[1])) موږ هغه وګړي یو، چې خدای پر خلکو زموږ لاروي فرض او لازم کړې ده، حال دا، تاسې له هغو وګړیو لاروي کوئ، چې خلک د دوی د جهالت له لامله د خدای په نزد معذور نه دي؛ یعنې خلک چې د مشرانو او واکمنانو د جهالت له لامله کږلاري شوي او بې له خدایه پر بله لار تللي دي، د خدای پر وړاندې یو عذر هم نه شي راوړای، چې موږ په خپل تشخیص پر کږه لار نه یو تللي او دا زموږ مشران او واکمنان وو، چې د خپل جهالت له مخې یې دې لار ته راکاږلو؛ ځکه له هاغسې مشرانو لاروي، په خپله یوه سرغړونه وه؛ نو ورپسې سرغړونو ته مخونه نه شي کولای[2].
دا مفهوم، چې د اسلام په انقلابي ټولنه کې، مشري هماغه انقلابي مشري ده او لزوما له فکري او ایدیولوژیکې مشرۍ سره یو ځای ده، چې له امام صادق نه په مخکې او ورپسې د نبوي کورنۍ په امامانو کې هم تر سترګو کېږي. له امام علي بن موسی، چې هغه له خپله نیکه امام باقر رانقل کړي، چې د امامت په شمېرۍ کې یې وسله په بني اسرائیلو کې له تابوت سره ورته کړې دی: ((وسله زموږ په منځ کې، په بني اسرائیلو کې د تابوت په څېر ده، چې له هر چا سره و، نبوت- او په یوه بل روایت کې حکومت- د هغه و. زموږ په منځ کې هم چې وسله له هر چا سره وي، مشري د هغه ده.)) پام وکړئ- په نمادینه بڼه او له ډېر ژور مفهوم سره- راوي پوښتنه کوي: ((فیکون السلاح مزائلا للعلم))؛ یعنې آیا شونې ده، چې وسله له هغه چا سره وي، چې د دین ایدیولوژیکه پوهه ورسره نه وي[3]؟ او امام د هغه په ځواب کې وایي: نه[4]؛ یعنې د اسلامي امت انقلابي مشري د هغه چا په واک کې ده، چې وسله او پوهه دواړه یې په واک کې وي.
نو امام له یو خوا د امامت شرط، دیني پوهه او د قرآن سمه پوهه ګڼي او بلخوا په خپل شاوخوا کې د دیني پوهې د مینوالو په راغونډولو او د علمي دسترخوان په غوړولو او په خپل ځانګړي کړلار یې تدریس، چې د فقهې، حدیث او تفسیر له معمولي روال سره مخالف و او په ټولیزه

---

[1]. الکافي، لومړی ټوک، ۱۸۶ مخ.
[2]. قرآن هم همدا خبره په څو ځایونو کې په څو ژبو تکرار کړې ده او د ضلالت د لارې د لارویانو خبره یې کړې ده، چې موږ د کږلارۍ د لارو مشرانو کږلاري کړو. . . . او په پای کې دا یې هم یاده کړې ده، چې دا پلمه له چا د منلو وړ نه ده او دواړو ډلو ته یو ډول برخلیک پر تمه دی. وګورئ د بقره سورت، ۱٦۷ آیت، د شعراء سورت، ۹۱-۱۰۲ آیتونه او د سبا سورت له ۳۱-۳۳ آیتونو پورې او د نساء سورت، ۹۷ آیت. (لیکوال)
[3]. دا معنی د ((مزائلا)) د ټکي لپاره د مشهور حدیثپوه اروابناد مجلسي د مرآت العقول په کتاب کې کارول شوې ده.
[4]. الکافي، لومړی ټوک، ۲۳۸ مخ.

توګه، په حکومت پورې له تړلیو علماوو، محدثانو او مفسرانو له دینپوهنې سره په ټکر کې و او له دې لارې له حکومت او درباري علماوو خپل مخالفت څرګندوي او په دې توګه خپلې مبارزې ته تازه اړخونه ورکوي.
لکه څنګه چې مخکې هم اشاره ورته وشوه، د عباسیانو لومړي واکمنان، چې څواک ته تر رسېدو له مخه، چې کلونه کلونه یې په علوي مبارزاتي چاپېریال کې د آل علي له یارانو او پلویانو سره تېر کړي وو او د دوی له ډېرى خوالو خبر وو، د امام صادق له دې درسونو، بحثونو، حدیثونو او تفسیر له معترضانه وناډې ښه خبر وو؛ نو ځکه منصور عباسي له امام صادق سره په مقابله کې امام له خلکو سره له ناستې، تدریس او د پوښتنو له ځوابولو منع کاوه او له مفضل بن عمر- مشهوره شیعي څېره- نه په نقل، چې کله به د واده او طلاق په باب چا پوښتنه کوله، په آسانۍ یې د امام صادق ځواب ته لاسرسی نشو موندای.[1]

## د پټو ایدیولوژیکو-سیاسي تشکیلاتو درلودل

امام صادق د خپلو پلرونو د پراخه هڅو په مرسته- یعنې امام سجاد، امام باقر او په تېره د امام باقر د ژوند په روستیو شپېو کې- او ورپسې یې په خپله وکولای شول، چې له یو شمېر مؤمنو، مکتبي، اصیلو، انقلابي، سرښندونکیو مسلمانانو، فداکاران چمتو کړي. او دوی عادي انسانان نه وو؛ نه داچې له ممتازو طبقاتو څنې وو، نه، تاجران، مریان او نورو کاسبان وو؛ خو له مانیز اړخه هېڅ کله له عادي وګړیو سره د پرتلنې وړ نه وو. داسې وګړي وو، چې د ژوند هر څه یې، موخه او ښوونځی و او په هر ځای کې هم وو. هېښنده خو داده، چې د امام صادق یاران په هر ځای کې وو، داسې خیال و نه کړئ، چې یوازې په مکه، مدینه او کوفه کې وو؛ بلکې په شام کې هم وو. دا د امام صادق ستره تشکیلاتي شبکه ده. علوي ګوند؛ د تشیع ګوند، داچې و مو ویل، تشکیلاتي شبکه یعنې دتشیع ګوند. او دا چار د امام صادق د ژوند، نه پېژندل شوی څېرکی دی، چې زه پرې خورا ټینګار لرم. یوه ستره تشکیلاتي شبکه، یو بشپړ ګوند، چې امام صادق یې سمبالوونکی و او په ټوله اسلامي نړۍ کې یې شتون درلود؛ دا د ځواک ټکی و.
یوه شبکه چې په ډېرى مسلمانو هېوادونو کې یې- په عرب عراق او خراسان کې- د امامت په باب ګټورې غورځې پورځې درلودې؛ خو دا یوازې د مسلې یو اړخ او خورا ناڅیز اړخ یې

[1]. مناقب ابن شهر آشوب، څلورم ټوک، ۲۳۸ مخ.

دی؛ خو د امام صادق او د نورو نبوي کورنۍ د امامانو په سیاسي ژوند کې د پټو تشکیلاتو درلودل، تر اوسه پټ او مجهول پاتې دي او لکه څنگه چې مخکې مو وویل، د داسې تشکیلاتو او سازمان د شتون لپاره، نه باید په کره لاسوندونو پسې وگرځو او نه باید تمه ولرو، چې یو د نبوي کورنۍ، له امامانو او یا یې کوم نږدې ملگري د پټو شیعي- فکري تشکیلاتو پر شتون اعتراف او منښته کړې وي. معقوله تمه هم داده، چې که یوه ورځ له امام او یا له کوم نږدې ملگري یې د دې تشکیلاتو په باب پوښتنه وشي؛ نو دوی چورلټ ترې منکر شي او دا خبره یو تور وگڼي. دا د پټ کار همېشنۍ ځانگړنه ده او البته د امامانو د سیاسي ژوند له تاریخي څېړونکي هم تمه نه شو درلودای، چې بې له لاسونده، د داسې تشکیلاتو شتون ومني. باید د ظاهرا ساده پېښو د قراینو، شواهدو او بطنونو په لټه کې شو، که څه د عادي لیدونکي نظر نه جلبوي؛ خو ځیرنه، سوچ او تامل مو له ډېرې پټو جریانونو خبروي. که د امامانو دوه نیمو پېړیو ژوند ته دغسې وکتل شي؛ نو تقریبا جوتېږي، چې امامانو په خپلې مشرۍ کې پټ تشکیلات درلودل.

# د امام ځانګړنې

## عصمت

عصمت؛ یعنې یوازې دا نه چې انسان ګناه نه کوي؛ بلکې د ګناه په فکر کې هم نه وي. موږ د ځینو ګناهونو په اړه عصمت لرو؛ ځکه تر اوسه مو هغه ګناه نه ده کړې او په هکله یې مو فکرهم نه دی کړی؛ لکه له کوره بهر لوڅ وتل، ځان وژنه او یا د نورو وژل؛ لکه څنګه چې موږ د ډېرو ګناهونو له ناوړو پایلو خبر یو او کله هم ان په فکر کې یې هم نه یو؛ نو امام هم د ګناهونو پر ناوړو پایلو د خپلې پوهې او یقین له امله پر ګناه لاس نه پورې کوي.
له ګناه او تېروتنې د انسان د عصمت ضرورت ځکه دی، چې موږ پخپله تېر وځوو او ګناه کوو؛ نو پاکلمنی مشر ته اړتیا لرو، چې ورته مراجعه وکړو، حقیقت وپېژنو او ځان وژغورو؛ ځکه هغه نه باید تېروتونکی وي.
پوښتنه: که امام معصوم وي؛ نو د امامانو دا دومره عبادتونه، ژړاګانې او دعاګانې د څه لپاره دي؟
ځواب: که په تپه تیاره کې یو ستر ګودام ته ورشئ او په لاس کې مو یوازې یو وړوکې څراغ وي؛ نو تاسې به ستر څیزونه ډېر په اسانۍ سره ووینئ؛ خو د رڼا د لږوالي له امله به واړه څیزونه ونه وینئ او که ستر څراغ مو په لاس کې وي؛ نو ان پر ځمکه به ډېر واړه څیزونه هم وینئ؛ نو دهغوی چې د ایمان رڼا لږه وي، یوازې ستر ګناهونه ورته ښکاري او ډېرې نورې نه ویني او یا به ورته ارزښت نه ورکوئ؛ خو که د ایمان د قوي رڼا خاوندان وي، ځان د خدای په محضر کې ویني؛ نو په ظاهره بې ارزښته څیزونه هم ویني او د امامانو دا دومره عبادتونه او دعاوې هم ددې لپاره وې، چې د ایمان رڼا یې خورا ډېره وه او ځانونه یې د خدای تر څارنې لاندې لیدل؛ نو ان دنیوي عادي چارې چې ګناه هم نه وه؛ خو د غفلت لامل به وو، ورته ګناه وه او د هغې لپاره به یې ژړاګانې کولې.

## پراخه سینه

د امام سینه باید پراخه وي؛ ځکه د ټولنې مشري او لارښوونه له تنګې سینې سره اړخ نه لګوي.
حضرت علي وایي: ریاست ته ستر روح پکار دی.

يو شامي سړي د امام حسن سپکاوی وکړ؛ خو هغه مبارک بې له دې، چې تندی تریو کړي او یا داچې ترې خپه شي، ورته یې وویل: ولې خپه یې؟که د څه اړتیا لرې، چې در یې کړم او دومره ښېګڼه یې ورسره وکړه، چې شامي سړی خېجله شو او ورته یې وویل: خدای په خپله ښه پوهېږي، چې څوک د ټولنې او خلکو مشر کړي.
د امامانو پر پراخه سینه -ان له دښمن سره په مخامخ کېدو کې- تاریخ ستر ګواه دی.

## عدالت

عدالت غوښتنه د ټولو انسانو په خټه کې اغږل شوې او امام باید د عدالت بېلګه وي.
۱ـحضرت علي په یوه لیک کې یو والي ته ولیکل: پر خدای قسم که خبر شوم، چې په بیت المال کې دې لږ یا ډېر خیانت کړی؛ نو دومره سخت چلن به درسره وکړم، چې د سر ویښتان دې توی، ملا دې ماته شي او خپل ټولنیز اعتبار له لاسه ورکړې.[۱]
۲ـ د حضرت علي له خوا په مصر کې ټاکل شوي والي، مالک اشتر ته حکم کوي، چې حکومت ته د هېواد تر ټولو لرې او نږدې سیمې باید یو شانته وي او یو برابر برخې یې ورکړل شي.[۲]

## له ځاني غوښتنو ډډه کول

حضرت علي وایي: ((هیهات ان یغلبنی هوای - ډېره لرې خبره ده، چې ځاني غوښتنې راباندې بر لاس شي او د حق له بهیر او عدالته مې کوږ کړي.)) [۳]
حضرت علي وایي، د امامت په شرایطو کې یو هم دادی، چې ځان به په مادي او دنیوي مسایلو نه بوختوي[٤]. ((لا یلهو بشیء من امر الدنیا))

---

[۱] نهج‌البلاغه ۲۰ لیک
[۲] نهج‌البلاغه ۵۳ لیک
[۳] نهج‌البلاغه ۴۵ لیک
[٤] بحارالانوار۲۵/ ۱٦۴

## مړانه

حضرت علي وايي: ((و ما اُهدّدُ بالحرب - تر اوسه يوې جګړې هم نه يم وېرولې او زما پر روح يې اغېز نه ده کړې.)) [1]. حضرت علي وايي: امام بايد تر ټولو مېړنې وي. [2] او په يوه بل حديث کې راغلي دي: امام بايد ډارن نه وي. [3]؛ بلکې د مړينې او شهادت خبره ورته هواره شوې وي. حضرت علي وايي: پر خدای قسم، چې له مرگ سره داسې مينه لرم؛ لکه ماشوم چې د خپلې مور له تي سره لري [4].

## فضيلت او نېکه مخينه

حضرت علي په يوه ليک کې معاويه بن ابوسفيان ته وايي: معاويه!ستا له سياست او واکمنۍ سره څه کار دی؟ ته خو نه ښه سابقه او مخينه لرې او نه کوم ستر فضيلت او شرف.
هو! امام بايد کوچنۍ ناوړه مخينه هم و نه لري.

## د حکم بنسټ يې د خدای کتاب وي

امام حسين وايي: ((فلعمری ما الامام الاّ الحاکم بالکتاب - پر خپل ځان مې قسم، چې هغه امام نه دی، چې د حکم بنسټ يې د خدای کتاب نه وي.)) او بيا وايي: ((الدائن بدين الحق الحابس نفسه علی ذلك - امام بايد پر حق دين اعتقاد ولري او پر خپلو هوسونو بر لاسی وي.)) [5]

---

[1] نهج‌البلاغه ۲۲ مه خطبه
[2] بحارالانوار ۲۵/ ۱۶۵
[3] بحارالانوار ۲۵/ ۱۷۲
[4] نهج‌البلاغه ۵ مه خطبه
[5] بحارالانوار ۴۴/ ۳۳۴

## عطوفت او سیاست

په یوه روایت کې راغلي: امام پر خلکو د دوی تر مورو پلار مهربان دی او په تدبیر د ټولنې چارې سمبالوي او دا ستر الهي مسئولیت په ښه توګه کړای شي او هم، په هره ژبه له خلکو سره خبرې کړای شي. [1]

## زهد او سادګي

د امام یوه ځانګړنه داده، چې دنیا یې پر ځان نشي بوختولای او زاهد وي.
حضرت علي وايي: ((واللّه ما کانت لی فی الخلافة رغبة - پر خدای قسم!زه له خلافت سره مینه نه لرم.)) [2] او د خپلو پیوندي جامو په هکله وايي: ((واللّه لقد رَقَّعتُ مدرعتی هذه حتی استَحیَیتُ من راقعها - پر خدای قسم! دومره مې په دې جامو کې پیوندونه اچولي، چې نور یې له پیوند اچوونکي شرمېږم، چې ورشم.)) [3]
په بل ځای کې وايي: ((انّ اللّه فَرَض علی ائمة العدل ان یُقدّروا انفسهم بِضعَفَةِ الناس - خدای واجب کړي، چې پر حق عادل امامان، ساده ژوند ولري، چې د ټولنې له بېوزلیو سره اوږه په اوږه وي او لدې لارې یې زړونه ټکور شي.)) [4]

## حق پلوی او حق پلي کوونکی وي

حضرت علي وايي: ((ما شَککتُ فی الحق مذ اُریتُه - له هغه وخته، چې حق را پېژندل شوی؛ نو تر اوسه شک او تردید راته نه دی پیدا شوی.)) [5] او همداراز وايي: تر اوسه نه پخپله بې لارې شوی یم او نه مې څوک بې لارې کړي دي. [6] ((و لا ضَللتُ و لا ضُلَّ بی))

---

[1] کافی ۱/ ۲۰۱
[2] نهج‌البلاغه ۲۰۵ خطبه
[3] نهج‌البلاغه ۱٦۰ خطبه
[4] نهج‌البلاغه ۲۰۵ خطبه
[5] نهج‌البلاغه ۱۸۴ حکمت
[6] نهج‌البلاغه ۱۸۵ حکمت

## په حق پلي کولو کې پرېکندتوب

حضرت علي وايي: زه له هغه قومه يم، چې د ملامتو ملامتيا پرې اغېز نه کوي. [1] ((وانیّ لَمِن قوم لا تاخذهم فی اللّه لومة لائم))

## په چارو کې مخکښي

حضرت علي وايي: ((مَن نَصب نفسه للناس اماماً فليبدء بتعليم نفسه قبل تعليم غيره وليكن تأديبه بسيرته قبل تأديبه بلسانه - څوک چې د خلکو امام شي، بايد مخکې تردې چې خلک په ژبې وبولي له ځانه يې پيل کړي، پخپله د عمل بېلګه وي، چې روزنېز دود يې خپل کړه وړه وي.)) [2]

## بې تکلفه وي

خدای خپل استازي صلی الله علیه و آله وسلم ته وايي: خلکو ته ووايه: ((وما أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ: او زه له تکلف کوونکيو نه يم)) [3]

د تکلف نښه داده، چې انسان د ورک نومو انسانو بلنه نه مني او د خپلو تېروتنو ښښنه نه غواړي او پر څه چې نه پوهېږي؛ نو دا مړانه پکې نه وي، چې ووايي، نه پوهېږم او په کوم ځای کې، چې پکار وي، له خلکو سره مشوره وکړي؛ نو مشوره نه کوي؛ خو امام تکلف نه لري او تر ټولو متواضع او عاجز دی. خلکو چې د حضرت علي ښه راغلاست ته منډې وهلې؛ نو حضرت علي له دې کاره منع کړل داسې کله هم ونشول، چې څوک به په پښو روان وو او د خدای استازی به سپور و.

---

[1] نهج‌البلاغه ۱۹۲خطبه

[2] نهج‌البلاغه ۷۳ حکمت

[3] ص/۸٦

## له خلکو سره گوزاره

اسماني مشر د خلکو لارښوونې ته باید له خلکو سره گوزار وکړي؛ خو مداهنه و نه کړي. گوزاره کول، د دين يا د خلکو اصلاح ته له خپل مقام او دنيا تېرېدل دي؛ خو مداهنه د خپل مقام او موقعيت ساتلو ته د دين او ښوونځي له ځينو حکمونو تېرېدل دي.
گوزاره؛ يعنې د کم ظرفيته، ځېلي او د غلط پوه شوي انسان ښېل، چې ښوونځي ته را جذب شي؛ خو مداهنه؛ يعنې د خپل مقام ساتلو ته له هر چا سره جوړجاړی کول. د گوزارې بنسټ پراخه سينه ده؛ خو د مداهنې بنسټ کمزوري، ضعف او خپلو گټو ته رسېدل دي. امام بايد د گوزارې، ښېنې او پراخې سينې خاوند وي، څو هغوی، چې په هر دليل، ضعيف وي، له امامه له لاروی نهيلي نشي او امام بايد د حضرت يوسف په څېر وي، چې د ورونو تر پښېمانۍ روسته يې و نه رټل او ورته يې وويل: ((لاَ تَثْرَيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ: نن پړه درباندې نشته)) [1] امام هم بايد وکړای شي، چې په ورين تندي، مينې او محبت خلک اسلام ته را مات کړي.
د خدای استازي صلى الله عليه و آله وسلم وويل: ((بعثتُ بمداراة الناس - زه مبعوث شوی يم، چې له خلکو سره گوزاره وکړم. [2])) همدارنگ انحضرت صلى الله عليه و آله وسلم وايي: ((انّ اللّه امرنی بمداراة الناس کما امرنی باقامة الفرائض - خدای مې را ته امر کړی، چې له خلکو سره گوزاره وکړم، لکه څرنگه يې، چې راته امر کړی، چې واجبات او فرض لمونځونه ترسره کړم.)) [3] په بل ځای کې انحضرت صلى الله عليه و آله وسلم وايي: ((انّا معاشر الانبياء اُمرنا ان نکلّم الناس على قدر عقولهم - موږ پيغمبران دنده لرو، چې له خلکو سره ددوی د عقل او پوهې سره سم خبرې وکړو.)) [4]

---

[1] يوسف/۹۲
[2] نهج‌الفصاحة ۱۰۹۳ حديث
[3] نهج‌الفصاحة ٦۷۷ حديث
[4] کافی ۱/ ۲۳

## له تېر تاریخه خبر وي

حضرت علي خپل زوی امام حسن ته وايي: زويه! كه څه ما له پخوانيو سره عمر نه دی کړی؛ خو د هغوی د ژوند په هکله مې فکر کړی او دهغوی په تاریخ کې داسې گرځېدلی یم، ته به وا چې له ورسره مې ژوند کړی دی.[1]

## د خلكو د ستونزو هوارول

حضرت علي د خپلو واليانو او مامورانو پر کارونو کلکه څارنه درلوده او د خلكو شكايتونه او گيلې يې منلې او كه له چا به شكايت شوی و؛ نو راغوښته او پوښته به يې او همداسې د هغوی مالي حساب ته به يې پام و او تل به يې خپلو استازيو ته ويل: خپل حساب او مالي کړه مو راوړئ او را وېې ښيه.[2]

## صبر او پر خدای ایمان

د امام بله ځانگړنه د حق په لار کې زغم او سم باور دی.
قرآن شريف وايي: [وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ[3]: او له هغوی مو يو شمېر(په خپل دين کې) د زغم او زموږ پر آيتونو د باور له امله لارښووونكي كړل، چې زموږ په حكم به يې (خلكو ته) لارښوونه کوله].
يقين د عصمت سر چينه او دټولو مانيزوكمالاتو بنسټ دی.

## ماديات يې پر ځان بوخت نه کړي او اخلاص ولري

حضرت علي په يوه ليک کې د اذربايجان والي ته ليكي: ستا مقام له تاسره امانت او مسئوليت دی، نه د كسب، كار، رفاه، سوكالۍ او جيب ډکولو وسيله.

---

[1] نهج البلاغه ۳۱ ليک

[2] نهج البلاغه ۴۰ ليک

[3] سجده/۲۴

قرآن شریف د انبیاوو یو امتیاز د دوی بې توقعي ګڼي، چې د خپلو زحمتونو اجر یوازې له خدای غواړي او له خلکو یې هېڅ توکیزه- مادي تمه نه درلوده؛ لکه څنګه چې د شعرا [1] په سورت کې له حضرت نوح، هود، صالح، شعیب او لوط (علیهم السلام) را نقلوي، چې ویلي یې دي: ((إِنْ أَجْرِيَ إِلاَّ عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ))؛ یعنې موږ یوازې له خپل پالونکي اجر غواړو.

## په پوهه او وړتیا کې تر ټولو وړ وي

امام باید تر ټولو لایق او پوه وي. حضرت علي وایي: امامت او مشرۍ ته، تر ټولو وړ انسان هغه دی، چې د ټولو خلکو په پرتله هم لایق، هم قوي او هم د خدای پر حکمونو تر ټولو ډېر خبر وي او یوازې هغه کړای شي، چې د مشرۍ بېرغ اوچت کړي، چې د لیدانې- بصیرت، پایښتې او پوهې خاوند وي. [2]

قرآن شریف وایي:
قُلْ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ قُلِ اللّهُ يَهْدِي لِلْحَقِّ أَفَمَن يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لاَّ يَهِدِّي إِلاَّ أَن يُهْدَى فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ [3]: (ورته) ووایه: ((ایا ستاسې په معبودانو کې څوك شته، چې د حق لوري ته لار وښيي؟!)) ووایه: (((یوازې) " الله " د حق لوري ته لار ښیي، ایا څوك چې د حق لوري ته لار ښیي، د لا روۍ وړ دی یا هغه چې په خپله لار نه مومي؛ خو داچې لار ورته وښوول شي؟!؛ نو پر تاسې څه شوي دي، څرنګه پرېکړې کوئ؟))

## له امتیاز غوښتنې ځان وژغوري

امام په ټولنیزو حقوقو کې ځان له نورو سره مساوي ګڼي. حضرت علي وایي: ((انّما أنا رجل منکم لی ما لکم و علیّ ما علیکم- زه هم ستاسې په څېر او له تاسې یم؛ نو څه چې ستاسې لپاره دي، زما لپاره هم دي او هر څه چې تاسې ته در پر غاړه دي، ما ته هم را پر غاړه دي.)) [4]

---

[1] شعراء له ۱۰۹ څخه تر ۱۸۰ پورې آیتونه
[2] نهج البلاغه ۱۷۳ خطبه
[3] یونس/۳۵
[4] شرح نهج البلاغه ۷/ ۳٦

## د اسلام د ګټو ساتل؛ نه د خپلو ګټو

سره له دې چې حضرت علي یې له خپل مسلم حق بې برخې کړ او له مشرۍ یې ګوښه کړ؛ خو صبر یې وکړ او ویې ویل: که د مسلمانانو چارې په سمه توګه ترسره کېږي؛ نو څه نه وایم. [1] پر خدای قسم! که د مسلمانانو له خپرېدو مې وېره نه وه؛ نو بله لار به مې غوره کړې وای او پر وسله وال پاڅون به مې خپل حق تر لاسه کړی و. [2]
ابن عباس حضرت علي ته وویل: د حضرت عثمان (رض) په شپږ کسیزه شورا کې ګډون مه کوه؛ ځکه پروګرام یې داسې جوړ کړی، چې ګوښه مو کړي. امام ورته وویل: ځکه ورځم، چې رابللی یم؛ ځکه، زه له خلاف او تخلفه بېزار او کرکجن یم او نه غواړم، چې شورا زما له امله جوړه نشي.

## د امام ټاکنه

په ننني ټولنو کې د مشر ټاکنه د ټولټاکنو له لارې ترسره کېږي؛ خو ټول په دې ښه خبر دي، چې ټولټاکنې د حل لار نه ده او په هر ځای کې د حق لار هم نه ده. هېڅ برهان، علمي او عقلي دلیل، د انتخاب شوي وګړي لیاقت، صلاحیت او حقانیت نه تاییدوي، که څه په عمل کې د ډېرى وګړیو رای په پام کې نیول کېږي، چې ترټولو غوره لار ده او پردې سربېره، چې د اکثریت رای ته پام یوازې په ټولنیزو چارو کې ده او په اعتقادي مسئلو کې د اکثریت رای هېڅ ارزښت نه لري او که داسې وای؛ نو د خدای استازي صلی الله علیه و آله وسلم به له خپل دعوته لاس اخسته او د اکثریت تابع کېده، به چې مشرک او کافر ول؛ لکه څنګه چې د انعام په سورت کې لولو:
وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللّهِ إِن يَتَّبِعُونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلاَّ يَخْرُصُونَ[3]:
((او که ته د ځمکې پرمخ د ډېرى خلکو خبرې ومنې (؛نو) د خدای له لارې به دې بې لارې کړي (؛ ځکه) هغوی یوازې په (خپلو) ګومانو پسې ځي او یوازې اټکلیان دي.))

---

[1] سیری در نهج‌البلاغه ۱۸۲ مخ
[2] نهج البلاغه ۱۱۹ خطبه
[3] انعام/۱۱٦

نو د امامت په حساسه مسله کې، چې یوه اعتقادي خبره ده، د خلکو ټاکنه او رای هېڅ ارزښت نه لري او د امام ټاکل د خدای له لوري دي.
البته له امام سره د خلکو بیعت د حکومت د بنسټ د غښتلي کېدو لامل ګرځي، نه داچې امام د خلکو په رای امام شي او د خلکو په شا کولو له امامته ګوښه شي.
حضرت علي په ۲۵ کلنې کور ناستې کې هم امام و؛ خو د حاکمیت چلولو امکان یې نه درلود.

## امام یوازې خدای ټاکي

روسته تردې، چې خدای حضرت ابراهیم پر ډول ډول پېښو؛ لکه له مال، ځان او اولاده پر تېرېدو و ازمایه او په دې ازموینه کې بریالی هم شو؛ نو خدای د امامت او مشرۍ مقام ورکړ. په فرمان کې راغلي وو: ((إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا)) [1]؛ یعنې ته مې د خلکو لپاره امام وټاکلې. په دې فرمان کې له ((إِنِّي جَاعِلُكَ)) څخه کار اخستل شوی دی، چې د امام ټاکنه باید د خدای له لورې وي؛ ځکه امام باید یو شمېر شرطونه او ځانګړنې ولري، چې بې له څښتنه (ج) څوک ترې خبر نه دي؛ لکه: امام باید پر هستۍ او انسان باندې له ټولو واکمنو قوانینو خبر وي. امام باید د هغه لارې له حتمي پایلو خبر وي، چې غوره کړې یې ده. امام باید پرخپله مشرۍ کې خپلو ګټو ته پام و نه کړي او دنني او بهرني مسایل یې راپارونکي نه وي. امام باید له ټولو انساني کراماتو په لوړه کچه برخمن وي او دا خو ښکاره خبره ده، چې دا ځانګړنې په معمولي انسان کې نه موندل کېږي او خلک هم د وګړیو په وجود کې له دې ځانګړنو بې خبره دي.
د عراق مشهور ستر عالم آیت الله شهید صدر د څو سریزو تر بیانولو روسته پایله اخلي، چې د امام ټاکنه باید یوازې د انتصاب له لارې وي او د خدای او استازي له لارې یې وي، او سریزې دا دي:
الف: پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د یو ستر هراړخیز عقیدتي او فکري انقلاب مشر و او جاهلي نظام یې پر انساني نظام د تل لپاره بدل کړ.
ب: ۲۳ کاله رسالت، هغه هم هغه مهال، چې مسلمانان په مکه کې هاغسې سره اور ته نیول شوي ول او په مدینه کې پرې ډول ډول جګړې ور وتپل شوې، چې دا ۲۳ کاله، دې دومره بدلونو ته لږ وخت دی.

---
[1] بقره/۱۲۴

ج: د خدای استازي ناڅاپه له دنیا سترګې پټې نه کړې، چې وواېو د امامت د مسلې څېړلو، بیانولو او تداوم ته یې وخت نه درلود او د خپل ځایناستي ټاکلو ته یې وخت ګوتو ته ور نه غی.

لنډه داچې ۲۳ کاله ددې دومره بدلون لپاره لږ دی او د خدای تر استازي روسته کار باید دوام موندلی وای او د کار تدوام او غځېدا ته څو طرح او نظرونه دي، چې باید رڼا پرې واچوم.

۱_پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د خپلې ځایناستي په فکر کې نه و او د انقلاب د تدوام په فکر کې هم نه و او خلک یې همداسې سر ایله خوشې کړل او له دې دنیا یې سترګې پټې کړې.

دا خبره ځکه د منلو وړ نه ده:

یو عادي انسان هم حاضر نه دی، څه ته یې، چې دومره سختي او زحمتونه ګاللي وي، همداسې یې خوشې کړي او بل چا ته یې و نه سپاري؛ هغه هم له هاغومره زحمت او زړه سواني سره، چې قرآن شریف د خدای د استازي صلی الله علیه و آله وسلم لپاره بیانوي تردې، چې وايي: ((حَرِيصٌ عَلَيْكُم)) [1]؛ یعنې پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ستاسې لپاره سوځي او لارښوونې ته موحرص کوي.

او په بل ځای کې وايي: ((لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ)) [2] یعنې تا به دا خپګان ووژني، چې خلک ولې ایمان نه راوړي.

نو تاسې په خپله ووياست، چې داسې انسان، چې د خلکو له لارښوونې سره دغسې مینه لري؛ نو حاضر به شي خلک همداسې په خپل حال پرېږدي؟

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ، چې د تبوک جګړې ته تله؛ نو په مدینه کې یې خپل ځایناستی وټاکه، چې د ۸۰ ورځو لپاره و؛ نو تر ځان روسته به یې فکر نه و کړی؟

آیا لومړی خلیفه حاضر شو، چې خلک همداسې پرېږدي او خلافت دويم خلیفه ته ونه سپاري؟

آیا دا د منلو خبره ده، چې لومړی خلیفه تر ځان روسته د مسلمانانو په فکر کې وي او د خدای استازی نه وي؟

۲_دويم نظر دادی، چې د خدای استازي له دې دنیا سترګې پټې کړې او تر ځان روسته یې د امت مشري د شورې پر غاړه کړه.

---

[1] توبه /۱۲۸

[2] کهف/٦

که داسې هم وي؛ نو ولې لومړي خلیفه د خدای د استازي صلی الله علیه و آله وسلم په څېر، کار شورا ته و نه سپاره او دویم خلیفه یې په خپله وټاکه او پخپله یې خلافت حضرت عمر ته ورکړ؟
او ولې دویم خلیفه هم ټولټاکنې و نه کړې او یو شپږ کسیزه شورا یې جوړه کړه هغه هم هغه شورا، چې عملاً د دیکتاتورۍ او سرزورۍ بڼه یې درلوده؛ ځکه، دویم خلیفه شرط ایښې و، چې خلیفه به هغه وي، چې عبدالرحمن بن عوف یې پلوی وي؟
دا لا څنګه شورا ده، چې پکې یو تن د وټو او رد حق ولري او د هغې ډلې خبره به منل کېږي، چې عبدالرحمن بن عوف پکې وي؛ نو دا شورا ده که دیکتاتوري؟
د دویمې نظریې په پام کې نیوو سره د غدیر خم مسله د څه لپاره ده؟
۳_ اوس، چې دویمه او لومړۍ نظریه د منلو وړ نه ده؛ نو یوازې یوه لار پاتې ده، چې په خپله د خدای استازی خپل ځایناستی پخپله وټاکي، چې ترټولو هم پوه دی هم زړه سواند او هم خبره یې د وحې پر بنسټ ده او هغه په خپله پوه دی، چې د ټولنې ودې او ادارې ته څوک تر ټولوغوره دی، چې د خدای استازي صلی الله علیه و آله وسلم همداسې وکړل او په غدیر خم کې یې حضرت علي خپل ځایناستی وټاکه.

## الهي انتصاب د حق لار ده

د امام په ټاکلو کې حق لار، هماغه د خدای د استازي صلی الله علیه و آله وسلم لار ده؛ ځکه موږ امام د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم په څېر، امامت د نبوت په څېر او نبوت او امامت ته د ضرورت دلیل یو ګڼو. د امام کار هم د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم په څېر د خلکو ښیون او تلپاتې نېکمرغۍ ته رسول دي؛ نوهماغه آیت، چې د نبوت په برخه کې مو راووړ، دلته هم ګټه ترې اخلو، چې قرآن شریف وایي: ((اِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى[1]: په یقین لارښوونه یوازې زموږ (پرغاړه) ده))
لکه څنګه چې پېغمبرصلی الله علیه و آله وسلم د خدای له لوري ټاکل کېږي او د قرآن شریف شریف آیتونو دې حقیقت تا اشاره هم کړې؛ نود امام کار هم، چې د خلکو ښیون دی او الهي ژمنه ده، باید د خدای له لوري وي.

---

[1] لیل/۱۲

## د ابوعلي سينا بلخي وينا

ابوعلي سينا وايي: امام بايد معصوم وي او له لوړو صفتونو برخمن وي او له دې ځانګړنو برخمنېدل داسې خبره نه ده، چې عادي انسان يې و پېژني او تشخيص يې کړي او که پر څه پوه هم شي؛ نو ډېر نيمګړي دي او يوازې د علايمو او اثارو له لارې يې پېژنداى شي؛ ځکه په خپله عالم، مدبر او قادر خداى بايد امام وټاکي؛ ځکه يوازې هغه دى، چې هم د خلکو له زړونو خبر دى او هم له غيبو او هم د واقعي نېکمرغۍ لار پېژني او د هستۍ د تدبير چارې يې په لاس کې دي.

## پوښتنه او ځواب

له دې برخې ستاسې مطلب دا و، چې د امام ټاکل بايد دخداى له لوري وي او ټولټاکنې ځکه ارزښت نه لري، چې له رازونو خبر نلري او علمي پوهه پکې خورا لږه ده او هم يو نابرياليۍ تجربه ده؛ نو ولې پخپله حضرت علي په نهج البلاغه کې مخالف ته خپله پګړۍ د خلکو د راى له امله جيګه ګڼي او وايي: د حضرت عثمان تر وژل کېدو روسته خلک پر ما راټول شول او زه يې وټاکلم؟

ځواب: حضرت د مخالفينو پر معيارونو خبرې کولې؛ يعنې تاسې، چې د خلکو د راى او ټاکنو خبرې کوئ؛ نوهمدا خلک وو، چې زه يې وټاکلم؛ نونن ولې په ما پسې را پاڅېدلي ياست؟

## امام او د قدر په شپه کې د پرښتو راکېوتل

هغه روايت، چې د قدر سورت تر تفسير لاندې نقل شوى ګڼه ترې اخستل کېږي، چې د قدر په شپه د پرښتو را کېوتل يوازې د خداى د استازي صلى الله عليه و آله وسلم په وخت پورې ځانګړي نه دي؛ بلکې دا کار هر کال ترسره کېږي. ((تَنَزَّلُ الْمَلاَئِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ[1]: په هغه (شپه) کې پرښتې او "روح" دخپل پالونکي په اجازه دهرکار (دتقديراو اندازه کولو) لپاره راکوزېږي.))

---

[1] قدر/۴

په دې کې هېڅ شک نشته، چې د پېغمبرصلی الله علیه و آله وسلم په ژوند کې پرښتې ورته راتلې؛ نو ترده روسته به پرښتې چا ته راځي؟
ښکاره خبره ده، چې پرښتې به هغه ته راځي، چې په کمالاتو کې تر ټولو خدای او استازي ته یې نږدې وي.[1]
نو ددې روایت په رڼا کې هم د امامت پر مقام رڼا واچول شوه او د ژوندي معصوم د شتون دلیل روښانه شو، چې په هر وخت کې د پرښتو د راتګ تم ځای وي، چې پخپله دا خبره ډېر ستر فضیلت دی.

## د امام او امت حقوق

داچې امام او امت یو پر بل څه حقوق لري، په دې هکله ډېر روایتونه شته، چې موږ یې څو ته اشاره کوو:
*حضرت علي خلکو ته وویل: موږ او تاسې یو پر بل یو شمېر حقونه لرو، چې زما حق پر تاسې دادی:
۱_پر خپله ژمنه او بیعت وفا وکړئ.
۲_زما په شتون او نه شتون کې نصیحت کوونکي او ښېګڼه کوونکي یاست.
۳_ څه چې درنه غواړم راسره یې ومنئ[2].
او تاسې پر ما دا حقونه لرئ:
۱_ستاسې ښېګڼه غوښتونکی او خواخوږی اوسم.
۲_بیت المال پر تاسې عادلانه ووېشم.
۳_ تاسې ته زده کړه وکړم چې نالوستي نشئ.
او همداسې یې خلکو ته وویل: چې تاسې پر ما حق لرئ؛ نو هامغومره یې، زه هم پرتاسې لرم.[3]
امام سجاد د حقوقو د رسالې په پیل کې، د امام حقوق تر ټولو واجب حقونه معرفي کړي دي: ((و اوجبها علیك حقّ ائمتك))[4]

---

[1] کافی ۱/ ۲۴۹
[2] نهج‌البلاغه ۳۴ خطبه
[3] نهج‌البلاغه ۲۱۶ خطبه
[4] تحف العقول ۲۵۵ مخ

حضرت علي به ويل: هاغسې، چې له طاغوتيانو او جبارانو سره خبرې کوئ؛ نو له ما سره يې مه کوئ او ځانساتي- محافظه کاري او غوره مالي مه کوئ او داسې فکر مه کوئ، چې خبرې به مو راته درنې وي او چې چېرې مو، حق او پر ځای مشوره وليده؛ نوحتماً ما خبر ترې کړئ او که خدای مو ونه ساتې؛ نوموږ خو له تېروتنې خوندي نه يو.[1]
په يوه روايت کې راغلي: چا چې د فقهاوو فتوی او قضاوت ونه مانه؛ نوداسې به وي؛ لکه چې زموږ خبره يې نه وي منلي او شرک يې کړی دی.[2]
په يوه بل روايت کې وايو:
که څوک شپې پر عباداتو او ورځې په روژو تېرې کړي او خپله ټوله شتمني د خدای په لار کې ورکړي او هر کال حج وکړي؛ خو د خدای ولي ونه پېژني او خپل کارونه د ده تر مشرۍ لاندې و نه کړي؛ نو پر خدای هېڅ حق نه لري او د ايمان خاوند نه دی.[3]

## د امت دنده

د روايتونو په رڼا کې خلک د امام پر وړاندې درې دندې لري:
۱_ د امام پېژندل، هغه هم له روښانه او غوره ځانګړنو سره، چې يو معصوم مشر يې بايد ولري.
۲_ فرمانونو ته يې سينه په لاس ولاړ وي، تردې چې خبرې يې پر سر سترګو ومني.
۳_خپلې شخړې پرې هوارې کړي او قضاوت پرې وکړي.[4]

## امامت او حج

امام باقر د کعبې طواف کوونکيو ته ويل: له کعبې دا چورېدل تر اسلام مخکې هم وو او اسلام هم طواف او حج و ټاکه، چې په دې توګه د حج په لوري کې زموږ څنګ ته راشئ او د ولايت، مينی او نصرت اعلان وکړئ بيا امام دا آيت ولوست: ((رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ الصَّلاَةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ

[1] نهج البلاغه۲۱٦ خطبه
[2] کافی ۱/ ٦۷
[3] صافی ۲/ ۱۸
[4] کافی ۱/ ۳۹۰

وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ[1]: ((پالونکيه! ما په يوه بې اوبو او بې کښته ناو کې د خپل اولاد يوه برخه ستا د قدرمن کور تر څنګ مېشت کړه، چې لمونځ وکړي؛ نو ته د يو شمېر خلکو زړونه ورته راواړوه او له محصولاتو څنې روزي ورکړه، ښايي چې هغوی ستا شکر وباسي.))
بيا امام باقر د ((فاجعل افئدة من الناس تَهوی اليهم)) [2] په استناد وويل: حضرت ابراهيم له خدای څخه ونه غوښتل، چې خلک کعبې ته رامات کړي؛ بلکې ويې وغوښتل، چې خلک يې ځوځات ته رامات کړي[3].
هو!د حج يوه فلسفه امام ته پاملرنه ده.

## له امام څخه د لاروی اغېزې

يو له بل سره (امام او امت) پر کړيو ژمنو عمل يو شمېر اغېزې لري، چې حضرت علي داسې راښوولي دي:
١_د مينو او ځواکونو بڼه نيول
٢_ ښوونځی له هر ډول اړونو خوندي پاتې کېږي.
٣_د دين لارې روښانه او ځلېږي.
٤_د عدالت ستنې غښتلې کېږي.
٥_ حق غښتلی کېږی او د باطل ملا ماتېږي،
٦_هر څه په خپل ځای کې ترسره کېږي.
٧_د دښمن د نفوذ لار تړل کېږي او پلمه ورته نه پاتې کېږي. [4]

## واقعي ياران

د خراسان يو سړي امام صادق ته د پاڅون وړانديز وکړ او ورته يې وويل: تاسې سل زره وسلوال سر تېري لرئ.

---

[1] ابراهيم/٣٧
[2] ابراهيم /٣٧
[3] کافی ١/ ٣١١
[4] نهج‌البلاغه ٢١٦ خطبه

امام یې د وفادارۍ د ازمېښت لپاره وویل: له اوره ډک هغه تنور ته ورننوځه، سړي ښښنه وغوښته، په دې وخت کې د امام یو انډیوال، هارون کوتې ته راننوت او تر سلام روسته امام ورته وویل: څپلۍ دې اوباسه او له اوره ډک په هغه تنور کې ورننوځه. هغه هم بې له کوم ځنډه دا کار وکړ او امام پر خبرو بوخت شو او د خراسان د اوضاع پوښتنې یې پیل کړې. بیا امام خراساني ته مخ کړ او ورته یې وویل: ورشه او تنور ته سر ښکاره کړه؛ نو تنور ته ننوتی سړی یې چې روغ رمټ وموند؛ نو ورته یې وویل: داسې لارویان به څومره وي، چې هر څه ورته ووایو و یې مني او ټکې پکې را ونه باسي. ویې ویل: تنوري لارویان خو به نه وي[1].
هو! د خبرې او عمل ترمنځ خوار ډېر واټن وي. البته هغه تر ځان تېر ملګری و نه سوځېد. (لکه ابراهیم خلیل الله، چې په اور کې و نه سوځېد)

## دروغجن یاران

په حدیث کې راغلي دي: هغه دورغ وایي، چې زه د علي لاروی یم؛ خو په عمل کې یې د بل په رسۍ منګولې لګوي[2].
په یوه روایت کې راغلي: که له امویانو سره ملاتړي نه وای، چې حکومتي چارې یې ورته کړې وای، ورته جنګېږېدیلي نه وای؛ نو له موږه به یې زموږ حق نه و اخستې [3].
هو!د امامت کمزوري د بې ارادې مینه والو د کمزورۍ له امله ده، هغوی چې له زړه له امام سره دي؛ خو د وېرې او یا مادیاتو له امله د پردیو مزدوارن دي.

## پر امامت د ظلم ډولونه

د امامت پر مسله او د امامانو پر ښوونځي او ریښتینو لارویانو یې ډول ډول تیري شوي دي. نه پوهېږم، چې سلا به وي، چې وویل شي که نه، شمېرلیکونو ته یې یوه لنډه کتنه لرو:

---

[1] بحارالانوار ۴۷/ ۱۲۳
[2] وسائل ۲۷/ ۱۱۷
[3] بحارالانوار ۴۷/ ۳۸۳

## اقتصادي تېري

د اهل بېتو د مالي ملا ماتونې لپاره يې د فدک گټوره ځمکه ترې واخسته او له اسلامي مالياتو يې د ذی القربی او د اهل بيتو برخې لرې کړل.
تورونه يې پرې ولگول او تبليغات يې ورپسې وکړل، پر امام يې ډول ډول تورونه ولگول او تبليغات يې ورپسې کول او کار يې تردې را ورساوه، چې د شام خلکو واورېدل حضرت علي د کوفې په جومات کې د سجدې پر حال ترور شوی دی؛ نو په حېرانتيا يې وويل: علي په جومات کې څه کول هغه لمونځ هم کاوه؟!!

## فکري تېری

د ((حسبنا کتاب الله)) په شعاريې [يعنې قرآن شريف زموږ لپاره بس دی]، د ډېرو حديثونو مخه ونيوه امامان يې گوښه کړل او خلک يې د علم له اصلي سرچينې بې برخې کړل.

## دروغ جوړول

د حديثونو د جعل کارخانه يې جوړه کړه او د امويانو د سترولو او د بني هاشمو ټکولو ته يې دومره جعلي حديثونه جوړ کړل، چې ټولو ته يې لار خره کړه، چې څوک حق او باطل ونه پېژني.

## تحريف او مخونه

د امامت په هکله يې د خدای د استازي صلی الله عليه و آله وسلم روښانه او سپينې ويناوې تحريف او توجيه کړې او د مشرۍ مسير يې داسې کوږ کړ، چې کار يې د يزيد بن معاويه بن ابوسفيان حکومت ته راورساوه.

## فرهنګي ظلم

نه پوهېږم، چې د اهل سنتو ستر شخصيتونه چې د امام کاظم همپېره وو؛ نو ان يو حديث يې هم له امام کاظم څخه نه دی روايت کړی؟آيا امام ته ان د يو عادي راوي په سترګه هم ليدل نه دي په کار؟
دا لا څنګه خبره ده، چې په صحيح بخاري کې له ځينو خوارجو حديثونه روايت شوي؛ خو له امام جعفر صادق او نورو دولس ګونو امامانو حديثونه نه دي روايت شوي؟

## د پوه پر ځای ناپوه

يو داسې مشر ته يې شا کړه، چې تل به يې ويل: ((سلوني)) څه چې غواړئ، له ما يې وپوښتئ، چې ځواب يې درکړم او په هغه مشر پسې ولاړل، چې ويل يې: ((اقيلوني))؛ يعنې ما پرېږدئ، چې نه پوهېږم.
پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ، چې د علم ښار و پخپله يې ويلي و: علي زما د علم د ښار ور دی"؛ نو حضرت علي يې پرېښود او په هغه پسې ولاړل، چې خپله به ډېرو مسئلو کې پاتې راتله او تل يې ويل که علي نه و او لارښوونه يې راته نه وای کړی؛ نوهلاک شوی به وم.

## پلمې او کينې

په دې پلمه، چې حضرت علي ځوان دی، شوخ دی او د حنين، خېبر، احد او بدر له جګړو راهيسې ورته ډېر مسلمانان په زړونو کې کينې لري؛ نو دا د پېغمبر اکرمصلی الله عليه و آله وسلم د علم ور يې په کور کې ګوښه کړ، تردې چې حضرت علي پخپله وويل: زه له هامغې ړومبۍ ورځې مظلوم وم[1].
سره له دې، چې ټول پوهېږي څومره حديثونه، چې د حضرت علي د فضايلو په هکله روايت شوي، د پېغمبراکرمصلی الله عليه و آله وسلم د بل يو صحابي په هکله هم نه دي روايت شوي؛ خو بيا يې هم د خدای د استازي صلی الله عليه و آله وسلم د علم د ښار ور ګوښه کړ!!!

[1] بحارالانوار ۲۷/ ۲۰۹

تاسې په خپله وویاست، چې آیا ځواني عیب دی؟ هغه مهال، چې حضرت ابراهیم خلیل الله د توحید اتل شو او بوتان یې دړې وړې کړل؛ نو ځوان نه و؟ ((قَالُوا سَمانا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ [1]: (ځینو) وویل: ((موږ له یوه زلمي د بوتانو (د مخالفت په اړه) خبره اورېدلې وه، چې ابراهیم یې بولي.)) ایا قرآن شریف د اصحاب کهف په هکله نه وایي: ((إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ)) [2] هغوی هغه ځوانان دي، چې پر خپل پالونکي یې ایمان راووړ.

ایا حضرت یوسف ځوان نه و؟ ایا مصعب د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم لومبی مبلغ استازې ځوان نه و؟ ایا پیغمبر اکرمصلی الله علیه و آله وسلم د اسامه په نامه تنکې اتلس کلن ځوان دهغه ستر لښکر مشر نه کړ، چې ډېر سپین ږیري یې سر تیرې ول او دهغه په هکله یې وویل: د خدای (ج) لعنت دی پر هغه وي، چې د اسامه له لښکره سرغړونه وکړي. ایا یوازې سپینه ږیره مشرۍ ته شرط ده؟! ایا امامت په کیلوګرامونو او مترونو دی؟! ایا قرآن شریف علم، تقوی، جهاد، هجرت، سابقه، اخلاص او ایمان د ارزښتونو معیار نه دی ټاکلی؟

ولې یې د قرآن شریف ددې ازرښتونو پر وړاندې نور ارزښتونه مطرح کړل؟

هو! خبره یې، چې پلمه کړه دا وه، چې علي شوخ دی. تاسې په خپله وویاست هغوی، چې شوخان دي؛ نو لیاقت نه لري؟

امامت علم، لید او عصمت غواړي. د دولس ګونو امامانو عمرونو سره توپیر درلود، له چارو سره چلن او مسئولیت یې هم سره توپیر درلود؛ لکه څنګه چې د الهي انبیاوو شرایطو هم سره توپیر درلود.

## د حق وژنې او تېري پراخوالی

پر دولس ګونو امامانو تېری، د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له دنیا څخه د سترګو له پټولو سره سم پیل شو. هغه مهال، چې پیغمبرصلی الله علیه و آله وسلم د ژوند په روستیو شېبو کې ویې ویل: "چې قلم او کاغذ راوړئ" او دهغه سپکاوی یې وکړ او دې مظلومیت همداسې دوام وموند، تردې چې حضرت علي کرم الله وجهه د سجدې پر حال د روژې په میاشت کې پر سر په توره ووهل شو؛ نو چیغې یې کړې: ((فزت و رب الکعبة)) د کعبې پر خدای قسم، چې رستګار شوم.

---

[1] انبیاء/٦٠

[2] کهف ١٣

پر امامانو هم له بهره تېري کېدل او د کور له اړخه د نا اهلو مېرمنو له اړخه هم، کله هم خدای ته د نږدې کېدو په خاطر، په خطبو کې پر منبرونو، په پټه او ښکاره، په لمانځه او ورځني ژوند کې ورپسې بدې ردې، سپکې سپورې او کنځلې کېدی.
پر امامانو تېرې هم د پوهو دښمنانو له اړخه و او هم د کم عقلو دوستانو له اړخه.

## د امامانو پر لارویانو تېري

ډېرو بې لارو په ځانخبرۍ او ناځانخبرۍ کې پر اهلبېتو او لارویانو یې ډول ډول تورونه ولګول؛ خو هغوی داسې نه وو، چې څه ورپورې تړل کېدل:
هېڅکله د اهل بېتو لارویان قرآن شریف اړول شوی نه ګڼي.
هېڅکله د اهل بېتو لارویان دولس ګوني امامان خدای نه ګڼي
هېڅکله بهائیان او بابیان د اهل بېتو د لارویانو له ډلې ندي
هېڅکله د اهلبېتو لارویان خپل څلورګوني کتابونه (کافي، من لایحضر، تهذیب او استبصار) بشپړه صحیح نه ګڼي اوعمل پرې واجب نه بولي؛ بلکې غوره کتابونه یې ګڼي.
هېڅکله د اهلبېتو لارویان د پیغمبر اکرمصلی الله علیه و آله وسلم اصحاب مرتد نه ګڼي؛ بلکې ګروهه لري، چې د پیغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم پر ژوند هم ریښتیني مؤمنان وو او هم منافقان؛ نو د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم تر مړینې روسته هم دا خبره شته.
نو هغوی چې وایي د پیغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم ټول اصحاب ریښتیني عادل مؤمنان وو؛ نو د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د وخت منافقان دده تر مړینې روسته چېرته ولاړل؟

## ډېرې تېروتلې

کله وایي، څنګه کېدای شي، چې ټول خلک تېر وځي او خپل پر حقه امام پرېږدي او په بل پسې ولاړ شي؛ نو داچې خلکو امام علي پرېښود داسې پوهېږو، چې ګواکې حق به داسې و؟
ځواب: لومړی داچې ټولو خلکو امام علي ته شا کړې نه وه او دویم داچې آیا اکثریت پر حقانیت دلیل دی؟ آیا سره لدې، چې د قرآن شریف څرګندې کچې موجودې وي؛ نو دا پرېږدو او د خلکو عملونو ته وګورو؟

لکه چې د جمعې سورت له روستیو آیتونو غافل دي، چې پېغمبر اکرم د جمعې د لمونځ پر خطبو بوخت و، چې ناڅاپه پلورونکي رانوتل او پرډهول وهولو یې پیل وکړ او خلکو د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم خبرې پرېښووې او له ډهل وهونکیو راټول شول او له هغه ټولو خلکو یوازې څو تنه له پېغمبر سره پاتې شول؛ نو آیا د پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم پرېښوول په سلا وو؟!! ایا قرآن شریف یې ندی لوستی، چې ډېری بني اسرائیلو د حضرت موسی ځایناستی هارون پرېښود او له خوسي را تاو شول.
هو! څو چې هوسونه او وسوسې وي؛ نود هرې تېروتنې احتمال هم وي.

## د شیعه و او اهل سنتو همغږي

د شیعه او اهل سنتو په کتابونو کې راغلي تقریباً ټول هغه فضایل، چې شیعه و د حضرت علي لپاره روایت کړي، اهل سنتو هم په خپلو کتابونو کې روایت کړي دي او که شیعه روښو په کوم ځای کې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم پر اصحابو نیوکه کړی؛ نودا نیوکه د اهل سنتو په کتابونو کې هم شته.
هو! شیعه نه کومه سیاسي ډله ده او نه بدعتگره؛ بلکې د حرکت سرچینه یې سوچه اسلام، قرآن شریف او د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم سنت دي او موخه یې د خدای رضا ده.
شیعه هماغه مسلمانان دي، چې له حضرت علي سره د پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم د وینا له امله مینه کوي او د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم پر ژوندون هم وو او په خپله پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم دا لقب د حضرت علي لارویانو ته ورکړی و[1].
د شیعه ټکی څو څو ځل پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم حضرت علي ته کارولی؛ لکه:
((یا عليّ! أنت و شیعتك هم الفائزون)) [2]

## منع شوې مشري

په قرآن شریف کې دوه ډوله مشري او امامت مطرح شوی دی:

[1] الغدیر ۲/ ۵۷
[2] بحارالانوار ۶۸/ ۴۶

د رڼا (نور) امام، چې خلک د خدای لوري ته ښیون کوي: ((أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا)) [1] او د اور (نار) امام، چې خلک اور ته را کاږي ((أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ)) [2] او د مشرۍ پر مسئله هم په منفي اړخ او هم په مثبت اړخ ټینګار شوی دی. په مثبت اړخ کې د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم او اولامر څخه لاروي واجب ده او له خدای څخه د لاروۍ په څنګ کې راغلې ده، چې پر خدای سربېره د پیغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم ، دولس ګونو امامانو، الهي اولیاوو او له جامع الشریطو فقهاوو لاروي هم پکار ده او که څوک یې خبره ونه مني؛ نو داسې به وي، چې د خدای او دهغه د استازي صلی الله علیه و آله وسلم خبره به یې نه وي منلي او له خدای سره له شرک سره مساوي کار به یې کړی وي[3]. په منفي اړخ کې هم قرآن شریف یو شمېر کسان راپېژندلي، چې باید ځان ترې وژغورو.
اوس به دهغو کسانو او ډلو شمېرلیک را وړاندې کړو، چې قرآن شریف یې له لاروۍ منع کړې یو، که څه هر هوښیار انسان له خدای ورکړې فطرت سره پوهېږي، چې د داسې خلکو لاروي پکار نده:
۱_ګناهګاران او کافران: ((وَلاَ تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا أَوْ كَفُورًا [4]: او له هغوی د هیڅ یوه ګناهګار یا (کافر) او ډېر ناشکره خبره مه منه.))؛ یعنې په ګناهګارانو او کافرانو پسې مه ځئ.
۲_فساد کوونکي: ((وَلاَ تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ)) [5]؛ یعنې څوک چې فاسدان وي لاروي ترې مه کوئ.
۳ _ ناپوهان: ((وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ)) [6] او د ناپوهانو په غوښتنو پسې مه څه.
٤_له دروغجنو لاروي منع ده: ((فَلاَ تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ)) [7]
۵_غافلان او هوس پالي: ((وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلاَ تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلاَ تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا [8]: او ځان دې له هغوی سره زغمناك كړه، چې خپل پالونکی سبا و بېګاه یادوي (او)

---

[1] انبیاء/۷۳
[2] قصص/۴۱
[3] وسائل ۱۸/ ۹۹.
[4] انسان/۲۴
[5] اعراف/۱۴۲
[6] جاثیه/۱۸
[7] قلم/۸
[8] کهف/۲۸

خوښي يې غواړي او ددنيا د ښکلا لپاره له هغوی خپلې سترګې مه اړوه او د هغه مه منه، چې د هغه زړه موله خپل ياده غافل کړی دی او په خپلې ځاني غوښتنې پسې تللی دی او چارې يې له پولې وراووښتې دي.))
٦_ پست وګړي: ((وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ[١]: او د هر يوه سپك، ډېر قسم خور مه منه؛))
٧_اسراف کوونکي: ((وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ[٢]: او تاسې له پولو د اوښتو [خلکو] امر مه منئ؛
٨_ مخکني بې لاري: ((وَلاَ تَتَّبِعُواْ أَهْوَاء قَوْمٍ قَدْ ضَلُّواْ مِن قَبْلُ[٣]: او د هغو خلکو په غوښتنو پسې مه ځئ، چې له تاسې مخکې پخپله هم بې لارې شوي وو او ډېرنور(خلك) يې هم بې لارې کړل او له سمې لارې بې لارې شوي))
د قرآن شريف په نورو آيتونو کې پر مسلمانانو د يهودو او نصاراو ولايت او همداسې پر مسلمانانو د خدای د دښمنانو او هغوی، چې د مسلمانانو پيښې کوي؛ خو مسلمانان نه وي او دين يې خپلو موخو ته د رسېدلو لپاره وسيله کړی وي، مشري يې منع شوې ده.
د قرآني دلايلو له مخې په اهل بيتو پسې ځو:
تر هغه وخت چې پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ژوندی و؛ نو د سني او شيعه په نوم کوم درز نه و او هغه ټولو ته بېلګه وو ((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ)) [٤]
خو تر وفات روسته يې دوه لارې پيدا شوې؛ يوه د اهل بيتو لار او بله د اهل سنتو لار او په اهل بيتو پسې د تلو لپاره دا دلايل لرو:
١ _ قرآن شريف د اهل بيتو په اړه وايي:
((إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً[٥]: بېشکه خدای يوازې غواړي چې له تاسې"اهل البيت: نبوي کورنۍ" پليتي او ګناه لرې کړي او بشپړ موسپېڅلي کړي.))
خدای په ډاګه اعلانوني چې اهل بيت له ګناه او چټلۍ پاک دی ايا بې له دوی د بل چا په باب دغسې کوم مطلب شته؟!

[١] قلم/١٠
[٢] شعراء/١٥١
[٣] مائده/٧٧
[٤] احزاب/٢١
[٥] احزاب/٣٣

۲ _ اهل بيت د اسلام له پيله مخکښان وو او په لومړۍ پېړۍ کې وو او قرآن مخکښان ستايلي دي:

((وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ. أُوْلَئِكَ الْمُقَرَّبُونَ[1]: او(درېيمنۍ ډله) د مخکښانو مخکښان (دي)، همدوی (خدای ته) نژدې دي.)) حال دا، نور مشران داسې نه دي او ټول تر پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم روسته راغلي او په دويمې پېړۍ کې زيږېدلي دي.

۳ _ اهل بيتو د خدای په لار کې جهاد کړی او شهيدان شوي دی او په قرآن کې "مجاهدين" پر "ناستو" غوره ښوول شوي دي: ((وَفَضَّلَ اللّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا))[2]

؛ خو نور داسې نه دي.

ځکه موږ د قرآني دلايلو له مخې په اهل بيتو پسې ځو، حال دا، بې له دوی په نورو پسې تلل د قرآني دليل له مخې نه دي.

# اهل بيت

## اهل بيت څوک دي؟

### د کسا حديث

يوه ورځ پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم د خپلې لور زهرا بي بي کور ته ولاړ او خپله مشهوره "يماني چپن" يې پر ځان واچوله، تر لږ وخت روسته کوچنی امام حسن راغی او پر خپلې مور يې سلام واچاوه او د خپل نيکه پوښتنه يې وکړه، فاطمې بې بې خپل پلار وروښود، بيا امام حسين او ورپسې حضرت علی کرم الله وجهه راغلل او د پېغمبر تر څنګ کېناستل او په اجازه يې تر چپنې لاندې کېناستل په پای کې فاطمه بي بي هم ورسره کېناسته.

په کور کې نور هم وو؛ نو پېغمبر بل هېچاته، تر چپنې لاندې د کېناستو اجازه ورنکړه بيا يې وويل: خدايه! دا مې اهل بيت دي او دهغوی په هکله يې دعا وکړه.

د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم دا شان کړه ځکه و، چې د نورو د ناوړې ګټې اخستنې مخه ونيسي او سبا څوک د پېغمبر د تره او ښځې په نامه ادعا ونکړي چې د پېغمبر اهل بيت دي او د تطهير آيت يې په شان کې دی.

---

[1] واقعه/ ۱۰، ۱۱

[2] نساء/۹۵

### هره ورځ معرفي کول

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم به د خپل عمر په پای کې هره ورځ د علي او فاطمې بي بي د کور مخې ته راتله او خپل لاسونه به یې دهغه د کور پر وره ایښوول او ویل به یې: ((السلام علیک یا اهل البیت النبوة)) [1] او له دې لارې به پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم خپل اهل بیت خلکو ته ورپېژندل، چې خلکو ته فرهنګ شي او خلک په بشپړه توګه اهل بېت وپېژني او نور وګړي که څه د پېغمبرصلی الله علیه و آله وسلم ښځې او خپلوان وي، "اهل بیت" ونه ګڼي.

## په لمانځه کې پر اهلبېتو درود

د مسلمانانو ټولې ډلې په لمانځه کې پر پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم او اهلبیتو یې درود وایي: ((اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم و علی آل ابراهیم انک حمید مجید))

## اولی الامر څوک دی؟

په قرآن شریف کې وایو: ((أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ)) [2]؛ یعنې له خدای، استازي یې او د حکم له خاوندانو لاروي وکړئ. اولی الامر؛ یعنې د واک او فرمان خاوند؛ خو دوی څوک دي؟

د شیعه و په ګروهه اولی الامر یوازې دولس ګوني امامان دي، نه هر څوک، چې د واک او قدرت خاوند وي؛ ځکه دا د امر خاوند، چې د خدای او استازي صلی الله علیه و آله وسلم په څنګ کې یې راغلي، باید د خدای او استازي صلی الله علیه و آله وسلم پر لار وي؛ نوښکاره خبره ده، چې وایي له خدای او استازي صلی الله علیه و آله وسلم یې لاروي وکړئ؛ یعنې یوه

[1] بحارالانوار۳۵/ ۲۱۵
[2] نساء/۵۹

گناه هم مه کوئ. بلخوا که مور د اولی الامر مصادیق د هېوادنو پاچایان او ولسمشران وګنو، نه یوازې داچې معصوم نه دي؛ بلکې کله خو د ګناه ځالې همدوي دي؛ نوستاسې په خیال آیا سمه ده، چې خدای په یوه آیت کې مور له خدای او استازي صلی الله علیه و آله وسلم یې لاروی ته او له ګناه کولو ژغوري او په هماغه آیت کې مو له مفسدانو لاروی ته راوبلي؛ ځکه د هر قدرت خاوند اولی الامر ندی.

په بله وینا

لکه څنګه چې پدې آیت کې د ((اطیعوا)) حکم لرو؛ نوپه نورو آیتونو کې د منع ((لا تطع)) او ((لا تطیعوا)) حکم لرو. خدای په یو ځای کې له واکمنانو د لاروی حکم کوي او په بل ځای کې مو منع کوي؛ نومور ته څه پکار دي؟

که له اولی الامره مراد د هر واک او قدرت خاوند وي؛ نو پدې دومره ځایونو کې چې خدای پاک له اطاعته یې منع کړي وو؛ نو له اطاعت کوونکیو به څه پاتې نشي، لکه ډاکټرچې یو ناروغ ته ووایي: لبنیات وخوره او بیا ورته ووایي: ماسته مه خوره، شیده مه څښه، پنېر مه خوره او. . . . . نو اولی الامر باید پاکلمني مشران وي، چې لاروي ترې هماغه له خدای او پېغمبر اکرم څخه لاروي ده او هېڅ ډول فکري او عملي انحراف پکې نه لیدل کېږي او له عصمته برخمن دي.

که له اولی الامر څخه د قرآن شریف مراد نا معصوم کسان وي؛ نوحق به دا و، چې لاروي به ترې مطلقه نه وای؛ بلکې له مور و پلار څخه د لاروی په څېر به مشروطه وای؛ لکه چې قرآن شریف وایي: که مورو پلار غوښتل، چې اولاد د توحید له ولکې وباسي؛ نولاروي ترې منع ده: ((وَإِن جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلاَ تُطِعْهُمَا)) [1]؛ نوکه له اولی الامر څخه د لاروی امر بې له کوم قید او شرطه راغلی، ددې لپاره دي، چې د قرآن شریف له نظره اولی الامر قېد ته اړتیا نلري؛ ځکه دوی نه تېروځي او عصمت لري.

پردې سربېره، چې له اولی الامر نه مراد پاکلمني مشران دي د شیعه او سني په حدیثونو کې چې شمېر یې درې سوو ته رسي، ددې امامانو شمېر دولس کسان ښوول شوي دي.

---

[1] عنکبوت/۸

## اولی الامر دولس تنه دي

په ډېرو روایتونو کې د خدای د استازي صلی الله علیه و آله وسلم د ځایناستیو شمېر ښوول شوی دی:

په ځینو روایتونو کې راغلي دي: تر ما روسته مشران دولس کسان دي او ټول قریش دي. [1]

په نورو روایتونو کې راغلي دي: تر ما روسته د امامانو شمېر د بني اسرائیلود نقباوو هومره دي.

په ځینو روایتونو کې د خدای استازي صلی الله علیه و آله وسلم د خپلو ځایناستو د بېل بېل نوم اخستې دی. حضرت جابر بن عبدالله انصاري وایي: چې د ((أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ)) آیت راغې نو د خدای له استازي صلی الله علیه و آله وسلم مې وپوښتل: خدای او استازی یې پېژنم؛ خو دا اولی الامر څوک دي، چې لاروي ترې د خدای او استازي صلی الله علیه و آله وسلم په څنګ کې راغلی ده؟ د خدای استازي صلی الله علیه و آله وسلم وویل: ای جابره!هغوی زما ځایناستي او د مسلمانانو مشران دي؛ لومبې یې علي بن ابیطالب او ورپسې یې دوه زامن حسن او حسین او تر دوی روسته د حسین زوی زین العابدین او ورپسې یې زوی محمد، چې پر باقر به مشهور وي، چې ته به یې هم وینې. ای جابره! هغه چې دې ولید؛ نوزما سلام پرې وواېه. تر هغه روسته یې زوی جعفر الصادق او بیا موسی الکاظم بیا علي الرضا بیا محمد التقي بیا علي الهادي او بیا حسن العسکري او اخري یې د حسن عسکری زوی دی، چې؛ نوم یې زما نوم دی او پر ځمکه د خدای حجت او بقیة الله دی؛ هماغه چې ختیځ او لویدیځ به فتح کوي. [2]

## د دولس ګونو امامانو موخه یوه ده

د دولس ګونو امامانو موخه یوه او هماغه ده، چې د خدای د استازي صلی الله علیه و آله وسلم موخه وه؛ خو د هر وخت د غوښتنې مطابق هر یو د تبلیغ ځانګړې کړنلار درلوده؛ یو به جنګېده بل به سوله کوله، یو به په دعا او توسل له جهل او دښمن سره مبارزه کوله، بل به د بحث او زده کړو د ټولګیو په جوړولو سره خلکو ته لارښوونه کوله. که څه د هر یوه کړنلارې سره توپیر درلود؛ خو د ټولو موخه یوه وه؛ لکه د دوو لاسونو په څېر، چې د جامو پرېمنځلو پر

[1] بحارالانوار ۳۶/ ۳۲۱

[2] کمال الدین ۳/ ۲۵۳

مهال هر یو، یوې خوا ته حرکت کوي؛ خو د دواړو موخه پاکوالی دی. امام، چې معصوم دی او نه تېروځي؛ نو جګړه کوي او که سوله؛ نو کار یې سم او د خدای او استازي صلی الله علیه و آله وسلم یې د تایید وړ دی. د خدای استازي صلی الله علیه و آله وسلم د امام حسن او امام حسین په هکله وویل: حسن او حسین د خلکو امامان دي؛ که جګړه وکړي او که سوله.[1]

## آیت الله العظمی سید علی حسینی خامنه ای[((۲۵۰ کلن انسان)) کتاب، پښتو ژباړه] وایي:

موږ باید د نبوي کورنۍ سپین لمنو امامانو علیهم السلام ژوند د یوې زده کړې او بېلګې په نامه زده کړو؛ نه یوازې د پرتمینو او ارزښتمنو خاطرو په نامه او دا چار بې له دې ناشونی دی، چې د دوی سیاسي کړنلارو او کړلارو ته توجه وکړو. ما په خپله د نبوي کورنۍ سپین لمنو امامانو علیهم السلام د ژوند له دې اړخ سره خورا مینه او ورلېوالتیا پیدا کړې ده او بده نه ده، چې ووایم، چې دا اند د لومړي ځل لپاره پر ۱۳۵۰ کال پر هغه مهال راپیدا شو، چې په یوه ستونزمنه ازمېینه او حالاتو کې ښکېل وم؛ البته تر هغه د مخه مې د نبوي کورنۍ سپین لمنو امامانو ته د هغو سترو مبارزانو په نامه توجه درلوده، چې د توحید د کلمې د لوړوالي او اعلا او د الهي حکومت د جوړولو لپاره یې سرښندنې کولې؛ خو هغه ټکی، چې هغه مهال، ناڅاپه ما ته روښانه او راڅرګند شو، دا و، چې د سپین لمنو امامانو علیهم السلام ژوند، له ظاهري توپیرونو سره سره- چې په ټول کې یو مستمر او اوږدمهاله خوځښت دی، چې له لسم- یوولسم هجري کاله پیلېږي او تر ۲۵۰ کاله دوام مومي او پر دوه سوه او شپېتم کال- چې د کوچني ناسوبتیا (غیبت صغری) د پېر پیل دی- د نبوي کورنۍ د سپین لمنو امامانو علیهم السلام په ژوند کې پای مومي. ټول سپین لمني امامان یوه ټولګه ده، یوه وګړه او شخصیت دی. بېشکه چې د دوی موخه او لوری یو دی؛ نو موږ د دې پر ځای چې راشو او د حضرت امام حسن مجتبی علیهم السلام ژوند بیل او د حضرت امام حسین ژوند بیل او امام سجاد ژوند بیل وشنو او تحلیل یې کړو- چې احیانا په دې خطرناکه اشتباه کې ښکېل شو، چې د دې درېیو واړو امامانو سیرت، د ظاهري اختلاف په پار، یو له بل سره په ټکر کې دی- باید داسې یو انسان فرض کړو، چې ۲۵۰ کاله یې عمر کړی او پر یوولسم هجري کال یې د یوې لارې وهل پیل کړي او تر دوه سوه او شپېتم هجري کاله پورې یې دا لار وهلې ده. د دې ستر او سپین لمني انسان ټول حرکتونه له دې لید سره د پوهې او مخونې وړ دي. هر انسان، چې له عقل او حکمته برخمن وي- که څه له عصمته برخمن هم

[1] بحارالانوار ۴۳/ ۲۹۱

نه وي- په يوه اوږد مهاله حركت كې يې موضعي تكتيكونه او واكونه درلودل. كله شونې ده، چې لازم يې ګڼلې وي، چې تېز حركت وكړي او كله ورو حركت وكړي او كله هم شونې ده، چې د حكمت له مخې، پر شا تګ وكړي؛ خو همدا پر شا تګ يې هم د هغوى له نظره، چې پوهه او حكمت لري او د امام په موخه پوهېږي، يو پرمختګ شمېرل كېږي.

له دې ليد سره، د حضرت اميرالمؤمنين ژوند، د حضرت امام حسن مجتبى ژوند، د حضرت امام حسين ژوند، د نورو اتو سپين لمنو امامانو- تر دوه سوه شپېتم كال پورې- يوه مستمر حركت دى. په دې زه پر هغه كال پوه شوم او په دې ليد د هغوى ژوند ته ورننووتم. يو ځل مې بيا ور وكتل او څومره چې مخې ته ولاړم، دا اند تاييد شو.

دې خبرې ته پام، چې – د نبوي كورنۍ- د سپين لمنو امامانو ژوند، يو سياسي جهت ګيري او دريځ درلود، د دې وړتيا لري، چې د يوه نوي څېړكي تر نامه لاندې وڅېړل شي او زه به دا كار وكړم؛ ان شاء الله لېواله يم، چې دا جمله په تفصيل شرح كړم.

لومړى داچې سياسي مبارزه او حاده سياسي مبارزه، چې موږ يې د نبوي كورنۍ سپين لمنو امامانو ته ورمنسوبو؛ يعني څه؟ مراد دا دى، چې د نبوي كورنۍ د سپين لمنو امامانو مبارزه يوازې علمي، ګروهيزه او كلامي مبارزه نه وه؛ لكه هغه كلامي مبارزې، چې تاسې د اسلام د تاريخ په ترڅ كې ليدلي دي؛ معتزله، لكه اشاعره او نور. له ناستو، غونډو، د زده كړو له حلقاتو، د حديث د ويلو او رانقلولو او د احكام له ويلو نه د امامانو مراد دا نه و، چې هغه كلامي او فقهي ښوونځي سل په سلو كې تثبيت كړي، چې په دوى پورې يې تړاو درلود او په خپلو خبرو د خلكو سر خلاص كړي؛ نه، خبره تردې اوچته وه. همداراز د ښاغلي زيد او د هغه د خپلوانو د مبارزې په شان يا بني الحسن، آل جعفر او د نورو په شان، وسلواله مبارزه يې هم نه درلوده؛ البته هغوى يې په مطلق ډول نه ردول، ځينې به يې د مازې وسلوالې مبارزې په پار نه؛ بلكې په نورو دلايلو ردول، ځينې به يې بشپړ تاييدول او په ځينو كې يې د جبهې تر شا ګډون درلود. ((لوددتت ان الخارجى من آل محمد خرج وعلى نفقة عياله[1])) وتيزه مرسته، حيثيتي مرسته، ځاى وركول او پټنځاى وركول او دې ته ورته چارې؛ خو په خپله د امامانو عليهم السلام په نامه، كومه شمېرې، چې موږ پېژنو، په وسلواله مبارزه كې نه وو او نه ورننووتل.

---

[1]. بحارالانوار، ۴۶ ټوک، ۱۷۲ مخ. حضرت امام صادق وويل: خوښ يم، چې د آل محمدپاڅونكي، پاڅي او د كورنۍ لګښت يې پر ما.

سیاسي مبارزه، نه هغه لومړۍ ده او نه دا دویمی، له هغې مبارزې څخه عبارت ده، چې موخه یې سیاسي وي. سیاسي موخه څه ده؟ عبارت ده له: د ((اسلامي حکومت)) جوړول او زموږ په تعبیر د ((علوي حکومت)) جوړول.
د نبوي کورنۍ امامان د رسول الله د مړینې له شېبې تر دوه سوه شپېتم کال پورې په دې تکل کې ول، چې په اسلامي ټولنه کې الهي حکومت جوړ کړي. دا آریزه مدعا ده؛ البته نه شو ویلای، چې غوښتل یې چې په خپل پېر کې اسلامي حکومت جوړ کړي-؛ یعنې هر امام په خپل وخت کې- منځ مهالې راتلونکې، اوږد مهالې راتلونکې او په ځینو وختونو کې لنډ مهالې راتلونکې وه، د بېلګې په توګه د حضرت امام حسن مجتبی په وخت کې د اسلامي حکومت جوړول په لنډمهالې راتلونکې کې وه. حضرت امام حسن مجتبی به د هغو وګړیو –مسیب بن نجبه او نورو- په ځواب کې چې امام ته به یې ویل، چې چوپتیا مو خپله کړې ده، ویل: ((و ان ادری لعله فتنة لکم و متاع الی حین[1])) او زما په اند، چې د امام سجاد پر مهال په منځ مهاله راتلونکې کې وو، چې کولای شم، په دې باب هغه شواهد او مدارک هم درته ووایم، چې شته دی. د امام باقر پر مهال، په ډېر احتمال سره په لنډ مهاله راتلونکې کې وه. د اتم امام تر شهادت روسته، په غالب ګومان، د اوږد مهاله راتلونکې لپاره وه. د کوم وخت لپاره؟ بېلابېل وو؛ خو تل وو. دا د سیاسي مبارزې معنا ده.
د سپین لمنو امامانو ټولې چارې، بې له هغو مانیزو او اروایي چارو، د یوه انسان د نفس په پاکونې، اعلا او خدای ته یې په قرب او ورنږدېدو پورې اړوند دي-بینه و بین ربه-؛ یعنې د حدیث، علم، کلام، تدریس، له علمي دښمنانو سره دلایل، له سیاسي دښمنانو سره مقابله، شړل، تبعید، د یوې ډلې تایید او د بلې ډلې رد، په دې لیکه کې دي او د دې لپاره دي، چې اسلامي حکومت جوړ کړي. دا مدعا ده.
آیا اصلا د نبوي کورنۍ سپین لمنو امامانو سیاسي ژوند درلود که نه؟ آیا د امامانو په ژوند کې یوازې دا چار و، چې یو شمېر زده کړیالان، یو شمېر مریدان او یو شمېر مینه وال پر ځان راټول کړي او د لمانځه احکام، د زکات احکام، د حج احکام، اسلامي اخلاقیات، معارف او د دین اصول، عرفان او دې ته ورته چارې، ور وښیي او همدومره بس؟ نه، بې له هغو څیزونو چې وویل شول او د هغو څیزونو اروا، چې وویل شوه، یو بل چوکاټ هم د امامانو په ژوند کې شته، چې هغه، هماغه د امامانو سیاسي ژوند دی؛ دا یو خورا مهم مطلب دی، چې باید روښانه شي؛ البته په دې لنډ وخت کې د استدلالي او مشروح وینو ځای نه دی. زه د مطالبو سرټکي

[1]. د انبیاء سورت، ۱۱۱ آیت. ژباړه: او نه پوهېږم چې دا درته ازمېښت وی او تر یوې ټاکلې مودې برخمنېدل.

وایم؛ ځکه هغوی چې لېوالتیا لري، چې په دې مسلې پسې ولاړ شي، له دې چوکاټ سره دې یو ځل بیا روایتونه وګوري او تاریخي کتابونه ولولي؛ نو هغه مهال به معلوم شي، چې د موسی بن جعفر یا نورو امامانو ژوند کوم حقیقت دی، چې ګونګ، ناویلی او ناپېژاندی پاتې شوی دی. روسته له دې چې امامانو احساس کړل، چې د امامت او اهل بیتو په چاپېریال کې حس شول، چې د حضرت پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم موخه لاس ته نه ده راغلې؛ یعنې ((و یزکیهم و یعلمهم الکتاب و الحکمة[1])) موخه نه ده ترسره شوې. روسته له هغې چې یې ولیدل، د یوه اسلامي نظام جوړول، د داسې یوې اسلامي نړۍ جوړول؛ لکه څنګه چې حضرت پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم غوښتې وو، د اسلام تر لومړي صدر روسته، په ټولیزه توګه هېر شوی دی. د نبوت او امامت ځای سلطنت نیولی دی، کسری، قیصرونه، زورواکي، اسکندران، او د تاریخ نور سرغړاندي ظالمان د ځایناستۍ او خلافت په جامه کې د امویانو او عباسیانو د شمېرۍ په نامه، پر ګدۍ ناست دي او قرآن په هغه بڼه، چې بادارانو او پاچایانو غوښته، تفسیر شو او د ولس ذهنونه د هغو عالمانو له خاینانه کړنو اغېزمن شو، چې د حکومت د مادیاتو په آخوره کې یې سر ښکته دی؛ نو دا هر څه چې یې ولیدل؛ نو یو ټولیزه کړلار د امامانو په ژوند کې رامنځ ته شوه.

داچې وایو: امامان؛ یعنې ټول امامان، له حضرت امیرالمؤمنین نه تر حضرت امام حسن عسکري علیهم السلام پورې ټول. ما څو څو ځل ویلي: د نبوي کورنۍ د امامانو ژوند، چې ۲۵۰ کاله و، د یوه انسان عمر دې یې وشمېرو، یو ۲۵۰ کلن انسان؛ یو له بله بېل نه دي ((کلهم نور واحد[2])) هر یوه، چې یې یوه خبره کړې، په حقیقت کې همدا خبره د نورو امامانو د خولې خبره هم ده. هر یوه یې چې یو کار ترسره کړی، په حقیقت کې دا کار د هغو نورو امامانو کار هم دی. یو انسان، چې ته وا ۲۵۰ کاله عمر یې کړی دی. په دې ۲۵۰ کلونو کې د نبوي کورنۍ د امامانو ټولې چارې په یوه موخه، په یوه نیت، له بېلابېلو تکنیکونو سره د یوه انسان چارې دي.

د نبوي کورنۍ امامانو علیهم السلام، چې کله ولیدل، چې اسلام پردی شوی او اسلامي ټولنه جوړه نه شوه؛ نو څو موخې یې خپلې آریزې او اصولي موخې کړې. یوه یې ((په سمه توګه د اسلام څرګندونه)) ده. د هغوی له نظره اسلام یو مزاحم و، چې اوږده کلونه د قدرت پر ګدۍ ناست وو. د پیغمبر اسلام، د قرآن اسلام، د بدر او حنین د جګړو اسلام، د تجمل پرستۍ پر خلاف

---

[1]. د آل عمران سورت، ۱۶۴ آیت. ژباړه: او دوی روزي او کتاب او حکمت ورښیي.
[2]. عیون اخبار الرضا علیه السلام، ترجمه غفاري او مستفید، ۲ ټوک، ۴۱۷ مخ.

اسلام، د تبعیض پر خلاف اسلام، د مستضعفانو پلوی اسلام او د مستکبرانو ځپونکی اسلام، د هغوی په درد نه خوړل کېده، چې په فرعوني منځپانگه یې موسوي جامې اغوستې. په نمرودي منځپانگه، ابراهیمي جامې واغوندي؛ ناشونې وه. نو مجبور ول، چې اسلام تحریف کړي، شونې نه وه، چې اسلام د خلکو له زړونو او ذهنونو سملاسي بهر کړي؛ ځکه خلک مؤمن وو او مجبور ول، چې اسلام له خپلې اروا او منځپانگې بدل او تش کړي.

کټ مټ هماغه چارې، چې ستاسې یادېږي او شاهدان یې وئ، چې په تېر (پاچاهي) رژیم کې له اسلامي مظاهرو سره ترسره کېدل. په تېر رژیم کې له اسلامي مظاهرو سره مخالفت نه کېده؛ خو د اسلام له معنا او ورح سره کېده، د اسلام له جهاد سره مخالفت کېده، داسلام پر نېکیو امر او له بدیو له منع سره مخالف کېده، د اسلامي حقایقو له ویلو سره مخالفت کېده؛ خو له هغو اسلامي مظاهرو سره بیخي مخالفت نه کېده، چې د هغوی پسه او اوزې ته یې تاوان نه درلود. دا حالات د امویانو او عباسیانو د خلافت پر مهال هم وو؛ نو د دې لپاره، چې اسلام له خپلې اروا او حقیقت نه را بهر کړي؛ قلمونو او ژبو ته یې پیسې ورکړې او پېرلي یې ول، پیسې یې ورکولې، چې احادیث جوړ کړي، پیسې به یې ورکولې، چې د هغوی ستاینې وکړي، پیسې یې ورکولې، چې د هغوی لپاره کتابونه ولیکي. وایي، چې کله سلیمان بن عبدالملک مړ شو؛ نو موږ ولیدل، چې د پلاني ستر عالم – نامه یې نه اخلم- کتابونه پر ځارویو بار شول او د سلیمان بن عبدالملک له خزانې بهر کړای شول؛ یعنې دا ستر لیکوال، ستر محدث، دا مشهور عالم، چې نوم یې په اسلامي کتابونو کې ډېر زیات راغلی دی، د سلیمان بن عبدالملک لپاره یې کتابونول کښل. ښه! هغه کتاب، چې د سلیمان بن عبدالملک لپاره لیکل شوی وي؛ نو تاسې تمه لرئ، چې داسې څه پکې کښل شوي وي، چې د سلیمان بن عبدالملک ښه نه ایسي. ښه! هغه سلیمان بن عبدالملک، چې ظلم کوي، شرابخوري کوی، له کفارو سره جوړ دی، مسلمانان تر دباو لاندې نیسي، د خلکو ترمنځ تبعیض کوي، بېوزله تر دباو لاندې راولي، د خلکو مالونه لوټي؛ نو د داسې یو وگړي به څرنگه اسلام خوښ وي؟ دا په لومړیو پېړیو کې د اسلامي ټولنې درد و. د نبوي کورنۍ امامانو به دا هر څه لیدل او ننگېرل به یې چې د حضرت پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ارزښتمن میراث؛ یعنې اسلامي احکام، چې باید په تاریخ کې پاتې شي او په ټولو پېړونو کې انسانانو ته ښیون او هدایت وکړي، تحریف پکې شوی دی. د امامانو یوه موخه، چې خورا مهمه وه، د اسلام سم څرگندول، د قرآن حقیقي تفسیر او د تحریفونو او تحریف کوونکیو د څېرو را برسېره کول وو.

پام وکړئ، د امامانو په ویناوو کې وینئ، هغه څه چې وویل شول، په ډېری ځایونو کې د هغه څه په باب دي، چې د اسلام په نامه، درباري او سلطنتي علماوو، فقهاوو او محدثینو ویلي ول،

هغه يې رد کول او حقايق يې بيانول؛ دا د امامانو لپاره يوه ستره او آريزه موخه وه، چې د اسلامي احکامو څرګندونه و. دا يې يوه.
ښه، په خپله همدا کار يوه سياسي منځپانګه لري؛ يعنې چې کله پوهېږو، چې تحريف (اړونه) د سلطنت او خلافت د دستګاه په هڅونه ترسره کېږي او مزدور قلمونه او په ظاهره عالم مزدوران د پاچايانو او واکمنانو لپاره تحريف کوي؛ نو طبيعي ده، چې که څوک د دې تحريفونو پر وړاندې اقدام وکړي؛ نو يقينا د واکمنانو او پاچايانو د سياست پر خلاف چار يې ترسره کړې دی.
نن چې په ځينو اسلامي هېوادونو کې ځينې مزدور قلمونه او مزدور ليکوالان او د ستمونو له خوا په پيسو ګومارل شوي عالمان، کتابونه ليکي، چې د مسلمانانو ترمنځ اړپېچ، اختلاف او درز رامنځ ته کړي، يا د خپلو مسلمانو ورونو څېره کږلې او ناوړه انځور کړي؛ نو که په دې هېوادونو کې يو آزاد اندی ليکوال راپيدا شي، چې د اسلامي يووالي او د اسلامي ډلو ترمنځ د روروليۍ د رامنځ ته کولو لپاره کتاب وليکي؛ نو دا يو سياسي کار دی او په حقيقت کې د واکمنې دستګاه پر خلاف يو سياسي کار دی. د امامانو د فعاليت يوه غټه برخه همدا چار و.
اسلامي احکام يې، چې بيانول؛ نو معنا يې دا نه وه، چې هغه مهال په اسلامي ټولنه کې احکام نه ويل کېدل، ولې نه، د اسلامي نړۍ په ګوټ ګوټ کې ول داسې کسان، چې قرآن يې ښووه، احاديث يې ويل، له حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم نه يې احاديث رانقلول، د ځينو محدثينو په زرګونو احاديث زده وو او دوی يوازې په مکې، مدينې، کوفې او بغداد پورې هم ځانګړي نه وو. په ټوله اسلامي نړۍ کې- تاسې د تاريخ پاڼې راواړوئ-، د بېلګې په توګه، په خراسان کې پلانې ځوان محدث زرونه احاديث تدوين کړل. په طبرستان کې پلانی ستر عالم له حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم او صحابه کرامو زر احاديثه رانقلوي. حديث شتون درلود. اسلامي حکم بيانېده؛ خو څه چې نه ويل کېدل، د اسلامي ټولنې په ټولو چارو کې د اسلام سم څرګندول نه ويل کېده، چې نبوي کورنۍ غوښتل، د دې چار مخه ونيسي؛ دا د امامانو له چارو څنې يو مهم کار و.
بل مهم کار يې د امامت د مسلې څرګندونه وه. امامت يعنې د اسلامي ټولنې چارواکي. هغه ستره مسله، چې د هغه مهال ډېرې خلکو ته روښانه نه وه او له عملي او نظري پلوه تحريف پکې شوی و. په اسلامي ټولنه کې امامت له چا سره دی؟ چار ترديې را رسېدلی و، چې هغوی چې په ډېرې اسلامي احکامو يې عمل نه کاوه او په ښکاره يې ډېرې محرمات ترسره کول، ادعا يې کوله، چې د حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ځايناستي دي، د حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم پر کرسۍ به کېناستل او شرمېدل هم نه؛ يعنې داسې هم

نه وه، چې خلک نه پوهېدل، خلکو لیدل، چې یو د خلیفه په نامه، نشه او بې عقله د جمعې لمانځه ته راځي او خلکو ته د جماعت لمونځ ورکوي او ورپسې اقتدا هم کېږي. خلک پوهېدل، چې یزید بن معاویه بن ابي سفیان په سترو اخلاقي رنځونو اخته دی او ستر گناهونه کوي؛ خو په عین حال کې چې کله به ورته ویل کېدل، چې د یزید بن معاویه پر خلاف قیام وکړئ؛ نو ویل به یې چې موږ له یزید بن معاویه سره بیعت کړی دی، قیام نشو کولای. د امامت مسله د خلکو لپاره روښانه نه وه. خلکو خیال کاوه، چې د مسلمینو امام او د اسلامي ټولنې واکمن کولای شي، چې په دې گناهونو، په دې سرغړونو، په دې ظلمونو او د قرآن او اسلام پر خلاف دا چارې، چې کوي، ککړ او اخته وي، دا د خلکو لپاره مهمه مسله نه وه. دا یوه ستره ستونزه وه، چې په اسلامي ټولنه کې د حکومت د مسلې ارزښت او د ټولنې په دریځ کې د واکمن اغېز، د اسلامي نړۍ لپاره یو ستر خطر دی؛ نو د نبوي کورنۍ امامانو لازم گڼل، چې دوه څېزونه خلکو ته ووایي:
یو داچې ووایي، امام دا شرایط لري، اسلامي واکمن دا ځانگړنې لري. عصمت، تقوا، علم، معنویت، له خلکو سره چلن، د خدای پر وړاندې کړنې؛ یعنې خلکو ته د اسلامي واکمن ځانگړنې تشریح کړي، دویم داچې نن هغه څوک دی چې دا ځانگړنې لري؟ چې په دې توگه یې ځانونه خلکو ته معرفي کول. دا هم د نبوي کورنۍ د امامانو یو ستر کار و او گورئ، چې دا یو له سیاسي چارو څنې یو چار او یو تبلیغاتي او د سیاسي ښوونو یو چار دی.
که د نبوي کورنۍ امامانو، بې له دوو چارو، چې ومو ویل، بل یو کار هم نه درلود، بسیا وه، چې ووایو، د امامانو ژوند، له پیله تر پایه یو سیاسي ژوند و، هلته چې تفسیر هم کوي، اسلامي معارف هم بیانوي؛ نو په حقیقت کې یو سیاسي چار ترسره کوي. په هغو ځایونو کې چې د امام د ځانگړنو په باب خبرې کوي، بیا هم یو سیاسي کار کوي؛ یعنې د امامانو ښوونې که په همدې دوو ځانگړنو، دوه شمېرلیکونو او د دوو موضوعاتو په باب، چې مو وویل، خلاصه کېدې؛ نو بیا هم د امامانو ژوند یو سیاسي ژوند و.
خو په دې یې هم اکتفا نه کوله. پر دوی ټولو سربېره، امامانو د حضرت امام حسن مجتبی تر پېر روسته، د حکومت د قبضه کولو لپاره یو څمکلاندې هر اړخیز سیاسي او انقلابي یون پیل کړی و. د امامانو ژوند څېړونکي ته هېڅ شک نه پاتېږي، چې دا حرکت یې درلود، هغه چې زه ویل غواړم، ناپېژاندی دی او په خواشینۍ، چې د مسلې دا ټکی په هغو کتابونو کې چې د امامانو د ژوند په باب لیکل شوي، د امام جعفر صادق، د امام موسی بن جعفر او د ډېرې نورو امامانو په باب، دا مسله معرفي شوې نه ده.

داچې امامانو يو پراخ بنسټه سياسي او تشکيلاتي حرکت درلود، سره له دې چې دا دومره شواهد يې موجود دي، دا ناويل شوي پاتې دي او ويل شوي نه دي او د امامانو د ژوند پېژندو مهمه ستونزه ده. حقيقت خو دادی، چې امامانو دا کار پيل کړ او البته دې کار ته خورا شواهد هم شته.

. . . . نو په لنډو دې ورونه او خوينديې پوه شي، همدا چې د نبوي کورنۍ امامان به امامت ته رسېدل، يو له هغو کارونو، چې به يې پيلول، سياسي مبارزه او د حکومت نيولو لپاره سياسي هڅه وه. دا سياسي هڅه هم د هغو ټولو هڅو په شان ده، چې هغوی چې غواړي يو نظام جوړ کړي او امامانو هم دا کار وکړ.

د امامانو په ژوند کې چې د دوی او د ظالمو واکمنو ترمنځ څومره شخړې ليدل کېږي، د همدې مسلې پر سر وې. هغوی چې له امامانو سره مخالفت کاوه، دوی يې مسمومول، وژل يې، بندي کول يې، کلابندول يې؛ نو خبره يې د حکومت پر سر وه. که امامانو د حکومت داعيه نه درلوده، که لومړني او روستني علوم يې هم ځان ته ورمنسوبول، که د سياسي قدرت خبره نه وه، د سياسي قدرت داعيه نه وه؛ نو هېڅ ډول تعرض پرې نه کېده؛ لږ تر لږه له دومره شدت سره به پرې نه کېده. له ښېخه، خبره په دې کې ده؛ نو تاسې وينئ، چې د امامانو په بلنو او تبليغاتو کې د امامت پر مسلې خورا ټينګار او حساسيت دی؛ يعنې هغه مهال، چې حضرت امام جعفر صادق هم غواړي، چې د اسلامي حاکميت او سياسي قدرت ادعا وکړي، وايي: ((ايها الناس ان رسول الله کان الامام)) ای خلکو!- د عرفات په غونډه کې- خلکو ته وايي او دربېري: ((ان رسول الله کان الامام)) د ټولنې امام، د ټولنې مشر، د ټولنې لارښود او د ټولنې واکمن د خدای رسول و، ((ثم کان علی بن ابی طالب ثم الحسن و ثم الحسين[1])) تردې چې ځان ته را رسي. يعنې له خپلو مخالفينو سره د امامانو ټوله وينه او د امامانو د اصحابو بحثونه او مبارزې يې پر مسلمينو د حکومت، حاکميت، مطلقه ولايت او سياسي قدرت و. د هغوی د مانيزو مقاماتو پر سر يې شخړه او اختلاف نه درلود.

ډېری پېښ شوي، چې د خلفاوو د مهال د ټولنې يو شمېر وګړي، د زهد خاوندان وو، د علم خاوندان وو او په تفسير او علم او دې ته په ورته چارو مشهور وو او خلفاوو هم نه يوازې معارضه ورسره نه کوله؛ بلکې د دوی تابعدار هم ول، هغوی ته يې اظهار ارادت کاوه، ورتلل به او نصيحت يې ترې غوښته، ولې؟ ځکه د خلفاوو پر وړاندې يې سياسي داعيه نه درلود، ګنې د حسن بصري، ابن شبرمه او عمرو بن عبيد په شان وګړي د خلفاوو د پام وړ وو او منل

[1]. الکافي، څلورم ټوک، ۴۶۶ مخ.

يې هم. دوی هغه کسان وو، چې د علم، زهد، معنويت، تفسير او د حضرت پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم د علومو د درلودو ادعا يې درلوده؛ خو پر دوی خلفاوو يو هم تعرض و نه کړ؛ ولې؟ ځکه د سياسي قدرت داعيه يې نه درلوده. له امويانو او عباسيانو سره د نبوي کورنۍ د امامانوشخړه د همدې امامت او ولايت؛ يعنې د امامت همدا معنا، چې موږ نن وکاروله، [پر سر وه].

## مهدي اخر زمان

د تاريخ په رڼا کې يوولس امامان دې دنيا ته راغلي او شهيدان شوي؛ خو دولسم امام تر زوکړې روسته د خدای په خوښه له سترګوغېب شو او ترهغه به غېب وي، چې د خدای سلا وي او چې ظهور وکړي؛ نودنيا به له عدل څخه ډکه کړي؛ نو زموږ د وخت امام حضرت مهدي اخرالزمان دی، چې دلته به دهغه د غيبت او ظهور په هکله يو لنډ بحث وکړو.
په قرآن شريف کې په اخر الزمان کې د امام ظهور ته اشاره شوې، چې موږ يې يو څو ته اشاره کوو:
((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ[1]: او (الله) هغه دی، چې خپل پيغمبر يې له لارښوونې اوحق دين سره ولېږه، چې پرټولو اديانو يې برلاسی کړي، که څه هم مشرکان ناخوښه وي.))
دا آيت، چې درې ځل په قرآن شريف کې راغلی، زېرې ورکوي، چې د اسلام دين به پر ټوله دنيا واکمن شي.
د اسلام نړيوالېدوته درې شرطه پکار دي:
۱_د نړيوال مشرشتون. ۲_د نړيوال قانون شتون. ۳_د نړۍ چمتوتيا.
نړيوال مشر شته او هغه امام مهدی دی او نړيوال قانون هم قرآن شريف دی، چې هېڅ ډول بدلون او تحريف پکې ندی راغلی؛ خو نړۍ لا نده چمتو شوی؛ نو کوښښ او هلې ځلې پکار دي، چې ظهور ته يې لار هواره شي.
مهدي اخر زمان به هله ظهور کوي، چې خلک له هر اړخه چمتو وي، خلک د اسلام او قرآن شريف له معارفو سره اشنايي پيدا کړي. مهدي اخر زمان خورا ملګري لري؛ خو په روايتونو

[1] توبه/۳۳

کې د امام زمان د يارانو شمېر ۳۱۳ کسان ښوول شوي دي، چې پنځوس کسان يې ښځې دي.
البته دا کسان د مهدي اخر زمان د لښکر قومندانان دي.
روايت دی، چې مهدي اخر زمان راشي؛ نو د نړۍ ټول متخصصان به بيعت ورسره وکړي.

*** د مهدي اخر زمان غيبت**

دولسم امام، مهدي اخر زمان غيب شوی او د لسگونو حديثونو په رڼا کې، هغه به د غښتلي نړيوال حکومت جوړولو ته راځي. البته غيبت يې په دوو پړاونو کې و: لنډ مهاله غيبت (صغری) او اوږد غيبت (کبری).

صغری غيبت، چې ۷۰ کاله و؛ نو لارويان يې د څلور تنو نايبانو له لارې ورسره په اړيکه کې وو او خپلې ديني چارې يې ددوی پر فرمان ترسره کولې.

تردې چې مهدي اخر زمان خپل څلورم نايب ته وويل: څو ورځې روسته به لدې دنيا سترگې پټې کړې او تر تا روسته به زما او د خلکو ترمنځ د اړيکې څوک نه وي؛ بلکې زما لارويان دنده لري، چې ديني عالمانو ته مراجعه وکړي او حکم يې ومني، دوی پر خلکو زما حجت دي؛ لکه څنگه چې زه پر هغوی د خدای حجت يم.

تردې روسته د مهدي اخرالزمان اوږد غيبت پيل شو او تر اوسه دوام لري.

**پوښتنه: ولې امام زمان غيب شوی دی؟**

ځواب: که د برېښنا اداره د يو کوڅې د رڼا لپاره، يوه ستنه ولگوي او پکې رڼا ته څراغ ولگوي؛ خو که د کوڅې ماشومان څراغ پر تيږه وولي او مات يې کړي؛ نو د بريښنا مامور به بل څراغ ولگوي او که بيا يې مات کړ؛ نوبيا به هم راشي او څراغ به ولگوي؛ خو که په دريم ځل ددې کوڅې بې ادبه ماشومان راشي او دا څراغ مات کړي؛ نو د بريښنا اداره به بيا څراغ لگولو ته لېواله نه وي؛ خو کېدای شي، چې دهغې کوڅې د مشرانو او د هغه ځای د اوسېدونکيو هوسابنې ته بيا هم څراغ ولگوي.

خو په خپله فکر وکړئ، چې د بريښنا اداره به تر څو دا کار کوي؟

زموږ د بحث په هکله؛ ظالمو واکمنانو، د ښيون يوولس څراغونه مات کړل، خدای هم دولسم څراغ وساته، څو خلک دهغه لياقت او وړتيا پيدا کړي او د ښيون لدې څراغه گټې اخستو ته وړتيا او چمتوتيا پيدا کړي.

*** د مهدي اخر زمان راتگ حتمي دی**

پاڅون يې د درې څيزونو پلي کولو ته ترسره کيږي: ۱_د طاغوتونو ملا ماتول. ۲_د بېوزليو خلاصون. ۳_د دين بياژواکي.

مهدي اخر زمان راځي، چې د طاغوتونو ملا ماته کړي او د شرک او نفاق ريښې را ونړوي.
((اين هادم ابنيه الشرک والنفاق)) [1]
امام زمان د خدای د ژمنو د پوره کولو او د بېوزليو د خلاصون او ددوی واک ته رسولو لپاره دی. ((وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ [2]: او مونږ غوښتل چې د هغه هېواد پر بېوزليو کړای شويو احسان وکړو او هغوی (د خلکو) مشران او (د ځمکی) وارثان کړو.))
امام زمان راځي، چې د اسلام دين نړۍ وال کړي او د توحيد بېرغ پر ټوله نړۍ وځړوي.
((لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ)) [3]

*** د امام زمان د غيبت پر مهال زموږ دنده**
پردې خبره ځان پوهول، چې امام زمان به کله راځي، اوس په کوم ځای کې ژوند کوي، ډېره مهمه خبره نده او څه چې ارزښت لري دادي، پوه شو، چې پردې مهال موږ ته څه کول پکار دي او امام زمان له موږ ه څه تمه لري؟؛ نو د غيبت پر مهال يې د دندې پېژندل تر ټولو مهمه دنده ده، چې يو څو ته يې اشاره کوو:
۱_ د امام او موخو پېژندل يې. ((اللهم عرّفنی حجتك فان لم تعرفنی حجّتك ضللت عن دينی)) [4]
۲_ نورو ته د امام زمان او د نړيول انقلاب ور پېژندل يې او راتگ ته يې لاړ هوارول.
۳_ په ښه کړنو او معنوي اړيکو سره د امام زمان د خوشحالو لپاره هڅې.
٤_ راتگ ته يې پر تمه کېدل او د راتگ لپاره يې دعا.
۵_ روغتيا ته يې صدقه او دعا کول.
٦_لمونځ کول او راتگ ته يې ځانگړې دعاگانې؛ لکه د فرج او عهد دعاگانې کول.
۷_ د مهدي اخر زمان د ځانگړيو مالياتو (خمس) ورکول.
۸_د واجباتو ترسره کول او له گناه او محرماتو ځان ساتل.

---

[1] د ندبې دعا
[2] قصص/۵
[3] صف /۹
[4] مفاتيح الجنان، د لمانځه تعقيبات

*** د امامت لیکې غځېدا**

لکه څنګه چې مو وویل، د امام زمان د غیبت دلیل دا و، چې خلکو یې مشرۍ ته چمتوتیا نه درلوده. خدای هغه یو مناسب وخت ته ساتلی چې خلک دومره پر مختګ وکړي، چې له امامته یې ګټه واخلي. له بل پلوه امام زمان د خپل غیبت پر مهال موږ پر خپل حال نه یو پرېښي؛ بلکې سپارښتنه یې کړې، چې له فقهاو، متقي او عادلو اسلام پېژاندو او له ځانګړو نایبانویې لاروي وکړو.

اسلام اقتصادي، جزايي، نظامي او قضايي قوانین لري، او نه یوازې داچې دا احکام له منځه نه وړي او نه یې ناپوهانو ته د پلي کولو اجازه ورکوي؛ بلکې پلي کول یې یوازې عادلو فقهاوو، د تقوا خاوندانو او اسلام پوهان ته ورسپارلي دي، چې په ټولو پېښو کې د خدای د حکم له مخې عمل وکړي او لدې عادلو فقهاوو لاروي یې له امام او د خدای د استازي صلی الله علیه و آله وسلم په څېر واجبه ګڼلې ده.

آیا مسلمانان حکومت او نظام ته اړتیا لري؟ آیا اسلامي ټولنه او هېواد باید ونه ساتل شي؟آیا د اسلامي هېواد پولې ساتل ندي پکار؟آیا په اسلامي هېواد کې قوانین باید پلي نشي؟ آیا د مظلوم حق باید له ظالم څخه وا نه خستل شي او ظالم باید محاکمه نشي؟ آیا د اسلام غږ باید نورو هېوادونو او نړۍ ته ونه رسي؟آیا د انبیاوو او امامانو کوښښونه او هلې ځلې یوازې د هغوی په خپل وخت پورې ځانګړې وې او ټولو وختونو او ځایونو ته نه وې؟؛ نوکه ددې پوښتنو ځواب هو وي او اسلام، نظام او حکومت ته اړتیا لري او ټولنه قانون ته او د حقوقو او د اسلامي هېواد د پولو ساتل مطرح وي؛ نو د مهدي اخر زمان د غیبت پر مهال هم باید اسلامي حکومت وي؛ څکه بې له غښتلي او حساب شوي تشکیلاتو هېڅکله نشو کړای، چې له قانون، د هېواد له پولو، ځان، مال او خپلې ابرو دفاع وکړو، په تېره اوسمهال، چې د اسلام ټول مخالفین ستر تشکیلات لري، او که حکومت ته اړتیا وي؛ نوحاکم ته هم اړتیا ده.

اوس چې پوه شو، اسلام د خپلو قوانینو پلي کولو ته حکومت ته اړتیا لري او هم حاکم ته؛ نوباید پوه شو، چې حاکم باید څه ځانګړنې ولري.

آیا پکار دي، چې د خدای په احکامو په ژوره توګه پوه وي که نه؟ که ددې خبرې ځواب مثبت وي؛ نو د تقوی خاوند او اسلامپوه سیاستوال ته اړتیا ده او دا هماغه دی، چې موږ ورته ولایت فقیه وایو.

**هغوی چې د فقیه ولایت نه مني؛ نو دا لاندې نظریات به مني:**

۱_ اسلام یوازې لمونځ، روژه او یو شمېر فردي اخلاقیات اوعبادتونه دي او په مهمو اجتماعي، حقوقي، قضایي، سیاسي او اقتصادي کارونو کې کار نلري

۲_ اسلام یوازې د خدای د استازي صلی الله علیه و آله وسلم د وخت لپاره و او تر هغه روسته د مهمو اجتماعي قوانینو ځای یوازې په کتابونو کې دی.

۳_اسلام اجتماعي او حکومتي قوانین لري او د قانون پلي کوونکیو ته یې شرایط ندي ټاکلي او هر څوک که څه که فاسق وي او که فاجر، کولای شي د چارو واک په لاس کې واخلي.

آیا اسلامي ټولنه د مهدي اخر زمان د غیبت پر مهال حاکم او حکومت ته اړتیا نلري؟![1] په یوه روایت کې راغلي: هېڅ امت او ملت بې مشره نه دی او د ټولنې واک یې د مشر په لاس کې وي چې په حکم یې بیت المال راټول او وویشل شي او هم خلک دمشر په حکم د اسلام ددښمن پر خلاف وجنګېږي، هم خلک سره را ټول کړي او له تفرقې یې وساتي او که ټولنه داسې مشر ونلري؛ نوټولنه شیندل کېږي او په الهي احکامو او قوانینو او د خدای د استازي په حکمونو کې بدلون راځي.[2]

ګورئ، چې پدې روایت کې د حکومت او مشرۍ مسئله د ژوند تر ټولو ستره او مهمه مسئله بیان شوی ده او ښکاره خبره ده، چې د بېوزلیو په ګټه د مالیاتو راټولول او په عادلانه توګه یې ویشل، له مخالفیونو سره جګړه او د ټولنې د وګړیو راټولول هغه څه ندي، چې یوازې دخدای د استازي صلی الله علیه و آله وسلم او امامانو په وخت پورې ځانګړې خبره وي او د غیبت پر مهال ټولنه سر ایله او پخپل حال پرېښوول شي.

د روایتونو په رڼا کې اسلام د حکومت چارې، عادل فقیه ته سپاري، چې یو څو ته یې اشاره کوو:

#د خدای استازي صلی الله علیه و آله وسلم ، فقها خپل استازي معرفي کړي؛ لکه چې وایي: خدایه! پر ځایناستو مې ورحمېږې. وپوښتل شو، چې ستا ځایناستي څوک دي؟ ویې ویل: ((الفقها))[3]

#د خدای استازي صلی الله علیه و آله وسلم وویل: عالمان د انبیاو وارثان دي.

---

[1] د امام خمینی د البیع کتاب ۴۶۲ مخ

[2] بحارالانوار ٦/ ٦٠

[3] وسائل ۱۸/ ۱۰۱

#حضرت علي وايي: خدای له عالمانو ژمنه اخستې، چې د بېوزليو د لوږ کېدو او پرې د تېرې پر وړاندې چوپ کېنني[1]. په دې کې هېڅ شک نشته د بېوزليو ملاتړ او د ظالم ملا ماتول تشکيلاتو ته اړتيا لري.

#حضرت علي وايي: عالمان د ولس واکمنان دي.[2]

حضرت امام حسين وايي: د چارو واک بايد د تقوا خاوندانو او خدای پېژاندو عالمانو په لاس کې وي، هغوی چې د خدای په حلالو او حرامو کې خيانت نکوي او امانت ساتي وي[3].

# په يوه روايت کې راغلي: د هوارۍ لپاره طاغوتي نظامونو ته مراجعه مه کوئ، ان که څوک د طاغوت له لارې خپل حق لاس ته راوړي؛ نوحرام دی (ممکن څکه حرام وي، چې طاغوتي نظام ته مراجعه پرې د تاييد ټاپه لګول وي)؛ بلکې درته پکار دي، داسې خلکو ته مراجعه وکړئ، چې زموږ له روايتونو او معارفو سره ژوره اشنايي ولري او زه هغوی ستاسې لپاره قاضيان ټاکم او پوه شئ، هرحکم، چې هغوی ورکړ او تاسې ونه منه؛ نوپه حقيقت کې د خدای حکم به مو نه وي منلې او له خدای سره يې شرک کړی دی[4].

# پو بل روايت کې راغلي: فقها د اسلام کلا ګانې دي[5].

# مهدي اخر زمان پر خپلو لاسونو يو ليک خپل يو نواب ته وليکه، چې پکې يې سپارښتنه کړې ده: د ټولنې په پېښو او ستونزو کې هغه عالمانو ته مراجعه وکړئ، چې زموږعلوم رانقلوي او لکه زه چې په تاسې کې د خدای حجت يم؛ نوهغوی هم په تاسې کې زما حجت دي[6].

---

[1] نهج البلاغه ۳خطبه

[2] غرر الحکم

[3] تحف العقول

[4] کافی ۱/ ۶۸

[5] کافی ۱/ ۳۸

[6] وسائل ۲۷/ ۱۴۰

## له کله د امامت بحث پیل شو؟[1]

پوهېږو، چې د اسلام تر پېغمبر روسته، مسلمانان دوه ډلې شول:
یوه ډله گروهن دي، چې پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د ځان لپاره ځایناستی نه و ټاکلی او دا خبره یې امت ته پرېښې ده، چې کېنې او پخپلو کې یو مشر وټاکي، دې ډلې ته "اهل سنت" ویل کېږي. بله ډله گروهنه ده، چې د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ځایناستی باید د هغه په څېر معصوم وي او له هر ډوله گناه او تېروتنې معصوم وي او دومره علم ولري، چې د خلکو معنوي او مادي مشري او د اسلام د بنسټونو ساتنه وکړي او دوام ورکړي، دوی گروهن دي، چې د داسې کس ټاکنه یوازې د خدای له لوري د پېغمبر په واسطه شونې ده او د اسلام پېغمبر هم دا کار کړی او حضرت علي یې خپل ځایناستی ټاکلی دی، چې دې ډلې ته "امامیه" یا "شیعه"وایي.
تردې لنډ بحثه زموږ موخه داده، چې دا مساله په عقلي، تاریخي اسنادو او د قرآن په آیتونو او د پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم په سنتو وڅېړو؛ خو دې بحث ته تر ورننووتو مخکې یو څوخبرو ته اشاره اړینه گڼم:

### ۱-ایا دا بحث اړپېچ اچوونکی دی؟

ځینې داسې دي، همداچې د امامت بحث رامنځ ته شي؛ نو ځټک وایي: نن ددې خبرو وخت نه دی!
نن مسلمانان یوازې دین ته اړین دي او د پېغمبر د ځایناستي په باب خبره درز اچوي!
نن گډ دښمنان لرو، چې په هکله یې فکر په کار دی؛ صهیونزم، د شرق او غرب ښکېلاک؛ نو دا اړپېچې چارې باید شاته واچول شي؛ خو روښانه ده، چې دا ډول فکر غلط دی؛ ځکه
۱-څه چې اړپېچ راوړي، متعصب، غیرمنطقي او د کینې او له غوسې ډک بحثونه دي؛ خو منطقي، مستدلل او له تعصب، ځېل او غوسې لرې بحثونه په صمیمانه او دوستانه چاپېریال کې، نه یوازې تفرقه نه راوړي؛ بلکې فاصلې کموي او گډ ټکي پیاوړي کوي.

---

[1] استاد ناصر مکارم شیرازي په "پنجاه اصول عقاید برای جوانان " د امامت برخه.

ما د خپل حج په سفر کې د اهل سنتو له عالمانو سره زيات وخت تېر کړ، دې بحثونو زموږ پر اړيکو ناوړه اغېز نه درلود؛ بلکې زموږ خپلمنځی تفاهم اوخوږلنی يې نور هم زيات کړ، فاصلې يې کمې کړې او احتمالي کينې يې له سينو ووينځلې. مهمه داده، چې په دې بحثونو کې روښانېږي، چې موږ يو له بل سره ډېر ګډ ټکي او خبرې لرو، چې د ګډ دښمن پر وړاندې پرې ډېره وهلای شو.
اهلسنت څلور مذهبه دي (حنفي، حنبلي، شافعي، مالکي) ددې څلورو مذاهبو شتون د تفرقې لامل شوی نه دی اوچې د "شيعه فقه" يې د پينځم مذهب په نامه ومنله؛ نو ډېرې ستونزې او تفرقې هوارې شوې. د مصر د الازهر پوهنتون مشر، اروابناد"شيخ شلتوت" يو ګټور ګام اوچت کړ او په اهلسنتوکې يې د شيعه فقهې رسميت اعلان کړ او له دې لارې يې له اسلامي تفاهم سره ګټوره مرسته وکړه، چې د هغه او مرحوم ((آيت الله بروجردي)) د شيعه ستر عالم ترمنځ دوستانه اړيکې هم پرځای شوې.
۲-ګروهن يو، چې شيعه مذهب تر هر مذهبه زيات د اسلام ښکارندوی دی. سره له دې چې د ټولو اسلامي مذاهبو درناوی کوو ګروهن يو، چې شيعه مذهب ډېر ښه کړای شي هر اړخيز رښتين اسلام وپېژني او په اسلامي حکومت پورې اړوند چارې هوارې کړي؛ نو ولې داسې ونه کړو، چې خپلو اولادونو ته دا ښوونځی له دليل او منطق سره وښيو؟ که داسې مو ونه کړل؛ نو خيانت به مو کړی وي.
يقين لرو، چې د خدای رسول د ځان لپاره ځايناس تی ټاکلی دی او څه پروا لري، چې دا بحث په منطق او استدلال وڅېړو؟؛ خوپه دې بحث کې مو پام وي، چې نور مذهبي عواطف ټکني نشي.
۳-د اسلام دښمنانو د مسلمانانو ترمنځ د يووالي د منځه وړو لپاره د "شيعه وو" په باب اهلسنتو ته او همداراز شيعه وو ته يې د اهلسنتو په اړه دومره دروغ ويلي، چې په ځينو هېوادونو کې يې دا دوه ډلې بيخې يو له بله شلولې دي.
او چې موږ د "امامت" مساله له هغې لارې وڅېړو، چې مخکې مو وويل او پر هغه ټکيو، چې شيعه پرې ټينګار لري، د قرآن او سنت په دليلونو روښانه کړو؛ نومعلومه به شي، چې دا ټول تبليغات دروغ ول او دا زموږ ګډ دښمنان دي، چې د بېلتون زهر يې راکې شيندلي دي. هېڅ مې نه هېرېږي، چې د يو حج په سفر کې د سعودي عربستان يو سترعالم راته وويل، ما اورېدلي، چې شيعه بې له دې قرآنه بل قرآن لري.
حيران شوم او ورته مې وويل: وروره! ددې خبرې څېړنه ډېر اسان کار دی. بلنه درکوم، چې پخپله او يا خپل استازی راسره د همدې مراسمو تر خلاصېدو روسته، زموږ ټولنې ته راولېږه او

هر ځای، کور، جومات، چېرته چې غواړئ ولاړ شئ او قرآن ترې وغواړئ، چې درمعلومه شي، زموږ قرآن او ستاسې قرآن مانا نه لري، ټول یو قرآن لرو(او ډېر قرآنونه، چې موږ ترې ګټه اخلو، د سعودي چاپ دی).
همدا و، چې دې خبرې د عالم پر ذهن ګټور اغېز وکړ. لنډه داچې که د"امامت" بحث؛ لکه څنګه چې مو وویل، بیان شي؛ نو په اسلامي ټولنه کې به یووالی راوړي، حقیقتونه به روښانه کړي او واټن به راکم کړي.

**۲-امامت څه دی؟**

د "امام" له عنوانه پیدا دي، چې د مسلمانانو مشر ته وایي او د "شیعه وو" په عقیدتي اصولو کې "پاکلمنی مشر" هغه چاته ویل کېږي، چې په هر څه کې د پېغمبراکرم ځایناستی وي؛ په دې توپیر، چې پېغمبر د ښوونځي بنسټ اېښووونکی او امام د ښوونځي ساتونکی دی، پېغمبر ته وحې راځي؛ خو امام خپل علم له پېغمبره اخلي او پوره پوهه لري.
شیعه وایي: پاکلمنی مشر یوازې د اسلامي حکومت مشر نه؛ بلکې د اسلامي ټولنې معنوي، مادي، ظاهري، باطني او لنډه داچې د اسلامي ټولنې هر اړخیزه مشري یې پر غاړه ده. هغه بې له کومې تېروتنې د اسلامي عقایدو او احکامو ساتونکی او د خدای له لوري ټاکل شوی بنده دی؛ خو اهلسنت امام یوازې د اسلامي ټولنې د حکومت مشر ته وایي او په بله وینا: دوی واکمنان، پر هماغه مهال، د پېغمبرخلیفه ګڼي.
البته په راتلونکیو بحثونو کې به ثابت کړو، چې پر ځمکه باید په هر وخت کې یو الهي استازی، پېغمبر یا معصوم امام وي، چې د حق دین وساتي او د حق غواړیو مشري وکړي اوکه یوه ورځ د ځینو علتونو په پار د خلکو له سترګو پټ شي؛ نو له لوري یې داسې استازي شته، چې اسلام ساتي او حکومت جوړ کړي.

## د امام د شتون فلسفه

هغه بحثونه مو، چې د پېغمبرانو د بعثت د لزوم په باب وکړل، تر زیاته بریده یې، تر پېغمبر روسته امام سره اشنا کړو؛ ځکه تر ډېره په خپلو کړلاروکې سره ګډ ټکي لري؛ خو دلته اړین ګڼم، چې یو شمېر نور بحثونه وکړم:

۱-د الهي مشرانو تر څنګ معنوي بشپړتیا: تر هرڅه مخکې د انسان د خلقت پر موخې رڼا اچوو. شک نشته، چې د مطلق کمال او معنوي بشپړتیا پر لوري حرکت بې له یوه پاکلمنی مشر ناشوني دي.

سمه ده، چې خدای انسان پر عقل سمبال کړی، پیاوړی وجدان یې ورکړی، اسماني کتابونه یې ورلېږلي دي؛ خو سره له ټولو تکویني او تشریعي وسائلو، کېدای شي انسان د خپلې لار په ټاکنه کې تېروځي؛ نو ښکاره خبره ده، چې د معصوم امام شتون ددې کږلارې خطر ډېر کموي؛ نو د امام وجود د انسان د خلقت د موخې بشپړونکی دی.

او دا هماغه څیز دی، چې په اعتقادي کتابونوکې ورته "قاعده لطف" وایي او موخه ترې داده، چې حکیم څښتن ټولې هغه چارې انسان ته ورکړي، چې د خلقت موخې ته یې ورسوي؛ لکه د پېغمبرانو رالېږل او د معصومینو ټاکل.

۲-د اسماني دین ساتونکی: پوهېږو، چې الهي ادیان د پېغمبرانو پر زړونو د نازلېدو پرمهال د باران د څاڅکو په څېر، شفاف، روڼ، ژوند ورکونکي او زړه یخوونکي وي؛ خو چې کله چټل چاپېریال او ناتوانه مغزو ته ورشي؛ نو په تدریج ناپاکېږي او خرافات او موهومات پرې وراضافه کېږي، تردې چې د خپلې لومړی ورځې روڼ والی له لاسه ورکوي، چې په دې حال کې نه جاذبه لري او نه روزنیزه اغېز، نه د ترږو تنده ماتوي او نه د انساني بشپړتیا غوټی زرغونوي؛ نو ځکه تل باید یو معصوم امام وي، چې د دین دا حالت او د دیني کړلارو د نږه والي ساتونکی وي او له کږ لاریو، التقاطي، ناسم او پردیو فکرونو، موهاموتو او خرافاتو مخنیوی وکړي؛ نو که یو مذهب او دین داسې مشر ونه لري؛ نو ډېر ژر به خپل اصالت او نږه والی له لاسه ورکړي؛ ځکه حضرت علي کرم الله وجهه په نهج البلاغه کې وایي: ((هو! هېڅکله د ځمکې مخ له الهي حجته نه خالي کېږي، که پټ وي که ښکاره، چې الهي دلائل او څرګنده نښې باطلې نشي)).

په حقیقت کې د امام زړه د یو داډمن صندوق په څېر دی، چې پکې ګران بیه او اصلي سندونه ایښوول کېږي، چې له غلو او ناوړه پېښو خوندي پاتې شي، چې دا د امام د وجود یوه بله فلسفه ده.

۳-د امت ټولنیزه سیاسي مشري: شک نشته چې هېڅ ډله بې له ټولنیز نظامه، چې پکې پیاوړې مشري نه وي، نشي کړای خپل ژوند پرمخ بوځي؛ ځکه له پخوا تر نه ټولو قومونو ځان ته مشر ټاکه، چې دا مشران کله صالح وي کله ناصالح او ډېر داسې کېدل، چې د بشر د همدې اړتیا په پار، پر زور یا تزویر (چل ول) پر خلکو ځان ورتپه او د خلکو واک یې په لاس کې اخسته.
. . . دا له یوه اړخه.
بلخوا داچې انسان وکړای شي ځان معنوي بشپړتیا ته ورسوي؛ نو پردې لار باید یوازې ولاړ نشي؛ بلکې بایدله ډلې او ټولنې سره ولاړ شي؛ ځکه د یو وګړي فکري، جسمي، مادي او معنوي واک ډېر کم او ناڅیزه دی؛ خو ډله ایز واک ډېر زیات ګټور وي؛ خو داسې یوه ټولنه په کار ده، چې سم نظام پرې حاکم وي، انساني استعدادونه رازرغون کړي، له کړلاریو سره مبارزه وکړي، د وګړیوحقوق په پام کې ونیسي او سترو موخو ته د رسېدو لپاره کړلار او سازماندهي ولري، د ټولنې د حرکت لپاره په یوه ازاد چاپېریال کې انګېزه را پیدا کړي.
خو دا چې تېروتی انسان د یو داسې ستر رسالت واک نه لري، چې موږ پخپله د دنیا د واکمنانو کړلارۍ او سیاسي غلطۍ پر خپلو سترګو ووینو؛ نو پکار ده، چې د خدای له لوري پردې چارو یو پاکلمنی مشر ځارنه ولري او د خلکو او د پوهانو د نظرونو په مرسته له کړلاریو مخنیوی وکړي، چې دا د امام د وجود یوه بله فلسفه ده او د "قاعده لطف" یوه بله برخه ده.
٤-د غاړې خلاصونې اړتیا: نه یوازې باید د امام د وجود په شتون کې د چمتو زړونو انسانان، د مطلق کمال پر لور خپله لار ووهي؛ بلکې پر هغوهم غاړه خلاصه شي، چې دم ګړۍ پر کږه روان وي. که د عذاب وعده ورکول کېږي، چې بې دلیله نه وي، چې بیا څوک پلمه رانه وړي، چې که یو الهي مشر مو لاس نیولی وای؛ نو پر حقه به تللي وو او هېڅکله به مو پایله دا نه وه. لنډه داچې د پلمې لار وتړل شي، د حق دلائل بسیا وویل شي او پوهانو ته ډاډ ورکړ شي او اراده یې پیاوړې شي.
۵-امام د الهي فیض واسطه: ډېرو پوهانو د اسلامي حدیثونو په رڼا کې په انساني ټولنه یا په ټول عالم کې د پېغمبر او یا د امام شتون د انسان په بدن کې زړه ته ورته کړی دی.
پوهېږو، چې کله زړه پمپ وهي؛ نوټول بدن ته وینه وررسوي او د بدن ټولې حجرې تغذیه کوي؛ نودا چې پاکلمنی مشر د یو بشپړ انسان په نامه، د انساني ټولنې د کاروان مخکښ دی، د الهي فیض د نازلېدو لامل هم دی او هر څوک له پېغمبر یا امام سره د اړیکې په اندازه له دې فیضه ګټه اخلي؛ نو باید وویل شي: لکه څنګه چې زړه د انسان د بدن لپاره اړین دی؛ نو د الهي فیض لپاره ددې واسطې شتون هم اړین دی.

تېر نه وځئ! پېغمبر او امام له خپل ځانه هېڅ نه لري، چې خلکو ته يې ورکړي؛ بلکې څه چې لري، د خدای له لوري دي؛ خو لکه څنگه چې زړه د بدن لپاره د الهي فيض واسطه ده؛ نو پېغمبران او امامان هم د انسانانو لپاره د الهي فيض واسطې دي.

## د امام ځانگړنې او شرايط

له هرڅه مخکې په دې وخت کې يو خبرې ته پام پکار دی او هغه داچې د قرآن د آيتونو په رڼا کې د "امامت مقام" ترټولو لوړ دی، چې يو انسان کړای شي ځان وروړسوي ان د "نبوت" او "رسالت" تر مقامه هم لوړ؛ څکه د بوت ماتي ابراهيم په کيسه کې لولو:
((وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَاماً قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ(بقره/ ١٢٤) او (درياد کړئ) چې کله خدای ابراهيم په ډول ډول وسايلو وازمېيه؛ او هغه هم له دې ازمېښتونو ښه راووت (؛ نو) خدای ورته وويل: ((زه تا د خلکو امام او مشر ټاکم.)) ابراهيم عرض وکړ: ((او له څوځاته مې هم (مشران او امامان وټاکه.))) خدای ورته وويل: ((ظالمانو ته مې وعده نه رسي (او يوازې ستا د اولادې سپېڅلي ددې مقام وړ دي))).
نو همدا و، چې حضرت ابراهيم د نبوت او رسالت د پړاوونو تر تېرولو روسته، چې په بېلابېلو الهي ازمېينوکې بريالی شو؛ نو دې مقام ته ورسېد، د خلکو ظاهري، باطني، مادي او معنوي امامت ته يې درجه ورلوړه شوه.
د اسلام پېغمبر د نبوت او رسالت پر مقام سربېره د خلکو د امامت او مشرۍ مقام هم درلود، چې ځينو نورو پېغمبرانو هم دا مقام درلود. دا له يو اړخه. بلخوا پوهېږو، چې يو مقام ځان ته شرايط، ځانگړنې او دندې لري؛ نو څومره چې مقام لوړ وي، دندې هم درنې وي؛ نو په هماغې کچه به ورته په کار ځانگړنې اوشرايط هم درانه وي.
د بېلگې په توگه: په اسلام کې قاضي، شاهد او د امام جماعت کېدو شرط، عادلتوب دی؛ نوپه يوه ځای کې، چې د يو شهادت يا گواهۍ ورکولو ته او يا په لمانځه کې د حمد، اخلاص او درود ويلو لپاره امام ته د عدالت درلودو شرط حتمي دی:
١-له گناه اوتېروتنې معصوم والی.
امام هم بايد د پېغمبر په څېر د عصمت د مقام خاوند وي؛ يعنې له "گناه" او "تېروتنې" خوندېينه ولري؛ گنې نشي کړای خلکو ته بېلگه او مشر شي او ټولنه پرې اعتماد وکړي.

امام باید د خلکو پر زړونو حکومت وکړي او حکم یې بې ځنډه پلي شي؛ نو یو څوک چې پر ګناه ککړ وي، دا ناشونې ده، چې پر خلکو دومره ګران وي او هر اړخیز اعتماد پرې وکړي؛ نو څوک چې په خپلو ورځني چارو کې تېروتنه او غلطي کوي؛ نو څرنګه به وکړای شو، د ټولنې په چارو کې یې پر نظرونو ډاډ او اعتماد وکړو او بې ګړ پړه یې ومنو؟

بېشکه پېغمبر باید معصوم وي او دا شرط هم په امام کې د پورتنیو خبرو په پار باید وي.

دا خبره د "قاعده لطف" له لارې، چې د پېغمبراو امام وجود هم د همدې اصل پر بنسټ دی، ثابتولای شو؛ ځکه که پېغمبر او امام معصوم نه وي؛ نو د راتګ موخه یې نه ترسره کېږي او هغه فلسفې نیمګړې پاتې کېږي، چې په تېرو مخونو کې مو اشاره ورته وکړه. .

۲-بشپړعلم:

امام د پېغمبر په څېر د خلکو علمي پناهځی دی، هغه باید د اسلام له فروعو، اصولو، د قرآن له ظاهر او باطن، د پېغمبر له سنت او په اسلام پورې له اړوندو چارو ښه خبر وي؛ ځکه امام هم د شریعت ساتی او هم د خلکو مشر او لار ښوونکی دی؛ هغوی چې د کړکېچنو مسئلو د راپېښېدو پر مهال په نورو پسې ځي او علم یې د ټولنې غوښتنو ته ځواب نشي ورکولای، نشي کړ ای د ټولنې امام او مشر شي.

لنډه دا امام باید تر ټولو زیات د خدای پر دین پوه وي او د پېغمبراکرم تر رحلت روسته یې د نه شتون تشه ډکه کړای شي او رښتین اسلام پرمخ یوسي، چې له هر ډوله خرافاتو او کږلاریو پاک وي.

۳-مړانه:

امام باید ددې نړۍ د امکاناتو "امیر" وي؛ نه "اسیر". هغه باید د نړۍ له هر ډوله مادي قید او بنده ازاد وي، د نفس له غوښتونو ازاد وي، د مقام او شتمنۍ له قیده خلاص وي، چې و نه غولول شي، څوک پرې اغېز ونه کړي اوجوړجاړي ته تسلیم نشي.

٤- اخلاقي جاذبه:

قرآن د پېغمبر اکرمصلی الله علیه و آله وسلم په هکله وایي:

((فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظّاً غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَچ (آل عمران / ۱۵۹) خلکوته د الهي رحمت (په برکت)؛ نرم (او مهربان) شوی یې او که توند خویه او سخت زړی وې؛ نو خلك درځنې خپرېدل نو له هغوی تېرشه او ښښنه ورته وغواړه او په چاروکې ور سره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (؛ نو پرېکنده وسه او) پر خدای توکل وکړه؛ ځکه توکل کوونکي دخدای خو ښېږي.))

نه یوازې پیغمبر؛ بلکې دهرې ټولنې امام او مشر زړه راښکونکي خلق و خوی ته اړتیا لري، چې د مقناطیس په څېر خلک په ځان پسې راټول کړي؛ نو جوته ده، چې هر ډول زور زیاتی او بد خلقي، خلک له امام یا پیغمبر شړي اوهغوی له داسې نیمګړتیا پاک دي؛ ګنې د شتون فلسفه به یې نیمګړې شي؛ البته د امام لپاره بې له دې پینځګونو ځانګړنو نور شرطونه هم دي، چې غټ یې همدا پینځه دي، چې وویل شول.

## څوک امام ټاکي؟

اهلسنت ګروهن دي، چې پیغمبر اکرمصلی الله علیه و آله وسلم له دنیا سترګې پټې کړې؛ خو ځان ته یې ځایناستی ونه ټاکه او دا دنده د مسلمانانو پرغاړه ده، چې خپل ځان ته مشر وټاکي او د ((مسلمانانو په اجماع)) دا کار وشي، چې یو شرعي دلیل دی، دوی وایي، چې همداسې وشول او د اسلام لومړی خلیفه هم د امت په اجماع وټاکل شو او هغه هم پخپله دویم خلیفه وټاکه او دویم خلیفه هم په یوې شپږ کسیزې شورا درېیم خلیفه وټاکه، چې په دې شپږ کسیزې شورا کې حضرت علي کرم الله وجهه ، حضرت عثمان، حضرت عبدالرحمن بن عوف، حضرت طلحه، حضرت زبیر او سعدبن ابي وقاص (رضی الله عنهم) ول. په دې شورا کې حضرت سعد بن ابي وقاص، حضرت عبدالرحمن بن عوف او حضرت طلحه، حضرت عثمان ته رایه ورکړه. (دویم خلیفه سپارښتنه کړې وه، چې که درې تنه یو اړخ ته او درې بل اړخ ته شي؛ نو حق به له هغوی سره وي، چې حضرت عبدالرحمن بن عوف (د حضرت عثمان زوم!) پکې وي.

د حضرت عثمان د خلافت په روستیو ورځو کې خلک ورپسې را پاڅېدل او ویې وواژه او هغه و نشو کړای، چې پخپله او د شورا لپاره ځایناستی وټاکي.

پردې وخت ډېری مسلمانان په حضرت علي پسې ولاړل، بې له امیر معاویه بن ابي سفیان، چې د شام والي و، نورو ټولومسلمانانو ورسره بیعت وکړ؛ ځکه معاویه یقین درلود، که علي راغی؛ نوهغه به پردې مقام نه وي. معاویه د مخالفت بېرغ راپورته کړ او د اسلام په تاریخ کې ددې دومره وینو توییدونو لامل شو.

په دې ځای کې د یو شمېر علمي او تاریخي وینو د روښانه کېدو لپاره زیاتې پوښتنې رامنځ ته کېږي، چې یو څو یې دا دي.

### ۱-ایا امت کړای شي د پیغمبر لپاره ځایناستی وټاکي؟

ددې پوښتنې ځواب ډېر کړکېچن دی، که امامت د مسلمانانو د ټولنې ظاهري واکمني وي؛ نو د واکمن د ټاکنې لپاره د خلکو رای ته ورتلل یو رایج چار دی.
خو که د امامت مانا هغه وي، چې په تېرو بحثونو کې مو وویله او له قرآنه هم ګټه وشوه؛ نو شک نشته چې داسې کسان باید د خدای یا د پېغمبر له لوري (هغه هم د وحې په الهام) وټاکل شي.
ځکه ددې تفسیر په رڼا کې د امامت شرط د اسلام د اصولو او فروغو بشپړعلم دی؛ هغه علم، چې سرچینه یې خدای وي او ملاتړی یې د پېغمبر علم، چې وکړای شي د اسلام شریعت ساتی شي.
بل شرط دادی، چې امام باید معصوم وي؛ یعنې له هر ډوله ګناه او تېروتنې، الهي خوندېینه ولري، چې وکړای شي د امت معنوي، مادي، ظاهري، باطني امامت پرغاړه واخلي اوهمداراز ددې مقام د سبمالولو لپاره زهد، تقوا او مړانه هم پکار ده، چې دا شرایط بې له خدای او پېغمبره بل څوک نشي پېژندای، یوازې هغه دی، چې پوهېږي د عصمت روح په چا کې دی او پوهېږي، چې د امامت د مقام د سبمالولو لپاره علم، زهد او مړانه په چا کې ده.
هغوی چې د امام او د پېغمبر د خلیفه ټاکل خلکو ته ورسپاري، په حقیقت کې یې د امامت قرآني مانا بدله کړې او امامت یې یوازې د خلکو د دنیوي چارو د واکمنۍ تر بریده محدود کړی دی، یوازې خدای دی، چې د امامت شرایط بشپړ پېژني او له دې صفاتو باخبره دی؛ لکه څنګه چې پېغمبر هم د خلکو په ټاکنه نه ټاکل کېږي؛ بلکې هرومرو باید د خدای له لوري وټاکل او په معجزو وپېژندل شي؛ ځکه د پېغمبر لپاره شرطونه یوازې خدای پېژندای شي.

## ۲-ایا پېغمبر ځان ته ځایناستی نه و ټاکلی؟

جوته ده، چې د اسلام دین یو نړیوال او تلپاتې دین دی او د قرآن د آیتونو په رڼا کې د اسلام دین په ځانګړي وخت او ځای پورې محدود نه دی او ټول خبر دي، چې د پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم تر وفاته د اسلام دین د عربستان له ټاپووزمې نه و وتلی.
بلخوا د پېغمبر اکرمصلی الله علیه و آله وسلم د عمر دیارلس کاله په مکه کې یوازې له بوت نمانځنې او شرک سره په مبارزه کې تېر شول او لس کاله نور عمر یې په هجرت کې په ورتپل شویوجګړو کې تېر شو، چې د اسلام د ګل د زرغونېدو وخت و.
پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم شپه او ورځ اسلام ته بلنه کوله او اسلام یې له هر اړخه خلکو ته ورپېژانده؛ خو بیا هم د یو شمېر مسایلو شننې د وخت تېرېدو ته اړتیا درلوده او د پېغمبر اکرم په څېر یو کس باید دا درنه دنده پرغاړه واخلي. له دې ټولو مهمه خبره د راتلونکي

وضع وړاندوينه او د ښوونځي د تدوام لپاره د سريزو برابرول هغه چارې دي، چې هر مشر يې په فکر کې وي او هېڅکله ځان ته اجازه نه ورکوي، چې دا بنسټيزې چارې هېرې کړي.
که له دې خبرو تېر شو؛ نو د اسلام پېغمبر د ژوند د ټولو مسئالو لپاره احکام درلودل؛ نو ايا کېدای شی د خلافت او د مسلمانانو د امامت لپاره څوک ونه ټاکي؟!
دا درې اړخيز دليلونه روښانوي، چې د خدای رسول ځايناستی ټاکلی و، چې په دې هکله به اسلامي روايتونه هم راوړو، چې پردې منطقي واقعيت نوره رڼا هم واچوي، چې پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم هېڅکله له دې حياتي مسالې غافل نه و، که څه يو شمېر سياسي بهيرونو کوښښ کاوه، چې د خلکو ذهن ته دا خبره ورننباسي، چې پېغمبراکرمصلی الله عليه و آله وسلم ځايناستی نه و ټاکلی.
دا به څوک ومني، چې د خدای رسول، چې د جګړې لپاره له مدينې څخه يو څو ورځو ته بهر وته (د تبوک جګړه)؛ نو د ځان لپاره يې ځايناستی ټاکه؛ خو تر مړينې روسته دا کار ونه کړي او خپل امت په دې دومره اړپېچونو کې سرګردانه پرخپل حال پرېږدي او په راتلونکي کې د اسلام تداوم تضمين نه کړي؟! نوښکاره خبره ده، چې د ځايناستي نه ټاکل، نوي اسلام ته ډېر ګواښونه مخامخ ول او عقل او منطق وايي، چې داسې خبره ناشونې ده، چې د اسلام پېغمبر ځان ته ځايناستی ونه ټاکي.
اهل سنت چې وايي: د خدای رسول دا کار امت ته ورپرېښی و؛ نو خپلې خبرې ته خو دې لږ تر لږه يو سند راوړي، چې پېغمبر اکرمصلی الله عليه و آله وسلم پردې خبره ټينګار کړی و.
۳-اجماع او شورا:
فرض به وکړو، چې د اسلام پېغمبر له دې حياتي امره غافل و او دې کار ته يې خلکو ته دنده ورکړې وه؛ خو پوهېږو، چې ((اجماع)) د مسلمانانو د اتفاق پر مانا ده، چې هېڅکله دا کار د لومړي خليفه په باب ونشو، يوازې يوه ډله صحاب، چې په مدينه کې ول، ددې کار هوډ ونيو او نور مسلمانان پکې نه ول او برخه يې پکې نه وه اخستې او پخپله مدينه کې حضرت علي او له بني هاشمو هم په دې هوډ نيونه کې څوک نه ول؛ نو داسې اجماع د منلو وړ نه ده او که دا لار سمه وي؛ نو ولې لومړي خليفه د خپل ځايناستي د ټاکلو په هکله داسې و نه کړل؟ ولې يې پخپله د خپل ځان لپاره ځايناستی وټاکه؟ که په يوه کس ټاکل بسيا وي؛ نو ددې کار لپاره تر ټولو وړ انسان د خدای رسول دی
له دې چې تېر شو، ستونزه د درېيم خليفه په باب ده، چې ولې دويم خليفه هغه لار شاته واچوله، چې لومړی خليفه پرې ټاکل شوی و؛ يعنې نه يې دا کار اجماع ته وروسپاره او نه په ټاکنې پسې ولاړ؛ بلکې يوې شپږکسيزې شورا ته يې ددې کار دنده وکړه؛ نوخبره داده، چې

که ((شورا)) ښه وي؛ نو ولې باید یوازې شپږ تنه ټکې وي او یوازې د درېیو تنو رای ټکې ارزښت ولري؟

دا هغه پوښتنې دي، چې د هر څېړونکي ذهن ته راځي او داچې دې پوښتنو ته ځواب نه دی ورکړ شوی؛ داځکه چې دا د امام د ټاکلو لار نه ده.

٤-حضرت علی کرم الله وجهه تر ټولو وړ و. فرض کړو، چې دا دنده یې خلکو ته ورسپارلې وه او د ټاکنې پر مهال په هغه چا پسې ولاړ شو، چې د تقوی، علم او نورو امتیازاتو له پلوه ترې بل وړ انسان موجود وي.

ټول اسلامپوهان یوه خوله دي، چې حضرت علی کرم الله وجهه په اسلامي چارو کې تر ټولو غوره و او هغه روایتونه او نښې، چې ترې پاتې شوي دي، ددې خبرې ژوندي گواهان دي. د اسلام تاریخ لیکي، چې هغه په علمي ستونزو کې د مسلمانانو پناهتون و او ان که له نورو خلفاوو چا سخته پوښتنه وکړه؛ نو د ځواب اخستو لپاره یې حضرت علی کرم الله وجهه ته ورلېږل. مړانه، تقوی او زهد یې تر ټولو زیات و؛ نو که خلکو د امامت لپاره څوک ټاکه؛ نوحضرت علی کرم الله وجهه دې منصب ته تر ټولو وړ و. (؛البته دا بحث خپل سندونه لري، چې دلته د بحث د لنډوالي لپاره نه راوړل کېږي په دې هکله چورلټ پرېکړه امام احمد حنبل کړې او هغه دا چې: «په سمو روایاتو کې چې د علي کرم الله وجهه په اړه کوم فضایل رانقل شوي، د یوه صحابي په باب هم ندي راغلي»؛ یعنې علي کرم الله وجهه تر پیغمبر روسته د امت افضل او غوره دی.).

# امامت په قرآن کې

قرآن، د امامت په مساله کې را ته لار پرانستی دی.

## ۱-قرآن، امامت د خدای له لوري ګڼي:

په تېرو بحثونو کې مو د حضرت ابراهيم په باب وويل، چې قرآن وايي: حضرت ابراهيم هله د امامت مقام ته ورسېد، چې نبوت، رسالت او الهي ازمېښتونه يې تېر کړل، قرآن د بقرې سورت په ۱۲٤ آيت کې وايي:

((وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَاماً قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ -او (درياد کړئ) چې کله خدای ابراهيم په ډول ډول وسايلو وازمېيه؛ او هغه هم له دې ازمېښتونو ښه راووت (؛ نو) خدای ورته وويل: ((زه تا د خلکو امام او مشر ټاکم.)) ابراهيم عرض وکړ: ((او له ځوځاته مې هم (مشران او امامان وټاکه.))) خدای ورته وويل: ((ظالمانو ته مې وعده نه رسي (او يوازې ستا د اولادې سپېڅلي ددې مقام وړ دي)))

تاريخ وايي: دې مقام ته هله ورسېد، چې د بابل له بوت نمانځو سره يې مبارزه وکړه، شام ته يې هجرت وکړ، کعبه يې جوړه کړه اوخپل زوی يې قربانۍ ته بوت.

نبوت او رسالت، چې د خدای له لوري ټاکل کيږي؛ نو د امامت مقام هم، چې د خلکو هر اړخيزه مشري او د بشر بشپړتيا ده، بايد د خدای له لوري وټاکل شي او دا هغه څه نه دي، چې خلک يې وټاکي، قرآن وايي: انی جاعلک للناس اماما((ما، ته د خلکو امام کړې)).

د انبيا سورت په ۷۳ آيت کې د حضرت ابراهيم، حضرت لوط، حضرت اسحاق او حضرت يعقوب په باب راغلي دي:

((وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلاَةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ -او موږ هغوی لارښوونکي کړل، چې زموږ په امر يې (خلکوته) لار ښوونه کوله او موږ ورته د ښو چارو د کولو او لمونځ درولو او زکات ورکولو وحې وکړه او يوازې زموږ لمانځونکي وو))

همدا شان نور تعبيرونه هم په قرآن کې راغلي، چې وايي الهي منصب د خدای له لوري ورکول کيږي.

له دې چې راتېرشو؛ نو که هماغه آيتونو ته دوام ورکړو؛ نو حضرت ابراهيم، چې خپل ځوځات ته هم له خدايه ددې منصب غوښتنه وکړه؛ نو داسې ځواب يې واورېد: ((لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ)) دې خبرې ته اشاره لري، چې دعا دې قبوله شوه؛ خو ستا په اولاده کې هغوی چې

ظلم کړی وي؛ دې منصب ته به نه رسي؛ نو ددې خبرې په پام کې نیوو سره، چې ((ظالم)) د لغت له نظره او همداراز د قرآن د منطق له نظره پراخه مانا لري، چې پکې ټول گناهونه؛ لکه ښکاره شرک، پټ شرک او پر ځان هر ډول ظلم پکې شاملېږي او ددې خبرې په پام کې نیووسره، چې له دې امره یوازې خدای خبر دی او بل چاته ناشونې ده؛ ځکه یوازې خدای دی، چې د خلکو له نیت او باطنه خبر دی؛ نو جوتېږي، چې پردې مقام گومارل یوازې د خدای له لوري دي.

## ۲-د تبلیغ آیت:

د مائدې سورت په ٦٧ آیت کې وایي:
((یَا أَیُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَیْكَ مِن رَبِّكَ وَإِن لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ یَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ یَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِینَ پېغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پرتا نازل شوي، بشپړ(خلکو ته) ورسوه اوکه داسې دې و نه کړل؛ نو د هغه پېغام دې نه دی رسولی، خدای تا د خلکو (له احتمالي زیانونو) ژغوري. هو! خدای (ځېلي) کافرانو ته سمه لار نه ښیي.))
د آیت لحن راښیي، چې د یوې درنې دندې په باب خبرې کوي، چې د پېغمبر پر غاړه ده، چې له هر اړخه یې په باب اندېښنې شته، هغه رسالت، چې امکان یې درلود د خلکو له اړخه ورسره مخالفت وشي؛ نو آیت په ډاگه پېغمبر اکرم ته د ابلاغ حکم کوي او د احتمالي گواښونو په باب یې ډاډ ورکړ.
ښکاره خبره ده، چې دا مساله د توحید او شرک له دښمنانو؛ لکه یهودو او منافقانو سره د مبارزې په باب نه وه؛ ځکه (د مائدې د سورت دنازلېدو) پرمهال دا مسئله حل شوې وه. د ساده اسلامي احکامو ابلاغولو لپاره هم دومره بېره او تشویش نه و؛ ځکه د آیت ظاهر راښیي، چې یوه درنه دنده وه، چې له رسالت سره هموزنه وه، چې که اعلان شوې نه وای؛ نو رسالت به نه و تر سره شوی؛ نو ایا دا خبره بې د پېغمبر له ځایناستي بله خبره کېدای شي. په تېره چې دا آیت د پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم د عمر په پای کې نازل شوی دی او د خلاقت له مسالې سره هم تناسب لري، چې د پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم د نبوت او رسالت د تداوم مساله وه.
پردې سربېره د پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم له ډېرو اصحابو؛ لکه حضرت زید بن ارقم، حضرت ابوسعید خدري، حضرت ابن عباس، حضرت جابربن عبدالله انصاري، حضرت ابوهریره، حضرت حذیفه او له حضرت ابن مسعود(رضی الله عنهم) روایتونه رانقل شوي دي،

چې ځينې روايات له يوولسو لارو موږ ته د اهل سنتو د مفسرينو، محدثانو، مورخانو او عالمانو له خوا رارسېدلي، چې دا آيت د حضرت علي په باب نازل شوی دی.
د "غدير" د پېښې په باب به په راتلونکي کې بحث وکړو؛ خو همدلته دا خبره رايادوم، چې دا آيت په روښانه راښيي، چې د اسلام پېغمبر ته دنده ورکړه شوې وه، چې له حجة الوداع نه دراستنيدو پر مهال او د خپل عمر په پای کې حضرت علي په رسمي توگه خلکو ته خپل ځايناستی ور وپېژني.

### ۳-له اولو لامره د لاروۍ آيت:

د نساء سورت په ۵۹ آيت کې وايي:
((يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَومِ الآخِرِ ذلِكَ خَيرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً -مؤمنانو! د خدای اطاعت وکړئ او د پېغمبر او د اولوالامر [-د پېغمبر وصيان] اطاعت وکړئ او که ستاسې ترمنځ په کومه چاره کې شخړه پېښه شي (؛ نو د منځگړتوب لپاره) خدای او رسول ته مخه وکړئ که (په ر ښتيا) پرخدای او د اخرت پر ورځې ايمان لرئ. دا (کار) تاسې ته غوره دی، عاقبت او پای يې هم ډېره ښه ده.))
دلته بې له کوم قيد وشرطه له اولوالامره د لاروۍ حکم د خدای او رسوله د لاروۍ ترڅنگ راغلی دی.
ايا له الوالامره موخه د هر وخت اوهر چاپېريال واکمنان دي؟او زموږ د وخت مسلمانان بايد بې له کوم قيد و شرط، له خپلو واکمنانو لاروي وکړي؟
دا خبره له هېڅ منطق سره سمون نه خوري؛ ځکه ډېری واکمنان کرلاري، پرگناه ککړ او ظالمان دي.
ايا موخه ترې هغه واکمنان دي، چې حکم يې د اسلام د احکامو پر خلاف نه دی؟چې دا هم د آيت له مطلقوالي سره سمون نه خوري. ايا موخه ترې دپېغمبراکرم اصحاب کرام دي؟
دا احتمال هم د آيت له پراخ مفهوم سره، چې دا آيت د هر وخت لپاره راغلی دی، سمون نه خوري؛ نو جوتېږي، چې موخه يې معصوم دی، چې په هر وخت کې شته او لاروي ترې بې قيد و شرطه فرض ده او حکم يې د خدای او رسول د حکم په شان دی.
په اسلامي سرچينوکې ډېر حديثونه راغلي، چې د "اولوالامر" تکی يې په حضرت علي کرم الله وجهه او نور معصومو امامانو تطبيق کړی دی.

**٤-د ولایت آیت:**

د مائدې سورت په ۵۵ آیت کې وايي:

((إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ ستاسې ولي او پالندوی خو یوازې خدای، د هغه پېغمبراو هغه مؤمنان دي، چې لمونځونه کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي.))

ددې خبرې په پام نیوي، چې د ((اِنَّمَا)) ټکی په عربي کې د احضار لپاره دی، قرآن د مسلمانانو ولي داسې کس راپېژندلی دی: ((خدای، پېغمبر او هغوی چې ایمان راوړی اود رکوع په حال کې زکات ورکوي)).

شک نشته چې له ((ولایته)) مطلب د مسلمانانو یو له بل سره دوستي نه ده؛ ځکه د خلکو یو له بل سره انډیوالي دومره قید وشرط ته اړتیا نه لري، ټول مسلمانان سره ورونه او ملګري دي، که څه د رکوع په حال کې زکات ور نه کړي؛ نو دلته له ((ولایته)) موخه هماغه مادي او معنوي مشري ده، په تېره، چې د خدای او د رسول د ولایت ترڅنګه راغلې ده.

له دې آیته ددې لپاره، چې پکې د یوچا ځانګړنې راغلي، یو معلوم شخص ته اشاره ده، چې د رکوع په حال کې یې زکات ورکړی و؛ ګنې لزوم نه لري، چې یو څوک د رکوع په حال کې زکات ورکړي. دا آیت هغه مهال د حضرت علی کرم الله وجهه په باب نازل شو، چې هغه پر لمونځ بوخت و او یو بېوزلی مرستې غوښتو ته جومات ته راننووت؛ خو چا ورسره مرسته ونه کړه؛ نو حضرت علی کرم الله وجهه ، چې د رکوع په حال کې و، د خپل لاس پر وړې ګوتې یې خپلې ګوتې ته اشاره وکړه او فقیر راغی او ګوته یې د حضرت علي له ګوتې راواخسته.

پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم ، چې پرخپلو سترګو ددې پېښې لیدونکی و، لاسونه یې اسمان ته پورته کړل، و یې ویل: خدایه! ورور مې موسی له تا وغوښتل، چې سینه یې ورپراخه او چارې یې وراسانه کړې، له ژبې یې غوټه لرې کړې او ورور یې هارون وزیرکړې. . . . . . . .

خدایه! زه محمد ستا پېغمبر یم او تا ټاکلی یم، سینه مې پراخه، چارې مې را اسانه کړې او له کورنۍ مې علي زما وزیرکړې، چې مې ملاتړ شي. . . . . .))

تر اوسه د پېغمبر اکرم خبرې پای ته نه وې رسېدلې، چې جبرائیل راغی او پورتنی آیت یې راووړ.

داهل سنتو ډېر مفسران یوه خوله دي او همداراز د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم صحابه وو دا حدیث رانقل کړی، چې دا آیت د حضرت علي کرم الله وجهه په باب راغلی دی.

د ولایت په باب آیتونه ډېر دي، چې موږ د بحث د لنډوالي په پار پرهمدې څلورو آیتونوقناعت کوو.

## امامت د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم په سنتو کې

چې کله د حدیثونو کتابونه، په تېره د اهل سنتو کتابونه وینو؛ نو ډېری حدیثونه د حضرت علي د امامت مقام او خلافت جوتوي.
دا حدیثونه، چې ځینې یې سلګونه سندونه لري او ځینې یې لس ګونه سندونه لري، ډېرو مشهورو اسلامي کتابونو راخستي لکه:

**۱-د غدیر حدیث:**
ډېری اسلامي تاریخپوهان لیکي، چې د خدای رسول د خپل عمر پر روستي کال حج ته ولاړ او د راستنېدو پرمهال له یارانو سره د "جحفې " سیمې د "خم غدیر" څلورلارې ته راورسېدل؛ نو مخکې له دې، چې په دې څلور لارې کې خلک بېل شي او خپلو سیمو ته ولاړ شي؛ نو پیغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم د تمېدو حکم وکړ او هغوی چې تر کاروانه مخکې تللي ول، راستانه شول او هغوی چې روسته پاتې ول، ورته پر تمه شول؛ هوا ډېرګرمه وه، په دښته کې هم سیوری نه لېدل کېده، مسلمانانو په پیغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم پسې لمونځ وکړ، خلکوچې وغوښتل خپلو کېږدیو ته ورننوځي؛ نو د خدای رسول حکم وکړ: ځان یو نوي الهي حکم ته چمتو کړئ.
پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته، د څلور اوښانو له کجاوو منبرجوړ شو او د خدای تر ستاینې روسته یې خلکو ته وویل: ډېر ژر به د خدای بلنه قبوله کړم او له تاسې به ولاړشم، زه مسئول یم، تاسې هم مسئول یاست، تاسې زما په باب څرنګه شهادت ورکوئ؟
خلکو په یوه غږ وویل: ((موږ ګواهي ورکوو، چې خپل رسالت دې موږ ته راورساوه، خپل کوښښ دې وکړ، موږ ته دې لارښوونه وکړه، خدای دې درسره ښه وکړي)).
پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: ایا تاسې د خدای پر توحید، زما پرحقانیت او رسالت، د قیامت پر ورځ او د مړیو پر راژوندي کېدو ګواهي ورکوئ؟ ټولو وویل: هو! ګواهي ورکوو. بیا د خدای رسول وویل: خدایه! ګواه اوسه. . . . یو ځل بیا یې وویل: خلکو! زماغږ اورئ؟ وویل شول: هو! او ورپسې پرټوله دښته چوپتیا واکمنه شوه، چې د باد له غژاري پرته هېڅ نه اورېدل کېدل، پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: اوس راته ووایاست، دا دوه ګران بیه څیزونه، چې درته پرېږدم، څه به ورسره کوئ؟ په خلکو کې یو وویل: د خدای رسوله! کوم دوه ګران بیه څیرونه؟ د خدای رسول وویل: لومړی یې ((ثقل اکبر))، ((د خدای

کتاب قرآن)) دی؛ لاس ترې وانه خلئ، چې بې لارې نشئ، زما دويم يادگار زما کورنۍ ده او لطيف او خبير خدای خبر راکړ، چې دوی دواړه به هېڅکله يو له بله بېل نه شي، چې په حوض کوثر کې له ما سره يو ځای شي، له دې دوو وړاندې روسته کېږئ مه، چې هلاک به شئ.
د خدای رسول شاوخوا وکتل، په يوه چا پسې و؛ نوهمداچې سترگې يې پر علي ولگېدې، ورټيټ شو، له لاسه يې راونيو او د هغه لاس يې اوچت کړ، چې د دواړو تر تخرگ لاندې سپينتيا ټولو وليده. د پيغمبراکرمصلی الله عليه و آله وسلم غږ نورهم لوړ شو او ويې ويل: په مؤمنيوکې څوک تر دوی پرې وړ دی؟
وويل شول: خدای او رسول يې ښه پوهېږي. پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وويل: خدای زما مولا او لارښود دی. زه د مؤمنانو لارښود اومولا او ترې وړ يم.
بيا يې وويل: د چاچې زه مولا او لارښود يم، علي هم د هغه مولا او لارښود دی.
دا خبره يې درې ځل وکړه او د ځينو رواياتو له مخې، څلور ځل يې وکړه او بيا يې سر اسمان ته کړ او و يې ويل: ((خدايه د دوستانو يې دوست او د دښمنانو يې دښمن اوسه، هغوی دې درباندې گران وي، چې علي پرې گران وي، له هغوی سره کينه ولرې، چې له علي سره کينه لري، د ملگرو يې ملگری شې او هغوی ته شا ورواړې، چې علي ته شا کړي، حق له علي سره کړې او علي له حق سره)).
بيا يې وويل: هغوی چې حاضر وو، نورو ته دې دا خبره ورسوي.خلک لا خپاره شوي نه وو، چې د وحې امين حضرت جبرائيل راغی او د ((اليوم اکملت لکم دينکم واتممت عليکم نعتمی. .((نن مې ستاسې دين بشپړ کړ او نعمت مې هم درتمام کړ))! آيت يې راوړ.
په دې وخت کې دخدای رسول وويل: الله اکبر! الله اکبر!، چې خدای خپل دين بشپړ کړ او نعمت يې راپوره کړ. الله اکبر زما له رسالته د خدای پر خوښۍ، الله اکبر! ترما روسته د علي پرولايت. پردې مهال گڼه گوڼه شوه او خلک ډلې ډلې حضرت علي ته ددې منصب د مبارکۍ لپاره راغلل، چې حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضی الله عنهما) هم راغلل او ورته يې وويل: ((آفرين دې پر تا وي، آفرين دې پر تا وي ای د ابوطالب زويه! زموږ مولا او د ټولو هغو ښځو او سړيو مولا يې، چې ايمان يې راوړی دی!
پورتنی حديث، اسلامي عالمانو په خپل کتابونو کې په لنډو او اوږدو عباراتو راوړی دی. دا متواتر حديث دی، چې څوک ترې نشي منکرېدای.
د " الغدير" کتاب ليکوال ((علامه اميني)) په خپل کتاب کې دا حديث له يو سل او لسو اصحابو او له ۳٦۰ مشهورو اسلامی عالمانو او کتابونو رانقل کړی دی.

دا حدیث د اهل سنتو په ډېری تاریخونواو تفسیرونو کې راغلی، ان ځینو اسلامي عالمانو ددې حدیث په باب ځانګړي کتابونه کښلي دي.

ځینو وویل: ددې حدیث له سنده انکار نشي کېدای؛ نو ویې ویل، چې دلته له ((مولا)) مراد یوازې "ملګری" دی؛ خو د حدیث مضمون او داچې په کوم وخت او کوم ځای کې ویل شوی، را ښیي، چې ددې حدیث مانا د علي بن ابیطالب امامت او د امت هر اړخیزه مشري ده.

الف: د تبلیغ د آیت تونده لهجه، چې په تېر بحث کې مو راوړه او تردې پېښې مخکې رانازل شوی و، ګواهي ورکوي، چې خبره یوازې د یوې معمولې ملګرتیا په باب نه ده؛ ځکه دې خبرې دومره بیړه نه غوښته او دومره ټینګارته یې هم اړتیا نه درلوده. همداسې د ((اکملت لکم دینکم)) آیت، چې تردې پېښې روسته رانازل شو، پردې خبره ګواه دی، چې دلته یوازې د خدای د رسول د ځایناستۍ خبره مطرح وه.

(ب): په سوځنده دښته کې، له هغې سریزې، اوږدې وینا، له خلکو اقرار اخستل، پر هغه حساس وخت او څلورلارې کې، ددې خبرې بل ګواه دی.

(ج): هغه مبارکۍ، چې د بېلابېلو شخصیتونو له لوري وویل شوې او هغه شعرونه، چې وویل شول، ټول پردې ګواهي ورکوي، چې د خدای رسول پرهغه ورځ علي بن ابیطالب خپل ځایناستی کړ.

## د منزله او یوم الدار حدیثونه

ډېرو سترو شیعه او سني عالمانو د "منزله" حدیث د اعراف سورت تر (۱۴۲) آیت لاندې راوړی، چې پکې راغلي: حضرت موسی د(۴۰) شپو لپاره هغه ځای ته ولاړ، چې له خدای سره یې وعده وه او په خپل نه شتون کې یې هارون خپل ځایناستی کړ.

((وَوَاعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَاثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلَاتَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ او موږ له موسی سره ددېرشو شپو وعده ایښې وه، بیا مو پرې لس شپې (نورې) پوره کړې او په دې توګه له هغه سره د خپل پالونکي ټاکلې موده پوره څلوېښت شپې شوه او موسی (د تلو پر وخت) خپل ورور هارون ته وویل: ((ته په قوم کې زما ځایناستی اوسه او(چارې یې) سمې کړه او د ورانکارو پر لار مه ځه.))

حدیث داسې دی: پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم د تبوک پر لوري حرکت وکړ؛ ځکه د خدای رسول ته خبر رارسېدلی و، چې د روم امپراطورۍ پر مکې او مدینې د یرغل لپاره یو

ستر لښکر چمتو کړی دی. پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم هم له یوه لښکر سره تبوک ته روان شو او حضرت علي يې پرېښود. حضرت علي وويل: د خدای رسوله: ما له ماشومانو او ښځو سره پرېږدې؟

پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وويل: ((خوښ نه يې، چې را ته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو پر دومره توپير، چې تر ما روسته پېغمبر نه راځي.))

پورتنی عبارت په صحيح بخاري اوصحيح مسلم کې رانقل شوی، پر دومره توپير، چې په صحيح بخاري کې ټول حديث راغلی او په صحيح مسلم کې يوځل ټول حديث او يو ځل يوازې د "انت من منزلة هارون من موسی الا انه لا نبی بعدی" جمله په ټوليز ډول ياده شوې ده.[1]

ابوبکر بغدادي د ((بغداد تاريخ)) په کتاب کې له حضرت عمربن خطاب روايت کړی: يو سړی يې وليد، چې حضرت علي ته کنځل کوي، حضرت عمر ورته وويل: فکر کوم منافق يې؛ ځکه د خدای له رسوله مې واورېدل، چې ويې ويل: علي ماته داسې دی؛ لکه هارون چې موسی ته و؛ خو تر ما روسته بل پېغمبر نه راځي.[2]))

پاموړ خبره داده، چې په معتبرو سرچينو کې د خدای رسول دا خبره يوازې د تبوک جګړې ته د تلو پرمهال ونه کړه؛ بلکې په اوو نورو ځايونوکې يې هم کړې وه، چې د مفهوم پرعموميت يې دليل دی.

په ((يوم الموافات اول مکه)) کې؛ يعنې هغه ورځ، چې په مکه کې يې د خپلو يارانو ترمنځ ورورولي وکړه؛ نو حضرت علي يې خپل ورور کړ او همدا جمله يې هلته تکرار کړه.

په ((يوم الموافات دوم)) کې همدا تړون په مدينه کې د انصارو او مهاجرو ترمنځ وشو او پېغمبراکرم د منزلت حديث يوځل بيا تکرار کړ.

پرهغه ورځ، چې د خدای رسول حکم وکړ، چې د حضرت علي له وره پرته نور ټول هغه ورونه، چې جومات ته ورپرانستل کېږي، وتړي؛ نو د خدای رسول همدا جمله وويله.

---

[1] صحيح بخاري: ٦جز، ٣مخ. صحيح مسلم، صفحه ٤٤ او همداراز ٤جلد، ١٨٧مخ. په نورو کتابونو؛ لکه: ((سنن ابن ماجه))، ((سنن ترمذي))، ((مسند احمد)) دا حديث روايت شوی، چې راويان يې له ډېرى اصحاب دي؛ لکه: حضرت ((جابر بن عبدالله انصاری))، حضرت ((ابوسعيد خدري))، حضرت ((عبدالله بن مسعود)) او معاويه.

[2] (بغداد تاريخ، ٧ټوک، ٤٥٢مخ)

## د منزلت حدیث منځپانګه

که دا حدیث وڅېړل شي؛ نو ګټنه ترې کېږي، چې بې له نبوته هغه ټول مناسب، چې هارون له حضرت موسی سره درلودل، حضرت علي هم له رسول الله سره درلودل؛ ځکه په دې حدیث کې بل هېڅ ډول قید او شرط نشته؛ نو داسې پایله اخلو:

۱-تر پېغمبر اکرم روسته حضرت علي د امت افضل و. (؛ ځکه هارون داسې مقام درلود)

۲-حضرت علي د پېغمبراکرم وزیر او ځانګړی مرستیال و؛ ځکه قرآن دا ټول منصبونه حضرت هارون ته جوت کړي دي.

((وَاجْعَل لِي وَزِيراً مِنْ أَهْلِي. هَارُونَ أَخِي. اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي. وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي ((طه/۲۹-۳۲)) او له کورنۍ مې راته یو وزیر (مرستیال) وټاکه؛ هارون، چې ز ما ورور دی ملا مې پرې ټینګه کړه او په کارکې یې راسره برخوال کړه))

۳-حضرت علي د خدای د رسول ځایناسی اوخلیفه و او د ده په شتون کې بل چا حق نه درلود، چې پردې منصب کېني؛ لکه د هارون مقام، چې حضرت موسی ته و.

## د یوم الدارحدیث

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته د خدای له لوري دنده ورکړه شوه، چې خپله پټه بلنه ښکاره کړي ((اوانذرعشیرتک الاقربین)) ((خپل نږدې خپلوان دې انذارکړه))

پېغمبر اکرمصلی الله علیه و آله وسلم خپل خپلوان له خپل تره ابوطالب کره مېلمانه کړل او تر مېلمستیا روسته یې وویل: د عبدالمطلب اولادې! پر خدای قسم چې په عربو کې داسې څوک نه وینم، چې تر ما به یې د خپل ټبر لپاره ښه څیز راوړی وي، ما درته د دنیا او آخرت خیر راوړی او خدای راته حکم کړی، چې تاسې دې دین ته روابلم، په تاسې کې به څوک راسره مرسته وکړئ، چې خپل ورور، وصي او ځایناستی یې کړم؟

چا پردې خبره خوښي ونه ښووه، بې له حضرت علي، چې تر ټولو کوچنی و، پاڅېد او ویې ویل: د خدای رسوله! زه به مو په دې لارکې مرسته وکړم. پېغمبراکرم د حضرت علي پر ورمېږ لاس کېښود او ویې ویل: دا په تاسې کې زما ځایناستی، ورور او وصي دی، خبرې ته یې غوږ کېږدئ او حکم یې ومنئ؛ خو دې بې لارې ټبر نه یوازې و یې نه منله؛ بلکې ملنډې یې هم ووهلې

پورتنی حدیث د ((یوم الدار)) پر حدیث مشهور دی؛ یعنې ((په کورکې بلنه))، چې مطلب یې ښه څرګند دی او د سند له نظره د اهل سنتو سترو عالمانو؛ لکه ابن ابي حدید، ابن ابي حاتم، ابن مردودیه، ابو فهیم، بیهقي، ثعلبي، طبري، ابن اثیر، ابو الفداء راخستی دی.[1]

## د ثقلین حدیث او د حضرت نوح بېړۍ

په شیعه او سني عالمانو کې یو مشهور حدیث د ثقلین حدیث دی.
دا حدیث ډېرو اصحابو له پېغمبر اکرمه نېغ په نېغه بې له کومې واسطې رانقل کړی او ځینې ستر عالمان ددې حدیث روایتوونکي تر (۳۰) تنو هم زیات بللي دي: (سیره حلبي ۳۳ ټوک، ۳۰۸ مخ)
ډېرو مفسرانو، محدثانو او مورخانو دا حدیث په خپلو کتابونو کې راوړی، چې څوک یې په تواترکې شک نشي کولای.
سترعالم؛ سید هاشم بحراني دا حدیث په خپل کتاب ((غایة الموام)) کې په (۳۹) سندونو له اهل سنتو او په ۸۰ سندونوله شیعه و رانقل کړی دی.
یو بل عالم میرحامد حسین هندي دا حدیث له اهل سنتو رانقل کړی، په باب یې خپلې څېړنې په ٦ ټوکیز کتاب کې راټولې کړي دي.
له هغومشهورو کسانو څنې، چې دا حدیث ترې رانقل شوی دا دي: حضرت ابو سعید خدري، حضرت ابوذرغفاري، حضرت زید بن ارقم، حضرت زید بن ثابت، حضرت ابو رافع، حضرت جبیر بن مطعم، حضرت حذیفه، حضرت ضمره اسلمي، حضرت جابر بن عبدالله انصاري او حضرت ام سلمه بي بي (رضی الله عنهم).
د حضرت ابوذرغفاري د روایت له مخې، اصلي حدیث دادی: ((حال دا، هغه د کعبې دېوال نیولی و، خلکو ته یې وویل، چې د خدای له رسوله مې اورېدلي: زه په تاسې کې دوه ګران بیه یادګارونه پرېږدم؛ ((قرآن او کورنۍ مې)) دا دواړه به هېڅکله یو له بله بېل نشي، چې د کوثر د حوض ترغاړې راسره یوځای شي؛ نو وګورئ او واورئ، چې څرنګه په هکله یې زما سپارښتنه (په پام کې نیسي او) رعایتوئ یې؟ (ینابیع الموده، ۳۷ مخ، ده هم له ترمذي راخستی دی)

[1] وګورئ: المراجعات، ۱۳۰ مخ د احقاق الاحق ٤جلد، ٦۲ مخ

په ډېرو روايتونو کې د ((ثقلين)) تعبير او په ځينې روايتونو کې د ((خليفتين)) تعبير راغلی، چې مفهوم يې يو له بل سره دومره توپير نه لري.
پاموړ خبره خو داده، چې پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم دا روایت په بېلابېلو ځايونو کې خلکو ته ويلی دی. له حضرت جابربن عبدالله انصاري روايت دی، چې د خدای رسول په حج کې د عرفې پر ورځ دا خبره وکړه.
له حضرت عبد بن حنطب روايت دی، چې دا خبره د خدای رسول په "جحفه" (دمکې اومدينې ترمنځ يوه سيمه ده، چې ځينې حاجيان پکې احرام تړي) کې وکړه.
ام المؤمنين حضرت ام سلمه بي بي وايي: د خدای رسول دا خبره په غديرخم کې وکړه. په ځينو روايتونوکې هم راغلي، چې د خدای رسول دا خبره د عمر په پای کې د ناروغۍ په بستره کې وکړه.
په يوه حديث کې هم راغلي، چې دا خبره يې په مدينه کې پر منبر وکړه.[1]
له مشهور سني عالم ابن حجر نه د ((صواعق المحرقه)) په کتاب کې له پېغمبراکرمه رانقل شوي: پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم ددې حديث تر ويلو روسته د حضرت علي لاس اوچت کړ، و يې ويل: دا علي له قرآن سره دی او قرآن له علي سره دی، يو له بله نه بېلېږي، چې د قيامت پر ورځ يې د حوض کوثر تر غاړې ووينم.[2]نو څرګندېږي، چې د خدای رسول د يو اصل په توګه تل پر ثقلينو ټينګار درلود او له هر فرصته يې ددې خبرې د کولو لپاره ګټه اخسته، چې بيخي له ياده ونه وځي.

## د ثقلين حديث، د منځپانګې پاموړ خبرې

۱-داچې قرآن او عترت دوه خليفه ګان يا دوه ګران بيه څيزونه ښوول شوي، په ډاګه کوي، چې مسلمانان بايد له دې دواړو لاس وانه خلي، په تېره په ځينو روايتونو کې راغلي، چې وايي: ((که دا دوه مو پرېښښوول؛ نو بې لارې به نشئ.))
۲-داچې قرآن د عترت او عترت د قرآن تر څنګ راغلی، پردې څرګند دليل دی؛ لکه په قرآن کې چې کوږوالی نشي راتلای او له هر ډول تېروتنې خوندي دی؛ نو د پېغمبراکرم عترت هم د عصمت مقام لري.

---

[1] (المراجعات، ۲٤مخ)
[2] (الصواعق المحرقه، ۷۵ مخ)

۳-په ځينو روايتونو کې راغلي، چې د خدای رسول ويلي: د قيامت پر ورځ ددې دواړو په باب درنه پوښتم، چې څرنګه چلن مو ورسره کړی دی.
٤-((عترت او اهل بيت))، چې هر څرنګه تفسير شي، حضرت علي يې تر ټولو ځلانده مصداق دی او د ډېرو روايتونو په رڼا کې، نوموړي هېڅکله له قرآنه بيل نه شو او قرآن هم له ده.
۵-په ډېرو روايتونو کې راغلي، چې کله د مباهلې آيت رانازل شو؛ نو د خدای رسول، حضرت علي، حضرت فاطمه، حضرت حسن او حضرت حسين له ځان سره راوستل او و يې ويل: ((دا مې اهل بيت دي)). [۱]
٦-موږ ته په دې دنيا کې د قيامت په هکله مسايل معلوم نه دي؛ خو د روايتونو په رڼا کې، ((حوض کوثر)) په جنت کې يوه ځانګړې وياله ده، چې د رښتينو مؤمنانو، پېغمبراکرم، اهل بيتو او لارويانو لپاره يې ده؛ نو جوتېږي، چې تر پېغمبر اکرم روسته د امت مشري د حضرت علي او ورپسې د همدې کورنۍ امامان دي.

## د حضرت نوح د بېړۍ حديث

په دې حديث کې حضرت ابوذر وايي، چې د خدای رسول وويل: زما کورنۍ او اهل بيت د نوح د بېړۍ په څېر دي؛ چاچې ترې ګټه واخسته؛ نو خلاصون به مومي او څوک چې ترې بېل شو، ډوب به شي. [۲]
خبر يو، چې په هغه توپان کې يوازې د حضرت نوح بېړۍ د خلکو د خلاصون وسيله وه او له دې حديثه جوتېږي، چې که تر پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم روسته په امت کې يې توپانونه راوالوتل؛ نو د خلاصون لار يې يوازې د پېغمبراکرمصلی الله عليه و آله وسلم په اهل بيتو پسې تلل دي.

---

[۱] مشکوة المصابيح، ۵٦۸ مخ د دهلي چاپ. رياض النضره، ۲ټوک، چې ده هم له مسلم او ترمذي راخستی دی.
[۲] (مستدرک حاکم، ۳ټوک، ۱۵۱ مخ)

## دولس امامان

**روايتونه:**

د حضرت علي د مشرى تر جوتېدو روسته، د نورو امامانو د مشرى خبره رامنځ ته کېږي.
په دې باب لنډ بحث دادی:
۱-د شيعه اوسني په روايتونو کې تر پېغمبراکرم روسته د دولس تنو امامانو په باب خبرې شوي، چې دا حديثونه د اهل سنتو په مشهورو کتابونو؛ لکه صحيح بخاري، صحيح ترمذي، صحيح مسلم، صحيح ابي داوود او د احمد حنبل په مسند کې هم راغلي دي.
د ((منتخب الاثر)) په کتاب کې په دې هکله ۲۷۱ حديثونه رانقل شوي، چې ډېرى يې د اهل سنتو له سرچينو او څه يې له شيعه و راخستل شوي دي.
په صحيح بخاري کې، چې تر ټولو مشهورکتاب دی، راغلي: حضرت جابر بن سمره وايي: له پېغمبراکرم نه مې واورېدل: تر ما روسته به دولس اميران راځي، بيا يې يوه جمله وويله، چې وامې نه ورېده، چې پلار مې راته وويل: هغوی ټول له قريشو دي. [1]
په صحيح مسلم کې هم همدا حديث رانقل شوی، چې حضرت ((جابر)) وايي: له پېغمبراکرم نه مې واورېدل: اسلام به تل عزيز وي، چې دولس خليفه ګان اوځايناستي يې وي، بيا يې يوه خبره وکړه، چې پرې پوه نه شوم او له پلاره مې وپوښتل او راته يې وويل: پېغمبراکرم وويل: هغوی ټول له قريشو دي. [2]
د امام احمد په مسند کې له حضرت عبدالله بن مسعود روايت دی، چې د خلفاوو په باب د خدای رسول وپوښتل شو، ويې ويل: هغوی دولس تنه دي؛ لکه د بني اسرائيلو مشران، چې دولس تنه وو. [3]

**د حديث منځپانګه:**

دا حديث، چې په ځينو کې يې د اسلام عزت په دولس ګونو امامانو کې ګڼلی او ځينې وايي، چې د قيامت تر ورځې د اسلام ژوند په دې دولس امامانو پورې اړه لري او ټول له قريشو ګڼل

---

[1] صحيح بخاري، ۹ جز، کتاب الامقام، ۱۰۰ مخ.
[2] (صحيح مسلم، کتاب الاماره، باب الناس تبع لقريش).
[3] (د امام احمد مسند، احلبد، ۳۹۸مخ).

شوي او په ځينو روايتونو کې ټول له ((بني هاشمو)) ګڼل شوي، د اهل سنتو عالمان ددې حديث په تفسيرکې په ټپه ولاړ دي، ايا له دولسو تنو امامانو مطلب څلور ګوني خلفا او اموي او عباسي خلفا دي؟

د اوسني افغانستان ستر حديثپوه ((شيخ سليمان بن ابراهيم قندوزي حنفي)) د ((ينابيع الموده)) په کتاب کې دا پوښتنه ځوابوي: ځينو څېړونکيو ويلي دي: دا حديث ډېر مشهوردی، چې تر رسول الله روسته خلفا دولس تنه دي، چې دا حديث له بېلابېلو لارو روايت شوی؛ خو څه چې د وخت په تېرېدو جوتېږي دادي، چې له دې حديثه مراد له اهل بيتو او عترته دولس ځايناستي دي؛ ځکه امکان نه لري، چې دا حديث پر لومړيو څلورو خلفاوو تطبيق شي؛ ځکه هغوی تر څلورو تنو زيات نه دي او همداراز پر امويانو هم نه تطبيقېږي؛ ځکه تر دولسو تنو ډېر دي او بې له عمر بن عبدالعزيز، ټول ظالمان ول او بله داچې بني هاشم نه ول؛ ځکه د خدای رسول ويلي، چې هغوی به له بني هاشمو وي؛ لکه ((عبدالمالک بن عمر))، چې له ((جابربن سمرة)) روايت کړی او د ټبر د پوښتې په باب د پېغمبراکرم ورو ځواب، د همدې خبرې شاهد دی؛ ځکه ځينې د بني هاشمو پرخلافت خوښ نه ول، دغسې دا حديث پر عباسيانو هم د تطبيق وړ نه دی؛ ځکه شمېر يې تر دولس تنو ډېر و او پردې سربيره، د مودت ((قُل لاَ أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْراً إِلاَّ الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبىَ)) (شوری / ۲۳) آيت يې عملي نه کړ او د کسا حديث يې هم شا ته واچاوه!

او همدارارز د ينابيع الموده په کتاب کې د ((مناقب)) له کتاب څخه يو بل حديث راغلی، چې د دولس تنو امامانو نومونه او لقبونه راغلي او د حضرت مهدي غيبت او پاڅون ته پکې اشاره شوې ده.[1]

البته په دې باب شيعه و هم ډېر حديثونه راختسي دي. که څوک ومري او د خپل وخت امام ونه پېژني. . . . بله خبره داچې د اهل سنتو په کتابونو کې له پېغمبراکرمصلی الله عليه و آله وسلم څخه روايت شوي، چې: که څوک بې له امام درلودو ومري؛ نو د جاهليت پرمرګ به مړشوی وي.[2]

دا حديث ښيي، چې په هر وخت کې يو پاکلمنی مشر شته، چې بايد وپېژندل شي او نه پېژندل يې دومره تاوان لري، چې انسان د کفر او جاهليت تر پولې هم رسوي.

ايا له دې حديثه مراد هغه واکمنان دي، چې واکمني يې کوله؛ لکه چنګيز، هارون او. . . . .؟

---

[1] (ينابيع الموده، ٤٤٢)

[2] (بحارالانوار- ٦جلد -١٤ مخ)

شک نشته چې ددې پوښتنې ځواب منفي دی؛ ځکه دا واکمنان سم خلک نه ول؛ نو که له دوی لاروي وشي؛ نو ځای به مو نېغ په دوزخ کې وي؛ نو ځکه په هر وخت کې یو پاکلمنی مشر شته، چې باید وپېژندل شي او مشري یې وپېژندل شي.

## دولسم امام؛ حضرت امام مهدي

د شپې تياره به لنډه شي!

اوسنۍ اوضاع ته چې گورو ظلمونه، جنايتونه، وژنې، جگړې، وينې توېدنې، نړيوال اړپېچونه، او اخلاقي فسادونه ورځ تر ورځې زياتېږي؛ نو انسان له ځانه پوښتي: ايا دا وضع به همداسې دوام مومي او ددې جنگونو، اړپېچونو او فسادونو لمن به دومره پراخه شي، چې بشري ټولنه به پر يوې دايمي جگړې بوخته او له منځه ولاړه شي؟ که نه د خلاصون او سمونې لپاره هم هيله شته؟

دې مهمې پوښتنې ته دوه ځوابونه شته: لومړی ځواب، چې له بدوينانو او ماده پالو له لوري مطرحېږي دادی، چې د نړۍ راتلونکې تياره ده او په هر وخت کې د هر خطراحتمال شته؛ خوهغوی چې د اسماني اديانو پر بنسټونو گروهه لري، په تېره مسلمانان او په مسلمانانو کې شيعيان، دې پوښتنې ته يوبل ځواب لري او وايې: د شپې دا تياره پای ته رسېدونکې ده او د توحيد او هيلې سهار راتلونکی دی.

نړۍ د يو سمونپال (مصلح) پر تمه ده، چې په يوه پاځون به دنيا له حق او عدالته ډکه کړي.

## خطر او د ستر سمونپال راتگ

باطني الهامات، چې کله يې قضاوت ترعقله هم قوي وي، نه يوازې د خدای پېژندنې په مساله کې؛ بلکې په ټولو اعتقادي مسلو کې زموږ لارښودېدای شي، چې په دې مساله کې هم زموږ لارښود دی او نښې يې دا دي:

۱-د ټولو له نړيوال عدالت سره مينه ده؛ ځکه د نړۍ ټول خلک له دې ټولو اړپېچونه سره سره، چې په خپلو منځونو کې يې لري، له سولې او عدالت سره مينه لري، موږ ټول چغې وهو او په دې لار کې کوښښ کوو، چې په دنيا کې سوله او عدالت راشي. د بشر سمونپال (مصلح) لپاره ددې مسالې له فطري والي بل قوي دليل نه پيدا کېږي؛ ځکه يوه غوښتنه، چې په هر ځای کې عمومي شي؛ نو فطري والی يې راښيي..

د هرې فطري مينې سرچينه په بهرنۍ معشوقې او د هغې په جاذبه او راښکوونې کې ده.

دا به څرنگه امکان ولري، چې خدای په انسان کې دا تنده پيدا کړې وي؛ خو په بهر کې يې داسې چينه ورته نه وي جوړه کړې، چې تنده پرې ماته کړي.

ځکه وایو، چې د انسان عدالت غواړی فطرت چغې وهي، چې بالاخره پرنړۍ به عدالت واکمن او د ظلم او تېري تغر به ټول شي او بشریت به په یوه ستر هېواد کې تر یو بېرغ لاندې یو له بل سره تفاهمي ژوند وکړي.
۲: ټول ادیان او مذاهب یو نړیوال سمونپال ته پر تمه دي، چې تقریباً په ټولو مذاهبو کې په دې باب اوږده بحثونه شته او د یو ژغورندویه پر راښکارېدو ایمان لري، چې راځي به او د بشریت پر ټپونو به ملهم ږدي. دا گروهه نه یوازې په مسلمانانوکې؛ بلکې اسناد راښیي، چې دا یو عمومي او له پخوا راروانه عقیده ده، چې په لویدیځ او ختیځ کې پرې ټول گروهن ول؛ خو داچې اسلام ترټولو بشپړ دین دی، پردې خبره تر ټولو ډېر ټینگار لري.
د ((زرتشتیانو)) په مشهور کتاب ((زند)) کې د ایزدان او اهریمنانو د همېشنۍ مبارزې په باب وایي:
((ستر بری د ایزدانو دی او اهریمنان به له منځه یوسي))
((نړۍ به خپلې اصلي نېکمرغۍ ته ورسي او نېکمرغۍ به پرتخت کېني!))
د ((جاماسب نامه)) په کتاب کې له ((زرشت)) څخه نقل شوي دي: ((پرځمکه به انسان راشي، چې د ستر سرخاوند، ستر بدن او غټې پښې به لري او د خپل نیکه پر دین به وي اوځمکه به له عدالته ډکه کړي)).
د((هندوانو)) په کتاب ((روشن جوک)) کې راغلي: ((آخر به دنیا د یو داسې انسان لاس ته ورپرېوځي، چې پرخدای گران دی او د خدای نژدې بنده دی)).
د هندوانو په بل کتاب ((باسک)) کې راغلي: په اخره زمانه کې به یو عادل پاچا راشي، هغه د پېریانو او انسانانو مشر دی، په رښتیا چې حق به ورسره وي او ټول هغه به لاس ته راوړي، چې په غرونو، ځمکې او سمندرونو کې پټ وي او څه چې په ځمکو او اسمانو کې دي، ترې خبر دی او تر هغه به بل ستر دنیا ته رانشي!))
د داود په ((مزامیر)) کتاب کې، چې دپخوا زماني کتاب دی (تورات او ملحقات یې) راغلي دي: د اشرارو لاس به لنډ شي؛ خو پرخدای توکل کوونکي به د ځمکې وارثان شي)). د هماغه کتاب په هماغه فصل کې راغلي دي: ((صدیقان به د ځمکې وارثان او پکې مېشت شي)).
دې خبرو ته ورته د تورات په ((اشیعای نبي)) او دانجیل د ((متی)) په (۲٤) فصل کې هم راغلي دي: لکه څرنگه چې رڼا له ختیځه راخېژي او تر لویدیځ پورې ښکاري؛ نو د انسان زوی به هم داسې شي.....))

د((لوقا)) انجيل په دولسم فصل کې راغلي: ملا مو تړلې او څراغونه مو بل وساتئ او د هغوی په څېر شئ، چې د خپل بادار د راتگ پر تمه وي؛ نو چې هر وخت راغی او ور يې وواهه، بې ځنډه ورته ورخلاص کړئ))!
د((علايم الظهور)) په کتاب کې راغلي دی: د چينيانو په پخوانيو کتابونو، د هندوانو په عقيدو، د اسکندناوي په مرشتو خلکو او د مصر په پخوانيو خلکو او د مکزيک په اوسېدونکيو کې د يو نړېوال سمونپالپر راتلو عقيده موجوده ده)).

## عقلي دلايل:

الف -د خلقت نظام راښيي، چې بالاخره بايد بشري نړۍ د عدالت قانون ته پرگونډو شي او د سمونپال عادلانه او پايښتي نظام ته تسليم شي.
د هستۍ نظام ترهغه چې خبر يو، د نظامونو يوه ټولگه ده، چې پرنړۍ د منظمو قوانينو واکمني ددې نظام پر يوالي دليل دی.
د نظم، قانون، برنامې او حساب مساله ددې نړۍ ترټولو بنسټيزه او جدي مساله شمېرل کېږي.
له سترومنظومو نيولې تريوه اتوم پورې، ټول د يو دقيق نظام اېل او تابع دي.
زموږ د بدن بېلابېل غړي، له يوې حجرې نيولې تر سترو غړيو داسې نظم لري، چې د ځينو پوهانو د وينا له مخې، د يوساعت په څېر ډېر دقيق کارکوي، چې کامپيوتر يې په پرتله هېڅ هم نه دی.
ايا په داسې نړۍ کې، چې انسان د ((کل)) يو ((جز)) يې دی، کړای شي د يوې بېلې ټوټې په څېر په جگړې، ظلم او گډوډۍ کې ژوند وکړي؟!
ايا بې عدالتي، اخلاقي فسادونه او ټولنيز فسادونه، چې يو ډول بې نظمي ده، تل کړای شي پربشري ټولنې واکمني وکړي؟!
پايله داچې د خلقت نظام مو پام دې خبرې ته وراړوي، چې بالاخره انساني ټولنه به نظم او عدالت ته پر گونډو شي او د خلقت اصلي بهيرته به ورستنه شي!
ب: د ټولنو د پرمختگ يو بل دليل د نړۍ پر روښانه راتلونکې کې دی؛ ځکه موږ هېڅکله له دې حقيقت انکار نه شو کړای، چې بشري ټولنې له هغې ورځې، چې ځان پېژندلی، کله هم په يوه پړاو کې نه ده درېدلې او تل د پرمختگ پرحال وه.

په مادي اړخونو کې، د هستوګنې له نظره، جامه، خواړه، د لېږد وسایل، د تولید وسایل؛ یوه ورځ په ډېر لومړني بڼه ول؛ خو نن داسې ځای ته رسېدلي، چې عقلونه ورته حیرانېږي او ښکاره ده، چې پرمختګ به همداسې دوام مومي.
د علوم او فرهنګي اړخ هم تل د پرمختګ په حال کې دي او هره ورځ یو نوی څیز کشفوي، چې د بشپړتیا او پرمختګ په دې قانون کې معنوي، اخلاقي او ټولنیز پرمختګونه هم شاملېږي او انسانیت، د یو عادلانه پایښتې سولې، عدالت، معنوي او اخلاقي فضایلو پر لوري، پرمخ بوځي او که نن ګورو، چې هره ورځ بدۍ ورځ پرورځ زیاتېږي، چې دا پخپله د یو بشپړیز انقلاب لپاره په ورو ورو لار هوارېدل دي.
هېڅکله مې خبره دا نه ده، چې خلک دې فساد ته وهڅول شي؛ خو وایم چې که له حده واوخوته؛ نو غبرګون به یې د یو اخلاقي انقلاب په بڼه وي؛ نو انسانان چې د خپلو ګناهونو په ناوړو عواقبو کې راګېر شول او سر یې پرتیره ولګېد او پوزې ته راورسېدل؛ نو د الهي مشر له اړخه به دداسې اصولو منلو ته چمتو شي.

## قرآن کريم او د امام مهدي راتگ

په دې اسماني کتاب کې ددې نړيوال سمونپالد راتگ په باب ډېر آيتونه راغلي، چې موږ يې پر يوه قناعت کوو:
((وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً يَعْبُدُونَنِي لاَ يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ(نور/۵۵) - خدای له تاسې له هغو کسانو سره، چې ايمان يې راوړی او ښه کارونه يې کړي، وعده کړې، چې هرومرو به يې پر ځمکه واکمن کړي؛ لکه چې تر هغوی مخکښنيو ته يې د ځمکې خلافت ورکړی و او خپل دين به يې ورته چې خدای غوره کړی، د هغوی د گټې لپاره پر پښو (پر ټينگو بنسټونو) ودروي او د وېرې حالت به يې پر ډاډ واړوي (داسې) چې يوازې ما لمانځي او له ما سره به هېڅ شريك نه کړي او څوك چې تردې روسته کافر شي؛ نو همدوی فاسقان دي.))
دا آيت راښيي، چې بالاخره به د ځمکې واکمني د ظالمانو له لاسه لنډه شي او صالح مؤمنان به پرې واکمن شي.
د همدې آيت په دوام کې پردې سربېره، درې نورې وعدې هم ورکول شوي؛ په زړونو کې د((الله)) د حکومت معنوي نفوذ. (وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ) هر ډول نا امني به پرامنيت واوړي (وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً) له ځمکې د شرک د جرړو رانړېدل (يَعْبُدُونَنِي لاَ يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً).
امام علي بن الحسين د پورتني آيت په تفسير کې وويل: ((پرخدای قسم، چې دا ډله زموږ له لارويانو ده او خدای به زموږ د کورنۍ په يوه سړيدا خبره پلي کړي او هغه ددې امت مهدي دی [1])).

## امام مهدي، په احاديثو کې

په دې باب د شيعه او سني په سرچينو کې ډېر روايتونه راغلي، چې د ((تواتر)) له بريده وتي دي او په دې باب حديثونه، چې هغه دولسم امام او د پېغمبر ځايناستی او د امام حسين نهم

[1] وگورئ: په تفسير مجمع البيان کې د نور سورت تر۵۵ آيت لاندې.

اولاد او د امام حسن عسکري زوی دی. د شیعه وو په سرچینو کې هم متواتر دي، د اهل سنتو په سرچینو کې ددې حدیث د تواتر په هکله دومره بس دی، چې د اهل سنتو عالمانو په خپلو کتابونو کې دا خبره سپینه کړې ده، تردې چې د ((رابطة العالم اسلامی)) په رساله کې، چې دحجاز یو ستر دیني مرکز دی راغلي: هغه له دولس گونو راشده خلفاوو روستی خلیفه دی، چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په صحیحو روایتونو کې په باب یې خبر راکړی او د مهدي حدیث د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم له ډېرو اصحابو هم رانقل شوی دی او روسته تردې، چې د ۲۰ تنو راوي اصحابو نومونه راوړي، وایي: بې له دوی، نورو هم دا حدیث رانقل کړی، ځینو د اهل سنتو عالمانو د مهدي په باب ځانگړې کتابونه لیکلي؛ لکه ابو فهیم اجهاني، ابن حجرهیثمي، شوکاني، ادریس معزبي او ابو لعباس ابن عبدالمؤمن، بیا زیاتوي:
یو شمېر پخواني او اوسني سني عالمان د مهدي د حدیث پر((متواتر)) والي ټینگار کوي او بیا د همدې عالمانو د نوم او وینا تر راوړو روسته خپل عبارت ته داسې دپای ټکی ږدي: یوه ډله حفاظ او محدثین په ډاگه دا خبره کوي، چې د مهدي حدیثونه هم صحیح دي اوهم حسن، چې ددواړو ټولگه بیخې متواتره ده او د مهدي په راتگ گروهه لازمه ده او دا د اهل سنت او جماعت غوڅه گروهه ده او بې له ناپوهو او بدعتگرو ټول پرې گروهن دي.))

## امام مهدي، د شیعیانو په منابعو کې

تر همدې حده بسیا ده، چې پوه شو، په دې باب تر سلو زیاتو راویانو له پیغمبراکرم او معصومو امامانو رانقل کړي دي، چې د تواتر له پولې هم اوختي دي او شیعه دا مسئله د خپل مذهب له ضروتونو گڼي، چې داسې څوک به پکې پیدا نه کړې، چې د امام مهدي پر راتگ به ایمان نه لري او ترې خبرنه وي. له پخوا نه د شیعه وو سترو عالمانوپه دې باب کتابونه لیکلي دي او په دې باب یې حدیثونه راغونډ کړي دي. موږ دبېلگې لپاره یو څو حدیثونه راوړي دي، که مینوال غواړي؛نو د نورې مطالعې لپاره دې کتابونو ته مراجعه وکړي: ((مهدی انقلاب بزرگ))، ((نوید امن وامان)) او د ((المهدی)) د کتاب ژباړه.
د خدای رسول وویل: که د ځمکې د عمر یوه ورځ پاتې وي؛ نو خدای به یې دومره اوږده کړي، چې زما له کورنۍ یو معبوث کړي، چې ځمکه لکه څنگه چې له ظلمه ډکه شوې وي، بېرته له عدله ډکه کړي.

د امام صادق وینا ده: چې قایم آل محمد راشي؛ نو د حکومت بنسټ به یې عدالت وي، پر مهال به یې د ظلم جرړې راونړېږي، د وجود له برکته به یې په هرځای کې امن وي، ځمکه یې له برکته خپل برکتونه راباسي اوحق به حقدار ته ورسي او د حضرت داوود علیه السلام او حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم په څېر به په خلکو کې قضاوت کوي؛ په دې وخت کې به ځمکه خپلې زېرمې رابرسېره کړي او خپل برکتونه به رابرښه کړي اوڅوک به د صدقې او انفاق لپاره مستحق پاتې نشي؛ ځکه ټول مؤمنان به غني، ماړه او مړه خوا شي[1].

پوهیږو، چې د امام مهدي په غیبت کې، د امامت او ولایت لیکي ته تداوم ورکونکي یې، "عام نواب"؛ یعنې علماء اوفقهاء دي.

[1] (بحارلانوار – ۱۳جلد (پخوانی چاپ)

## د امامت ماناوې او پړاوونه

پر امامت مو بحث دی. په شیعه وو کې د امامت مسئله خورا ارزښت لري او نورې اسلامي ډلې ورته دومره پر ارزښت قایل نه دي او د خبرې راز په دې کې دی، چې له امامته د شیعه وو مفهوم، له نورو ډلو سره توپیر لري؛ البته ګډ اړخونه هم لري؛ خو د امامت په هکله د شیعه وو په ګروهو کې یو ځانګړی اړخ هم شته، چې له همدې اړخه امامت په کې فوق العاده (سربانديې) ازرښت موندلی دی.

د بېلګې په توګه: موږ چې کله د شیعه مذهب له نظره د دین اصول بیانوو؛ نو وایي: "توحید"، "نبوت"، "معاد"، "عدل" او "امامت" او امامت هم ددین په اصولو کې شمېرو. اهلسنت هم پر یو ډول امامت قایل دي او له بېخه له امامته منکر نه دي؛ خو امامت ته پر یوه بله بڼه قایل دي؛ خو نه په دې بڼه، چې د دین اصول یې وګڼي؛ بلکې د دین فروع یې ګڼي. بالاخره موږ د امامت په اړه له اهلسنتو سره اختلاف لرو؛ هغوی یو ډول امامت مني او موږ بل ډول.

څنګه شیعه امامت د دین اصول ګڼي او اهلسنت یې فروع؟ علت یې هماغه دی، چې و مې ویل: پر کوم مفهوم، چې شیعه امامت ته قایل دي، له هغه مفهوم سره توپیر لري، چې اهلسنتو ورته قایل دي.

*** د امام مانا**

د ((امام)) د ټکي مانا ((پیشوا: مشر، مخکښ)) دی او په پارسي کې د ((پیشوا)) ټکی د ((امام)) د ټکي تحت الفظي مانا ده. پخپله د ((پیشوا: مشر، مخکښ)) او ((امام)) ټکی سپېڅلی مفهوم نه لري. پیشوا؛ یعنې پیشرو؛ یوه ډله یې تابع او لاروی ده که اوس دا پیشوا عادل او لارموندلی وي او که بې لارې وي.

قرآن هم د امام ټکی په دواړو ځایونو کې کارولی. په یو ځای کې وایي: ((وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ (انبیاء/۷۳): او موږ هغوی لارښوونکي کړل، چې زموږ په امر یې (خلکوته) لار ښوونه کوله او موږ ورته د ښو چارو د کولو او لمونځ درولو او زکات ورکولو وحې وکړه او یوازې زموږ لمانځونکي وو.))

په بل ځای کې وایي: ((وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يُنصَرُونَ (قصص/٤١): او موږ هغوی[فرعونیان] د اور پر لور د بلنې مشران وګرځول او د قیامت پر ورځ به ورسره هېڅ مرسته ونشي.))

یا د بېلګې په توګه فرعون ته یې د امام ټکی کارولی دی: ((يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ (هود/۹۸): د قیامت پر ورځ به فرعون د خپل قوم مخکښ وي او (د جنتي رڼو چینو پرځای به) هغوی دوزخ ته ننباسي او څوک چې ورننوتي (؛ نو ورته) څومره ناوړه ننوتون دی.))

نو د امام ټکی د مخکښ په مانا دی؛ موږ اوس له "باطل مخکښ" سره کار نه لرو او د مخکښ پر مانا به رڼا واچوو.

"مخکښي" په څو ځایونو کې ده، چې په ځینو مواردو کې اهلسنت هم پر امامت قایل دي؛ خو په څرنګوالي او شخص کې راسره اختلاف لري؛ خو د امامت په ځینو مفاهیمو کې له بېخه له داسې امامته انکار کوي؛ د ټولنې د مخکښ په مانا امامت هغه امامت دی، چې اهلسنت یې هم مني؛ خو په څرنګوالي، بڼه او شخص کې راسره اختلاف لري، چې په همدې تعبیر او دې په ورته تعبیرونو کې د پخوانیو متکلمینو په کتابونو کې راغلي دي. "خواجه نصیرالدین طوسي" په "تجرید" کې امامت داسې تعریفوي: ((رياسة عامة))؛ یعنې عمومي ریاست.

## د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم شئون

پېغمبراکرم په هغو ځانګړنو، چې په اسلام کې وې، پخپل وخت کې يې څو دندې درلودې او څو پوستونه يې اداره کول. د خدای له لوري يې لومړی پوست پېغمبري وه؛ يعنې الهي احکام يې بيانول. قرآن کريم وايي:
((مَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاء مِنكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (حشر/۷): څه چې خدای ددغو کليو له اوسېدونکيو خپل استازي ته را اړوي؛ نو هغه د خدای او د(هغه) د استازي او خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او پرديسانو لپاره دي، چې (دا ډېره شتمني) ستاسې د بډايانو ترمنځ لاس په لاس نشي او څه چې تاسې ته د (خدای) استازي راوړي دي؛ نو هغه واخلئ (او عمل پرې وکړئ) او چې له څه مو منع کوي؛ نو ډډه ترې وکړئ او د خدای له (مخالفته) ځان وساتئ؛ خدای سخت عذابی دی.))
يعنې پېغمبراکرم، چې کوم احکام وايي، د خدای له لوري يې وايي او له دې نظره پېغمبراکرم يوازې د هغه څه بيانوونکی دی، چې وحې يې ورته کېږي.
د پېغمبراکرم بل منصب د قضا و؛ هغه د مسلمانانو قاضي و؛ ځکه د اسلام له نظره قضاوت څه اسان چار نه دی، چې د دوو تنو اختلاف پيدا شو؛ نو يو تن يې قاضي کېدای شي.
د اسلام له نظره قضاوت يو الهي شان دی؛ ځکه پر عدل حکم کول دي او قاضي هغه دی، چې په دښمنيو او اختلافونو کې پر عدل حکم کوي. دا منصب هم د قرآن له مخې پېغمبراکرم ته ورکړ شوی و او د خدای له لوري يې حق درلود، چې د خلکو په اختلافونو کې قضاوت وکړي. دا هم يو الهي منصب دی نه عادي. پېغمبر اکرم عملاً هم قاضي و.
((فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا(نساء/۶۵): خو داسې نه ده، پر پالونکي دې قسم، چې هغوی به تر هغه (حقيقي) ايمان را نه وړي، چې د خپلمنځي شخړو پرېکړو ته، تا پريکړه کوونکې نه کړي او بيا دې د پرېکړو پر وړاندې ځانونه تنګ (زړي او خپه ونه مومي) او بيخي ورته غاړه کېږدي.))
عامه رياست بل منصب دی، چې د قرآن له مخې رسماً ورکړ شوی و؛ هغه د مسلمانانو د ټولنې مشر او مدير و.
((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً (نساء/۵۹): مؤمنانو! د خدای اطاعت وکړئ او د پېغمبر او د اولوالامر [: د پېغمبر وصيان] اطاعت وکړئ

او که ستاسې ترمنځ په کومه چاره کې شخړه پېښه شي (؛ نو د منځګړتوب لپاره) خدای او رسول ته مخه وکړئ که (په رښتیا) پر خدای او د اخرت پر ورځ ایمان لرئ. دا (کار) تاسې ته غوره دی، عاقبت او پای یې هم ډېره ښه ده.))
داچې وایو درې شانه، په اصطلاح تشریفات دي؛ بلکې څه چې له پېغمبراکرمه رارسېدلي، درې ډوله دي:
یو: د پېغمبراکرم وینا یوازې الهي وحې ده. دلته پېغمبر له ځانه هېڅ واک نه لري؛ د خدای له لوري حکم راغلی، پېغمبراکرم یوازې د ابلاغ وسیله ده؛ لکه په هغو ځایو کې، چې دیني احکام وایي: لمونځ وکړئ، روژه ونیسئ او. . . . په هغه ځای کې، چې د خلکو ترمنځ قضاوت کوي؛ نو قضاوت یې وحې کېدای نشي. دوه تنه اختلاف کوي او پېغمبراکرم یې د اسلامي احکامو له مخې ترمنځ قضاوت کوي او وایي، چې حق د چا دی. دلته داسې نه ده، چې حضرت جبرائیل علیه السلام به د خدای له لوري وحې راوړي، چې حقوال څوک دی. که کومه استثنا وي؛ هغه بېله خبره ده؛ خو په ټولیزه توګه د پېغمبر اکرم قضاوتونه د ظاهر له مخې ول؛ لکه څنګه چې نور قضاوت کوي؛ خو په غوره او لوړه کچه. پخپله یې ویل: ګمارل شوی یم، چې د ظاهر له مخې حکم وکړم؛ یعنې یو مدعي او یو منکر پیداکېږي او د بېلګې په توګه مدعي دوه عادل شاهدان لري؛ نو پېغمبر اکرم د همدې شاهدانو د شاهدې له مخې قضاوت کوي او دا هغه حکم دی، چې پېغمبر ورکړی دی؛ نه داچې وحې ورته شوې ده.
په درېیم شان کې هم داچې پېغمبراکرم د ټولنې مشر دی؛ نو که کوم حکم کوي، بې له هغه فرمانه دی، چې خلکو ته پکې د خدای حکم اوروي. خدای ورته د داسې مشرۍ واک ورکړی دی. داځکه چې مشر دی، کار کوي؛ نو احیاناً سلامشوره هم کوي؛ ګورو، چې پېغمبراکرم په ډېرو چارو او جګړو؛ لکه بدر، احد او خندق کې له یارانو سره مشوره کوي. د خدای په حکم کې مشوره نشي کېدای. آیا کله پېغمبراکرم له یارانو سره په دې هکله مشوره کړې، چې د ماښام لمونځ داسې وکړو که هاغسې؟؛ بلکې کله به داسې چارې راپېښېدې، چې په هکله به یې خبرې کېدې؛ نو ویل یې، چې دا چارې په ما پورې اړوند نه دي، د خدای له لوري داسې دی او بې له دې کېدای هم نشي؛ نو که د کوم چار په هکله پېغمبر اکرم فرمان ورکړ، چې داسې وکړئ؛ نو دا حکم د هغه واک له مخې دی، چې خدای ورکړی دی او که په کوم ځانګړي چار کې وحې شوې وي؛ نو دا استثناء ده او استثنایي اړخ لري؛ نه داچې د ټولنې د مشر په نامه په هر چار کې ورته وحې کېده، چې دلته داسې وکړه او هلته هاغسې او په داسې چارو کې هم پېغمبراکرم یوازې پېغام رسوونکی وي.

## د ټولنې د مشرۍ په مانا، د امامت مانا

په لومړۍ مانا امامت د "عامه رياست" په مانا دی؛ يعنې پېغمبر اکرم، چې له دنيا ولاړ شي؛ نو يو له هغو شئونو، چې بلاتکليفه پاتې کېږي همدا د ټولنې مشري ده. ټولنه مشر غواړي او په دې کې څوک هم شک نه لري. تر پېغمبراکرم روسته د ټولنې مشر څوک دی؟دا هغه چار دی، چې اصل يې هم شيعه مني او هم اهلسنت؛ هم شيعه مني، چې ټولنه ستر او تکړه مشر ته اړينه ده او هم اهلسنت او له همدې ځايه د خلافت مسئله مطرح ده. شيعه وايي: پېغمبراکرم تر ځان روسته ټولنې ته مشر ټاکلی دی او ويلي دي، چې تر ما روسته به د مسلمانانو د مشرۍ چارې حضرت علي کرم الله وجهه سمبالوي او اهلسنت په منطقي اختلاف دا مطلب هاغسې نه مني، چې شيعه يې مني او وايي: پېغمبر اکرم تر ځان روسته مشر نه دی ټاکلی او پخپله د مسلمانانو دنده وه، چې تر ځان روسته د ټولنې مشر وټاکي؛ نو اهلسنت ورونه هم د امامت مسئله –چې مسلمانان بايد مشر ولري _ مني؛ خو وايي، چې مشر په هغه بڼه ټاکل کېږي او شيعه وايي، چې په دې بڼه ټاکل کېږي او مشر پېغمبر اکرم په الهي وحې ټاکي.
که د امامت مسئله تر همدې بريده وه؛ يعنې خبره يوازې تر پېغمبر اکرم روسته د مسلمانانو د مشرۍ وه؛ نو شيعه وو به هم امامت د دين په فروعو کې ګڼه؛ نه د دين په اصولو کې؛ خو شيعه چې پر امامت قايل دي؛ يوازې پردې بسيا نه کوي، چې حضرت علي کرم الله وجهه د پېغمبر اکرم يو صحابي و او حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض)، حضرت عثمان (رض) او په سلګونو نور کسان او ان حضرت سلمان (رض) او حضرت ابوذر (رض) هم د پېغمبراکرم اصحاب ول؛ خو حضرت علي کرم الله وجهه تر ټولو غوره و او پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم هم ټاکلی و.
نه! شيعه پردې بسيا نه کوي او دوه نورې مسئلې وايي، چې اهلسنت بېخي پرې د يو چا په هکله هم قايل نه دي او نه داچې قايل نه دي، له علي کرم الله وجهه يې نفې کوي هم، چې يوه يې امامت؛ "د مسلمانانو د ديني مرجع" په مانا ده.

## امامت، د ديني مرجعيت په مانا

و مو ويل: پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم د وحې مبلغ و. چا چې د اسلام په هکله پوښتنه درلوده؛ نو پېغمبراکرم يې پوښته او د هغه څه په هکله يې پېغمبر اکرم پوښته، چې په قرآن کريم کې به نه ول. مسئله داده، چې آيا هغه احکام او ښوونې، چې اسلام غوښتل خلکو

ته يې ووايي، په قرآن کريم کې راغلي او پيغمبر اکرم خلکو ته ويلي دي که نه، څه چې پيغمبر اکرم خلکو ته ويلي، د اسلام ټول احکام نه دي؛ ځکه وخت يې ددې کار اجازه نه ورکوله؛ حضرت علي کرم الله وجهه د پيغمبر اکرم "وصي" و او ټول اسلام او يا لږ تر لږه د اسلام کليات يې ورته ويلي ول او حضرت علي يې پخپل لاس فوق العاده عالم روزلی و، چې تر نورو ټولو اصحابو غوره و او ان د پيغمبر اکرم په څېر نه تېروته او د خدای له لوري به داسې خبره نه وي راغلې، چې علي کرم الله وجهه به ترې بې خبره وي؛ نو پيغمبراکرم تر ځان روسته خپل وصي وښود او و يې ويل: ((خلکو! تر ما روسته، چې د دين په اړه هر پوښتنه لرئ؛ نو زما له وصي؛ علي او زما له اوصياوو يې وپوښتئ.))
دلته په واقع کې امامت د اسلام يو ډول "کارپوهي" ده؛ خو تر "مجتهد" پورته کارپوه؛ د خدای له لوري کارپوهي؛ يعنې هغه وګړي، چې اسلامپوهان دي؛ خو نه هغه اسلامپوهان، چې د خپل عقل او فکر له مخې يې اسلام زده کړې وي_چې قهراً جايز الخطا وي _بلکې هغه وګړي، چې له رمزي او غيبي لارې يې _چې موږ ته مجهول دي_ له پيغمبر اکرمه اسلامي علوم زده کړي وي؛ له پيغمبر اکرمه، علي کرم الله وجهه ته او بيا په ټولو پېرونو کې، روستيو امامانو ته د اسلام پوهه (چې يوه غير مخطي معصومه پوهه ده، چې ښخي نه تېروځي) ور رسېدلي وي.
اهلسنت هېڅا ته پر داسې مقام قايل نه دي؛ نو هغوی په دې ډول امامت کې ښخي د امام پر شتون قايل نه دي؛ نه داچې پر امامت قايل دي او ووايي، چې حضرت علي امام نه دی او حضرت ابوبکر (رض) امام دی. او حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض)، حضرت عثمان (رض) او په ټوليزه توګه يو صحابي ته هم پر داسې شان او مقام قايل نه دي؛ نو ځکه پخپلو کتابونو کې په ديني مسئلو پورې اړوند د حضرت ابوبکر او حضرت عمر تېروتنې رانقلوي؛ خو شيعه خپل امامان له تېروتنې معصوم ګڼي او ناشونې ده، چې خپل امام ته پر تېروتنې قايل شي.
د اهلسنتو په کتابونو کې راغلي، چې حضرت ابوبکر (رض) په پلاني ځای کې تر خپلې تېروتنې روسته وويل: کله راباندې شيطان واکمن شي او تېروځم.)) يا حضرت عمر (رض) تر خپلې تېروتنې روسته وويل: ((دا ښځې تر عمره پوه دي.))
وايي: پر هغه ورځ، چې حضرت ابوبکر (رض) ومړ؛ نو کورنۍ يې او ام المؤمنين عايشې وير کاوه. د ژړا غږونه، چې له کوره راپورته شول؛ نو حضرت عمر (رض) پيغام واستاوه، چې دې ښځو ته ووايه، چې چوپ شي؛ خو چوپ نه شوې، بيا يې پيغام ورواستاوه، چې که چوپ نه شوې؛ نو په کوړه به يې ادب کړم او همداسې يې پرله پسې پيغامونه وراستول. حضرت عايشې بي بي ته وويل شول، چې حضرت عمر ګواښنه کړې، چې چوپ شئ. ام المؤمنين وويل: عمر

ته ووایه، چې راشي، څه وايي؟ حضرت عمر د حضرت عايشې په درناوي ورغی. بي بي ورته وويل: څه وايې او پرله پسې پېغامونه رااستوې؟ حضرت عمر وويل: له پېغمبر اکرمه مې اورېدلي، چې که څوک ومړ او څومره ژړاګانې ورپسې کېږي؛ نو مړی کړوي. بي بي وويل: پوه شوی نه يې، تېروتی يې، خبره بل څه ده او پوهېږم، چې څه خبره ده: يوه ورځ يو خبيث يهودي مړ شوی و او کورنۍ يې ورته وير کاوه؛ پېغمبر اکرم وويل: ((دوی ژاړي؛ خو مړی عذابېږي)) و يې نه ويل، چې د دوی ژړا د مړی د عذاب لامل دی؛ بلکې و يې ويل: دوی ورته ژاړي؛ خو نه پوهېږي، چې مړی يې عذابېږي او دا خبره له دې مسئلې سره څه اړه لري؟ پردې سربېره، که پر مړي ژړل حرام وي؛ موږ ګناه کوو؛ نو خدای ولې زموږ د ژړا په پار، يو بې ګناه وکړوي؟! حضرت عمر (رض) وويل: عجيبه ده؛ نو خبره داسې وه!! ام المؤمنين وويل: هو! حضرت عمر وويل: که ښځې نه وې؛ نو عمر به هلاک شوی وای.
پخپله اهلسنت وايي، چې حضرت عمر تر اوياوو ځلو ډېر وويل: ((لو لا علي لهلک عمر.))
نو هغوی پر داسې امامت قايل نه دي. د بحث منځپانګه دې مانا ته راګرځي، چې مسلماً وحې يوازې پېغمبر اکرم ته راته. موږ نه وايو، چې دولس ګونو امامانو ته وحې کېده. اسلام يوازې پېغمبراکرم بشر ته راوړ او خدای هم هغه څه پېغمبر ته وويل، چې بايد خلکو ته وويل شي او داسې نه ده، چې د اسلام څه احکام پېغمبراکرم ته له ويلو پاتې شوي وي؛ خو آيا داسې احکام پاتې دي، چې لا خلکو ته نه دي ويل شوي؟ د اهلسنتو خبره داده، چې د اسلام احکام هماغه ول، چې پېغمبراکرم اصحابو ته وويل. بيا په هغو مسئلو کې، چې په هکله يې له اصحابو کرامو هم څه نه دي روايت شوي او پکې بند پاتې يو؛ نو څه به کړو؟؛ نو دلته د "قياس" مسئله راننوځي او وايي: موږ دا ستونزه د قياس او پرتلنې په قانون هواروو، چې اميرالمؤمنين په نهج البلاغه کې وايي: ((يعنې خدای نيمګړی دين راولېږه، چې تاسې يې بشپړ کړئ؟!))؛ خو شيعه وايي: نه خدای اسلام، پېغمبر اکرم ته نيمګړی رالېږلی او نه پېغمبر خلکو ته نيمګړی بيان کړی دی. پېغمبر بشپړ خلکو ته بيان کړ؛ خو څه چې پېغمبر اکرم بشپړ بيان کړي؛ ټول هغه څه نه دي، چې عمومو خلکو ته يې وويل (ډېری داسې موضوعات ول، چې ښځي د پېغمبر اکرم پر مهال نه ول پيدا شوي او بيا به يې په هکله پوښتل)؛ بلکې ټول هغه احکام، چې د خدای له لوري ول، خپل ځانګړي زده کوونکي ته يې وښوول او ورته يې وويل، چې ته يې خلکو ته ووايه.
نو دلته د"عصمت" مسئله رامنځ ته کېږي. شيعه وايي: لکه څنګه چې ناشونې وه، پخپله پېغمبر عمداً يا سهواً تېروځي؛ نو ناشونې ده، چې د پېغمبر اکرم ځانګړی زده کوونکی هم تېروځي؛

ځکه لکه څنګه چې له پېغمبر اکرم سره الهي تایید و؛ له شاګرد سره يې هم الهي تایید مل و، چې دا امامت ته یوه بله مرتبه ده.

## امامت، د ولایت په مانا

امامت درېیمه درجه او مقام هم لري، چې د امامت تر ټولو ستر مفهوم دی او د شیعه وو کتابونه ترې ډک دي او د تشیع او تصوف ترمنځ ګډ ټکی دی. البته داچې وایو ګډټکی؛ ناوړه دې تعبیر نشي؛ ځکه شونې ده، چې په دې هکله د مستشرقینو له خبرو سره مخ شئ، چې مسئله په دې همدې بڼه مطرحوي. دا هغه مسئله ده، چې په عارفانو کې خورا مطرح ده او په تشیع کې هم له صدر اسلامه مطرح وه او یاد مې دي، چې کله ښاغلي "کربن" له "علامه طباطبایي" سره مرکه درلوده؛ یوه پوښتنه يې دا وکړه، چې دا مسئله شیعه و له تصوف اخستې او که تصوف له تشیع ؟غوښتل يې ووایي: یو له بله يې اخستې ده.
علامه طباطبایي وویل: تصوف له شیعه و اخستې؛ ځکه مسئله له هغه وخته په شیعه کې مطرح وه، چې لا تصوف نه و رامنځ ته شوی او بیا په تصوف کې مطرح شوه؛ نو که یو له دوی، له بله اخستې وي؛ نو صوفیانو له شیعه و اخستې ده.
دا مسئله ((د کامل انسان)) مسئله ده او په بل تعبیر د زمان د حجت مسئله ده. عارفان او متصوفان په دې مسئله خورا ډېره کوي. مولانا بلخي وايي: ((په هر وخت کې قایم ولي شته)) په هر وخت کې کامل انسان شته، چې د انسانیت د ټولیز معنویت حامل او وړونکی دی، هېڅ وخت بې له کامل انسانه نه وي ((چې کله يې پر "قطب" تعبیروي)) او هغه کامل ولي ته، چې بشپړ انسانیت ورسره دی، یو شمېر مقامات قایل دي، چې زموږ له ماغزو ډېر لرې دي، چې له هغو مقاماتو یو يې پر ضمیرونو؛ یعنې پر زړونو واکمني ده؛ په دې مانا، چې هغه یو ټولیز روح دی، چې پر ټولو روحونو راچاپېر دی.
((ولو لا الحجة لساخت الارض باهلها))؛ یعنې داسې وخت نه و او نه به وي، چې ځمکه بې له کامل انسانه وي او شیعه هغه کامل انسان ته ډېرې مقامات او درجات قایل دي او موږ په ډېری زیارتونو کې پر داسې ولایت او امامت اقرار او اعتراف کوو؛ یعنې ګروهن یو، چې امام له داسې ټولیز روحه برخمن دی. په زیارتونو کې وایو: ((اشهد انک تشهد مقامی و تسمع کلامی و ترد سلامی)) (موږ يې لا مړي ته وایو؛ البته زموږ له نظره مړی او ژوندی يې توپیر نه لري او داسې نه ده، چې ژوندی يې داسې نه و او یوازې مړی يې داسې دی) ګواهي ورکوم، چې دلته مې شتون درک کوې، ګواهي ورکوم، چې وایم: السلام علیک یا علی بن موسی

الرضا؛ نو ته يې اورې. ګواهي ورکوم، چې کوم سلام دربانديې اچوم: السلام عليک؛ نو ځواب يې راکاوې. دا مقام چا ته، څوک هم قايل نه دي او دا مقام اهلسنت (بې له وهابيانو) يوازې پېغمبر اکرم ته قايل دي؛ خو دا خبره د شيعه مذهب له اصولو ده.
نو د امامت مسئله درې درجې مومي او که يو له بله يې بېلې نه کړو؛ نو په هغو استدلالونو کې به تېروځو، چې په دې اړه يې کوو؛ نو تشيع هم درجې او پړاوونه لري. ځينې شيعيان يوازې امامت ته د ټولنې د مشرۍ په مانا ګوري، وايي: پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم حضرت علي کرم الله وجهه تر ځان روسته د ټولنې مشرۍ ته ټاکلی و، چې حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض) او حضرت عثمان (رض) يې ځای ونيو او يوازې همدومره شيعه دي او پر هغه دوو نورو مسئلو ګروهن نه دي او يا يې په هکله چوپ دي. ځينې پر دويم پړاو قايل دي؛ خو دريېم پړاو ته نه رسي؛ خو ډېرى شيعه علماء او شيعيان پر دريېم پړاو ګروهن دي.
که غواړو پر امامت بحث وکړو؛ نو بايد په دې پړاوونو کې بحث وکړو: امامت په قرآن کې، امامت په سنتو کې او امامت د عقل له مخې.
په لومړي پړاو کې بايد وګورو، کوم امامت چې شيعه وايي، په قرآن کې شته که نه؟ او که د قرآن آيتونه داسې امامت راښيي؛ نو آيا امامت يوازې د ټولنې سياسي او ټولنيزې مشرۍ ته وايي که امامت د ديني مرجعيت او ان د معنوي ولايت پر مانا هم دی؟
له دې بحثه، چې راووتو، بايد په سنتو کې امامت ولټوو، چې نبوي سنت د امامت په هکله څه وايي؟ بيا به د عقل له مخې د مسئلې شننه او کره کتنه وکړو، چې عقل په دې درې پړاوونو کې څه مني؟ آيا وايي، چې د ټولنې د مشرۍ په اړه اهلسنت په حقه دي او د پېغمبراکرم ځايناستی بايد د خلکو شورا وټاکي يا پخپله پېغمبراکرم خپل ځايناستی ټاکلی دی.

## د امامت په اړه يو حديث

دا روايت هم شيعه مني او هم اهلسنت او معمولاً هغه حديث ته په ټېټه سترګه نه شو کتلای، چې هم يې شيعه مني او هم اهلسنت؛ ځکه چې کله يې دواړه ډلې روايت کړي؛ نو تقريبا ښيي، چې دا خبره هرومرو پېغمبراکرم يا امام کړې ده. البته عبارتونه لږ څه توپير لري؛ خو مضمون يې يو دی. دا حديث شيعه داسې روايتوي:

من مات و لم يعرف امام زمانه مات ميته جاهلية: څوک چې ومري او د خپلې زمانې امام و نه پېژني؛ نو د جاهليت په مرگ مړ شوی دی.[1]

دا ډېر مضبوط تعبير دی؛ ځکه د جاهليت پر مهال خلک ښځه مشرک ول او ان توحيد او نبوت يې هم نه درلود. دا حديث د شيعه وو په کتابونو کې ډېر راغلی او سل په سلو کې د شيعه مذهب له اصولو سره اړخ لگوي. "کافي" د شيعه معتبر حديثي کتاب دی، چې دا روايت پکې راغلی او مهمه خو داده، چې د اهلسنتو په کتابونو کې هم راغلی دی. اهلسنتو دا حديث په بل عبارت رانقل کړی دی: من مات بغير امام مات ميتة جاهلية: څوک چې بې امامه ومري؛ نو داسې به وي؛ لکه د جاهليت په مرگ، چې مړ شوی وي.[2]

په بل ځای کې يې په دې عبارت رانقل کړی دی: من مات و ليس فی عنقه بيعة مات ميتة جاهلية: هغه چې ومري او پر غاړه يې د امام بيعت نه وي؛ نو د جاهليت په مرگ مړ شوی دی. په کوم عبارت، چې شيعه وو رانقل کړی، اهلسنتو هم رانقل کړی دی: من مات ولا امام له مات ميتة جاهلية. دا عبارتونه خورا ډېری دي او ښيي، چې د پېغمبراکرم خورا دې مسئلې ته پام و.

هغوی چې امامت يوازې د ټولنې مشري گڼي، وايي: وگوره! پېغمبراکرم د مشرۍ مسئلې ته څومره ارزښت ورکاوه، چې گروهن و، که امت مشر و نه لري؛ نو مرگ يې د جاهليت مرگ دی؛ ځکه د اسلامي احکامو سم تفسيرول، د ټولنې په سمې مشرۍ او له مشرۍ سره د خلکو په ټينگو اړيکو پورې اړه لري. اسلام څه وگړيز دين نه دی، چې څوک ووايي: پر خدای او استازي يې گروهن يم؛ نور له هېچا سره کار نه لرم. نه! بې له خدای او استازي يې، بايد هرومرو ځان پوه کړې او و يې پېژنې، چې په دې زمانه کې دې مشر او لارښود څوک دی او قهراً د مشرتوب تر سيوري لاندې يې غورځې پرځې وکړې.

هغوی چې امامت په "ديني مرجعيت" مانا کوي [ددې حديث په مانا کې] وايي: که څوک غواړي دين ولري؛ بايد خپله ديني مرجع وپېژني او پوه شي، چې دين له کومې سرچينې اخلي. داچې انسان دين ولري؛ خو دين له هغه سرچينې واخلي، چې د دين ضد ده؛ نو دا کټ مټ جاهليت دی.

---

[1] وگ: دلا ئل الصدق۱۳/٦.

[2] وگ: د امام احمد حنبل مسند.

هغوی چې امامت په "معنوي ولایت" مانا کوي، وایي: حدیث وایي: که انسان ته د کامل ولي پام نه وي؛ نو داسې دی؛ لکه په جاهلیت چې ومري.

دا حدیث مې په پیل کې ځکه ووایه، چې متواتر دی، چې یوه ذهني سریزه ولرئ، چې روسته پرې بحث وکړو.

# امامت په قرآن عظیم شان کې

په قرآن کریم کې څو آیتونه دي، چې شیعه پرې د امامت په هکله استدلال او استناد کوي:
((إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ (مائده/۵۵): ستاسې ولي او پالندوی خو یوازې خدای، د هغه پېغمبراو هغه مؤمنان دي، چې لمونځونه کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي.))
((إِنَّمَا))؛ یعنې "منحصراً: یوازې". د ((ولي)) اصلي مانا ((پالندوی)) دی. ولایت؛ یعنې تسلط او سرپرستي. ستاسې ولي او پالندوی خو یوازې خدای، د هغه پېغمبر او هغه مؤمنان دي، چې لمونځونه کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي. موږ په اسلام کې داسې حکم نه لرو، چې انسان باید د رکوع په حال کې زکات ورکړي، چې ووایو دا یو ټولیز قانون دی، چې ټول وګړي رانغاړي. دا هغه پېښې ته اشاره ده، چې یوازې یو ځل راپېښه شوه او شیعه او سني داوړو روایت کړې، چې: حضرت علي کرم الله وجهه په رکوع کې و، چې یو سوالګر راغی او سوال یې وکړ، حضرت علي خپلې ګوتې ته اشاره وکړه، سوالګر راغی او د حضرت علي کرم الله وجهه له ګوتې یې ګوته وایسته؛ یعنې حضرت علي صبر و نه کړ، چې لمونځ یې پای ته ورسي او بیا انفاق وکړي.
شیعه او سني دواړه یوه خوله دي، چې دا آیت د حضرت علي کرم الله وجهه په هکله نازل شوی دی، ددې خبرې په پامنیوي، چې د رکوع په حال کې انفاق اسلامي حکم نه دی (نه فرض دی او نه مستحب)، چې ووایو شونې ده، چې نورو وګړیو هم پردې قانون عمل کړی وي ((؛ نو هغوی، چې داسې کوي)) اشاره او کنایه ده؛ لکه څنګه چې کله په قرآن کې وایي: ((یقولون: وایي)) [د جمعې په بڼه] حال دا، یو وګړي به دا خبره کړې وي. دلته ((؛ نو هغوی چې داسې کوي))؛ یعنې هغه وګړي، چې داسې یې کړي دي؛ نو ددې آیت له مخې علي کرم الله وجهه د خلکو ولایت ته ټاکل شوی دی.
دا هغه آیت دی، چې شیعه پرې استدلال کوي.
مفسرین په یوه خوله ددې آیت په هکله وایي، چې:
دا آیت د حضرت علي کرم الله وجهه د ولایت په هکله نازل شوی دی او د نازلېدو کیسه یې داسې ده، چې حضرت علي په جومات کې لمونځ کاوه؛ نو رکوع ته چې ولاړ؛ یو سوالګر راغی او مرسته یې وغوښته، چې حضرت علي هماغسې د رکوع په حال کې خپله ګوته ورته وښووه(چې راشه او واخله یې)، چې سوالګر هم ګوته د حضرت علي له ګوتې راوایسته او له

جوماته خوشحاله ووت. څښتن تعالی د حضرت علي ددې عمل د ارزښت ښوولو لپاره پورتنی آيت نازل کړ.

حضرت ابوذر غفاري (رض) ددې آيت د نزول کيسه داسې روايت کړې ده: يوه ورځ مې د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم په جومات کې لمونځ کاوه، چې يو سوالگر رانوت او مرسته يې وغوښته؛ خو چا پرې چرت خراب نه کړ. سوالگر خپل لاسونه اسمان ته پورته کړل او ويې ويل: خدايه! شاهد اوسه، چې ستا د رسول په جومات کې مې مرسته وغوښته؛ خو چا راباندې چرت خراب نه کړ. په دې وخت کې حضرت علي (ك) په رکوع کې و، چې د ښي لاس په وړه گوته يې سوالگر ته اشاره وکړه، چې زما گوته واخله. سوالگر هم رانږدې شو او هغه گوته يې د حضرت علي له لاسه راوايسته او په خوشحالۍ له جوماته ووت. رسول الله، چې دا پېښه کتله؛ نو تر لمانځه روسته يې اسمان ته وکتل او دعا يې وکړه: ((خدايه! زه محمد ستا رسول يم، سينه مې پراخه او کارونه مې اسان کړې او له کورنۍ مې علي زما وزير وټاکې، چې ملا تړې مې شي.)) حضرت ابوذر غفاري (رض) وايي: لا د پېغمبر اکرم دعا خلاصه شوې نه وه، چې حضرت جبرائيل عليه السلام راغی او پېغمبر اکرم ته يې وويل: ووايه! پېغمبر اکرم ورته وويل: څه ووايم؟! حضرت جبرائيل عليه السلام ورته وويل: ووايه: ((انَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ. [1]))

نور هغه آيتونه دي، چې د "خم غدير" په باب راغلي دي. پخپله د "خم غدير" جريان سنت دی او موږ بايد بحث پرې وکړو.

---

[1] وگورئ: ۱_ مجمع البيان؛ ۳ او ٤ ټوکونه، ۳۲٤ مخ. ۲ _ تفسير الميزان؛ ٦ ټوك، ۲٤_۱ مخونه. ۳ _ تفسير نمونه؛ ٤ ټوك، ٤۲۲ مخ. ٤ _فخر رازي پخپل تفسير کې تر پورتني آيت لاندې؛ ۱۲ټوك ۲٦ مخ. ۵ _بلاذري، انساب الاشراف؛ ۲ټوك، ۱۵۰مخ، ۱۵۱ حديث (د بيروت لومړی چاپ) ٦_ گنجي شافعي، کفاية الطالب؛ ٦۲ باب، ۲۵۱ مخ. ۷_ هيثمي، مجمع الزوايد؛ ۹ټوك، ۱۳٤مخ. ۸ _ شيخ سليمان قندوزي حنفي؛ ينابيع المودة: ۲۵۱مخ. ۹ _ الحمويني، فرائد السمطين؛ لومړی ټوك ۱۹۱ او ۱۹۳ مخونه، د بيروت لومړی چاپ. ۱۰ _ حافظ الحسکاني؛ شواهد التنزيل: لومړی ټوك، ۱۷۳ مخ، ۲۳۱ حديث، لومړی چاپ. ۱۱ _ابن کثير پخپل تفسير کې تر پورتني آيت لاندې: ۲ټوك، ۵۹۷ او ۵۹۸ مخونه، د بيروت چاپ او همداسې وگورئ؛ البدايه والنهايه؛ ۷ټوك، ۳۵۸ مخ، باب فضايل علي. ۱۲ _ ابن مغازلي؛ مناقب؛ ۳۱۱ او ۳۱۲ مخونه، ۳۵۵ حديث. ۱۳ _ سيوطي، الدرالمنثور؛ ۲ ټوك، ۳۲۲ مخ کې تر پورتني آيت لاندې. ۱٤_ بيضاوي، تفسير بيضاوي؛ لومړی ټوك، ۲۷۲ مخ کې تر پورتني آيت لاندې. ۱۵_ زمخشري، کشاف؛ لومړی ټوك، ٦٤۹ مخ کې تر پورتني آيت لاندې. ۱٦ _ طبري، د طبري تفسير؛ ٦ټوك، ۲۸۸ مخ کې تر پورتني آيت لاندې. ۱۷_ متقي هندي، کنز العمال؛ ۷ټوك، ۳۰۵ مخ، لومړی چاپ او بل چاپ؛ ٦ټوك، ۳۹۱ مخ. ۱۸_ خوارزمي، مناقب امير المؤمنين؛ ۱۸۷.]

((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (مائده/٦٧): پېغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پرتا نازل شوي، بشپړ(خلکو ته) ورسوه اوکه داسې دې و نه کړل؛ نو د هغه پېغام دې نه دی رسولی، خدای تا د خلکو (له احتمالي زيانونو) ژغوري، هو! خدای (ځېلي) کافرانو ته سمه لار نه ښيي.))

دلته لحن ډېر توند دی او ددې آيت مفاد د ((من مات ولم يعرف امام زمانه مات ميتة جاهلية.)) حديث هومره توند دی. که پېغمبر تبليغ و نه کړ؛ نو خپل رسالت يې نه دی ابلاغ کړی.

شيعه او سني دواړه يوه خوله دي، چې د مائدې سورت روستی سورت دی، چې پر پېغمبراکرم نازل شوی؛ يعنې هغه مهال نازل شو، چې پېغمبر اکرم ټول احکام د دروېشت کالو په ترځ کې خلکو ته بيان کړي ول او دا روستي احکام وو. شيعه پوښتي: دا کوم حکم دی، چې د پېغمبراکرم روستی حکم دی او که خلکو ته يې بيان نه کړي؛ نو تېرې ټولې هڅې يې خاورې ايرې کېږي؟؛ يعنې تاسې داسې کومه موضوع نشئ ښوولای، چې د پېغمبراکرم د عمر په روستيو پورې اړوند وي او د ارزښت درجه يې دومره لوړه وي، چې که ابلاغ نشي؛ نو هېڅ به نه وي ابلاغ شوي؛ خو موږ وايو، چې دا موضوع د امامت مسئله ده؛ که نه وي؛ نو هر څه له منځه تللي دي او پردې سربېره، شيعه د اهلسنتو له خولې دليل راوړي، چې دا آيت په "خم غدير" کې نازل شوی دی.

د مائدې د سورت درېيم آيت [: ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا: نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ او خپل لورېنه مې درته پوره کړه او اسلام مې درته ستاسې (تلپاتې) دين غوره کړ))] ښيي، چې پر هغه ورځ داسې پېښه شوې وه، چې دومره ارزښتناکه وه، چې ددين بشپړوونکې او د نعمتونو پوره کوونکې وه، چې شتون يې د اسلام شتون دی او نه شتون يې د اسلام نه شتون دی.

الف: له حضرت ابي سعيد خدري روايت دی، چې وايي: ((د " يا ايها الرسول بلغ" آيت د "خم غدير" پر ورځ د حضرت علي (ك) په هکله پر پېغمبر اکرم نازل شوی دی.))

ب: حضرت ابن عباس د "يا ايها الرسول بلغ ما انزل اليك من ربك" آيت په هکله وايي: ((دحضرت علي په هکله نازل شو؛ څښتن خپل رسول امر کړی دی، چې د حضرت علي په هکله تبليغ وکړه. بيا پېغمبر اکرم د حضرت علي لاس ونيو او ويې ويل: ((د چا چې زه مولی يم؛ نو علي يې هم مولی او ولي دی؛ خدايه! ددښمنانو يې دښمن او د دوستانو يې دوست اوسه.))

او نورو عالمانو؛ لکه حافظ ابوسعید سجستاني د "الولایة" په کتاب کې او بدرالدین حنفي د "عمدةالقادري" په کتاب کې او حمویني د "فرائد السمطین" په کتاب کې. همداراز. . . .[1] ]

[1] وګورئ: ۱ _ سیوطي؛ الدرالمنثور تفسیر: ۲ ټوك، ۳۲۷مخ کې تر پورتني آیت لاندې. ۲ _ فخر رازي؛ کبیر تفسیر: ۳ټوك، ٦۳٦مخ او په بل چاپ کې؛ ۱۲ټوك، ٤۹مخ کې تر پورتنې آیت لاندې. ۳ _ حافظ ابن عساکر؛ امیر المؤمنین من تاریخ دمشق: ۲ټوك، ۸٦مخ، ۵۸۹ حدیث. ٤ _ شیخ سلیمان قندوزي حنفي؛ ینابیع المودة: ۱٤۰مخ، ۳۹باب او همداسې د همدې کتاب د المناقب السبعون باب؛ ۲۸۳مخ، ۵٦حدیث. ۵ _ حافظ الحسکاني؛ شواهد التنزیل: لومړی ټوك، ۱۸۸ او ۲٤٤ مخونه. ٦ _ ابوالحسن واحدي نیشابوري؛ اسباب النزول: ۱۵۰مخ. ۷ _ حافظ ابونعیم اصفهاني، "ما نزل من القران فی علي"؛ تر پورتني آیت لاندې. ۸ _ شهاب الدین الوسي شافعي، روح المعاني؛ ٦ټوك، ۱۷۲ مخ او بل چاپ؛ ۲ټوك، ۳٤۸مخ. ۹ _ ابن صباغ مالکي، فصول المهمه؛ ۲۷مخ. ۱۰ _ قاضي شوکاني، فتح القدیر؛ ۳ټوك، ۵۷مخ.

## تر پیغمبر اکرم روسته امامت او د دین ښوونه

و مو ویل: د امامت په اړه یوه مسئله، د حکومت مسئله ده؛ یعنې تر پیغمبراکرم روسته د حکومت برخلیک څه دی؟ آیا د خلکو پر غاړه دی او دا خلک دي، چې باید پخپلو منځو کې واکمن وټاکي او یا داچې پیغمبراکرم خلکو ته تر ځان روسته واکمن ټاکلی دی؟ داچې په دې روستیو کې مسئله داسې مطرحوي؛ نو هرومرو ذهنونه د اهلسنتو نظر ته اوړي؛ یعنې انګېري، چې نظر یې تر ټولو عادي او طبیعي دی.

## د مسئلې ناسم مطرحول

مسئله داسې مطرحوي، چې د اسلام له نظره د حکومت برخلیک څه دی؟ آیا "موروثي" او "تنصیصي" دی، چې هر واکمن تر ځان روسته واکمن تنصیص او وټاکي او خلک هم د حکومت په چارو کې هېڅ لاسوهنه و نه لري؟پیغمبر اکرم تر ځان روسته یو ټاکلی وګړی وټاکه او هغه هم تر ځان روسته ټاکلی وګړی وټاکه او هغه هم بل کس او تر قیامته د حکومت برخلیک داسې دی، چې تل "تعییني" او "تنصیصي" وي او قهراً دا چار په دولس ګونوامامانو پورې ځانګړی نه دی؛ ځکه د امامانو شمېر دولس تنه دی او د شیعه وو د ګروهې له مخې دا شمېرې نه د کمېدو وړ دی او نه د ډېرېدو.
ددې وینا له مخې، د حکومت په اړه د اسلام ټولیز قانون داسې دی، چې پیغمبراکرم ـ چې پخپله واکمن و ـ باید تر ځان روسته واکمن وټاکي او تر قیامته به په یو بل پسې د ټاکلو شمېرۍ همداسې وي او که اسلام ټوله نړۍ هم ونیسي (چې اوس هم خورا پلویان لري) او اسلامي قوانین په ټوله نړۍ کې پلي شي؛ که د "واحد حکومت" په بڼه وي او که د بې شمېره حکومتو په بڼه؛ نو قانون به همدا وي؛ نو داچې وایو: پیغمبراکرم تر ځان روسته حضرت علي کرم الله وجهه وټاکه، د همدې ټولیز اصل پر بنسټ ول، چې حکومت باید تنصیصي او تعییني وي او ددې فلسفې له مخې، پکار ده، چې پیغمبراکرم تر ځان روسته حضرت علي ټاکلی وي؛ داچې پیغمبر اکرم کړای شول په وحې یو مطلب بیان کړي او دولس ګوني امامان هم مُلهَم دي او هم له پیغمبره یو شمېر علوم تلقي کړي؛ خو روسته خو داسې نه دي؛ نو که د حکومت په اړه د اسلام ټولیز اصل دا وي [چې حکومت تنصیصي او تعییني وي] ان پکار نه ده، چې پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم حضرت علي کرم الله وجهه د وحې له لارې ټاکلی وي؛ بلکې پخپل نظر او صوابدید یې ټاکلی دی او دولس ګوني امامان یې هم پخپل صلاحدید

خپل ځایناستي ټاکلي دي؛ نو پردې بنسټ د پیغمبراکرم له نظره خلافت ته د علي کرم الله وجهه ټاکل، مکې ته د واکمن او د حاجیانو لپاره د مشر د ټاکلو په څېر دي؛ لکه څنګه چې هلته څوک نه وايي، چې که پیغمبر اکرم د وحې په لاښوونه پلانی د مکې د حکومت لپاره ولېږه یا یمن ته یې حضرت معاذ بن جبل (رض) ولېږه؛ بلکې وايي: داچې پیغمبر اکرم د خدای له لوري د خلکو مدیر او مشر و؛ نو په هغو چارو کې یې پخپله هوډ نیوه، چې په اړه به یې وحې نه راته؛ نو دلته هم باید وویل شي، چې پیغمبر اکرم پخپل شخصي تدبیر حضرت علي کرم الله وجهه د خلافت لپاره وټاکه.
که د امامت مسئله د دنیوي حکومت په مفهوم همدومره ساده مطرح کړو؛ نو دا له هغه امامته بیل بحث دی، چې زموږ په پام کې دی او که اصلاً مسئاله په دې بڼه وي؛ نو لازم نه دي، چې وحې پکې دخالت وکړي او وحې یوازې دومره دخالت کړای شي، چې پیغمبره! ته دنده لرې، چې پخپله صلاح یو تن وټاکې او هغه هم تر ځان روسته بل وټاکي او همدا شمېر تر قیامته دوام ومومي.
که امامت په ساده بڼه او د حکومت په کچه مطرح کړو او ووایو، چې امامت؛ یعنې حکومت؛ نو هغه مهال به ګورو، چې د اهلسنتو د خبرې توله د شیعه وو د خبرې په پرتله درنده وي؛ ځکه هغوی وايي: یو واکمن حق نه لري، چې تر ځان روسته واکمن وټاکي؛ بلکې "امت" او "اهل حل و عقد" یې وټاکي او ټاکنه باید د ولسواکۍ د اصولو پر بنسټ وي او دا د خلکو حق دی، چې څوک ټاکي؛ خو مسئله دومره هم ساده نه ده.
د شیعه وو له نظره د حضرت علي او دولس ګونو امامانو د خلافت مسئله، چې تنصیصي وه، پر یوې بلې مسئلې فرع وه، چې تردې بنسټیزه وه.
دلته پوښتنه مطرحېږي، چې امامان خو دولس تنه ول او تر هغوی روسته د حکومت برخلیک څه دی؟ فرض کړئ؛ لکه څنګه چې پیغمبر اکرم حضرت علي وټاکه او واکمن شو بیا امام حسن او بیا امام حسین، چې حضرت امام مهدي ته راورسي؛ نو په دې بڼه کې قهراً د هغې فلسفې پر بنسټ، چې شیعیان یې په دې باب لري، د امام مهدي د غیبت لپاره هم کوم لامل نه و؛ ده به هم د خپلو پلرونو په څېر لنډ عمر درلود او له دنیا به ته؛ نو تر امام مهدي روسته به څه کېږي؟ آیا امامان به تر دولس تنو ډېرېدل؟ نه!باید په خلکو کې یوه بله مسئله وي: په عادي بڼه د حکومت مسئله؛ لکه څنګه چې همدا اوس ده. امام مهدي خو نشي کړای، چې د غیبت په پېر کې د خلکو واکمن وي. بیا هم د دنیوي حکومت او واکمنۍ مسئله پر خپل ځای ده.

## حکومت د امامت يوه څانګه ده

موږ بايد تېر نه وځو همداچې په شيعه و کې د امامت مسئله مطرح شوه؛ نو ووايو، چې امامت؛ يعنې د حکومت مسئله، چې په پايله کې مسئله په ډېره ساده بڼه وي او دا فروعات ورته پيدا شي، چې پيدا شوي دي او ووايو اوس، چې يوازې د حکومت مسئاله مطرح ده او داچې څوک واکمن وي، آيا هغه چې واکمن شي، بايد هرومرو تر ټولو افضل وي، يا نه! او ممکن څوک چې واکمنېږي، نسبي افضل وي؛ نه واقعي افضل؛ يعنې د سياستوالۍ او د چارو د ادارې له نظره تر نورو وړ وي؛ که څه له نورو نظرونو ډېر په ټيټه درجه وي، ښه مدير او سياستوال وي او خاين نه وي؛ نو آيا معصوم دې وي که نه؟ او دا چار څه لزوم لري؟ د شپې لمونځ کوونکی هم وي که نه؟ او دا چار څه لزوم لري؟ په فقهي مسايلو هم پوه وي که نه؟ او څه لزوم لري، چې پر فقهي مسايلو پوه وي؟! په دې چارو کې نورو ته رجوع کوي. نسبي افضليت بسيا دی او دا ددې تابع ده، چې موږ دې مسئلې ته يوازې د حکومت په کچه او په ټيټه وړينو او دا يوه ستره تېروتنه ده، چې احياناً پخواني (ځينې متکلمين) هم کله په دې تېروتنې ککړېدل. دا غلطي ډېره تکرارېږي. د امامت مسئله، چې مطرح شي؛ نو بې ځنډه حکومت ته متوجه شي، حال دا، د حکومت چارې د امامت له فروعو او د امامت له ډېرو وړو ښاخونو څنې دی، چې بايد دا دواړه سره ګډ نشي؛ نو امامت څه دی؟

## په دين په ښوونه کې امام د پېغمبراکرم ځايناستی دی

د امامت په مسئله کې، بې له وحې د دين د ښوونو، روښانولو او توضيح لپاره د پېغمبر د ځايناستۍ مسئله د ارزښت له پلوه په لومړۍ درجه کې ده. البته يوازې پېغمبراکرم ته وحې راته او له دنيا تلو سره يې وحې او رسالت پای ته ورسېد.
د امامت مسئله په دې کې ده، چې آيا د پېغمبر اکرم په تلو، د هغو آسماني ښوونو ښوونه ـ چې نور پکې اجتهاد، شخصي رای او وګړيز نظر نشته ـ په يوه وګړي کې متمرکزه وه، چې خلکو به د پېغمبراکرم په څېر په ديني مسايلو کې ترې پوښتل او هغه پرې پوهېده او ځواب يې حق او حقيقت دی او شخصي فکر نه دی، چې ممکن پکې تېروتی وي او بيا بله ورځ پرې رټنا واچوي؟موږ د پېغمبراکرم په هکله دا خبره نه کړو او نه يې کړای شو، چې په آند مو د پېغمبراکرم پلانی نظر ناسم و او يا هغه په دې ځای کې په لوی لاس د ځاني غوښتنو تر اغېز

لاندې راغلی دی؛ ځکه دا خبره د نبوت له منلو سره اړخ نه لگوي. که کومه جمله هرومرو پېغمبراکرم ویلي وي او موږ پخپله ترې اورېدلي یا نه وي اورېدلي او په پرېکنده دلایلو جوته شوې وي، چې دا خبره پېغمبراکرم کړې ده؛ نو هېڅکله نه شو ویلای، چې خبره د پېغمبر ده؛ خو تېروتی دی. د یو مجتهد یا مفتي په اړه ویلای شو، چې د پلانی پوښتنې په ځواب کې تېروتی، غفلت یې کړی یا د یو بهیر تر اغېز لاندې راغلی؛ خو د پېغمبر اکرم په اړه داسې خبره کړای نه شو؛ لکه څنگه چې د قرآن کریم د آیتونو په اړه ویلای نه شو، چې له بده مرغه په دې ځای کې وحې تېروتې او یا پکې د چا ځاني غوښتنې دخالت کړی دی. ((وحې تېروتې ده))؛ یعنې دا آیت وحې نه ده.

آیا تر پېغمبراکرم روسته داسې انسان و، چې واقعاً د دیني احکامو مرجع وي؛ لکه څنگه چې پخپله مرجع، څرگندونکی، مبین او مفسر و؟ آیا داسې کامل انسان و که نه؟ و مو ویل: داسې کامل انسان و؛ خو په دومره توپیر، چې د پېغمبر خبرې نېغ په نېغه پر وحې مستندې وې او د دولس گونو امامانو خبرې په پېغمبراکرم مستندې وې؛ خو نه په هغې بڼه، چې پېغمبراکرم ورته ښوونه کړې وه؛ بلکې په هغې بڼې یې وایو، چې حضرت علي کرم الله وجهه وایي: پېغمبر اکرم راته د علم یو ور پرانېست، چې له هغه وره زر نور ورونه پرانېستل شول. موږ نه شو کړای تفسیر کړو، چې دا څرنگه و او لکه څنگه چې وحې نه شو تفسیرولای، چې پېغمبراکرم څرنگه علم له خدایه اخلي؛ نه شو تفسیرولای، چې د علي او پېغمبر اکرم ترمنځ څرنگه اړیکه وه، چې پېغمبراکرم بشپړ حقایق علي ته وښوول او بې له هغه یې چاته و نه ښوول.

حضرت علي [1] وایي: ((زه له پېغمبر سره په حراء کې وم (هغه مهال ماشوم و)، دردونکې چغه مې واورېده، و مې ویل: وحې، چې درته راغله؛ نو د شیطان د کړیکې غږ مې واورېد. پېغمبراکرم راته وویل: ((یا علی! انک تسمع ما اسمع و تری ما اری ولکنک لست نبی: علي! بېشکه چې څه اورم، اورې یې او چې څه وینم، وینې یې خو نبي نه یې. [2]))

که په هماغه ځای کې د علي تر څنگ بل څوک هم و؛ هغه غږ یې نه اورېده؛ ځکه هغه اورېدل د غږ اورېدل نه ول، چې په فضا کې خپور شي، چې ووایو هر غوږي به اورېده. هغه بېل اورېدل، حس او لید دی.

[1] (نهج البلاغه/۱۹۲ خطبه)

[2] وگ: صحیح مسلم، اووم جز/۱۲۲ مخ.

## د "ثقلينو" حديث او د دولس گونو امامانو د عصمت مسئله

په امامت کې بنسټيزه مسئله معنوي اړخ يې دی. امامان؛ يعنې معنوي انسانان، چې له معنوي لارې په اسلام پوهېږي او پېژني يې او د پېغمبراکرم په څېر له تېروتنې او گناه معصوم دي. امام پرېکنده مرجع ده، چې که يوه جمله ترې واورئ؛ نه پکې د تېروتنې احتمال ورکولای شئ او نه په لوی لاس د اړونې احتمال، چې نوم يې ((عصمت)) دی. شيعه وايي: داچې پېغمبراکرم وويل: انی تارک فيکم الثقلين کتاب الله و عترتی: زه تاسې ته دوه گرانبيه څيزونه پرېږدم: قرآن او عترت مې)) دداسې مطلب نص دی.[1]
خو آيا پېغمبر اکرم داسې خبره کړې که نه؟ څوک ترې منکرېدای نشي. دا هغه روايت نه دی، چې يوازې شيعه روايت کړی وي؛ بلکې اهلسنتو تر شيعه وو ډېر روايت کړی دی. د اهلسنتو په کتابونو کې دا حديث په ډېرو ځايونو کې و؛ ځکه پېغمبر اکرم دا مطلب په بېلابېلو ځايو کې په همدې بڼه ويلی و. البته مراد مو دا نه دی، چې پېغمبراکرم به ان په يو ځای کې هم نه وي ويلي، چې دوه گرانبيه څيزونه درته پرېږدم: "کتاب او سنت"؛ ځکه د ((کتاب او سنت)) او ((کتاب او عترت)) ترمنځ هېڅ منافات نشته؛ ځکه عترت د سنت د بيان لپاره دی. خبره په دې کې نه ده، چې "عترت" ته مراجعه وکړو که سنت ته؟؛ بلکې خبره په دې کې ده، چې "عترت" د سنتو واقعي بيانوونکی دی او ټول سنت مې ورسره دي. پردې سربېره، همداچې وايو پېغمبراکرم وويل: "اني تارک فيکم الثقلين کتاب الله وعترتی"؛ پخپله سنت دی؛ ځکه د پېغمبراکرم حديث دی او په دې دواړو کې هېڅ منافات نشته او که په يو ځای کې پېغمبر اکرم ـ چې هغه هم قطعي نه دي ـ ويلي وي، چې ((انی تارک فيکم الثقلين کتاب الله و سنتی))؛ خو په څو ځايونو کې يې په هغه بله بڼه ويلي دي. که په يوه کتاب کې داسې ليکل شوي؛ خو لږ تر لږه تر دوو سوو په ډېرو کتابونو کې هاغسې ليکل شوي دي.
نو د امامت اصلي روح دادی، چې اسلام هر اړخيز، ټوليز او ځلانده دين دی، آيا بيان يې هومره دی، چې اصول او کليات يې په قرآن کريم او د پېغمبراکرم پهويناوو ـ چې پخپله اهلسنتو هم روايت کړي ـ کې ياد شوي دي؟ او اسلام همدومره و؟ البته پر پېغمبراکرم د اسلام نازلېدل پوره شول؛ خو آيا ويل شوی اسلام هماغه و؟ [ټول نازل شوی اسلام و] يا داچې پر

[1] وگ: صحيح مسلم، اووم جز/۱۲۲ مخ.

پېغمبراکرم نازل شوی اسلام، چې له حضرت علي کرم الله وجهه سره و، چې خلکو ته یې د وخت په تېرېدو سره، چې اړتیا ورته پیدا شي، بیان کړي.
په دې صورت کې همدا حدیث ((کتاب الله و عترتی)) عصمت هم بیانوي؛ ځکه پېغمبراکرم وايي: دین له دې دوو سرچینو واخلئ؛ لکه څنګه چې قرآن معصوم دی؛ یعنې خطا پکې نشته؛ هغه بل هم معصوم دی. ناشونې ده، چې پېغمبراکرم په دومره پرېکندتوب له هغه چا د دین د اخستو امر وکړي، چې په خبرو کې یې تېروتنه وي.
دلته دی، چې د بیان په ښوونه او اخستنه کې د شیعه او اهلسنتو فرضیه له بېخه توپیر کوي. هغوی وايي: لکه څنګه چې د پېغمبراکرم په تلو، ددین واقعي بیان، چې له تېروتنې او خطا معصوم وي، پای ته ورسېد او ټول هماغه څه دي، چې له قرآن او د پېغمبراکرم له احادیثو مو استنباط کړي دي.

## د احادیثو له لیکلو منع

دوی پخپله یو بهیر رامنځ ته کړ، چې خپله فرضیه یې پرې کمزورې کړه او هغه داچې پخپله حضرت عمر فاروق (رض) د حدیثو کتابت منع کړ او دا یو تاریخي واقعیت دی، چې څوک ترې منکرېدای نشي. حضرت عمر (رض) ددې لپاره ټینګار کاوه، چې یوازې قرآن د مسلمانانو مرجع شي او په حدیثو پسې د مسلمانانو تګ به ددې لامل شي، چې په قرآن پسې لړ ولاړ شي؛ نو ځکه یې د احادیثو د کتابت مخه ونیوه. د حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت پر مهال چا جرات نه شو کړای، چې د پېغمبراکرم حدیث ولیکي او یا ووايي، چې دا خبره د پېغمبراکرم ده او یا په یو ځای کې د پېغمبراکرم حدیث روایت کړي (البته د حدیثو رانقلول منع نه ول) تر څو "عمر بن عبدالعزیز" (۹۹-۱۰۱هجري) خلافت ته ورسېد او د احادیثو د کتابت او لیکلو حکم یې ورکړ، چې پخپله د احادیثو پر کتابت دا دومره بندیز ددې لامل شو، چې د رسول الله ډېری احادیث له منځه ولاړ شي.
پوهېږو، چې قرآن په لنډه د اسلامي احکامو ټولیزه بڼه بیان کړې ده. د بېلګې په توګه: سره له دې، چې قرآن دومره پر لمانځه ټینګار کړی؛ خو په هکله یې له ((اقیموا الصلوة)) او ((ارکعوا واسجدوا)) ډېر څه نه دي ویلي او ان توضیح یې هم نه ده ورکړې، چې لمونځ په کومه بڼه او څومره وکړل شي. همداراز په اسلام کې، چې دومره ټینګار پر حج شوی؛ خو په قرآن کې پرې دومره رڼا نه ده اچول شوې. د پېغمبراکرم له سنتو سره خو یې داسې وکړل او که یې نه ووکړي؛ نو آیا پېغمبر اکرم دومره عمر او وخت درلود، چې ټول حلال او حرام بیان کړي. د مکې په

دیارلس کالو کې له هومره فشارونو او زندیو یوازې ٤٠٠ تنه مسلمانان شول او په هغه سخت وخت کې له پیغمبراکرم سره لیده کاته هم خورا ستونزمن ول او تقریباً اویا کورنۍ وې، چې حبشې ته یې هجرت وکړ. البته پیغمبراکرم په مدینه کې بیا هم څه ساه واخسته؛ خو بیا هم پیغمبراکرم خورا کارونه درلودل. که رسول اکرم په ٢٣ کالو کې یوازې یو ښوونکی و، چې یوازې ټولګي ته به ته او خلکو ته یې ښوونه کوله؛ نو له وسې به یې نه وشوي، چې ټول اسلام خلکو ته بیان کړي او ددې خبرې په پامنیوي، چې اسلام د بشر د ژوندانه هر پړاو ته حکم لري.

## له قیاسه ګټنه

د اهلسنتو ددې خبرو پایله دا شوه، چې عملاً یې په اسلامي احکامو کې نیمګړتیاوې ولیدې. یوه مسئله به رامخکې شوه، چې په قرآن کې به یې حکم نه موندل کېده؛ نو سنتو (هومره، چې رانقل کړي یې دي) ته یې مراجعه وکړه؛ لیدل یې، چې په اړه یې په سنتو کې هم حکم نشته او بې حکمه خو ژوند نه تېرېږي؛ نو څه به کړي؟ و یې ویل: ((قیاس.))
قیاس؛ یعنې په پلاني ځای کې یې داسې ویلي، دا چار هم، چې هغه چار ته ورته دی؛ نو هماغه حکم لري. کېدای شي هلته چې پیغمبر په دې علت او فلسفه داسې حکم کړی و؛ نو دا فلسفه دلته هم شته؛ نو دلته هم د هغه په څېر حکم کوو.
اسلامي نړۍ په تېره د عباسیانو پر مهال خورا پراخه شوه او بېلابېل هېوادونه فتح شول او د خلکو اړتیاوو پرله پسې پوښتنې او مسئلې پیدا کولې. کتاب و سنت ته یې کتل؛ لیدل یې، چې ددې مسایلو حکم پکې نشته او پرله پسې قیاسونه یې کول، چې په پایله کې دوه ډلې شول؛ یوه ډله له قیاسه منکره شوه؛ لکه امام احمد بن حنبل (ره) او بل مالک بن انس (ره) (چې ویل کېږي: په ټول عمر کې یې یوازې دوه ځل قیاس وکړ او بلې ډلې د قیاس لار پرانېستې پرېښووه؛ لکه امام ابوحنیفه (ره). امام ابوحنیفه (ره) ویل: ((له پیغمبره دا رارسېدلي سنت د ډاډ وړ نه دي، چې واقعاً به د پیغمبر وینا وي)) او ویل یې، چې زه یوازې پر پینځلسو حدیثو ډاډمن یم، چې د پیغمبراکرم به وي او په نورو چارو کې یې قیاس کاوه. امام شافعي (ره) منځګړی حالت درلود او په ځینو مواردو کې یې په احادیثو ډاډ کاوه او په ځینو چارو کې یې قیاس کاوه.

## قیاس د شیعه وو له نظره

قیاس ته د رجوع مسئله له دې ځایه پیلېږي، چې وایي "کتاب و سنت" د احکامو د بیان لپاره بسیا نه دي. نه! نېغ په نېغه له پیغمبراکرم او ځایناستیو یې دومره احادیث رانقل شوي، چې ددې سنت کلیاتو ته په مراجعه، قیاس ته اړتیا نه پیدا کېږي. له دیني نظره د امامت روح دې ته وایي. اسلام یوازې یو مسلک نه دی، چې مبتکر یې د خپلې ایدیولوژۍ تر رامنځ ته کېدو روسته، ووایي: اوس دا ښوونځی پلې کېدو ته حکومت غواړي. اسلام یو دین دی او یو دین په تېره د اسلام په څېر، د دین وضع باید په پام کې ونیول شي.

## د معصوم په شتون کې ټاکنې ته ځای نه پاتې کېږي

د زعامت او حکومت له اړخه د امامت مسئله داده: اوس، چې تر پیغمبراکرم روسته په څېر یې معصوم شته او پیغمبراکرم ځان ته وصي ټاکلی دی، چې هغه د نورو وګړیو په کچه نه دی او د صلاحیت له پلوه پخپله د پیغمبراکرم په څېر استثنایي دی؛ نو نور خو شورا او ټاکنې ته ځای نه پاتې کېږي.

لکه څنګه چې د پیغمبراکرم پر ژوند یې نه ویل، چې پیغمبر اکرم یوازې پیغام رسان دی، وحې ورته راځي، شورا ده، چې حکومت ټاکي او خلک دې راشي او رایه دې ورکړي، چې آیا پخپله پیغمبر واکمن کړو که بل څوک؛ بلکې فکر یې کاوه، چې د پیغمبراکرم په شتون کې، چې له بشره مافوق بشر دی او په هغه پړاو کې دی، چې د وحې له نړۍ سره په اړیکه کې دی؛ نو دا مسئله بېخي مطرح نه ده، تر هغه روسته هم ددې خبرو ځای نه پاتې کېږي؛ ځکه پیغمبراکرم دولس وصیان درلودل، چې دوی باید د دوو یا درې پېړیو په ترڅ کې د اسلام ستره غښتلې کړي او اسلام له یوې پاکې او رڼې سرچینې بیان شي او د اسلامي احکامو د بیان لپاره، چې داسې کسان وي؛ نو شورا او ټاکنې ته ځای نه پاتې کېږي. آیا دا منطقي ده، چې موږ معصوم انسان او بشپړ عالم ولرو، چې ان د تېروتنې امکان هم ورته ناشونی دی او په دې حال کې موږ په بل چا پسې ولاړ شو او ویې ټاکو؟!

پردې سربېره، چې حضرت علي کرم الله وجهه د امامت مقام ته ـپه دې مانا، چې و مو ویلـ ټاکل شوی دی؛ قهراً د دنیوي مشرۍ مقام هم ورسره و پیغمبراکرم همدا مقام هم تصریح او څرګند کړی دی؛ دا ځکه چې علي کرم الله وجهه هغه بل مقام ته وړ دی؛ نو پردې بنسټ د حضرت امام مهدي د غیبت په پېر کې، چې نوره د حاضري پاکلمنی مشر مسئله، چې مبسوط

الید وي، مطرح نه ده یا که فرضاً د صدر اسلام پېښې نه راپېښېدې او حضرت علي کرم الله وجهه خلیفه شوی وای او بیا امام حسن او بیا امام حسین، تردې چې دولسم امام؛ امام مهدي هم امام شوی وای او د غیبت لاملونه هم نه وو راپېښ شوي، بیا چې پاکلمنی مشر هم په منځ کې نه و؛ نو د حکومت مسئله به بل شان کېده او هغه مهال باید وویل شي، چې د حکومت د مسئلې تکلیف به څنګه کېږي؟ آیا واکمن باید جامع الشرایطه فقیه وي یا داسې چار په کار نه دی؟ آیا واکمن له خلکو ټاکل کېږي؟ او. . .
نو پردې بنسټ موږ نباید له پیله د امامت مسئله ډېره ساده دنیوي چار؛ یعنې حکومت و انګېرو او بیا ووایو، چې آیا د اسلام له نظر حکومت استبدادي او تنصیصي دی که انتخابي؟ او بیا ووایو، چې څرنګه شوي، چې شیعه وایي: حکومت باید داسې وي؟ نه! مسئله په دې بڼه نه ده. په شیعه و کې امامت مطرح دی. د امام یو شان حکومت دی او البته د معصوم په شتون کې د بل چا د حکومت کولو لپاره ځای نشته؛ لکه څنګه چې د پیغمبراکرم په شتون کې د بل چا د حکومت کولو لپاره ځای نشته او پیغمبراکرم حضرت علي کرم الله وجهه د امامت لپاره ټاکلی دی، چې د امامت لازمه حکومت کول هم دي او پردې سربېره؛ پخپله پیغمبر اکرم په ځینو ځایونو کې پر حکومت هم تصریح کړې ده؛ خو پردې مبنا، چې تر ما روسته امام هغه دی.

### د معنوي ولایت مسئله

په تېر بحث کې مې یو مطلب ته اشاره وکړه، چې البته زه پرې شخصاً ګروهن یم او بنسټیز مطلب یې هم ګڼم؛ خو کېدای شي، چې دا مطلب د تشیع له ارکانو نه وي او هغه داچې آیا د پیغمبراکرم مقام یوازې دا و، چې الهي احکام او د دین د اصولو او فروعو وحې ورته کېده؟ پر څه چې پوهېده یوازې واقعي اسلام و او له هغه هاخوا یې په شان کې نه ول، چې د خدای له لوري پوه شي؟ او آیا یوازې د تقوا او عمل په مقام کې کې له تېروتنې خوندي او معصوم و؟ همداراز آیا د دولس ګونو امامانو مقام هم هومره دی، چې که څه وحې ورته نه راته؛ خو اسلام یې له پیغمبره لاس ته راوړی و او د اسلام پر فروعاتو، کلیاتو او جزئیاتو هماغسې پوهېدل، چې پیغمبر پرې پوهېده او د تېروتنې امکان پکې نه و او د تقوا او عمل په مقام کې هم معصوم ول؟ آیا یوازې همدومره دي که نور ځیزونه هم په پیغمبراکرم او معصومو امامانو کې شته؟ او پر دیني معارفو سربېره پر نورو کومو علومو پوهېدل؟ آیا دا خبره سمه ده، چې کړنې به پیغمبراکرم ته وړاندې کېږي او ان د هر امام په پېر کې د خلکو کړنې هماغه امام ته وړاندې کېږي او امام مهدي د ټولو خلکو حاضر او ناظر دی او غافل ترې نه دی؟ ان مړی او ژوندی نه لري او لکه څنګه مې چې مخکې هم وویل، چې کله تاسې د امام رضا زیارت ته ځئ او

واست: السلام علیک؛ نو داسې دی؛ لکه په دې نړۍ کې، چې پر ژوندي انسان سلام اچوئ او د ژوندي انسان په څېر مو گوري او دا هماغه د "معنوي ولایت" خبره ده.
او مخکې مې هم وویل، چې په دې ټکي کې تشیع او عارفان خورا سره نږدې دي؛ یعنې فکرونه یې خورا نږدې دي. عارفان وایي: په هر وخت او پېر کې باید یو قطب او کامل انسان وي او شیعه وایي: په هر پېر کې یو امام او حجت شته، چې هغه کامل انسان دی او. . . اوس نه غواړم دا بحث راواچوم؛ څکه په دې مسئله موږ او اهلسنت اختلاف نه لرو. شیعه او اهلسنت په هغه دوو نورو مسئله کې اختلاف لري؛ یو هغه مسئله، چې موږ ورته د دین د احکامو په بیان کې د امامت مسئله وایو او بله د مسلمانانو د مشرۍ مسئله ده.

## د ثقلینو د حدیث ارزښت

د امامت د مسئلې په اړه د ((انی تارک فیکم الثقلین)) له حدیثه غافل نشئ؟که د اهلسنتو له عالم یا عامي سره مخ شئ، ورته وواست: آیا پیغمبر داسې خبره کړې که نه؟ که ووایي نه؛ نو کړای شو، چې په دې اړه په سلگونو کتابونه ورته په مخ کې کېږدو او د اهلسنتو عالمان ددې حدیث په شتون او سمښت کې اختلاف نه لري. بیا وواست: داچې پیغمبراکرم قرآن د یو مرجع په نامه او عترت د بل مرجع په نامه ټاکلی دی؛ نو عترت څوک دي؟ هغوی ښځي د پیغمبر د عترت او غیر عترت ترمنځ توپیر قایل نه دي؛ بلکې تر علي کرم الله وجهه یې ډېر له اصحابو او غیر اصحابو روایتونو راوړي او علي کرم الله وجهه هم ورته یو راوي دی؛ نه مرجع.

## د خم غدیر حدیث

و مو ویل څوک چې ددین مرجع وي؛ نو هماغه باید دیني مشر هم وي او د مشر پر مسئله هم پیغمبراکرم لارښوونه کړې ده. یو بېلگه یې د غدیر حدیث دی، چې پیغمبراکرم تر حجة الوداع روسته په خم غدیر کې ووایه. حجة الوداع د پیغمبراکرم روستی حج دی او پیغمبر اکرم په دې حج کې ټولو مسلمانانو ته د گډون بلنه ورکړه او په بېلابېلو ځایونو او وختونو کې؛ لکه په مسجدالحرام، عرفات، منی او له منی بهر او په خم غدیر کې یې خلکو ته ویناوې وکړې او په خم غدیر کې یې د خپلې وینا په پای کې یوه خبره په کلکه وکړه او زما په آند داچې پیغمبراکرم دا خبره په پای کې وکړه، فلسفه یې همدا آیت دی، چې هلته یې ولوست:

((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (مائده/٦٧): پېغمبره! څه چې ستا د پالونكي له لوري پرتا نازل شوي، بشپړ(خلكو ته) ورسوه اوكه داسې دې ونه كړل؛ نو د هغه پېغام دې نه دى رسولى، خداى تا د خلكو (له احتمالي زيانونو) ژغوري، هو! خداى (ځېلي) كافرانو ته سمه لار نه ښيي.))
روسته تردې، چې پېغمبراكرم په عرفات، منى او مسجدالحرام كې د دين د اصولو او فروعو په هكله كليات بيان كړل_چې تر ټولو مهمې ويناوې يې دي_ يو دم يې په خم غدير كې داسې وويل: يوه خبره ده، كه و يې نه كړم؛ نو هېڅ مې هم نه دي ويلي فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ راته يې ويلي كه ويې نه وايم؛ نو څه مې هم نه دي ويلي؛ يعنې هر څه دې خاورې ايرې كېږي. بيا وايي: (الست اولى بكم من انفسكم؟ (د قرآن كريم د احزاب سورت شپږم آيت ته اشاره ده، چې وايي: ((النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ: پېغمبر مؤمنانو ته د دوى تر خپلو ځانونو ډېر وړ (او نژدې) دى)) آيا زه پر تاسې تر تاسې وړ نه يم؟ ټولو وويل: هو! بيا رسول الله وويل: من كنت مولاه فهذا على مولاه. دا حديث هم د ثقلينو د حديث په څېر خورا سندونه لري.
ددې حديث د سنديت په هكله د علامه اميني د الغدير كتاب ولولئ. په دويمه اسلامي پېړۍ، چې د تابعينو زمانه وه، دا پېښه ۸۹ تنو نقل كړې ده. په نورو پېړيو كې د "غدير" د حديث راويان ټول د اهل سنتو عالمان دي. ۳٦۰ تنو دا حديث پخپلو كتابونو كې راوړى، چې زياتو پرې د سموالي اعتراف كړى دى. په دريېمه پېړۍ كې ۹۲ تنو، په څلورمه پېړۍ كې ٦٤۳ تنو، په پينځمه پيړۍ كې ٢٤ تنو، په شپږمه كې ۲۰ تنو، په اومه كې ۲۱ تنو، په اتمه كې ۱۸تنو، په نهمه كې ١٦تنو، په لسمه كې١٤٧ تنو، په يوولسمه كې ۱۲ تنو، په دولسمه كې ۱۳ تنو، په ديارلسمه كې ۱۲ تنو او په څوارلسمه پېړۍ كې ١٤ عالمانو دا حديث نقل كړى دى. ځينو يوازې ددې حديث پر نقلولو بسيا و نه كړه؛ بلكې پر اسنادو او مصادرو يې هم كتابونه وليكل. ستر اسلامي مؤرخ؛ "طبري" په دې باب د "الولايه فى طرق حديث الغدير" كتاب او دا حديث يې له ۷۵ لارو له پېغمبر اكرم رانقل كړى دى. "ابن عقده كوفي" د ولايت په رساله كې له ۱۰۵ تنو دا حديث رانقل كړى دى. "ابوبكر محمد بن عمر بغدادي"، چې پر "جمعاني" مشهور و، دا حديث يې له ۲۵ لارو نقل كړى دى.

**له حدیث پوهانو:**

"احمد بن حنبل شیباني"په ٤٠ سندوونو، "ابن حجر عسقلاني"په ٢٥، "جرزي شافعي په ٨٠، "ابوسعید سجستاني"په ١٢٠، "امیرمحمد یمني"په ٤٠، نسائي په ٢٥٠، "ابوالعلا همداني"په ١٠٠ او "ابوالعرفان حبان" په ١٣٠ سنادو دا حدیث راخستی دی.

٢٦ تنو ددې تاریخي پېښې په باب مستقل کتابونه لیکلي او کېدای شي داسې کسان هم وي، چې ددې پېښې په باب یې رساله یا کتاب لیکلی وي، چې په تاریخ کې یې نوم نه وي ثبت شوی.

دا ټولي سرشمېرنې د "الغدیر" د کتاب له لومړي ټوکه راخستل شوې دي. د شیعه مذهب عالمانو هم ددې تاریخي پېښې په باب ارزښتناك کتابونه لیکلي، چې بېلګه یې د "الغدیر" کتاب دی، چې "علامه امیني" لیکلی دی

## د امامت کلامي څېړنه

داچې سمه روښانه شي، چې د امامت په اړه د شیعه علماوو منطق څه و او نورو په دې اړه څه خبرې کړې دي؛ نو غوره مې ولیدل، چې په دې اړه د "خواجه نصیرالدین طوسي" خبره راواخلم او ورته لازم اضافات هم راوړم. دا متن ډېر لنډ دی او د هغه له پېره، را په دې خوا په شیعه او سني عالمانو کې مطرح دی.

"خواجه نصیرالدین طوسي" په دې اړه د "تجرید" په نامه مشهور کتاب کښلی. ددې کتاب یوه برخه د منطق د فن په اړه ده، چې ((منطق تجرید)) نومېږي او بله برخه یې د کلام د فن په اړه ده، چې د "توحید"، "نبوت" او "معاد" په اړه یې بحث کړی او د توحید برخه یې ډېرې فلسفي اړخ لري او په دې برخه کې "خواجه نصیرالدین طوسي" د فیلسوفانو په څېر خبرې کړې دي. دا دوه برخې یې "علامه حلي" شرح کړې دي. د علامه حلي نوم به مو اورېدلی وي، چې نه یوازې د تشیع؛ بلکې د اسلام ستر فقیه دی؛ هغه په منطق، کلام، فلسفه، ریاضیاتو او. . . کې د"خواجه نصیرالدین طوسي" شاگرد و او په فقه کې د علامه محقق حلي" [د "شرایع" مؤلف] شاگرد و، چې د شیعه علماوو په لومړۍ درجه علماوو کې شمېرل کېږي. "خواجه نصیرالدین طوسي" په ریاضیاتو کې د نړۍ په لومړۍ درجه عالمانو کې شمېرل کېږي.

"تذکرة الفقهاء" یو فقهي کتاب دی، چې یوازې د شیعه فقه یې نه ده بیان کړې؛ بلکې په هره مسئله کې د اهلسنتو د ټولو علماوو او نه یوازې د امام ابوحنیفه (ره)، امام مالک (ره)، امام شافعي (ره) او امام احمد بن حنبل (ره)؛ بلکې د څلورگونو مذاهبو تر رامنځ کېدو له مخه د علماوو نظر او فتواوې هم پکې راخستې ده. په هره مسئله کې یې ویلي: دلته ابوحنیفه داسې وایي، شافعي هاغسې ویلي او زموږ د امامیه شیعه وو نظر داسې دی، کله ردول او نیوکه هم کوي، د بېلگې په توگه: امام شافعي په یوه ځای کې داسې وایي، په بل ځای کې داسې وایي، لومړی یې داسې ویلي ول او بیا له خپلې گروهې واوخوت او داسې یې وویل.

"علامه حلي" د "تجرید" کتاب شرح کړی او د منطق برخه یې د "الجواهر النضید" په نامه مشهور دی، چې د منطق له غوره کتابونو څنې دی او د کلام برخه یې د "کشف المراد" په نامه دی، چې نن ورته " شرح تجرید" وایي او تر علامه روسته پردې کتاب خورا لیکنې شوې او ښایي په اسلامي نړۍ کې پر یوه کتاب هم د تجرید په څېر بحث نه وي شوی او علت یې دا و، چې کله به "خواجه نصیرالدین طوسي" د شیعه وو په هکله خبره کوله؛ نو ډېر ځغلنده به ترې تېرېده.

د "تجرید" کتاب په پای کې د امامت لپاره یو بحث پرانستل شوی او داچې دا بحث د ټولو شیعه علماوو د منلو وړ دی؛ نو ترې پوهېدای شئ، چې په دې اړه د شیعه علماوو منطق څه دی.

## د امامت تعریف

ددې کتاب د امامت په بحث کې یې لومړی د امامت تعریف کړی دی. په دې تعریف کې اختلاف نشته. وایي: ((الامامة ریاسة عامة فی امور الدین و الدنیا: امامت په دیني او دنیوي چارو کې عامه ریاست دی.)) "خواجه نصیرالدین طوسي" کلامي تعبیر لري، وایي: ((الامام لطف)) مراد دادی، چې امامت هم د نبوت په څېر له هغو مسئلو څنې دی، چې له بشري بریده بهر دی؛ نوځکه د امام ټاکنه د بشر له وسې بهر خبره ده؛ نو د هاخوا خبره ده او له هاخوا باید راشي او د نبوت په څېر دی، چې په وحې او الهي ټاکنې باید راشي؛ خو په دومره توپیر، چې نبوت نېغ په نېغه د خدای له لوري دی او د پېغمبر له خدای سره اړیکه ده؛ خو امام د خدای له لوري په پېغمبر ټاکل کېږي.

## د امامت په هکله د شیعه وو عقلي دلیل

"خواجه نصیرالدین طوسي" دلته یوازې یوه جمله ویلې؛ خو کومه توضیح، چې شیعه علماوو ورکړې، پر هماغه بنسټ ده، چې مخکې مې وویل. لومړی یو تاریخي بحث کوي. وایي: اوس د حضرت علي کرم الله وجهه د امامت په اړه بحث دی. که دا جوت شو؛ نو نورو امامانو ته د مخکې امام په نص تمسک او استدلال کېږي. وایي: پوهېږو، چې اسلام خاتم دین دی او تر ده روسته به بل شریعت نه راځي، چې ټولیز او د بشر د ژوند لپاره جامع دین دی. بیا وایي: آیا د پېغمبراکرم د ژوند تاریخ ښیي، چې شخصاً یې دومره فرصت پیدا کړی وي، چې ټول اسلام خلکو ته ووایي؟ چې کله تاریخ لولو؛ نو ګورو، چې پېغمبراکرم په ۲۳ کالو کې دومره فرصت لاس ته را نه وړ، چې ټول اسلام خلکو ته وښیي؛ البته پېغمبراکرم په دې اړه بېخي ناغېړي نه ده کړې او تر خپلې وسې یې ډېر، په دې لار کې هڅې کولې؛ خو د اسلام د تاریخ په رڼا کې د پېغمبراکرم بوختیاوو، دومره اجازه نه ورکوله، چې ټول اسلامي احکام خلکو ته بیان کړي او ناشونې ده، چې داسې دین نیمګړی بیان شوی وي؛ نو پردې بنسټ باید د پېغمبراکرم په اصحابو کې څوک وي، چې پشپړ اسلام یې له رسول اکرمه زده کړی وي او د پېغمبراکرم

سمبال شاګردان باید وي، چې د پیغمبراکرم تر مرګ روسته یې د اسلام ښوونه او بیان د پیغمبراکرم په څېر وي؛ خو په دومره توپیر، چې پیغمبراکرم ته به وحې راته؛ خو دوی هر څه له پیغمبراکرمه زده کړې دي.

بیا وایي: داچې تاسې داسې څوک نه لرئ او رجوع مو ورته نه ده کړې؛ نو هرومرو له پیله اسلام نیمګړی ګڼئ؛ نو په پایله کې مو قیاس رامخې ته کړ او سمه هم ده او د قیاس مسئله هله په اهلسنتو کې رامنځ ته شوه، چې و یې ویل: د یوې مسئلې حکم، چې له رسول اکرمه نه وي رارسېدلی؛ نو څه به کړو؟ و یې ویل: بې له دې هېڅ چاره نه لرو، چې یوه موضوع له بلې سره پرتله کړو او په ظني او ګوماني ورته والي د داسې مسئلو حکم استنباط کړو. دا د شیعه علماوو خبره نه ده؛ له حضرت علي (په نهج البلاغه کې) نه نیولې تر نورو دولس ګونو امامانو پورې ټولو ویلي، چې دا باطل ګومان دی او ویلي یې دي، چې دین نیمګړی نه دی، چې دیني مسایل په ځینو ځایونو کې نیمګړي وي او داچې نیمګړي دي؛ نو پخپله رایه او ګومان به حکم لاس ته راوړو.

د "اصول کافي" په کتاب کې د ((باب الرد الی الکتاب و السنة و انه لیس شیء من الحلال و الحرام الا و قد جاء فیه کتاب او سنة)) په نامه یو باب دی، چې داسې مسئله به نه وي، چې ټولیزه بڼه به یې په کتاب او سنت کې نه وي. د مسایلو کلیت شته او مصداق یې باید رابرسېره شي او د شیعه و له نظره اجتهاد هم همدادی؛ یعنې په اسلام کې کلیات شته او مجتهد باید کلیات پر جزئیاتو منطبق کړي؛ خو قیاس دادی، چې ان کلیات هم کافي نه دي او باید په ورته والي او ګومان اتکل وکړو او په تخمیني بڼه حکم استنباط کړو.

نو پردې بنسټ شیعه علماء وایي، چې موږ او تاسې دواړه اعتراف کوو، چې پیغمبراکرم په ۲۳ کالو کې و نه شو کړای، چې ان په کلي بڼه ټول اسلامي احکام ټولو خلکو ته ووایي. تاسې واست: پیغمبراکرم هر څه همداسې پرېښودل او ولاړ؛ خو موږ وایو داسې نه ده؛ بلکې په هماغه دلیل، چې پیغمبراکرم مبعوث شوی، پیغمبراکرم یو شمېر وګړي وټاکل، چې قدسي اړخ یې درلود او حضرت علي یې ړومبی و؛ یعنې حضرت علي کرم الله وجهه ته یې ټول حقایق بیان کړي ول او داسې یې روزلی او چمتو کړی و، چې ټولې پوښتنې وځوابوي. بې له حضرت علي کرم الله وجهه یو چا هم و نه ویل، چې د اسلام په اړه هره پوښتنه لرئ، رانه یې وکړئ، چې درو یې ځوابوم.

# امام؛ یعنې د دیني چارو کارپوه

اوس به دا خبره په نننۍ ژبه وکړو. شیعه علماء وايي: داچې په دې ځانګړنو له امامه منکر یاست؛ په حقیقت کې د دین سپکاوی کوئ. یوه فني دستګاه، چې یو ځای ته لېږدول کېږي؛ نو کارپوه یې هم ورسره لېږدول کېږي. که د آمریکا او روسیه په څېر هېوادونه یوه فني وسیله یو هېواد ته لېږي، چې وګړي یې ورسره اشنا نه دي؛ نو اشنا کېدو لپاره یې کارپوهان هم ورسره لېږي؛ البته د ساده څیزونو؛ لکه ټوکرانو لپاره د کارپوه د لېږد اړتیا نه وي. تاسې اسلام څرنګه ګڼئ، چې د خدای له لوري خلکو ته رالېږل شوی دی؟ آیا د ټوکرانو په څېر یې ساده ګڼئ، چې که یو هېواد یې بل هېواد ته لېږي؛ نو د ټوکرپوه لېږلو ته اړتیا نه وي؟ که یې د پېچلې ټېکنالوجی په څېر ګڼئ، چې بل هېواد ته د لېږد پر مهال یې د کارپوه لېږد ته هم اړتیا وي، چې د هغه هېواد خلک ور سره اشنا کړي؟

امام؛ یعنې ددیني چارو کارپوه؛ هغه حقیقي کارپوهان، چې ګومان او غلطي نه کوي او نه تېروځي. پېغمبراکرم خلکو ته اسلام راووړ او باید لږ تر لږه د یوې مودې لپاره حقیقي دیني کارپوهان په خلکو کې وي، چې خلکو ته په سمه توګه اسلام وروپېژني. پېغمبراکرم خلکو ته دغسې حقیقي کارپوه ټاکلی دی. شیعه علماوو دا خبره په ((لطف)) بیان کړې ده؛ یعنې "الهي پېرزوینه" او مراد دادی، چې داچار بشري لارښوونې ته ګټور دی او داچې پر لور یې د بشر لار ترلې ده؛ نو الهي لطف ایجابوي، چې له هغه لوري پر خلکو پېرزو وشي؛ لکه څنګه چې نبوت ته هم لطف ویل کېږي؛ نو دا د شیعه وو له اصولو یو اصل دی او ویلای شو، چې د امامت په اړه د شیعه وو عقلي دلیل دی.

## د عصمت مسئله

دلته د عصمت مسئله رامنځ ته کېږي. چې کله شیعه، امام پر داسې مقام ګڼي، چې د شریعت ساتونکی او دین پوهنې ته د خلکو مرجع دی؛ نو لکه څنګه چې پېغمبراکرم ته پر عصمت قایل دي؛ امام ته هم پر عصمت قایل دي. د پېغمبراکرم د عصمت په اړه څوک شبهه نه کوي او روښانه چار دی او که موږ ته په پخوکرښو جوته شي، چې دا خبره د پېغمبراکرم ده؛ نو هېڅکله نه وایو، چې دلته پېغمبراکرم تېروتی دی. خلکو لارښوونې ته اړتیا درلوده؛ نو خدای، پېغمبراکرم د خلکو لارښوونې ته راولېږه؛ نو داسې انسان نه رالېږي، چې جایز الخطا او جایز المعصیة وي.

دوه ډوله خطاګانې دي: يو داچې د پوهې له مخې او په لوی لاس خطا وکړي. د بېلګې په توګه: خدای، پېغمبراکرم ته حکم وکړي، چې خلکو ته داسې ووايه، بيا پېغمبراکرم ووينې، چې مصلحت او منفعت يې بل څه غواړي؛ نو د خدای خبره بل ډول خلکو ته رسوي؛ نو څرګنده ده، چې دا د نبوت پر ضد چار دی. که امامت داسې تعريف کړو، چې د دين د بيان لپاره د نبوت متمم چار دی؛ يعنې په هغه دليل يې شتون پکار دی، چې د دين د احکامو په بيان کې د پېغمبراکرم دنده ترسره کوي؛ نو په هماغه دليل، چې بايد پېغمبر اکرم له ګناه او تېروتنې معصوم وي؛ امام هم بايد داسې وي او که څوک ووايي، پکار نه ده، چې امام معصوم وي او که تېروته؛ نو بل څوک يې ورته ياده کړي، وايو مور هغه بل ته "نقل کلام" کوو، هغه بيا پخپله يو ساتونکی غواړي، بالاخره يو کس بايد وي، چې واقعاً د شرع ساتونکی وي. پردې سربېره، که امام تېروتونکی او ګناه کوونکی وي؛ نو د نورو دنده ده، چې نېغې لارې ته يې کړي، حال دا، د نورو دنده داده، چې د امر يې مطيع وي، چې دا دواړه سره اړخ نه لګوي.

## د تنصيص مسئله

د عصمت له مسئلې، تنصيص ته رسو؛ نو پردې بنسټ د قضيې کلامي بڼه داسې ده، چې له خدای يې پيلوي، وايي: امامت د خدای پېرزوينه ده؛ داچې پېروزينه ده؛ نو بايد وي او داچې دا پېروزينه بې له عصمته ناشونې ده؛ نو امام بايد معصوم وي او د همدې لپاره بايد منصوص وي؛ ځکه دا چار [؛ يعنې عصمت] موضوعي نه دی، چې تشخيص يې د خلکو دنده وي؛ لکه څنګه چې د پېغمبر تشخيص پر خلکو نه دی؛ پر خدای دی، چې څوک پېغمبری ته وټاکي او له دلايلو، آثارو او معجزاتو سره يې راښکاره کړي؛ د امام تشخيص هم پر خلکو نه دی او بايد د خدای له لوري وټاکل شي؛ خو په دومره توپير، چې پېغمبر په معجزو پېژندل کېږي او امام په پېغمبر. دلته تنصيص ته ننوځي، وايي: امامت _په دې مانا چې مو وويل_ بايد پر نص د پېغمبر له لوري وي؛ نه داچې خلک يې وټاکي.
نو پردې بنسټ د پېرزو له مسئلې عصمت ته او د عصمت له مسئلې تنصيص ته رسو. دلته، چې راورسي؛ نو بايد څلورم پوړ ووهي: ډېر ښه! دا هر څه پر ځای؛ خو دا خبرې په حضرت علي کرم الله وجهه پورې څه اړه لري؟
خواجه نصيرالدين طوسي وايي: ((و هُما مُختصات بعليٍ)) دا دواړه [؛ يعنې معصومتوب= پاکلمنتوب او منصوصتوب ]په حضرت علي کرم الله وجهه پورې ځانګړي دي. مراد دادی، چې په دې اړخ کې ان يو تن هم اختلاف نه لري، چې بې له علي کرم الله وجهه بل څوک

منصوص نه دی؛ یعنې خبره په دې کې نه ده، چې نور وایي: پیغمبراکرم بل څوک ټاکلی او مورږ وایو: علي کرم الله وجهه یې ټاکلی دی؛ بلکې خبره په دې کې ده، چې آیا پیغمبراکرم څوک ټاکلی دی، چې په دې بنه کې بې له علي کرم الله وجهه بل څوک نه دی او آیا له بېخه یې څوک نه دی ټاکلی؟ همدومره، چې وایو: نص او تنصیص لازم او فرض دی او پیغمبراکرم یو انسان تنصیص کړی، چې هغه انسان بې له علي کرم الله وجهه بل څوک کېدای نشي؛ ځکه چا داسې ادعا نه ده کړې او بلکې انکار هم ترې لري. ان خلفاء هم د تنصیص مدعي نه دي؛ نور خو لا پر خپل ځای. لارویان یې هم له لوري یې د تنصیص مدعي نه دي.
د عصمت په اړه هم همداسې ده؛ نه خلفاء د خپل عصمت مدعي ول؛ بلکې په ډاګه یې پخپلو تېروتنو اعتراف کاوه او نه اهلسنت ګروهن دي، چې خلفاء معصوم ول؛ ځکه لکه څنګه چې مې مخکې هم وویل، امامت د هغوی له نظره حکومت دی. د حکومت په مسئله کې نوره مهمه نه ده، چې واکمن ګناه کوي او تېروځي که نه. وایي: نه! پر ګناه هم ککړېدل او خورا تېروتل؛ خو د عادل انسان تر بریده، د هغه انسان تر بریده، چې د جماعت ورکولو (پیشنمازۍ) وړتیا یې درلوده او تردې ډېر مقام ورته قایل نه دي. دا جمله هم اهلسنتو راوړې او "قوشچي" یې هم مني، چې حضرت ابوبکر (رض) وویل: ((ان لی شیطاناً یعترینی)) یو شیطان راسره دی، چې رابرلاسېږي او تېرباسي مې، که پر کږه ولاړم؛ نو نېغې لار ته مې کړئ. په دې خبره پخپله لومړي خلیفه اعتراف کاوه. په ډېرو ځایونو کې حضرت عمر (رض) وویل: ((لو لا علی لهلک عمر)) که علي نه وای؛ نو عمر به هلاک شوی وای. ډېر پېښ شوي، چې حضرت عمر (رض) به حکم ورکړ، بیا به حضرت علي کرم الله وجهه پر خپلې غلطۍ پوهاوه او هغه هم ورسره منله. خلفاء نه پخپله د عصمت مدعي دي او نه ورته پر عصمت قایل دي.
که د امامت مسئله پر دومره لوړه کچه شوه؛ یعنې د پېرزو، عصمت او تنصیص په کچه؛ نو بې له حضرت علي کرم الله وجهه هېڅوک ادعا نه لري، چې په دې کچه به وي.
دلته مسئله کلامي بڼه لري؛ یعنې لکه څنګه چې مې وویل: له پورته پېلېږي او په کوم دلیل، چې نبوت پېرزوینه ده؛ امامت هم باید وي. ته وا همدلته مطلب ته د پای ټکی ایښوول کیږي؛ خو تردې ډېر ورننوځو، چې وګورو په بهر او په عمل کې هم داسې وه او پیغمبراکرم علي کرم الله وجهه تنصیص کړی و که نه؟، چې له دې ځایه نصوصو ته ورننوځو.
مورږ ولې کلامي لارو ته ورننوځو او له پورته یې پېلوو؟ مورږ یې له لاندې پېلوو. متکلمین یې له پورته پېلوي، چې دلته راورسي؛ خو که مورږ د متکلمینو پر دود خبرې وکړو؛ نو کار مو له دې ځایه پیلېږي، چې دا خبرې په مورږ پورې څه اړه لري، چې آیا امامت د خدای پېرزوینه ده که نه او داچې پېرزوینه ده؛ امام باید معصوم وي، چې په پایله کې د تنصیص خبره رامنځ

ته شي. دا بايدونه خداى ته دندې ټاکل دي. موږ نه غواړو خداى ته لار وټاکو؛ بلکې په څه پسې ځو، چې شته. که پېغمبراکرم تنصيص کړی وي؛ هماغه راته بسيا دی، بې له دې، چې عقلاً يې راته د خداى پېرزو توب، عصمت او تنصيص جوت شي. نېغ په نېغه په دې پسې ځو، چې آيا پېغمبر اکرم څوک ټاکلی دی که نه؟بايد وګورو، چې په دې اړه شيعه څه استدلالونه لري؟ ناچار يو، چې دا استدلالونه سرتړلي وواېو؛ ځکه يا يې اهلسنت نه مني، چې داسې نصوص شته (البته مطلق انکار ترې نه کوي؛ خو وايي: واحد خبر دی؛ نه متواتر) او يا يې مانا او مفهوم ته مخونه ورکوي او وايي: مانا يې دا نه ده، چې تاسې يې واست.

## د حضرت علي کرم الله وجهه پر امامت د رسول اکرم د نصوصو څېړنه

يو دادی، چې پېغمبراکرم اصحابو کرامو ته وويل: ((سلموا على علي بامرة المؤمنين: علي ته د مسلمانانو د امير په نامه سلام کوئ. [1]))
دا جمله د "خم غدير" په پېښې پورې اړوند ده. البته د غدير د حديث جمله بېله يادوي. اهلسنت دا جمله په متواتره بڼه نه مني. بيا شيعه علماوو جوته کړه، چې دا احاديث متواتر دي. د "تجريد" په کتاب کې تردې ډېر څه نه دي ياد شوي او دا حديث يې "ارسال مسلم" ګڼلی. شارح (ملا علي قوشچي) هم وايي: نه! موږ يې هم نه منو، چې متواتر وي؛ بلکې واحد خبر دی، ځينو رانقل کړی او ټولو نه دی رانقل کړی.
د "عبقات" او د "الغدير" د کتابونو هڅه ده، چې جوته کړي، دا احاديث متواتر دي. په دواړو کتابونو په تېره په "الغدير" کې د غدير د حديث راويان پوړ په پوړ له لومړۍ پېړۍ نه تر څوارلسمې پېړۍ پورې ياد شوي دي؛ لومړی د اهلسنتو له کتابونو تر شپېتو ډېرو اصحابو کرامو نوم يې راوړی دی. بيا يې تابعين راوړي، چې له اصحابو يې نقل کړی، چې دا تقريباً په لومړۍ پېړۍ پورې اړوند دي او همداسې پوړ په پوړ د نورو پېړيو راويان يې هم راوړي دي. د "الغدير" په کتاب کې يو ښه کار دا شوی، چې د قضيې له "ادبي اړخه" يې ګټنه کړې ده. په دې اړه"عبقات" او نورو کتابونو ډېری "حديثي نقل" کړی، چې په هرې پېړۍ کې کومو کسانو رانقل کړی دی؛ خو "الغدير" له ادبي اړخه هم ګټنه کړې؛ ځکه په هر پېر کې، چې په خلکو کې هر مطلب و؛ نو شاعرانو په شعر منعکس کړی دی. شاعران د هغه څه منعکسوونکي دي،

---

[1] وګ: بحار۹۲/۲۸، دربيم روايت.

چې پخپل پېر کې يې ول. وايي: که د غدير مسئله داسې مسئله وه، چې د هغوی د وينا له مخې، مثلاً په ځلورمه پېړۍ کې پېښه شوې وه؛ نو د لومړۍ، دويمې او درېيمې پېړۍ شاعران به يې په هکله دومره شعرونه نه وو ويلي. په هره پېړۍ کې گورو، چې د غدير مسئله د هماغې پېړۍ د ادبياتو برخه ده؛ نو په کومو سترگو له دې حديثه انکار کړای شو؟!، چې دا له تاريخي نظره ښه لار ده؛ موږ ډېری په تاريخ کې د يوې موضوع د اثبات لپاره په شاعرانو پسې ځو؛ گورو، چې په هره پېړۍ کې اديبانو او شاعرانو دا موضوع رانقل کړې ده او څرگندېږي، چې دا مسئله د هغوی په وخت کې يو موجود فکر و. "عبقات" هم کله حديث ته يو کتاب ليکلی، چې پکې يې د حديث راويان ذکر کړي او يا داچې دا راوي سم دی که ناسم، پلاني ويلي، چې سم دی او پلاني ويلي، چې سم نه دی او. . . . له ځانگو يې ډکه ونه جوړه کړې، چې انسان ددې کتاب د ليکوال څېړنو ته، گوته په خوله کوي.
پېغمبراکرم حضرت علي کرم الله وجهه ته وويل: ((انت خليفة بعدی.[۱]))
د ابن هشام سيرة هغه کتاب دی، چې په دويمه پېړۍکې کښل شوی؛ پخپله ابن هشام ظاهراً په درېيمه پېړۍ کې و؛ خو اصلي سيرت د "ابن اسحاق" دی، چې په دويمه پېړۍ کې يې ژوند کاوه او "ابن هشام" د هغه کتاب لنډ، تخليص او تهذيب کړی دی. د اهلسنتو له ډاډمنو کتابونو دی، چې پکې يې دوه پېښې رانقل کړي، چې د "تجريد" په کتاب کې يې نه دي رانقل کړي؛ خو داچې مضمون يې زموږ له بحث سره اړخ لگوي؛ په لنډو يې راخلو:

[۱] وگ: بحار۳۵۲/۳۹، ۲۶ روايت په دې عبارت: ((انت الخليفة فی امتی))

## د یوم الانذار کیسه

د بعثت په ړومبیو کلونو کې آیت راغی:
((وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ (شعراء/۲۱٤): او خپل نژدې خپلوان دې وویروه.))
تر اوسه لا پیغمبراکرم عمومي بلنه نه وه پیل کړې او دا مهال حضرت علي د پیغمبراکرم په کور کې کوچنی و. پیغمبراکرم علي کرم الله وجهه ته وویل: مېلمستیا ته خواړه چمتو کړه او "بني هاشمو" او "بني عبدالمطلب" ته بلنه ورکړه. غوښه او شیده یې چمتو کړل. تر خوړو روسته پیغمبراکرم وویل: ((زه د خدای استازی یم او د خدای له لوري گومارل شوی یم. دنده راکړه شوې، چې بلنه درکړم؛ که زما خبره مو ومنله؛ نو د دنیا او آخرت نېکمرغي به مو په برخه شي.))
ابولهب ددې خبرو په اورېدوه خورا غوسه شو، و یې ویل: مېلمستیا دې راته کړې، چې دا بېځایه خبرې راته وکړې؟ گڼه گونه یې جوړه کړه او له غونډې و ووت.
پیغمبراکرم دویم ځل مېلمستیا وکړه. پخپله حضرت علي کرم الله وجهه ، چې راوي هم دی، وایي: مېلمانه د څلوېښتو په شاوخوا کې ول.
پیغمبراکرم وویل: ((په تاسې کې، چې چا لومړی زما بلنه ومنله؛ نو هغه به مې په تاسې کې وصي، ځایناستی او وزیر وي.
بې له علي کرم الله وجهه بل چا مثبت ځواب ور نه کړ او هر ځل، چې پیغمبراکرم بلنه ورکوله، یوازې علي کرم الله وجهه مثبته ځوابوله. په پای رسول اکرم وویل: تر ما روسته، ته زما وصي، ځایناستی او وزیر یې.

## له رسول اکرم سره د یو ټبر مشر کتنه

د ابن هشام په سیرت کې راغلي: پیغمبراکرم، چې په مکه کې و او د تبلیغ لپاره یې خورا ستونزې درلودې؛ خو په حرامو میاشتو کې یې دومره ستونزې ورته نه راولاړولې او رسول اکرم به تل له فرصته گټه اخسته او چې خلک به په عرفات کې د "عکاظ" په بازار کې راټولېدل (هغه مهال هم، حج و؛ خو ځانگړې بڼه یې درلوده)؛ نو پیغمبراکرم به ورتله او خلک یې اسلام ته رابلل.
ابولهب به د سیوري په څېر په پیغمبراکرم پسې ته او خلکو ته یې د پیغمبراکرم ټولې خبرې درغجنولې. په دې وخت کې، یو ټبر مشر د پیغمبراکرم د خبرو اترو تر اورېدو روسته وویل: زه او ټبر مې چمتو دی، چې ایمان درباندې راوړو؛ خو په دې شرط، چې تر ځان روسته ما یا زما د ټبر یو تن، پر خپل ځای وټاکې.

پېغمبراکرم وویل: داچې څوک به تر ما روسته وي؛ دا چار د خدای په لاس کې دی.
او دا هغه خبره ده، چې د اهلسنتو په کتابونو کې هم راغلې ده.

## د غدیر حدیث او تواتر یې

"خواجه نصیرالدین طوسي" وایي: ((ولحدیث الغدیر المتواتر)) د غدیر حدیث، چې متواتر دی. ((متواتر)) د حدیثو په علم کې یوه اصطلاح ده؛ وایي: "واحد خبر" او "متواتر خبر"، له واحد خبره مراد دا نه دی، چې راوي یې یو تن وي؛ بلکې واحد خبر دې ته وایي، چې نقل یې تردې حده دی، چې ډاډ ته ګټور نه دی؛ که ناقل یې یو تن وي که لس تنه. د بېلګې په توګه: یو سړی نقلوي، چې ما پلانی خبر له راډیو واورېد. تاسې ګومان پیدا کوئ، چې دا خبره رښتیا وي؛ خو لا پر تمه یاست، چې په دې هکله نور څه وایي. همدا خبر له بله هم اورئ؛ نو ګومان څه نور هم پیاوړی شي، بیا ګورئ، چې ډېری نور خلک هم همدا خبره کوي. احتمال نشئ ورکولای، چې دې ټولو خلکو دروغ ویل غوښتل. ان د ناقلانو شمېره هم باید تردې بریده وي، چې د دروغو تباني هم ورته سم نه وي؛ ځکه تر یوه بریده شونې ده، چې بشري وګړي تباني وکړي؛ خو که تر هغه بریده ډېر شول؛ نو تباني ناشونې ده. تواتر؛ یعنې د خبر د نقل شمېر تر تباني اوچت وي. د بېلګې په توګه: یوه بېلګه مې راوړه، چې شونې ده، لس تنه یو له بل سره تباني وکړي، چې ووایي: پلانی خبر مو له راډیو اورېدلی. تر دوو سوو شونې ده، چې تباني وکړي؛ خو کله قضیه تردې بریده رارسي، چې د تباني احتمال پکې ناشونی دی. د بېلګې په توګه: د ښار جنوب ته ځئ، اورئ، چې خلک وایي: دا خبر مې له راډیو واورېد، بیا همدا له راډیو اورېدل شوی خبر د ښار په ختیځ او لویدیځ کې هم خلکو اورېدلی او څرګندوي یې؛ نو تباني نشي ورکولای، چې دوی ټولو تباني کړې، چې دې ته تواتر وایي.
شیعه مدعي دی، چې د غدیر حدیث نقل تردې بریده دی، چې د تباني احتمال پکې نه شو ورکولای، چې ووایو د بېلګې په توګه: د پېغمبراکرم څلوېښت تنو اصحابو پر دروغو تباني کړې، په تېره ددې حدیث ډېری راویان یا د حضرت علي کرم الله وجهه له مخالفینو ول او یا لږ تر لږه د حضرت علي کرم الله وجهه پلویان نه ول. که ددې حدیث راویان د حضرت ابوذر، مقداد او سلمان (رضی الله عنهم) په څېر کسان ول، چې تل له علي کرم الله وجهه سره ول او داچې له علي کرم الله وجهه سره یې خورا مینه درلوده؛ نو په تباني یې دا خبره وکړه.
د "ملا علي قوشچي" په څېر علماء وایي، چې دا خبر واحد دی او تواتر ته نه دی رسېدلی؛ خو شیعه په سند او مدرک وایي، چې واحد خبر نه دی.

د غدیر په حدیث کې پیغمبراکرم وویل: ((الست اولی بکم من انفسکم؟ قالو بلی: آیا زه پر تاسې تر تاسې لومړی نه یم؟ و یې ویل: هو!)) بیا یې وویل: ((من کنت مولاه فهذا علی مولاه.)) څرګنده ده، چې غواړي هماغه لومړیت علي کرم الله وجهه ته تصویب کړي، چې پخپله پیغمبراکرم یې پر خلکو لري.

## د منزلت حدیث

پیغمبراکرم وویل: ((انت منی بمنزلة هارون من موسی الا انه لا نبی بعدی؛ یعنې ته راته داسې یې؛ لکه هارون، چې موسی ته و؛ خو په دومره توپیر، چې تر ما روسته نبي نه راځي.))
دا حدیث "خواجه نصیرالدین طوسي" متواتر ګڼلی او ملا علي قوشچي یې له اصله منکر نه دی؛ خو وايي: واحد خبر دی. دیني عالم؛ "میر حامد حسین" په "عبقات" کې او علامه امیني په الغدیر کې جوت کړی، چې "واحد خبر" نه دی.
دا خبره پیغمبراکرم هغه مهال کړې وه، چې د تبوک جګړې ته روان و. په دې سفر کې پیغمبراکرم علي کرم الله وجهه له ځان سره یو نه وړ او په مدینه کې یې خپل ځایناستی کړ. شیعه علماء وايي: علي کرم الله وجهه یې ځکه یو نه وړ، چې پوهېده جګړه نه راپېښېږي؛ نو علي کرم الله وجهه وویل: دلته مې له ښځو او ماشومانو سره پرېږدئ؟ پیغمبراکرم ورته وویل: اما ترضی ان تکون (یا: انت) منی بمنزلة هارون من موسی الا انه لا نبی بعدی (غوښتل یې ووايي: زه دې په مدینه کې ځایناستی پرېږدم؛ نه داچې خوشې مې پرېښی یې)
په قرآن کې حضرت موسی علیه السلام ته د حضرت هارون د مقام په هکله راغلي، چې موسی علیه السلام د رسالت په پیل کې وویل:
قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي. وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي. وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي. يَفْقَهُوا قَوْلِي. وَاجْعَل لِّي وَزِيراً مِّنْ أَهْلِي. هَارُونَ أَخِي. اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي. وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي. كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيراً. وَنَذْكُرَكَ كَثِيراً (طه/۲٤-۳٤): (موسی) وویل: ((پالونکیه! سینه مې پراخه کړه؛ او کار مې راته اسانه کړې؛ او له ژبې مې غوټه پرانیځه؛ چې زما په خبرو پوه شي. او له کورنۍ مې راته یو وزیر (مرستیال) وټاکه؛ هارون، چې ز ما ورور دی. ملا مې پرې ټینګه کړه؛ او په کارکې یې راسره برخوال کړه، چې ډېره پاکي دې ووایو؛ او ډېر دې یاد کړو؛))
وزیر له بېخه د مرستیال په مانا دی. وزر؛ یعنې دروندوالی. وزیر؛ یعنې هغه چې یو اندازه دروندوالی زغمي. دا مشهوره اصطلاح هم، چې وروسته پیدا شوه، په دې اعتبار وه، چې وزیر د پاچا مرستیال و.

په بل ځای کې (تردې روسته) د حضرت موسی علیه السلام او هارون علیه السلام په هکله وايي:
((وَوَاعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلاَثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً وَقَالَ مُوسَىٰ لأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلاَ تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ (اعراف/۱۴۲): او موږ له موسی سره ددېرشو شپو وعده ایښې وه، بیا مو پرهغې لس شپې (نورې) پوره کړې او په دې توگه له هغه سره د خپل پالونکي ټاکلې موده پوره څلوېښت شپې شوه او موسی (د تلو پر وخت) خپل ورور هارون ته وویل: ((ته په قوم کې زما ځایناستی اوسه او(چارې یې) سمې کړه او د ورانکارو پر لار مه ځه.))
نو پردې بنسټ، چې کله پیغمبراکرم وايي: ((انت منی بمنزلة هارون من موسی))؛ غواړي ووايي؛ لکه څنگه چې هارون موسی ته و او ټول د قرآن له مخې پوهېږي، چې هارون د حضرت موسی وزیر و، ملا یې پرې ټینگه وه، په کار کې یې برخوال و او په قوم کې یې ځایناستی و؛ خو په دومره توپیر، چې تر حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم روسته بل پیغمبر نه راته او که پیغمبراکرم نه وو ویلي: ((الا انه لا نبی بعدی))؛ نو ویلې به مو، چې دلته د پیغمبراکرم نظر په چارو کې، یوې چارې او ځانگړې ورته والي ته دی؛ خو چې کله نبوت استنثاء کوي؛ نو وايي، چې په ټولو چارو کې (البته په ټولنیزو چارو کې نه په طبیعي چارو کې، چې حضرت هارون علیه السلام د حضرت موسی علیه السلام طبیعي ورور و؛ ته مې هم طبیعي ورور یې!) دا تړاو برقرار دی؛ هغه تړاو، چې هارون علیه السلام په ټولو چارو کې حضرت موسی علیه السلام ته درلود؛ ته یې هم ماته لرې.
د اهلسنتو ځواب دادی، چې که دا حدیث متواتر وي؛ منو یې؛ خو متواتر نه دی؛ بلکې واحد دی؛ خو لکه څنگه چې مې وویل: د میر حامد حسین په څېر علماوو پخپلو کتابونو کې جوته کړې، چې دا حدیث متواتر دی.
پوښتنه:
((تېرو وېناوو مې په ماغزو کې د حکومت او امامت ترمنځ یوه پوله جوړه کړه او لکه څنگه چې استاد مطهري وویل: امامت یو شمېر دندې لري، چې یوه ځانگه یې حکومت دی؛ نه پوهېږم، چې نورې ځانگې یې څه دي، چې حکومت پکې نه گډېږي او بهیر ته مخونه ور نه کړي؟ تر اوسه مو له اسلامه دا زده کړي، چې د دنیا او آخرت او دنیوي کړنو او اخروي کړنو ترمنځ مو برید نشته. هغه څه چې د اخروي کړنو په نامه یادېږي، په دنیوي ژوند کې د لاسوهنې او په دنیوي کړنو د عمل د ضمانت لپاره دي او دنیوي کړنې مو کمال، د ټولنیز ژوند ښه کولو او پر ټولنه د ټولنیز حکومت جوړول دي. په قرآن کې هم، چې گورو خدای تر ټولو ستر مډال

هغو وګړيو ته ورکوي، چې غوښتي يې دي، پخپلو عبادي کړنو کې دنيا، د دنيا واکمني او د عدالت منګولو ته يې ورکول جوت کړي. تر ټولو ستر ارزښت جهاد ته قايل دي او د دولس ګونو امامانو ژوند ته هم، چې ګورو ټولې غورځې پرځې يې ددې لپاره وې، چې خپل حقوق، واکمني او حکومت لاس ته راوړي؛ نو نه پوهېږم بې له حکومته کومې نورې دندې امامت ته راوړم؛ ځکه حکومت يې د امامت ټولو چارو ته مخونه ورکوي؛ نو لږه رڼا پرې واچوئ.))

ځواب:

د پولې خبره مو پخپله مطرح کړه؛ ما بېخي د پولې خبره نه ده کړې او سمه يې هم نه ګڼم، چې و کارول شي. و مې ويل: په شيعه مذهب کې امامت تر حکومته په لوړه درجه مطرح دی، چې هغه د اسلام توضيح او د عصمت په کچه د ديني احکامو مرجعيت دی، چې حکومت به د امامت يوه څانګه وي. و مو ويل: د پېغمبراکرم يو چار حکومت کول ول؛ دا خو څه پوله نه ده؛ يوه دنده، چې په خلکو کې پېغمبراکرم ته ور تر غاړې وه، د واکمنۍ چارې وې؛ خو دا واکمني د خلکو له لوري نه وه او هغه حق نه و، چې خلکو ورکړی وي؛ هغه حق و، چې خدای ورکړی و؛ ځکه پېغمبراکرم تر بشر مافوق و او داچې د الهي احکامو ښوونکی و او له عالم غيب سره يې معنوي اتصال درلود؛ نو پر خلکو يې واکمني هم درلوده. ما خو د دنيا او آخرت ترمنځ پوله نه ده جوړه کړې او امام او واکمن خو مې نه دي جلا کړي او نه مې دي ويلي، چې امام د خلکو په آخرت پورې اړوند چار دی او واکمن د وګړيو په دنيا پورې اړوند چار دی او که ما داسې ويلي؛ نو نيوکه مو پر ځای وه. و مو ويل په شيعه و کې بله مسئله مطرح ده، که جوته يې کړو؛ پخپله به حکومت هم جوت شي او لکه څنګه چې د پېغمبر په شتون کې د بل وګړي د واکمنۍ خبره مطرح نه ده؛ نو په کومه کچه، چې شيعه امام معرفي کوي؛ نو د امام په شتون کې د بل وګړي د واکمنۍ خبره نه مطرحېږي. د نننۍ حکومت په مانا خبره هله مطرحېږي، چې فرض کړو په دنيا کې امام نه وي يا هغه مهال، چې امام غايب وي؛ ګڼې په شيعه مذهب کې، چې په کومه کچه امام معرفي کوي؛ پخپله د حکومت مسئله روښانېږي.

پوښتنه:

اهلسنت د غدير خم روايت "واحدخبر" ګڼي او "متواتر" يې نه ګڼي که هغه روايت، چې پېغمبراکرم وويل: علي ته د اميرالمؤمنين په نامه سلام کوئ؟

ځواب:

د روايت له دې برخې ((: من کنت مولاه فهذا علی مولاه)) اهلسنت هم انکار نشي کړای، چې متواتر دی او (يوازې) ملا علي قوشچي وايي، چې متواتر نه دی. دا برخه يې دومره رانقل شوې، چې اهلسنت هم ترې انکار نه کوي.

ډېرى راويانو يې لومړۍ برخه هم روايت کړې، چې و يې ويل: ((الست اولى بکم من انفسکم)) شيعه يې دا برخه هم متواتره ګڼي؛ خو د ((سلموا على علي بامرة المؤمنين)) برخه يو اهلسنت هم نه مني*[1]، چې متواتره به وي او وايي، چې واحد خبر دى؛ خو د خم غدير روايت زموږ له نظره متواتر دى او پردې سربېره، په هکله يې ټول اهلسنت علماء يوه خوله نه دي، چې دا حديث متواتر دى يا واحد خبر دى؛ ځينې يې وايي، چې متواتر دى او ځينې وايي، چې "واحدخبر" دى؛ خو مانا يې دا نه ده، چې شيعه و به ويلي وي؛ بلکې پېغمبر اکرم وويل: څوک چې زما دوست وي او زه يې ښه ايسم؛ نو علي دې يې هم ښه و ايسي؛ خو موږ وايو، چې دا لا څنګه خبره ده، چې پېغمبراکرم به تر هغه سره لمر لاندې خلک تم کړي، چې ورته ووايي: د چا چې زه ښه ايسم؛ نو علي دې يې هم ښه وايسي؟! په تېره داچې په روايت کې ((الست اولى بکم من انفسکم)) او د ((مولا)) ټکى راغلى وي، چې ښځي په يوه ځاى کې هم د ملګري په مانا نه دى راغلى.

پوښتنه:

آيا د ((اليوم اکملت لکم دينکم)) آيت د خم غدير تر پېښې روسته راغى؟

ځواب: نه په خم غدير کې نازل شو.

## د ((الْيَوْمَ يَئِسَ)) آيت او امامت

په تېرو څېړکيو کې مې وويل، چې د امامت په هکله د شيعه او اهلسنتو فکر له بېخه يو له بل سره توپير لري؛ نو په دې بنه ددې مسئلې په اړه بحث کول له سره سم چار نه دى، چې موږ پر امامت قايل يو او هغوى هم پر امامت قايل دي؛ خو د امامت شرايط زموږ او د هغوى له نظره توپير لري؛ ځکه پر کوم څيز، چې شيعه د امامت په نامه ګروهن دى، غير له هغه څيزه دى، چې اهلسنت پرې د امامت په نامه ګروهن دي او په دې بنه د مسئلې مطرحول سم چار نه دى، چې آيا امامت په نص دى که په شورا؛ يعنې آيا پېغمبر دى، چې امام ټاکي که خلک بايد امام وټاکي؛ ځکه څه چې شيعه د امامت په هکله وايي او وايي، چې په نص دى بې له هغه څه دي، . چې اهلسنت وايي او وايي، چې په شورا دى. نه داچې د يو څيز په هکله بحث کوي او

یو ووایي، چې په نص دی او بل ووایي، چې همدا چار په شورا دی. په واقع کې باید داسې وویل شي، چې په شیعه و کې د امامت په نامه مسئله مطرح ده، چې اهلسنت یې له بېخه نه مني؛ نه داچې په شرایطو کې یې اختلاف لري؛ شیعه امامت دومره لوړې کچې ته وړي، چې که څوک یې ومني؛ نو قهراً به دا ومني، چې خدای دی، چې امام ټاکي؛ لکه څنگه چې د نبوت په هکله هېڅوک نه وایي، چې خلک دې کېني او نبي دې وټاکي؛ نو په کومه سترگه او کچه، چې شیعه امام ته گوري؛ نو دې خبرې ته پکې ځای نه پاتې کېږي، چې خلک دې کېني او امام دې وټاکي.

په تېرو څېړکیو کې مې هغه پړاوونه او شرایط وویل، چې شیعه یې امام ته لري او دلته ته راورسېدو، چې شیعه مسئله له پورته پېلوي او لاندې رارسي. بیا وایي: داچې دا یوازې یوه فرضیه نه وي؛ باید وگورو، چې په هغه لوړه کچه، چې موږ یې د امامت په اړه وایو، پېغمبراکرم دې لوړ مقام ته څوک ټاکلی که نه؟ آیا په قرآن کې راغلي کې نه؟

## د ((الْيَوْمَ يَئِسَ)) آیت

((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (مائده/٣): نن کا فران ستاسې د دین (له زواله) ناهیلې شوې دي؛ نو څکه ترې مه وېرېږئ؛ بلکې زما له مخالفته ووېرېږئ نن مې ستاسې دین تاسې ته بشپړ کړ او خپل لورېنه مې درته پوره کړه او اسلام مې درته ستاسې (تلپاتې) دین غوره کړ (؛ نوځکه د حلالو او حراموکوم بندیزونه، چې درباندې لگول شوي، عملي یې کړئ)؛ خو هغوی چې وږي وي اونور خواړه ور ونه رسېږي او د گناه په نیت دا منع شوي څېزونه ونه خوري (؛ نو باك نشته چې له منع شویو غوښو وخوري)؛ نو بېشکه چې خدای ډېر ښښونکی (او) لورین دی.))

دا دوه برخې، چې دواړه په ((الیوم)) پېلېږي، په یوه آیت کې دي؛ نه داچې په دوو آیتونو کې دي او څرگنده ده، چې دواړه هم په یو مطلب پورې اړوند دي.

د ((یوم)) ټکی، چې کله په ((الف و لام)) ویل کېږي (د عهد الف و لام))؛ کله "د هغې ورځې" په مانا ده او کله هم د "نن" په مانا او دواړو ځایو ته کارول کېږي.

"د هغې ورځ" په مانا هله کارول کېږي، چې مخکې یې د یوې ورځې نوم اخستی وي؛ بیا وایي: هغه ورځ؛ خو که ووایو، چې پلانی ((الیوم)) راغی؛ یعنې همدا نن راغی. ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ)) [اوس نه وایو، چې مراد یې "هغه ورځ" ده که "نن"، پردې به روسته

رڼا واچوو] پر هغه ورځ (یا نن) کافران ستاسې د دین (له زواله) ناهیلي شوې دي. فَلاَ تَخْشَوْهُمْ؛ نو څکه ترې مه وېرېږئ؛ یعنې نور له دې نهیلي دي، چې پر دین برلاسي شي او یا یې له منځه یوسي او داچې نهیلي شوي؛ نو د اسلام پر خلاف له خپلو پخوانیو سیاستونو یې لاس واخست؛ نو څکه ترې مه وېرېږئ. ډېره حیرانوونکې جمله ده. وایي: وَاخْشَوْنِ بلکې زما له مخالفته ووېرېږئ. خبره په دې کې ده، چې د هغوی له لوري وېره مه لرئ؛ خو له ما وېره ولرئ. ددې خبرې په پامنیوې، چې پخپله د دین په باب بحث دی. له هغوی څکه وېره وه، چې دین ته ضرر و نه رسوي. وایي: نور ترې مه وېرېږئ؛ څکه ضرر نشي دررسولای؛ وَاخْشَوْنِ بلکې زما له مخالفته ووېرېږئ؛ قهراً مانا یې داده، چې که دې، دین ته ضرر رسي؛ زما له اړخه ور رسي.
اوس دا څه مفهوم درلودای شي، چې تردې روسته د خپل دین په هکله له کفارو مه وېرېږئ؛ له ما ووېرېږئ؛ روسته به پرې رڼا واچوم، چې مراد یې څه دی. الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي نن مې ستاسې دین تاسې ته بشپړ کړ او خپله لورنه مې درته پوره کړه. دلته دوه ټکي سره نږدې راغلي: ((اکمال او اتمام)) دا دوه ټکي خورا سره نږدې دي: بشپړ کړ او پوره کړ.

## د اکمال او اتمام توپیر

ددې دوو ټکیو توپیر (په فارسي او ډېری په عربي کې) په دې کې دی، چې ((تمام)) په هغه ځای کې ویل کېږي، چې د یو څیز اجزاوې باید په یوه بل پسې راشي او تر هغې چې ټولې اجزاوې یې ترتیب شوي نه وي؛ نو وایو، چې ناقص دی؛ خو چې روستی جز یې هم راغی؛ نو وایو، چې تمام شو؛ لکه د یو تعمیر په څېر، چې وایو تمام شو، تعمیر بیا هم تمام نه دی، چې ستنې یې ودروي او چت هم پرې واچوي او تر هغه، ورته تمام نه شو ویلای، چې تعمیر ته پکار ټولې اجزاوې یې نه وي پوره شوې؛ خو چې کله ټولې هغه اجزاوې ورته راغلې، چې تعمیر یې هستوګنې ته چمتو کړ؛ نو بیا وایو، چې تمام شو؛ خو د "کامل" په اړه داسې نه ده، چې [ناکامله څیز] ناقص جز ولري؛ بلکې شونې ده، چې هېڅ ناقصه برخه او ناتمامي و نه لري؛ خو تر اوسه لا کامل نه وي. د بېلګې په توګه: یو "جنین" د مور په رحم [زیلانځ] کې د تمام ترحده رسي؛ یعنې ټول تعمیر یې پای ته رسي، ماشوم هم دنیا ته راځي؛ خو تر اوسه لا کامل انسان نه دی؛ یعنې هغه وده یې لا نه ده کړې، چې باید و یې کړي. وده کول بې له دې

دي، چې ناقصه برخه ولري؛ په واقع کې د "کامل" او "تمام" ترمنځ توپير د "څرنګوالي" او "څومره والي" دی.

له يوه اړخه قرآن کريم وايي: الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ. بلخوا وايي: وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي او خپله لورنه مې درته پوره کړه. وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا او اسلام مې درته ستاسې (تلپاتې) دين غوره کړ؛ يعنې د نن دا اسلام هغه اسلام دی، چې خدای غوښتل داسې وي. روښانه ده، چې مراد دا نه دی، چې اسلام هماغه پخوانی اسلام دی؛ خو د خدای نظر بدل شوی دی؛ بلکې مراد دادی: داچې نن اسلام د کمال او تمام بريد ته رسېدلی؛ نو دا هماغه د خدای غوره کړی دين دی؛ هغه دين، چې خدای غوښته، همدا کامل شوی او تمام شوی دين دی.

د آيت مفهوم تردې ډېر نه دی؛ هر څه چې دي، د ((اليوم)) د ټکي په هکله دي، چې مراد يې کومه ورځ ده؟د ارزښت له نظره دا کومه ورځ ده، چې قرآن کريم وايي: نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ او خپل لورېنه مې درته پوره کړه. بايد دا خورا مهمه ورځ وي؛ بايد يوه فوق العاده پېښه پکې شوې وي او دا نوره په شيعه او سني پورې اړوند نه ده.

حيرانوونکې خو داده، چې تر آيت په مخکې او روسته آيتونو کې داسې څه نشته، چې پردې ورځ دلالت وکړي. لنډه داچې ددې آيت له لفظي قرآينو پر څه نه پوهېږو. يو وخت وي، چې په مخکې آيت کې يې کومه پېښه يا بهير ياد کړی وي، بيا وايي: ((اليوم: نن))؛ يعنې د هغه مطلب په اړه، چې دلته مو ووېل. په دې مورد کې داسې نه دی؛ ځکه تردې آيت مخکې د غوښې په اړه ساده حکم دی، چې د کوم څاروي غوښه حلاله ده او د کوم يې حرامه ده او.. . يو ځل وايي: ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا)) داچې دين تمام شو بيا هماغه لومړي سياق ته ورستنېږي، چې کومه غوښه حرامه ده او د اضطرار په شرايطو کې خوړل يې منع نه ده. فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ: خو هغوی چې وږي وي او نور خواړه ور ونه رسېږي او د ګناه په نيت دامنع شوي څېزونه ونه خوري (؛ نو باك نشته چې له منع شويو غوښو وخوري)؛ نو بېشکه چې خدای ډېر ښښونکی (او) لورين دی.))؛ يعنې دا آيتونه، په دې بڼه کې، که د منځ برخه ترې اوچته کړو؛ نو لومړۍ او روستۍ برخه يې نښلي، بې له دې، چې په مطلب کې يې کوچنی توپير راشي او کوم مطالب، چې د آيت په لومړۍ او روستۍ برخه کې راغلي، په قرآن کې په نورو ځايو کې هم راغلي دي، بې له دې، چې دا چار يې په منځ کې راشي او مطلب هم متلائم او کامل وي.

## له ((اليوم)) نه مراد کومه ورځ ده؟

شيعه او سني علماء په دې هڅه کې دي، چې د ((اليوم)) مانا لاس ته راوړي، چې دا ((اليوم: نن)) کومه ورځ ده؟ دا چار دوې لارې لري. يوه لار يې داده، چې له قرآينو پوه شو؛ يعنې د مضمون له قرينې پوه شو، چې دا مضمون له کومې ورځې سره اړخ لګوي او د کومې ورځې په هکله داسې جمله راتلای شي؟ بل داچې له تاريخ او احاديثو پوه شو، چې ددې آيت د نزول شان څه دی؟

هغه ډلې، چې لومړۍ لار ټاکلې، له تاريخ، سنتو او حديثو سره ـچې په حديث کې څه راغلي او داچې آيت کله او په کوم مناسبت راغلیـ کار نه لري، وايي: موږ د آيت له مضمون سره کار لرو؛ نو په پايله کې وايي، چې دا آيت د بعثت په وخت پورې اړوند دی؛ نو ((اليوم))؛ يعنې ((هغه ورځ)) نه ((نن)).

دا آيت د مائدې سورت په پيل کې راغلی، چې د قرآن کريم پينځم سورت دی او د ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَوْفُواْ بِالْعُقُودِ: مؤمنانو! پر ژمنو (او تړونو) وفا وکړئ.)) په آيت پيلېږي او د ټولو مفسرينو د وينا له مخې، د مائدې سورت روستی سورت دی، چې پر پېغمبراکرم نازل شوی دی؛ يعنې مدني سورت دی، ان تر ((إِذَا جَاء نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ)) هم روسته راغلی دی؛ البته يو دوه آيتونه يې ويلي، چې تردې آيت روسته راغلي، چې په نورو آيتونو کې ايښوول شوي دي؛ خو تردې سورت روسته بل سورت نه دی نازل شوی او دا سورت روستي آيتونه دي، چې پېغمبراکرم ته راغلي دي.

## د ((اليوم)) په اړه بېلابېلې څرګندونې

### ۱-د بعثت ورځ:

و مو ويل: ځينو ويلي، چې له ((اليوم)) نه مراد ((هغه ورځ)) ده؛ نه ((نن)). وايو: پر کومه قرينه؟ وايي: چې کله وايي: ((اليوم)) او يوه ورځ داسې توصيفوي، چې پرډې ورځ مې نن اسلام ستاسی ددين په نامه غوره کړ؛ نو قاعدتاً دا ورځ بايد هماغه د پېغمبراکرم د بعثت ورځ وي.

ځواب يې ورکړ، چې تاسې دا خبره د ((وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا)) په قرينه واست. دا سمه ده؛ خو په هغه بڼه کې، چې مخکنۍ جملې يې نه وې؛ ځکه خبره په دې کې ده، چې نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ او خپل لورېنه مې درته پوره کړه، حال دا، د بعثت ورځ ددې نعمت د پيلېدو ورځ وه.

((وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا)) هم په دې نامه دی، چې اوس مې، چې اسلام بشپړ کړ او خپله لورنه مې درپوره کړه؛ نو دا مې د هغه اسلام په نامه غوره کړ، چې زه يې غواړم؛ نو ((اليوم)) د بعثت ورځ نشي کېدای.

### ۲_د مکې د سوبې ورځ:

بله ورځ د مکې د سوبې ورځ ده، چې احتمال يې ورکړی، چې ((اليوم)) وي او وايي: يوه بله ورځ، چې د اسلام په تاريخ کې خورا مهمه ورځ ده، د مکې د سوبې ورځ ده او رښتيا هم وايي؛ ځکه خورا مهمه ورځ وه، چې د ((إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا. لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا (فتح/۱-۲): په حقيقت کې موږ ستا په چارو کې څرګنده پراخې رامنځ ته کړه؛ چې خدای ستا له هغو تېرو او راتلونکېو ګناهونو تېر شي، چې په تا پورې يې تړل (او ستا حقانيت يې جوت کړی) او پر تا خپله پېرزوېنه بشپړه کړي او سمه لار دروښيي.))

په جزيرة العرب کې، مکې له روحي او موقعيت له پلوه حيرانوونکی موقعيت درلود.

تر "عام الفيل" او "اصحاب فيل" پېښې روسته، چې پر مکه يې يرغل وکړ او په هغه حيرانوونکې بڼه يې ماتې وخوړه؛ نو ټول جزيرة العرب پر کعبې د ستر معبد په نامه گروهه پيدا کړه. قريش هم په همدې خبره مغرور ول. قريشو دا هر څه پخپل حساپ گڼلې ول او ويل يې: هو! دا کعبه ده، چې له دومره درناوي برخمنه ده، چې هومره ستر ځواکمن لښکر يې په اسماني بلا له منځه يووړ، چې هېڅوک ترې پاتې نه شو. وگورئ، چې څومره مهم يو او تردې روسته قريشو حيرانوونکی غرور پيدا کړ او په جزيرة العرب کې ترې نورو ټبرونو هم يو ډول لاروي کوله. د مکې بازار خورا گڼ و او د قريشو هم، چې يې څه زړه غوښتل، هاغسې حکمونه يې پر خلکو کول او خلکو هم د قريشو د همدې ارواييي او اعتقادي اړخ له مخې لاروي کوله.

له هغه مهاله خلک گروهن شول، چې ناشونې ده څوک پر کعبه برلاس شي او پېغمبراکرم مکه بې له وينې تويېدنې او بې له مقاومته سوبه کړه او کېداى شي د مکې پر حرمت سربېره د پېغمبراکرم هم همدې خبرې ته پام و، چې دومره ټينگار يې کاوه، چې مکه بې له جگړې او وينې تويېدنې سوبه شي. که په بل ځاى کې جنگېدل او په سلگونو مسلمانان هم پکې شهيدانېدل؛ نو چا پر کوم حساب نه ايښـول؛ خو که د مکې په سوبه کې کوم مسلمان شهيد يا ټپي شوى واى؛ نو خلکو به ويل: وگورئ! هماغه د محمد صلى الله عليه و آله وسلم له اصحابو سره وشول، چې له "اصحاب فيل" سره شوي ول. حضرت محمد صلى الله عليه و آله وسلم مکه داسې سوبه کړه، چې نه په مسلمانانو کې او نه په کفارو کې ان د چا له پوزې هم وينه تويه نه شوه؛ يوازې حضرت خالد بن وليد يو څه کسان ووژل؛ خو چې کله پېغمبراکرم ته خبر راورسېد؛ نو سخت يې وگواښاوه، چې ولې دې داسې کار کړی ، و يې ويل: ((خدايه زه له هغه کاره تبرى غواړم، چې دې سرې وکړ او هېڅکله پردې کار خوښ نه وم.))

نو دا ول، چې د مکې سوبې له ارواييي اړخه د جزيرة العرب پر خلکو فوق العاده اغېز وکړ. و يې ويل: څرگنده ده، چې بله خبره ده. محمد صلى الله عليه و آله وسلم راغى، مکى يې ونيوه او کوچنى ضرر هم ور و نه رسېد او تردې روسته ول، چې د جزيرة العرب خلک تسليم شول او ډلې ډلې راتلل او اسلام يې راووړ. قرآن کريم وايي:

((وَمَا لَكُمْ أَلاَّ تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لاَ يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُوْلَئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلاًّ وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (حديد/١٠): او پر تاسې څه شوي چې د خداى په لارکې نفقه نه ورکوئ، حال دا، د اسمانو او ځمکې ميراث يوازې خداى ته پاتې دى (او څوک څه شى له ځان سره نه وړي)؟! له تاسې چې چا له بريا (د مکې له سوبې) مخکې مال لگولی او جنگېدلي

دي، هغه سره يو انډول نه دی (چې تر بريا روسته يې انفاق کړی دی) مقام يې تر هغو لوړ دی، چې تر سوبې روسته يې نفقه ورکړې او جنګېدلي دي او خدای له ټولو سره د غوره (بدلې) وعده کړې ده او څه چې کوئ، خدای پرې خبر دی.))
نو په دې کې نه موږ بحث لرو او نه بل څوک، چې د مکې د سوبې ورځ د اسلام لپاره ستره ورځ او بريا ده.
و مو ويل ځيني وايي، له هغه ورځې، چې قرآن دومره ارزښت ورکړی دی ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا)) د مکې د سوبې ورځ وي.
(خو ددې خبرې د اثبات لپاره په لفظ يا تاريخ کې کوم دليل نشته)
دا خبره پردې سربېره، چې هېڅ قرينه او تاريخ يې نه تاييدوي، د آيت صدر يې هم نه تاييدوي؛ ځکه آيت وايي: ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ او خپله لورنه مې درته پوره کړه؛ يعنې داسې څه نه دي پاتې، چې نه مې وي ويلي؛ هر څه مې وويل، حال دا، پوهېږو د اسلام ډېری احکام د مکې تر سوبې روسته راغلل؛ نو دا خبره له ((وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي)) سره اړخ نه لګوي. چې کله وايي: ما د تعمير جوړونې کار پای ته ورساوه؛ څرګنده ده، چې مراد يې نيمګړی تعمير نه دی. ډېری آيتونه او له هغې ځينې د مائدې سورت ټول آيتونه، چې ډېری احکام هم لري، د مکې تر سوبې روسته راغلی دی؛ نو څرنګه شونې ده، چې دا آيت د مائدې د سورت وي او د مکې په سوبې پورې اړوند وي، چې په لسم هجري کال کې وه؛ خو که ووايو، چې يوازې دا آيت د مکې په سوبه کې نازل شوی؛ نو بيا له ((وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي)) سره اړخ نه لګوي.
داچې وايي: له ((اليوم)) نه مراد د مکې سوبه ده؛ نو پردې څرګندونه بله نيوکه هم شته او هغه داچې آيت وايي: ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ: نن کا فران ستاسې د دين (له زواله) ناهيلې شوې دي))؛ يعنې ستاسې پر دين له برلاسی نهيلي شوي دي. آيا د مکې د سوبې پر ورځ داسې وه؟ سمه ده، چې دې سوبې سترې اغېزې درلودې؛ خو آيا دا هغه ورځ وه، چې کافران بېخي د دين له راپرځولو نهيلي شول که نه؟ نه!.

### ۳-په منی کې حضرت علي حاجیانو ته د برائت سورت ولوست

یوه بله ورځ یې هم مهمه شمېرلې او ویلي یې دي، چې احتمالاً دا ورځ وي؛ یعنې هغه ورځ، چې حضرت علي کرم الله وجهه پر نهم هجري کال په منی کې د برائت سورت ولوست. د مکې سوبه پوځي چار و، چې له امله یې د اسلام پوځي او معنوي ځواک په حیرانوونکې بڼه تثبیت شو؛ خو لا تر اوسه پېغمبراکرم له کفارو سره د سولې په شرایطو کې ژوند کاوه؛ د سولې تړون یې کړی و؛ نو کفارو حق درلود، د کعبې طواف وکړي، په مکه کې ووسي او حق یې درلود، چې په حج کې ګډون وکړي؛ یو کال هم د حج مراسم همداسې ول؛ یعنې مسلمانانو د حج په مراسمو کې ګډون کاوه او کفارو هم، مسلمانانو د اسلام د احکامو له مخې حج تر سره کاوه او کفارو هم د خپل دود له مخې حج کاوه. پر نهم هجري کال د برائت سورت راغی، چې باید په حج کې مشرکینو ته واورول شي. کیسه یې داسې ده:

پېغمبراکرم لومړی حضرت ابوبکر (رض) د حاجیانو مشر کړ؛ هغه هم ولاړ او تراوسه لا نیمایي لارې ته نه و رسېدلی، چې آیت راغی. په دې کې د مفسرینو اختلاف دی، چې حضرت ابوبکر (رض) د برائت سورت له ځان سره یووړ یا له پېله د برائت سورت نه و او هغه یوازې د حاجیانو د مشر په توګه تلل و؛ خو په هر حال شیعه او اهلسنت دواړه یوه خوله دي، چې دا د حضرت علي کرم الله وجهه له فضائلو شمېرل کېږي، چې پېغمبراکرم حضرت علي کرم الله وجهه پخپلې ځانګړنې سپرلۍ ولېږه، ورته یې وویل: ((ولاړ شه او ورته ووایه، چې وحې راته راغلې، چې دا سورت یا باید زه پخپله او یا هغه ولولې، چې له ما څخه وي او ته دا سورت خلکو ته مه لوله.))

حضرت علي کرم الله وجهه ولاړ او حضرت ابوبکر (رض) ته په نیمه لار کې ورسېد. کیسه یې داسې کوي، چې دا مهال حضرت ابوبکر (رض) په خیمه کې و. د پېغمبراکرم د ځانګړې سپرلۍ غږ واورېدل شو؛ هغه دا غږ پېژانده؛ و یې ویل: دا د پېغمبراکرم د سپرلۍ غږ دی؛ دا سپرلي دلته څه کوي؟! و یې لیدل، چې علي کرم الله وجهه راغی. خورا خپه شو؛ پوه شو، چې کوم مهم خبر یې راوړی دی. و یې ویل: څه شوي دي؟ علي کرم الله وجهه وویل: د خدای استازي ګومارلی یم، چې د برائت سورت خلکو ته ولولم. حضرت ابوبکر (رض) وویل: آیا پر خلاف مې څه نازل شوي که نه؟ علي کرم الله وجهه وویل: نه!

په دې ځای کې اختلاف دی. اهلسنت وایي: حضرت علي کرم الله وجهه ورسره و او خلکو ته یې د برائت سورت ولوسته او حضرت ابوبکر هماغسې د حاجیانو مشر و؛ خو ډېری اهلسنت او شیعه؛ لکه په المیزان تفسیر کې ګروهن دی، چې حضرت ابوبکر (رض) له همدې ځایه

ستون شو او ځان يې پېغمبراکرم ته ورساوه، و يې ويل: رسول اکرمه! آيا زما په هکله درته وحې راغلې؟ رسول اکرم وويل: نه.
د برائت سورت اعلانول هم مسلمانانو ته فوق العاده ورځ وه؛ پر هغه ورځ اعلان شو، تردې روسته کفار حق نه لري، چې د حج په مراسمو کې ګډون وکړي او د حرم چاپېريال يوازې په مسلمانانو پورې ځانګړی دی او مشرکان پوه شول، چې نور نشي کړای له شرک سره ژوند وکړي؛ اسلام شرک زغملای نشي؛ له يهود، نصراني او مجوسي سره ژوند مني؛ خو له شرک سره يو ځای ژوند نه مني. ويلي يې دي: کېدای شي له ((اليوم)) نه مراد همدا ورځ وي.
په ځواب کې ورته ويل شوي، چې دا څرګندونه له ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ)) سره اړخ نه لګوي؛ ځکه ډېرې احکام تردې پېښې روسته راغلل. دا ورځې حتماً بايد د پېغمبراکرم د عمر روستۍ ورځې وي، چې روسته ترې نوي احکام نه دي راغلي.
هغوی چې وايي له ((اليوم)) نه مراد پلانۍ ورځ ده؛ هېڅ دليل نه لري؛ يعنې نه يوازې تاريخ يې نه تاييدوي؛ بلکې قرآين يې هم نه تاييدوي.

## د شيعه و وينا

### ۱- له تاريخي اړخه:

دلته شيعه يوه څرګندونه لري او وايي، چې هم يې تاريخ تاييدوي او هم يې د آيتونو مضمون؛ نو پر مسئله بايدپه دوو برخو کې بحث وشي: يو داچې تاريخ يې تاييدوي او بل داچې د آيتونو مضمون يې تاييدوي.
که وغواړو تاريخي اړخ يې راوسپړو؛ نو دا پخپله اورد بحث دی او په دې هکله، چې کتابونه ليکل شوي، ډېری يې په تاريخي او حديثي اړخ ډډه کړې، چې ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا)) په خم غدير کې راغلی دی. د "الغدير" کتاب هم دا همدا مطلب جوت کړی دی. "د يعقوبي تاريخ" تر ټولو پخوانی او ډاډمن تاريخي کتاب دی، چې هم پرې شيعه ډاډ لري او هم سني؛ خورا ډاډمن کتاب دی، چې پر درېيم هجري کال ليکل شوی دی. ظاهراً تر مامون روسته د متوکل د خلافت پر مهال ليکل شوی دی. دا کتاب يوازې تاريخي دی او

حديثي كتاب نه دی او له هغو كتابونو دی، چې د "خم غدير" پېښه يې راوړې ده. د اهلسنتو ډېری نورو كتابونو هم د "خم غدير" پېښه رانقل كړې ده.
كيسه يې داسې ده:
پېغمبراكرم، چې له "حجة الوداع" نه راستنېده؛ نو "جُحفي" ته نږدې د "خم غدير: خم تالاب" ته، چې راورسېدل؛ نو كاروان يې تم كړ، و يې ويل: د يوې مهمې موضوع په اړه خلكو ته خبرې كوم. (دا آيتونه هم همدلته نازل شوي دي) حكم يې وكړ، چې ممبر ورته جوړ كړي، حضرت رسول اكرم ممبر ته وروخوت او اوږدې خبرې يې وكړې: الست اولى بكم من انفسكم؟ قالو: بلی. بيا يې وويل: من كنت مولاه فهذا علی مولاه او تردې روسته ول، چې د ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا)) آيت راغی.
كه غواړو له تاريخي اړخه يې وڅېړو؛ نو بايد د شيعه او اهلسنتو او په تېره د اهلسنتو بېل بېل كتاب راوړو او و يې څېړو، چې دا پېښه يې رانقل كړې. دا يې د "الغدير" په څېر يا يې ددې كتاب په ژباړو كې كښلي دي.
د شيعه و يو استدلال تاريخي اړخ دی، چې وايي: چې كله گورو د ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ)) د آيت په لفظ كې دا مطلب نه دی، چې ((اليوم)) كومه ورځ ده؛ نو تاريخ او د نزول شان ته يې مراجعه كوو؛ نو گورو، چې په دې اړه تاريخي نقلونه يو نه، دوه نه، لس نه؛ بلكې متواتر دي، چې وايي دا آيت په "خم غدير" كې نازل شوی او پېغمبراكرم صلی الله عليه و آله وسلم ، حضرت علي كرم الله وجهه خپل ځايناستی وټاكه.

## ۲- په آيت كې د شته قرآينو له اړخه

خو موږ غواړو ووينو، چې آيا په آيت كې شته قرآين هم دا تاييدوي، چې تاريخ يې تاييدوي كه نه؟ آيت وايي: ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ: نن (يا ووايو هغه ورځ) كافران ستاسې له دينه نهيلي شول. دا به له يو شمېر هغو آيتونو سره په قرآن كې ضميمه كړو، چې مسلمانان وېروي او وايي: كافران (كتابيان او بې كتابه) تل نقشې باسي او خوښ دي، چې له دينه مو واړوي او د دين پر خلاف مو گامونه اوچت كړي:
((وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّاراً حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ فَاعْفُواْ وَاصْفَحُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ إِنَّ اللّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (بقره/۱۰۹):

ډېر کتابوال د کینې له امله، چې د هغوی په وجود کې یې ریښې ځغلولې دا غواړي، چې تاسې تر ایمان او اسلام روسته د کفر حالت ته وگرځوي؛ که څه هم حق ورته په بشپړ ډول څرگند شوی دی، تاسې ورته عفوه وکړئ او ترې تېر شئ، چې خدای خپل فرمان (د جهاد فرمان) در ولېږي، خدای پر هر څه قادر دی.))
له یوه اړخ گورو، چې خدای د قرآن په ځینو آیتونو کې وایي، چې کفارو بدې وهلي، چې دین مو له منځه یوسي؛ خو بلخوا گورو، په بل آیت کې وایي: خو نن ستاسې له دینه نهیلي شوي دي، له ننه ستاسې د دین پر خلاف د کافرانو غورځې پرځې پای ته ورسېدې ﴿فَلاَ تَخْشَوْهُمْ﴾ نور ترې مه ډارېږئ ﴿اَخْشَوْنِ﴾ له ما وډارېږئ. تردې روسته داچې دین مو له منځه ولاړ شي یا کمزوری شي او څه چې دربانديې راځي؛ نو باید له ما ووېرېږئ.
((له ما وډارېږئ))؛ یعنې څه؟ مگر خدای د خپل دین دښمن دی؟ نه! دا آیت هم هماغه مطلب وایي، چې په ډېرو آیتونو کې د یو بنسټیز اصل په بڼه دی، د هغه نعمتونو په اړه دی، چې خدای پر خپل بنده تمام کړي دي. وایي:
((إِنَّ اللّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ(رعد/۱۱): په حقیقت کې خدای د کوم قوم (او ملت) حال نه اړوي، څو هغوی خپل حال پخپله نه وي اړولی.
((ذَلِكَ بِأَنَّ اللّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّراً نِّعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلَى قَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمْ وَأَنَّ اللّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (انفال/۵۳): دا (سزا) له دې امله ده، چې خدای یو نعمت کوم قوم ته پېرزوکړی وي؛ نو ترهغه یې نه بدلوي، چې هغه قوم پخپله نه وي بدل شوی او داچې خدای اورېدونکی (او) پوه دی.))
مضمون دادی: خدای، چې کوم قوم ته نعمت ورکړي؛ ترې یې نه اخلي؛ خو داچې دا خلک پخپله ځان له دې وړتیا وغورځوي؛ یعنې خلک پخپله وغواړي دا نعمت ورک شي. دا مطلب له بېخه په قرآن کې یو بنسټیز اصل دی.

## محکمات او متشابهات

د قرآن ځینې آیتونه ځینې نور تفسیروي (القرآن یفسر بعضه بعضاً) قرآن مبین کتاب دی، څرگند او څرگندونکی دی. پخپله قرآن وایي: آیتونه مې دوه ډوله دي: محکمات او متشابهات. محکمو آیتونو ته مور آیتونه ویل کېږي، چې حیرانوونکی تعبیر دی.
((هُوَ الَّذِيَ أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ في قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاء الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاء تَأْوِيلِه وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلاَّ اللّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الألْبَابِ (آل عمران/۷): هماغه

خدای دی چې دا (اسماني) کتاب یې پر تا نازل کړ، چې یوه برخه آیتونه یې ((محکمات))
[: ښرگنداو روښانه] دي، چې ددې کتاب ا صلي بنسټ دی (او د نورو آیتونو هر ډول
پیچلتوب دې آیتونو ته په مراجعه کولو سره لرې کېږي) او بله برخه یې متشابهات دي (هغه
آیتونه دي، چې مطالب یکې په لوړه کچه څېړل شوي او پردې سربېره ځینې نور اړخونه هم
پکې په پام کې نیول شوي دي؛ نو د لوستونکي ذهن ته په لومړي ځل لوستو سره بېلا بېل
احتمالات راځي؛ خو بیا محکماتو ته په پام سره د هغوی تفسیر روښانېږي)؛ خو هغوی چې
په زړونو کې یې کوږوالی دی، په همدې متشابهاتو پسې گرځي، چې فتنه راولاړه کړي (او
خلك بې لارې کړي) او ورته د ناسم تفسیر د لټولو هڅه کوي، حال دا، پر تفسیر یې یوازې
خدای او په علم کې پاخه پوهېږي (هغوی چې دالهي پوهې په رڼا کې د قرآني آیتونو د رازونو
په پوهېدو پسې وي)، وايي: ((موږ پر هغو ټولو ایمان راوړی، دا ټول زموږ د پالونکي له لوري
دي)) او له عقلمنو پرته نور څوك پند نه اخلي (او پردې حقایقو پوهېدای نشي.))
متشابه آیت هغه دی، چې مفهوم یې څو ډوله پلی کولای شو. محکم آیت یوازې یو ډول پلی
کولای شو. قرآن کریم، چې محکمو آیتونو ته مور وايي؛ یعنې متشابه آیتونه د محکم آیتونو
په مرسته پلي کولای شو. که د قرآن کوم آیت څو ډوله پلی کولای شو؛ نو حق نه لرو، چې
پلی یې کړو؛ خو داچې د قرآن نورو آیتونو ته مراجعه وکړو، چې په رڼا کې یې پوه شو، چې
څرنگه یې پلي کړو. د متشابه آیت مانا دا نه ده، چې مجمل ده یا داسې لغت پکې دی، چې
په مانا یې نه پوهېږو؛ بلکې متشابه آیت یعنې هغه آیت، چې په څو یو بل ته ورته ډولونو مخونه
ورکولای شو.
د بېلگې په توگه: په قرآن کې د الهي مطلقه مشیت په هکله آیتونه دي، چې هر څه په الهي
مشیت دي. استثناء نه کوي، چې یو یې دا آیت دی، چې په همدې مانا متشابه دی.
((قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَن تَشَاء وَتَنزِعُ الْمُلْكَ مِمَّن تَشَاء وَتُعِزُّ مَن تَشَاء وَتُذِلُّ
مَن تَشَاء بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَىَ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (آل عمران/٢٦): ووایه: ((خدایه! د واکمنی
خاونده! ستا چې چا ته خوښه شي، حکومت ورکوې او چا ته، چې دې خوښه شي ترې اخلې
یې او چا ته، چې دې خوښه شي عزت ورکوې او څوك چې وغواړې خواروې یې، ټولې
ښېگڼې ستا (د قدرت) په لاس کې دي، ته پر هر څه قادر یې.))
تردې نور کلك ټینگار نه کېږي.
دا آیت له دې نظره متشابه دی، چې څو ډوله یې پلی کولای شو. همدومره وايي، چې هر څه
په الهي مشیت دي او دا چار دوه ډوله شونی دی: یو داچې په الهي مشیت کې هېڅ څیز د بل
څیز شرط نه دی؛ لکه څنگه چې ځینو همداسې ناسمه پایله اخستې ده، ویلي یې دي: نو پردې

بنسټ شوني ده، چې تړول هغه شرایط پیدا شي، چې موږ ورته عزت وایو؛ خو ورپسې د عزت پر ځای ذلت وومي او شوني ده، چې تړول هغه شرایط وومو، چې موږ ورته د ذلت شرایط وایو؛ خو شاته یې عزت وومو. په دنیوي او اخروي نېکمرغۍ کې هېڅ څېز د بل څېز شرط نه دي؛ ځکه هر څه په الهي مشیت دي! په پایله کې شوني ده، چې بې له کومې سریزې په دنیا کې یو قوم یا یو وګړی بشپړه نېکمرغي وومي او یا یو قوم یا وګړی بې له کومې سریزې بشپړه بدمرغي وومي یا په آخرت کوم قوم "اعلی علیین" ته بوتلل شي او یا یو قوم یا وګړی بې له کومه شرطه او سریزې د "سجین" تل ورګوزار کړای شي.
په خواشینۍ ځینې مسلمانان، چې اشاعره ورته ویل کېږي، له همدې آیته په ګټنې یې ویلي، چې هېڅ مانع نشته، چې خدای پېغمبراکرم دوزخ ته یوسي او ابوجهل جنتي کړي؛ ځکه خدای ویلي: هر څه په الهي مشیت دي.
خو دا یو ډول غلط پلي کول دي. آیت یوازې وایي: هر څه په الهي مشیت دي؛ خو د مشیت د بهیر څرنګوالی یې نه دی ښوولی او نه یې دي ویلي، چې الهي مشیت، چې نېکمرغي، بدمرغي، عزت او ذلت دی؛ څرنګه کار کوي؛ نو دا آیت څو ډوله پلی کړای شو؛ خو چې کله موږ د قرآن نورو آیتونو ته ګورو؛ هغوی مور آیتونه دي او آیت تفسیروي. د بېلګې په توګه: دا آیت په ډاګه وایي:
((ذَلِكَ بِأَنَّ اللّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلَى قَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمْ وَأَنَّ اللّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (انفال/۵۳): دا (سزا) له دې امله ده، چې خدای یو نعمت کوم قوم ته پېرزوکړی وي؛ نو تر هغه یې نه بدلوي، چې هغه قوم پخپله نه وي بدل شوی او داچې خدای اورېدونکی (او) پوه دی.))
یا بل آیت، چې یو عمومي نظر دی، وایي:
((إِنَّ اللّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ(رعد/۱۱): په حقیقت کې خدای د کوم قوم (او ملت) حال نه اړوي، څو هغوی خپل حال پخپله نه وي اړولی.))
دا دواړه آیتونه هر یو داسې څه لري، چې بل یې نه لري. داچې وایي: که خدای یو نعمت کوم قوم ته پېرزوکړی وي؛ نو ترهغې یې نه بدلوي، چې هغه قوم پخپله نه وي بدل شوی. دا عمومي آیت دی؛ یعنې خدای هغه نعمت له یو قومه نه اخلي، چې لري یې؛ خو داچې قوم پخپله "نعمت" په "نقمت" واړوي او که نقمت لري؛ نو نه یې ترې لرې کوي؛ خو داچې هغه قوم یې پخپله لرې کړي؛ خو لومړی آیت یوازې د نعمتونو په اړه دی او له نقمتونو سره کار نه لري؛ خو اضافه ټکی لري او هغه داچې وایي: ((ذَلِكَ بِأَنَّ اللّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا)) دا له دې امله دي، چې خدای داسې نه و. (قرآن کریم وایي: ما کان الله خدای داسې نه و؛ یعنې د خدای د خدایي غوښتنه نه ده.) د خدای د خدایي پر ضد خبره ده، چې له یوه قومه نعمت واخلي او دا خبره د

خدای د حکمت او د ذات د کمال پر خلاف ده، داچې د الهي مشیت بهیر همداسې وي او هېڅ څیز د بل څیز شرط نه کړي؛ نو دا آیتونه د آیت پر وړاندې مور آیتونه دي. کوم آیتونه، چې په مشیت پورې اړوند دي همدومره وايي، چې هر څه په الهي مشیت دي. دا آیت وايي: خو الهي مشیت داسې په عالم کې جریان لري او داسې قوانین لري.

نو په قرآن کې دا یو بنسټیز متین اصل دی او په ډېرې آیتونو کې تکرار شوی دی، چې که د نعمت شکر مې پر ځای کړئ؛ یعنې که له نعمته مې سمه ګټه وکړئ؛ نو پاینښت به ورکړم او که په نعمت مې لوبې وکړئ او د نعمت کفران وکړئ؛ نو درنه به یې واخلم.

نو د ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ)) مانا داده، چې نور کافران، له اسلامي ټولنې بهر نهیلي دي؛ له لورې یې اسلام ته خطر متوجه نه دی؛ له ما ووېرېږئ؛ یعنې له ځانه ووېرېږئ.

د مسلمانانو ټولیه! که تردې روسته کوم خطر وي؛ نو هغه به دا وي، چې تاسې پخپله د اسلام له نعمت سره ناوړه کړنې وکړئ، کفران نعمت وکړئ او هغه ګټنه ترې و نه کړئ، چې باید و یې ترې کړئ؛ نو په پایله کې زما قانون به پر تاسې پلي شي: ((إِنَّ اللّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ(رعد/۱۱): په حقیقت کې خدای د کوم قوم (او ملت) حال نه اړوي، چې هغوی خپل حال پخپله نه وي اړولی.))

تردې روسته، له بهره کوم خطر، اسلامي ټولنه نه ګواښوي؛ له دننه یې ګواښوي.

پوښتنه:

((لکه څنګه چې مو ووېل: ګروهن یو امامت د دین او دنیا مشري ده او دا د ویل شویو دلایلو له مخې حضرت علي کرم الله وجهه ته ځانګړې ده؛ خو ولې د حضرت عثمان (رض) تر وژل کېدو روسته، چې خلک ورته بیعت ته راغلل؛ نو حضرت علي غلی شو، حال دا، د چوپتیا ځای نه و او باید بې ځنډه یې منلې وای؟))

ځواب:

د پوښتنې ځواب د حضرت علي کرم الله وجهه په ویناوو کې دی. بیعت ته، چې ورغلل، و یې ویل: ((دعونی و التمسوا غیری فانا مستقلبون امراً له وجوه و الوان: ما پرېږدئ او په بل پسې ولاړ شئ، چې خورا تیارې پېښې مو مخې ته دي. داسې چارې مو مخې ته دي، چې څو څېرې لري؛ یعنې یو اړخیز ورته نه شو رسېدای او باید څو اړخیز حل کړای شي. بیا وايي: ((ان الافاق قد اغامت و المحجة قد تنکرت او کومه پېژندل شوې لار، چې پېغمبراکرم ټاکلې وه، اوس نه پېژندل کېږي او په پای کې وايي: خو که وغواړم واکمني درباندې وکړم ((رکبت بکم

ما اعلم))؛ نو هاغسې عمل به کوم، چې پخپله پوهېږم؛ نه هاغسې، چې ستاسې زړه يې غواړي.))
دا مطلب، چې له تاريخي پلوه هم څرګند دی، ښيي چې اوسنی وخت د پېغمبراکرم تر مړينې روسته له وخت سره خورا توپير لري؛ يعنې حالات عجيبه بدل او خراب شوي دي او دا جمله امام ددې لپاره وويله، چې پر خلکو خپله غاړه خلاصه کړي؛ ځکه د بيعت اخستل له هغوی ژمنه اخستل ول، چې لاروي به مې کوئ. د بيعت مسئله دا نه ده، چې که بيعت و نه کړئ؛ نو زما خلافت نور باطل دی. ((بيعت کوي))؛ يعنې ژمنه کوي، چې هر کار کوې موږ درپسې يو.
دا خبره هم شيعه و ليکلې او هم اهلسنتو، چې حضرت عمر (رض) روسته د شورا چار رامخې ته کړ. د شورا له شپږو تنو يو حضرت علي و او په دې شورا کې درې تنه د درې تنو په ګټه شا ته شول. حضرت زبير (رض) د حضرت علي په ګټه شاته شو. حضرت طلحه (رض) د حضرت عثمان (رض) په ګټه او حضرت سعدبن وقاص (رض) د حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) په ګټه شاته شو. حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) وويل: زه ځان نه نوماندوم؛ نو دوه تنه پاتې شول: حضرت علي او حضرت عثمان. د چار کونجي د حضرت عبدالرحمن بن عوف لاس ته ورغله؛ هر لوري ته، چې هغه و؛ نو هماغه خليفه ټاکل کېده. لومړی حضرت علي ته راغی، و يې ويل: چمتو يم بيعت درسره وکړم؛ خو په کتاب الله، نبوي سنتو او د شيخينو په سيرت به چلېږې. حضرت علي ورته وويل: چمتو يم پر کتاب الله او نبوي سنتو عمل وکړم؛ خو د شيخينو پر سيرت نه.
بيا په حضرت عثمان (رض) پسې ولاړل او همدا خبره يې ورته وکړه. حضرت عثمان ورته وويل: چمتو يم پر کتاب الله، نبوي سنتو او د شيخينو پر سيرت عمل وکړم او خليفه وټاکل شو.
که پرتله کړو: داچې د پېغمبراکرم او حضرت علي کرم الله وجهه سيرت يو و؛ نو د شيخينو سيرت ته هم نږدې و؛ ځکه شيخينو تر ډېره د پېغمبراکرم پر سيرت عمل کاوه؛ خو حضرت علي ددې لپاره دا شرط و نه مانه، چې د شيخينو په سيرت کې تېروتنې هم وې او که دا شرط يې هم لاسليک کړی و؛ نو يعنې د شيخينو تېروتنې يې بايد منلې وای؛ نو بيا يې نشو کړای، مبارزه ورسره وکړي. د بېلګې په توګه: د تفاضل مسئله؛ يعنې د تساوي له منځه وړل او د مهاجرو، انصارو او نورو ترمنځ توپير راوړل. د حضرت عمر (رض) پر مهال رامنځ ته شو، چې حضرت علي کرم الله وجهه له دې چار سره سخت مخالف و. که ويلي يې ول، چې د شيخينو په سيرة به چلېږم؛ نو هغه څه به يې تثبيتول، چې د حضرت عمر پر مهال رامنځ ته شوي ول،

حال دا، له بېخه له دې چار سره مخالف و. نه يې غوښتل، چې دروغ ووايي، چې نن ووايي عمل پرې کوم او سبا له خپلې خبرې واوړي؛ نوځکه يې ويل، چې نه يې غواړم.
نو پردې بنسټ، چې کله حضرت علي کرم الله وجهه تر حضرت عمر (رض) روسته نه چمتو کېږي، چې شورا ته ووايي، چې ددې دوو خلفاوو پر سيرت به چلېږم او د حضرت عثمان (رض) د خلافت پر مهال، چې حالات بېخي بدل شوي ول او خلکو ترې غوښتل، چې حضرت علي کرم الله وجهه د هغوی په زړه وچلېږي؛ نو ډېره طبيعي او پر ځای خبره ده، چې حضرت علي ورته ووايي، چې واکمن شوم؛ نو هاغسې به چلېږم، چې پوهېږم؛ نه ستاسې د زړه په خوښه؛ نو د حضرت علي کرم الله وجهه دا خبرې د حکومت د رد لپاره نه وې؛ بلکې پر خلکو غاړه خلاصولو ته وې.
پوښتنه:
((گورو، چې په قرآن شريف کې پر يووالي خورا ټينگار شوی دی؛ نو سره له دې، چې امامت دومره ارزښت لري؛ نو ولې په قرآن کې په ډاگه نه دی ويل شوې او ولې پېغمبراکرم پخپله په بېلابېلو ځايو کې نه دی په ډاگه کړې.))
ځواب:
دا دوه مطلبه دي. يو داچې دا مسئله ولې په قرآن کې نه ده په ډاگه شوې او بل داچې ولې پېغمبراکرم په بېلابېلو ځايو کې د امامت پر مسئلې ټينگار نه دی کړی؟ همداراز آيا دا مسئله په قرآن کې په بېلابېلو ځايونو کې ويل شوې که نه؟
د دويمې خبرې په باب مو څرگندونه داده، چې دا مسئله تاريخي مسئله ده؛ ان ډېری اهلسنت هم مني، چې پېغمبراکرم په ډېری ځايو کې دا خبره څرگنده کړې ده او دا خبره يوازې په "خم غدير" کې نه ده په ډاگه شوې. د ((انت منی بمنزلة هارون من موسی الا انه لا نبی بعدی)) خبره يې د "تبوک" جگړې ته د تگ پر مهال کړې ده.
د ((لا عطين الراية غداً رجلاً يحب الله و رسوله و يحبه الله و رسوله)) خبره يې د خيبر په جگړه کې وکړه، چې د حضرت علي د مقام تثبيت دی. ان د بعثت په لومړيو کې پېغمبراکرم قريشو ته وويل: ((په تاسې کې، چې چا ړومبی راباندې ايمان راووړ؛ نو هغه به مې وصي، وزير او ځايناستی وي))، چې دا وگړی يوازې علي کرم الله وجهه و.
قرآن کريم همداسې دی. په يوه ځای او دوه ځايونو کې خو څه نه دی؛ خو يوازېنۍ مسئله داده، چې ولې قرآن کريم نوم نه دی اخستی؟ ځکه زموږ پر عقيده په قرآن کې تحريف نه دی شوی؛ يعني نه ترې څه کم شوي او نه پرې ورزيات شوي؛ په ډاگه په قرآن کې د حضرت علي نوم نه دی راغلی.

دې مسئلې ته یې د اروانباد استاد محمدتقي شریعتي د خلافت او ولایت په کتاب کې دوه اړخ ویلي دي: قرآن تل غواړي مطلب د اصل په بڼه بیان کړي؛ نه په وګړیز او شخصي بڼه او دا پخپله د قرآن یو غوراوی دی. د بېلګې په توګه: د ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ)) په مسئله کې کفار په دې نهیلي شوي، چې تل یې ویل: چې پېغمبر وي؛ نو هېڅ کار نه شو کړای؛ خو همداچې ومړ؛ نو هر څه به له منځه ولاړ شي او دا د مخالفینو د هیلې د پای ټکی و؛ خو چې و یې لیدل، پېغمبراکرم د امت پایښت ته تدبیر کړی، چې تر ما روسته به څوک راځي؛ نو مخالفین یې نهیلي کړل.
بل مطلب – دا خبره اهلسنتو هم کښلې - داچې پېغمبراکرم د عمر په روستیو کې د ((واخشون)) تشویش[، چې په آیت کې دی،] درلوده؛ یعنې د امت په داخل کې یې د امت له راتلونکې تشویش درلود.
روایت دی (دا روایت اهلسنتو هم رانقل کړی دی): "ابومدله" د حضرت ام المؤمنین عایشې مریی وایي: د پېغمبراکرم د عمر په روستیو شپو کې مې ولیدل، چې پېغمبراکرم له خپلې کوټې ځان ته راووت؛ هېڅوک ویښ نه ول، د بقیع هدیرې ته ولاړ. ما چې ولیدل پېغمبراکرم ځان ته روان دی او نه مې غوښتل پېغمبراکرم یوازې وي؛ نو له لرې مې د پېغمبر اکرم سیورې ولید، چې بقیعوالو ته ښننه غواړي بیا یې څه خبرې وکړې، چې مضمون یې دادی: ولاړئ او ځومره ښه ولاړئ او نېکمرغی ته ورسېدئ. د شپو د تیارو په څېر فتنو رامخه کړې ده. دا ښیي، چې پېغمبراکرم تر ځان روسته د فتنو وړاندوینه کړې وه، چې ځرګنده ده یوه یې هم همداده.
داچې ولې په قرآن کریم کې د امامت او د حضرت علي کرم الله وجهه نوم نه دی په ډاګه شوی، داسې یې ځوابولی دی: لومړی داچې قرآن غواړي مسایل د اصل په بڼه بیان کړي او دویم داچې پېغمبراکرم او پاک خدای نه غوښتل، چې په دې مسئله کې، چې بالاخره ځانې غوښتنې پکې لاس لري، مطلب په دې بڼه مطرح شي او ته وا مطرح شوې بڼې ته یې مخونه، اجتهاد او داسې خبرې ویلي دي، چې نه د پېغمبراکرم مطلب داسې او هاغسې و او که په دې اړه په ډاګه کوم آیت هم و؛ بیا به یې توجیه کاوه، چې مراد یې دا نه دی. پېغمبراکرم پخپلو ویناوو کې په ډاګه وویل: ((هذا علی مولاه))؛ نو تردې یې نور ځرنګه ځرګند وواېي؟!
یو یهودي غوښتل د صدر اسلام په پېښو حضرت علي کرم الله وجهه ته پېغور ورکړي او انصافاً پېغور هم دی، و یې ویل: خپل پېغمبر مو لا نه و ښخ کړی، چې اختلاف مو وکړ.
حضرت علي حیرانوونکی ځواب ورکړ:
((إِنَّمَا اخْتَلَفْنَا عَنْهُ لاَ فِيهِ، وَلكِنَّكُمْ مَا جَفَّتْ أَرْجُلُكُمْ مِنَ الْبَحْرِ حَتَّى قُلْتُمْ لِنَبِيِّكُمْ اجعل لنا الها کما لهم الهة فقال انکم قوم تجهلون: موږ له هغه، د رارسېدلي (حکم) په اړه اختلاف وکړ، نه

په هغه کې خو تاسې تر ژغورنې روسته، پښه مو له نیل سینده لا وچه شوې نه وه، چې خپل پیغمبر ته مو وویل: "موږ ته د بوت پالو په څېر خدای جوړ کړه!" او پیغمبر مو ورته وویل: "تاسې ناپوهان یاست".))

نو په هغه څه کې خورا توپیر دی، چې موږ ته راپېښ شو او څه چې تاسې ته درپېښ شول؛ موږ پخپله د پیغمبر په هکله اختلاف و نه کړ؛ بلکې په دې کې مو اختلاف وکړ، چې د پیغمبر د حکم مفاد او مفهوم څه دی؟ دا دواړه ډېر توپیر لري، چې هغه کار یې، چې په هر حال کاوه، مخونه یې په بهر کې داسې وي؛ نه داچې په واقع کې داسې ول، چې وایي: هغوی چې داسې تېروتي، خیال کوي، د پیغمبر مراد دا و او په پایله کې یې د پیغمبراکرم خبرې ته داسې مخونه ورکړه او یا داچې وایي د قرآن د آیت دا دومره څرګند نص یې شاته واچو یا یې قرآن تحریف کړ.

پوښتنه:

کومه پوښتنه، چې ډاکټر کاظم یزدي مطرح کړه، په دې بڼه یې مطرحوم، چې سمه ده، په قرآن کې باید د اصل په بڼه وویل شي؛ خو څرګنده ده، چې په اسلام کې د حکومت او ځایناستۍ اصل خورا اهمیت لري؛ نو نه داچې قرآن دې چار ته د چا نوم راوړی وی؛ بلکې د یو حکم په نامه پرې خورا ټینګار شوی وای او یا د بېلګې په توګه: باید پیغمبراکرم ته وحې شوې وای، چې ځایناستی دې وټاکه او هغه تر ځان روسته او دې امام هم تر ځان روسته امام ټاکلی وای یا داچې د ځایناستې ټاکل په مشوره وي یا د ټاکنې په بڼه؛ یعنې د ځایناستۍمسئله اسلام ته ساده مسئله نه وه، چې پر خپل حال پرېښوول شي او په ډاګه او څرګند نشي. اسلام داسې دین دی، چې باید حکومت یې کړی وای او واکمن ورته پکار و. خبره دا نه ده، چې د حضرت علي کرم الله وجهه نوم راوړل شي که را نه وړل شي؛ بلکې د حکومت او ځایناستۍ په هکله ددې اختلاف په پامنیوي کې باید یو قانون ټاکل شوی وای، چې پیغمبره! دا پر تا دي، چې تر ځان روسته ځایناستی وټاکې. اوس شونې وه، چې په دې اړه بېلابېل تفسیرونه وکړي، چې ځایناستی څوک دی؛ خو دا به څرګنده وه، چې پیغمبراکرم باید پخپله خپل ځایناستی وټاکي او دا چار د مسلمانانو په سلامشورې پورې اړوند نه دی. همداراز آیا د پیغمبراکرم ځایناستی باید تر ځان روسته ځایناستی او امام وټاکي یا باید په دې چار کې، یو شمېر کسانو سلامشوره او ټاکنه کړې وای؟ او څومره چې زه پوهېږم دا چار د قرآن له نظره مبهم پاتې دی؛ خو په هر حال په دې اړه څرګند قانون نه لرو.

دویم داچې څو ورځې مخکې مې په اسلام کې د حکومت په اړه کتاب ولوست او په کې یې له حضرت علي کرم الله وجهه او نورو خورا نقلونه شوي ول، چې په اسلام کې د حکومت چار په مسلمانانو پورې اړوند دی او باید په دې اړه مسلمانان یو له بل سره مشوره وکړي؛ "اهل حل و عقد" باید نظر او رایه ورکړي او خورا دلیلونه یې راټول کړي ول، چې په اسلام کې د حکومت چارې په ټاکنه دي؛ نه داچې پیغمبر اکرم تر ځان روسته څوک وټاکي؛ نو غوښتل مې په دې اړه خپل نظر څرګند کړئ.
دریيم داچې فرض کړو، چې دولس ګوني امام د ځایناستیو په نامه یو په بل پسې ټاکل شوي دي (یا په الهي وحې یا په بله بڼه) په اسلامي ټولنه کې د ځایناستي د ټاکنې لپاره پرېکنده اصل څه دی؛ یعنې آیا له مخکې یې ویلي ول، چې د الهي وحې له مخې له دې ځانګړنو سره یوازې دولس امامان، چې معصوم دي او. . . راځي او تر هغه روسته د غیبت په پېر کې باید داسې ټاکنه وشي؟ آیا دا چارې په ډاګه شوې دي؟ دا زموږ خپل استنباط دی، اوس چې دولسم امام پټ دی؛ نو د چارو واګې باید د "جامع الشرایط مجتهد" په واک کې وي یا نه وي؛ خو قرآن باید مسلمانانو ته یو بنسټیز قانون ورکړي، چې تر پیغمبراکرم روسته یو شمېر هغه کسان به درباندې واکمني وکړي، چې معصوم دي او تر دوی روسته تاسې باید پخپله مشوره یو څوک وټاکئ یا فقیه درباندې واکمني وکړي. دا چار هم تر یوولسم امام روسته لاینحل پاتې کېږي او بیا پرې خورا نیوکې دي؛ نو دا چار د شیعه وو له نظره څرنګه هوارېږي؟))
ځواب:
په دې چارو مې مخکې کې څه رڼا اچولې ده. تاسې بیا د امامت مسئله یوازې حکومت ته راواړوله او دا مې وړاندې هم وویل، چې د حکومت مسئله بې د امامت له مسئلې ده او د شیعه وو له نظره، د امام پر مهال د حکومت مسئله د پیغمبراکرم پر مهال د حکومت په څېر ده؛ یعنې استثنایي واکمني لري او لکه څنګه چې د پیغمبراکرم پر مهال دا خبره مطرح نه ده، چې د پیغمبر په شتون کې د حکومت د چار تکلیف څه دی او د امام په شتون کې او په هغه کچه، چې شیعه امام ته قایل دي؛ نو د حکومت مسئله هم یوه فرعي او طفیلي مسئله ده او که وغواړو د حکومت مسئله په جلا ډول مطرح کړو، چې د امام د نه شتون پر مهال (چې داسې وخت نشته) مطرح ده او البته یوه بنسټیزه مسئله هم ده؛ موږ له ((وامرهم شوی بینهم)) له اصله منکر نه یو؛ خو ((وامرهم شوری بینهم)) په کوم ځای او چار کې؟ آیا په هغه چار کې، چې په اړه یې څرګند نص راغلی دی؟ سلا مشوره په هغو چارو کې ده، چې په اړه یې الهي حکم نه وي راغلی.

او هغه خبرې، چې په "حکومت در اسلام" کتاب کې يې کښلې وې. دومره ويلی شم، چې په خواشينۍ په دې کتاب کې تر ډېره بريده مسايل يواړخيز ليکل شوي دي؛ يعنې يوازې يو شمېر دلايل کښل شوي دي او ددې دلايلو مخالف دلايل يې ښخي نه دي راوړي او دا يوه ستره نيمگړتيا ده؛ ځکه که انسان ليکنه کوي؛ نو ټول اړخونه دې وليکي او بيا وويني، چې په دې دلايلو کې کوم يو واخلي؟معتبر او ډاډمن دي که نه؟

ددې کتاب بله نيمگړتيا تقطيعات (غوڅونې او لاسوهنې) دي؛ يعنې د خبرې سر او ښخ يې لرې کړی او يوازې منځ يې پرېښی دی؛ نو په پايله کې جملې هغه مفهوم پيدا کړی، چې که د خبرې سر او پای ورسره يوځای کړې؛ نو هېڅکله به ترې دا مانا او مفهوم نه راولاړېده.

## امامت په قرآن کريم کې

په تېره برخه کې مو د [((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا (مائده/۳): نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ او خپل لورېنه مې درته پوره کړه او اسلام مې درته ستاسې (تلپاتې) دين غوره کړ))] بحث وکړ. دننني قرآنين او بهرني شواهد-؛ يعنې هغه روايتونه، چې ددې آيت د شان نزول په اړه شيعه او سني رانقل کړي دي- ښيي، چې دا آيت د "خم غدير" د موضوع په اړه دی او داچې په دې اړه د قرآن پر آيتونو بحث دی؛ يعنې هغه آيتونه، چې په دې اړه شيعه پرې استدلال کوي؛ نو هغه دوه درې نور آيتونه به هم راوړم، چې شيعه پرې استدلال کوي، چې سمه روښانه شي، چې د استدلال سبک څه دی.

يو له هغوی د مائدې سورت بل آيت او ورپسې تقريباً شپېته آيته نور دي. آيت وايي:

((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ (مائده/٦٧): پېغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پرتا نازل شوي، بشپړ (خلکو ته) ورسوه اوکه داسې دې ونه کړل؛ نو د هغه پېغام دې نه دی رسولی، خدای تا د خلکو (له احتمالي زيانونو) ژغوري.))

پکار ده، چې يوه سريزه ووايم، چې ددې آيت مفاد روښانه کړم او دا سريزه د هغو مطالبو په پوهه کې هم مرسته کوي، چې په تېره برخه کې مو اشاره ورته وکړه.

## د اهلبيتو په اړه، د آيتونو ځانګړې وضع

کومه خبره، چې واقعاً رمز ډولی ده داده، چې په ټوليزه توګه په قرآن کې کوم آيتونه، چې د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم د اهلبيتو په اړه او تېره هغه آيتونه، چې د شيعه وو له نظره د حضرت علي کرم الله وجهه په اړه دي؛ نو ځانګړې وضع لري او هغه داچې سره له دې، چې پر مطلب دلايل او قرآنين پخپله په آيت کې دي؛ خو لکه چې يوه هڅه ده، چې دا مطلب د نورو مطالبو په ترڅ کې يا ترڅنګ يې وويل شي او ترې تېر شي، چې دا مطلب علامه محمد تقي شريعتي د "خلافت او ولايت" په کتاب کې ښه روښانه کړی دی. د مطلب راز په څه کې دی؟ ددې پوښتنې د ځواب ترڅنګ به د هغو پوښتنې هم وځوابېږي، چې که خدای غوښتل علي کرم الله وجهه تنصيص شي؛ نو ولې يې نوم په قرآن کې نه دی راغلی؟

# د تطهير آيت

((إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً(احزاب/۳۳): بېشکه خدای يوازې غواړي چې له تاسې"اهل البيت: نبوي کورنۍ" پليتي او گناه لرې کړي او بشپړ موسپېڅلي کړي.))

که موږ يو او همدا آيت او همدا برخه؛ نو و به وايو، چې خورا روښانه مفاد لري: خدای داسې اراده کړې ده او کوي يې، چې له تاسې"اهل البيت: نبوي کورنۍ" پليتي او گناه لرې کړي او بشپړ موسپېڅلي کړي، وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً په ځانگړې بڼه مو پاک کړي. کوم تطهير، چې خدای يادوي؛ څرگنده ده، چې عرفي او طبي تطهير نه دی، چې دا يې په پام کې وي، چې ناروغۍ درنه لرې کړي او بدن مو له مېکروبونو پاک کړي. نه وايم، چې دا د تطهير مصداق نه دی؛ خو څرگنده ده کوم تطهير، چې دا آيت وايي، په لومړۍ درجه کې له هغو څيزونو پاکوالی دی، چې پخپله قرآن يې "رجس: پليتي" گڼي. په قرآن کې "رجس" او "رُجز" او دې ته ورته څيزونه؛ يعنې څه چې په قرآن کې ترې منع کوي؛ هر څه چې گناه گڼل کېږي، که اعتقادي وي که عملي او که اخلاقي. دا رجس او پليتي ده. دادی، چې وايي: ددې آيت مفاد د اهلبيتو عصمت دی؛ يعنې له هر ډول پليتۍ يې پاکوالی.

فرض کړئ، چې نه شيعه يو او نه سني او يو مسيحي مستشرق يو، چې له مسيحي نړۍ راغلي يو او غواړو وگورو، چې د مسلمانانو کتاب څه وايي. دا جمله په قرآن کې وينو او بيا په تاريخ، سنت او احاديثو پسې ځو؛ نو گورو، چې نه يوازې شيعه، چې ځان د اهلبيتو لاروي گڼي؛ بلکې هغه ډله، چې له اهلبيتو ځانگړې لاروي نه کوي، په کتابونو کې يې ددې آيت د شان نزول د اهلبيتو ستاينه گڼلې او ووايي، چې ددې آيت د نزول پر مهال حضرت علي کرم الله وجهه ، حضرت فاطمة الزهرا، حضرت امام حسن، حضرت امام حسين او پخپله رسول اکرم وو. د اهلسنتو په روايتونو کې راغلي: دا آيت، چې نازلېده؛ نو حضرت ام سلمه بي بي، چې د پېغمبر اکرم مېرمن وه، هم په کور کې وه، رسول اکرم ته يې وويل: رسول الله! آيا زه هم په اهلبيتو کې شمېرل کېږم که نه؟ رسول اکرم ورته وويل: ته نېکه ښځه يې؛ خو په اهلبيتو کې نه شمېرل کېږې. دا خبره د اهلسنتو په ډېرې روايتونو کې راغلې ده.

گورو، چې همدا آيت د نورو آيتونو په ترڅ کې دی او مخکې او روسته ترې د پېغمبر اکرم د مېرمنو په اړه دی. مخکې ترې دادي: ((يَا نِسَاء النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء (احزاب/۳۲) د پېغمبر مېرمنو! تاسې هېڅ د(نورو) ښځو غوندې نه ياست)) (البته نه وايي، چې امتياز لرئ) گناه مو دوه گرايه ده؛ ځکه که گناه وکړئ؛ لومړی داچې گناه مو کړې او دويم داچې د مېره د

مقام سپکاوی مو کړی دی؛ نو دا دوه گناوې دي او د خیر کړنې مو هم دوه گرایه ثواب لري؛ ځکه د خیر کړنې مو دوه کړنې دي او لکه څنگه چې ویل کېږي، چې د ساداتو د ښه کړنو او گناه، ثواب او عذاب دوه گرایه دی؛ ددې لپاره نه دی، چې یوه گناه د دوی په اړه له نورو سره توپیر لري؛ بلکې یوه گناه یې دوه کېږي. د ساري په ډول: که یو "سید" شراب وڅښي؛ نو بې له دې، چې شراب یې څښلي؛ یو بل کار یې هم کړی دی او هغه داچې د پیغمبراکرم ځوځات دی؛ نو د پیغمبراکرم سپکاوی یې هم کړی دی؛ نو څوک چې گوري، پخپله د پیغمبراکرم ځوځات داسې له پیغمبره سرغړونه کوي؛ نو په روحیه یې خورا ناوړه اغېز کوي.

په دې آیت کې ضمیرونه هم مؤنث دي: ((لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاء إِنِ اتَّقَيْتُنَّ (احزاب/۳۲): د(نورو) ښځو غوندې نه یاست؛ که پرهېزگاري کوئ؛)) څرگنده ده، چې مخاطب یې د پیغمبراکرم مېرمنې دي. تر دوو یا درې آیتونو روسته یودم ضمیر مذکرېږي او همدې آیت ته را رسو ((إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ [نه وایي: (عنكُن)] الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً)) بیا ځلي ضمیر مونثېږي. قرآن خو یو کار هم بېځایه نه کوي. لومړی یې دلته د ((اهلبیت)) لفظ راوړی او مخکې ترې ټول ((نساءالنبي)) دی: ((يَا نِسَاء النَّبِيِّ))؛ یعنې د ((نساءالنبي)) عنوان د پیغمبراکرم د اهلبیتو په عنوان واوړېد او ترڅنگ یې مؤنث ضمیر، پر مذکر ضمیر واوړېد. دا خو څه بېځایه خبرې نه دي. په آیتونو کې پر شته مطلب سربېره بل څه ویل غواړي. تردې آیت مخکې او روسته د پیغمبراکرم د مېرمنو په اړه ټول مکلفیت، گواښ، ډارول، رجاء او امر دی: ((وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ: او پخپلو کورونو کې اوسئ او د ړومبني جاهلي پېر په څېر خپل ښایست او سینگار مه ښکاره کوئ)) ټول امر، حکم، گواښ او ترڅنگ یې ډارول او رجاء دی؛ که ښه کار وکړئ داسې کېږي او که بد کار وکړئ؛ هاغسې کېږي.

خو د تطهیر آیت، تر ستاینې اوچت دی؛ له گناه د پاکوالي او پاکلمنی خبره یې کوي. ددې آیت مفاد له مخکېني او روستني آیت سره توپیر لري. دلته مخاطب ((اهلبیت)) دي او هلته ((نساء النبي)). دلته ضمیر مذکر دی او هلته مؤنث؛ خو همدا آیت چې مفاد یې له مخکني او روستني آیت سره دومره توپیر لري، په هغو آیتونو کې ځای په ځای شوی دی؛ لکه څوک چې د خپلو خبرو په ترڅ کې بل مطلب وایي او بیا خپلې خبرې ته دوام ورکوي؛ نو ځکه زموږ په روایتونو کې امامانو خورا ټینگار کړی، چې د قرآن د آیتونو پیل یو مطلب، منځ یې بل مطلب او پای یې بل مطلب دی؛ نو ځکه د قرآن تفسیر ته پر دومره ارزښت قایل دي.

نه یوازې زموږ روایتونو او امامانو ویلي، چې د ((إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً)) آیت مخکېنی او روستنی مطلب سره توپیر لري او مخاطب او

مضمون یې بې له هغوی دی او په هغوی پورې اړوند دی، چې دا کیسه یې په اړه ده؛ بلکې ټولو اهلسنتو هم دا مطلب روایت کړی دی.
بله بېلګه: د ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ. . .)) آیت.
د ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ)) په آیت کې همدا مطلب وینو او بلکې ددې آیت په اړه خورا حیرانوونکی دی. تردې آیت مخکې د فرعي او عادي مسایلو په اړه خبرې دي: ((أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الأَنْعَامِ (مائده/۱): تاسې ته د څارویو (غوښه او جنین) حلا ل شوي دي)) او تزکیه داسې وکړئ او که مردار وي؛ حرام دی او هغوی چې زندی کوي (منخنقه) حرام دی او هغوی چې یو د بل په ښکر وژل کېږي؛ غوښه یې حرامه ده او. . . . یو دمي وايي: ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا (مائده/۳): نن کافران ستاسې د دین (له زواله) ناهیلې شوي دي؛ نو ځکه ترې مه وېرېږئ، بلکې زما له مخالفته ووېرېږئ! نن مې ستاسې دین تاسې ته بشپړ کړ او خپله لورېنه مې درته پوره کړه او اسلام مې درته ستاسې (تلپاتې) دین غوره کړ.)) او بیا هماغو مسایلو ته مخه کوي، چې مخکې یې ویلي ول. اساساً دا جملې له مخکېنیو او روستنیو سره اړخ نه لګوي؛ یعنې ښیي چې دا هغه مطلب دی، چې په بل مطلب کې ځای په ځای شوی دی او له هغه تېر شوي دي.
کوم آیت چې نن وایو؛ همداسې برخلیک لري؛ یعنې د نورو آیتونو په منځ کې یو بل آیت دی، چې که د آیت له منځه یې راواخلو؛ نو د مطلب شمېرۍ یې سره نه شلېږي او که د ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ)) برخه له آیته اوچته کړو؛ نو د آیت د مخکېنۍ برخې د مطلب شمېرۍ له روستنۍ برخې سره نه شلېږي. د بل آیت په منځ کې یو بل آیت دی، چې نه شو ویلای، چې د مخکېني مطلب دوام او د روستني مطلب سریزه ده؛ بلکې پخپله بېل مطلب دی. دلته هم د آیت مطلب او د اهلسنتو او شیعه وو روایتونه هم همدا خبره کوي؛ خو دا آیت هم، قرآن د بل مطلب په منځ کې ایښی دی. اوس باید پوه شو، چې ددې مطلب راز په څه کې دی؟

## ددې چار راز

ددې مسئلې راز برسېرني ته هم، د قرآن د آیت له اشارې او د امامانو له روایتونو ګټنه کېږي او هغه داچې په ټولو اسلامي احکامو کې د حضرت علي کرم الله وجهه د امامت او د پېغمبراکرم د کورنۍ د ځانګړنې په څېر یو حکم داسې نه و، چې د پلې کېدو لږ چانس ولري؛ په دې مانا:

کوم تعصبونه، چې د عربو د زړه په تل کې ول؛ ددې مطلب پلې کولو ته يې خورا لږ چمتووالی درلود. سره له دې، چې پېغمبراکرم ته د حضرت علي کرم الله وجهه په هکله حکم راته؛ خو آنحضرت تل دا وېره درلوده، چې که و يې وايي، نو هغه منافقين، چې قرآن يې پرله پسې نوم اخلي، ووايي: وګوره! خپلې کورنۍ ته خواړه پخوي. حال دا، د پېغمبراکرم ژوند دود داسې و، چې په هېڅ ځای کې ځان ته پر ځانګړنی او امتياز قايل نه و، خوی يې همدا و او د اسلام حکم هم همدا و او په کلکه يې له دې ډډه کوله، چې د ځان او نورو ترمنځ، ځان ته پر امتياز قايل شي او همدا لامل د پېغمبراکرم د پرمختګ او بري ستر لامل و.
دا مسئله د خدای حکم و؛ خو پېغمبراکرم پوهېده، چې که و يې وايي؛ نو د کمزوري ايمان خاوندان به وايي: وګوره! ځان ته امتياز جوړوي. په ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ)) آيت کې مو وليدل، چې مخکې يې دا ول: ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ: نن کافران ستاسې د دين (له زواله) ناهيلې شوي دي؛ نو څکه ترې مه وېرېږئ، بلکې زما له مخالفته ووېرېږئ!)) وايي: نور کافران ستاسې له دينه نهيلي شوي دي؛ يعنې هغوی نور له هغې لارې نهيلي شوي، چې پر اسلام به برلاسي شي؛ پوه شوي، چې نور يې چارې پرمخ نه ځي فَلاَ تَخْشَوْهُمْ نور ترې مه وېرېږئ وَاخْشَوْنِ؛ خو له ما وډارشئ. و مې ويل: مراد دادی: ووېرېږئ؛ څکه که منځ مو خراب شي؛ نو د هغه سنت له مخې يې چې لرم، چې که هر قوم د فساد پر لور تغيير وکړي؛ نو زه هم خپل نعمت ترې اخلم [د اسلام نعمت به درځنې واخلم] دلته وَاخْشَوْنِ له دې کنايه ده، چې له ځانه وډار شئ؛ له ما ووېرېږئ له دې بابه چې له ځانه ووېرېږئ؛ يعنې له کوره وېره ده؛ نور له بهره څه وېره نشته. بلخوا پوهېږو، چې دا آيت د مائدې په سورت کې دی او د مائدې سورت روستی سورت دی، چې پر پېغمبراکرم نازل شوی دی؛ يعنې دا سورت د پېغمبر اکرم د عمر په دوه درې روستيو مياشتو کې -چې اسلام د ځواک پر هسکه څوکه و- نازل شوی دی.
مخکې مې هم، چې کوم آيت ولوست؛ همدې مطلب ته پکې اشاره شوې، چې وېره نوره له کوره ده او له بهره نشته. وايي:
((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ (مائده/٦٧): پېغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پرتا نازل شوي، بشپړ (خلکو ته) ورسوه او که داسې دې ونه کړل؛ نو د هغه پېغام دې نه دی رسولی، خدای تا د خلکو (له احتمالي زيانونو) ژغوري.))
اصلاً موږ بې له دې آيته په قرآن کې بل آيت نه لرو، چې پېغمبراکرم يو کار ته وهڅوي. داسې به وي، چې غواړئ څوک يو کار ته وهڅوئ؛ هغه يو ګام مخکې ځي او بل شاته بېدي او

وبرېږي. په دې آيت کې هم پېغمبراکرم ته بلنه ورکول کېږي، چې ابلاغ کړه، له يوې خوا يې گواښي او بلخوا يې هڅوي؛ يعنې تسلي ورکوي؛ گواښي يې که دا موضوع ابلاغ نشي؛ نو ټول رسالت دې تويی تللی او تسلي ورکوي، چې مه وېرېږه! خدای به دې له دې خلکو ساتي (وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ) او په ((الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ: نن کافران ستاسې د دين (له زواله) ناهيلي شوي دي؛ نو ځکه ترې مه وېرېږئ، بلکې زما له مخالفته ووېرېږئ!)) کې يې وويل: نور له کافرانو مه ډارېږئ. څرگنده ده، چې پېغمبراکرم په لومړۍ درجه کې نبايد له کافرانو ووېرېږي؛ خو ((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ)) ښيي، چې تشويش لري؛ نو دا تشويش د مسلمانانو له کورنيو چارو دی؛ خو زه اوس له دې سره کار نه لرم، چې له مسلمانانو [هغوی، چې د حضرت علي کرم الله وجهه خلافت او امامت نه مانه] باطني کافران ول که نه؛ بالاخره دا موضوع په يو ډول وه، چې د منلو چمتوتيا يې نه درلوده.

## تاريخي شواهد

تاريخي بهيرونه همدا خبره کوي؛ يعنې د مسلمانانو ټولنپوهنه همداسې ښيي؛ نو حضرت عمر (رض) وويل: موږ چې علي خلافت ته و نه ټاکه ((حيطة على الاسلام)) و؛ يعنې اسلام ته مو احتياط وکړ؛ ځکه چا ورسره نه منله. يا په بل ځای کې، چې له حضرت ابن عباس (رض) سره يې خبرې کولې، وويل: قريشو ته سمه نه ښکارېده، چې خلافت دې هم په هماغه کورنۍ کې وي، چې نبوت پکې و؛ يعنې و يې ويل: نبوت، چې په بني هاشمو کې پيدا شو؛ نو ښکاره خبره ده، چې دا ورته امتياز شو؛ قريشو حساب وکړ که خلافت هم په بني هاشمو کې وي؛ نو ټول امتيازات به د بني هاشمو وي؛ نو ځکه قريشو له دې مسئلې کرکه درلوده او حضرت ابن عباس (رض) هم حضرت عمر (رض) ته د قرآني آيتونو په رڼا کې خورا پاخه ځوابونه ورکړي دي.
د مسلمانانو په ټولنه کې يوه وضع وه، چې په بېلابېلو عبارتونو او ژبو وويل شول. قرآن کريم يې په هغه ښه وايي. حضرت عمر (رض) هماغه په بله وينا او ښه وايي. يا د بېلگې په توگه ويل يې: حضرت علي په اسلامي جگړو کې د عربو خورا مشران وژلي او عرب هم کينه کښ خلک دي او تر مسلمانېدو روسته يې هم علي کرم الله وجهه ته تر اسلام له مخه کينې په زړونو کې دي؛ نو ځکه علي خلافت ته مناسب نه دی. ځينې اهلسنت هم له همدې خبرو عذر جوړوي،

وايي: سمه ده، چې علي کرم الله وجهه افضل و او مقام يې خورا اوچت و؛ خو ډېر دښمنان يې هم درلودل.
نو د پېغمبراکرم پر مهال ددې حکم له سرغړاوي يو ډول تشويش و. داچې قرآن دا آيتونه له قرآينو او دلايلو سره ويلي دي؛ نو کېدای شي راز يې په دې کې وي، چې هر بې غرضه انسان پردې مطلب پوه شي؛ خو نه يې غوښتل، دا مطلب په داسې بڼه ووايي، هغوی چې غوښتل سرغړونه وکړي، سرغړونه يې د قرآن او اسلام پر وړاندې سرغړونه وي؛ هغوی چې په هر حال سرغړونه کوي؛ نو تمرد يې دا بڼه و نه مومي، چې په څرګند ډول قرآن طرد کړي؛ لږ تر لږه وکړای شي، چې دې چار ته پوښښ جوړ کړي؛ نو ځکه يې د تطهير آيت په نورو آيتونو کې ځای پر ځای کړی دی؛ خو هر پوه، عاقل، مدبر او متدبر انسان پوهېږي، چې دا بل څه دي. د ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ)) آيت هاغسې بړدي او د ((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ)) آيت داسې بړدي.؟

## د ((إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ. . .)) آيت

په دې اړه نور آيتونه هم داسې دي، چې فکر هڅوي، ځان پوه کړي، چې دلته يوه خبره شته او بيا هم د متواترو نقلونو په مرسته قضيه جوته شي؛ لکه دمائدې سورت۵۵ آيت:
((إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ: ستاسې ولي او پالندوی خو يوازې خدای، د هغه پېغمبراو هغه مؤمنان دي، چې لمونځونه کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي.))
عجيبه تعبير دی: ستاسې ولي او پالندوی خو يوازې خدای، د هغه پېغمبر او هغه مؤمنان دي، چې لمونځونه کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي.
د رکوع پر مهال زکات ورکول عمومي چار نه دی، چې وکړای شو د يو ټوليز اصل په بڼه يې ووايو؛ بلکې ښيي، چې يوې ټاکلې پېښې ته اشاره ده. هم يې تصريح کړې نه ده؛ هغه تصريح، چې سرغړونه ترې د دښمن او دوست په نزد له قرآنه سرغړونه وشمېرل شي او هم يې تفصيح کړی دی؛ يعنې داسې يې ويلي، چې هر بې غرضه انسان پوهېږي، چې دلته يو څه دي او يوې پېښې ته اشاره ده. الَّذِينَ. . . . .وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ (د رکوع په حال کې زکات ورکوي) يو معمولي چار نه دی؛ يوه استثنايي قضيه ده، چې ناڅاپه پېښه شوې ده. دا قضيه څه وه؟ ګورو، چې شيعه وو او اهلسنتو ټولو رانقل کړي، چې دا آيت د حضرت علي کرم الله وجهه په اړه نازل شوی دی.

## د عرفاوو خبره

نور آيتونه هم شته، چې پکې ځېرنه مطلب روښانوي. عرفاوو له پخوا يوه خبره کړې او البته دا خبره پخپله په شيعه وو کې شته او عرفاوو ښه بيان کړې ده، وايي: د امامت او ولايت مسئله د شريعت باطن دی؛ يعنې څوک چې دې مطلب ته رسي، چې له پوټکي تېر شوی وي او نچوړ ته رسېدلی وي او اساساً په اسلام کې د ولايت او امامت مسئله يوه نچوړېزه مسئله وه؛ يعنې يوازې ژور کسان به پرې پوهېدل؛ نور هم رابلل شوي، چې دې ژورتيا ته ورسي؛ خو ځينې به رسي او ځينې به نه رسي.
اوس به په نورو آيتونو پسې ولاړ شو؛ غواړو له هغو استدلالونو سره اشنا شو، چې شيعه يې کوي او پر منطق يې پوه شو.

## په شيعه وو کې امامت، د نبوت په څېر مفهوم دی

په قرآن کې په همدې مسئلې پورې اړوند، يو عجيبه آيت دی؛ البته دا آيت پخپله د حضرت علي کرم الله وجهه په باب نه دی، پخپله د امامت د مسئلې په هکله دی.
و مې ويل: په اسلامي متکلمينو کې له پخوا دا ستره تېروتنه وه، چې مسئله يې په دې بڼه مطرح کړې ده: د امامت شرايط څه دي؟ مسئله يې داسې فرض کړه؛ امامت هم موږ منو او اهلسنت؛ خو په شرايطو کې يې اختلاف لرو؛ موږ وايو: د امام شرط دادی، چې معصوم او منصوص وي؛ هغوی وايي: نه! حال دا پر کوم امامت، چې شيعه گروهن دی، اهل تسنن پرې بېخي گروهن نه دي. پر څه چې اهلسنت د امامت په نامه گروهن دي دا د امامت د شان يو دنيوي چار دی؛ لکه څنگه چې د نبوت په هکله د پېغمبر اکرم يوه دنده دا وه، چې د مسلمانانو واکمن و؛ خو نبوت خو له حکومت سره مساوي نه دی. نبوت پخپله يو حقيقت دی، چې په زرگونو مطالب پکې دی. د پېغمبر له شئونو يو دادی، چې د پېغمبر په شتون کې مسلمان بل واکمن نه لري او هغه د مسلمانانو واکمن دی. اهلسنت وايي: امامت؛ يعنې حکومت او امام هم هماغه د مسلمانانو واکمن دی؛ د مسلمانانو يو وگړی، چې بايد حکومت ته وټاکل شي. اهلسنت تر حکومت پورته لانړل؛ خو امامت په شيعه وو کې د نبوت په څېر دی؛ بلکې د نبوت له ځينو درجو پورته هم دی؛ يعنې اولوالعزم انبياء هغوی دي، چې امامان هم دي. ډېری انبياء اصلاً امامان نه ول. اولوالعزم انبياء په اخره کې امامت ته رسېدلي دي.

لکه څنګه چې څو پیغمبر وي؛ نو ددې خبره نه وي، چې څوک دې واکمن وي؛ ځکه یو فوق بشري اړخ هم لري او چې امام وي؛ نو د بل د واکمنۍ خبره بېخي نه مطرحېږي او چې کله امام نه وي (اوس که ووایو چې بېخي نشته او یا زموږ د پېر په څېر غیب وي)؛ نو هله د حکومت خبره رامنځ ته کېږي، چې څوک واکمن شي؛ نه ښایي، چې د امامت او حکومت مسئله سره ګډه کړو او بیا ووایو، چې اهلسنت څه وایي او موږ څه وایو. دا یوه بله مسئله ده.

# امامت

## د حضرت ابراهيم عليه السلام په ځوځات کې

کوم آيت چې لولم، د امامت مفهوم، د شيعه وو په مانا دی. شيعه وايي: له دې آيته ګټنه کيږي، چې د امامت په نامه يو بل حقيقت شته، چې نه يوازې د اسلام تر پېغمبر روسته و؛ بلکې له هغه وخته و، چې پېغمبران راښکاره شوي او دا حقيقت د قيامت تر ورځې د حضرت ابراهيم عليه السلام په ځوځات کې پاتې دی او هغه د بقرې سورت ۱۲٤ آيت دی، چې وايي:
((وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ: او (درياد کړئ) چې کله خدای ابراهيم په ډول ډول وسايلو وازمېيه؛ او هغه هم لدې ازمېښتونو ښه راووت (؛ نو) خدای ورته وويل: ((زه تا د خلکو امام او مشر ټاکم.)) ابراهيم عرض وکړ: ((او له ځوځاته مې هم (مشران او امامان وټاکه.))) خدای ورته وويل: ((ظالمانو ته مې وعده نرسي (او يوازې ستا د اولادې سپېڅلي ددې مقام وړ دي))).

## حضرت ابراهيم عليه السلام ازمېيل کيږي

### حجاز ته د مهاجرت حکم

پخپله قرآن کريم د حضرت ابراهيم عليه السلام د ازمېښتو په اړه مطالب ويلي دي؛ د "نمردو" او نمردويانو پر وړاندې يې مقاومت او داچې چمتو شو په اور کې واچول شي او ځينې نورې پېښې، چې روسته ورپېښې شوې، چې يو يې هغه حيرانوونکی حکم و، چې يوازې هغه کسان يې پلی کولای شي، چې مطلق عابد او کټ مټ د خدای امر ته تسليم وي. يو زوړ بوډا، چې اولاد يې نه درلود او د لومړي ځل لپاره يې مېرمن؛ "هاجرې" په اويا کلنۍ کې ماشوم وزيږاوه؛ حکم ورته کيږي، چې بايد له "شام" او "سوريه" ووځې او د حجاز سيمې (د اوسني مسجدالحرام سيمه) ته ولاړ شي او زوی او مېرمن دې همغلته پرېږدې او پخپله ترې راستون شي. دا خبره له يو منطق سره هم اړخ نه لګوي؛ خو هغه منطق، چې دا امر د خدای امر دی (دا يې حسول؛ ځکه وحي وه) او زه يې بايد پلی کړم. ((رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ الصَّلاَةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ

الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ (ابراهيم/۳۷): پالونکيه! ما په يو بې اوبو او بې کښته ناو کې د خپل اولاد يوه برخه ستا د قدرمن کور تر څنګ مېشت کړه، چې لمونځ وکړي؛ نو ته د يو شمېر خلکو زړونه ورواړوه او له محصولاتو روزي ورکړه، ښايي چې دوی ستا شکر وباسي.))
البته، هغه د الهي وحې له لارې پوهېږي، چې د چار پای څه ده؛ خو له ازمېښتونو سرلوړی راووت.

## د زوی حلالو حکم

تردې اوچت اوسخت ازمېښت، د زوی حلالول دي او ورته ويل کېږي، چې بايد پخپلو لاسونو د خپل زوی سر غوڅ کړي او په همدې منی کې يې قرباني کړي (چې نن موږ، د هغه فوق العاده تسليم په ياد دلته پسه قرباني کوو او څکه يې کوو، چې خدای ويلي او دليل پکې را نه وړ.) درې څلور ځل چې ورته په خوب کې وحې کېږي او ډاډمنېږي، چې دا الهي وحې ده؛ نو له خپل زوی سره خبره کوي او زوی يې هم ورته وايي: ((قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاء اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ (صافات/۱۰۲): (اسماعيل) وويل: ((پلاره! څه چې درته امر کېږي، همغه وکړه، که خدای وغواړي (؛ نو) ما به له زغمونکيو ومومې.))
قرآن څومره ښه ننداره انځوروي: ((فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ(صافات/۱۰۳): نو چې کله دواړو(دې کار ته) غاړه کېښووه او زوی يې پړمخې سملاوه،)) (؛ يعنې هغه پړاو ته راورسېد، چې نه حضرت ابراهيم شک درلود، چې بايد د خپل زوی سر غوڅ کړي او نه حضرت اسماعيل شک درلود، چې سر يې پرې کېږي؛ پلار له بشپړ ډاډ او زوی له بشپړ ډاډ سره) ((وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ. قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا (صافات/۱۰٤-۱۰۵): او هغه ته موږ غږ کړ: ((ابراهيمه! په يقين تا(خپل) خوب رښتيا کړ (او خپله دنده دې ترسره کړه)))؛ يعنې زموږ موخه د سر غوڅول نه ول؛ موږ نه غوښتل، چې سر غوڅ شي. و يې نه ويل، چې پکار نه ده دا کار عملي کړې؛ و يې ويل: عملي دې کړ، پای ته ورسېد؛ څکه څه چې موږ غوښتل دا نه ول، چې د حضرت اسماعيل سر غوڅ شي؛ بلکې د اسلام راښکاره کېدل او ستاسې د پلار و زوی تسليم و، چې عملي شو.
د قرآن د نص له مخې، حضرت ابراهيم ته خدای په بوډاتوب کې زوی ورکړ او د قرآن څرګند نص دی، چې کله پرښتې راغلې او خبر يې ورکړ، چې خدای به زوی درکړي؛ نو مېرمن يې وويل: ((قَالَتْ يَا وَيْلَتَى أَأَلِدُ وَأَنَاْ عَجُوزٌ وَهَـذَا بَعْلِي شَيْخًا إِنَّ هَـذَا لَشَيْءٌ عَجِيبٌ. قَالُواْ أَتَعْجَبِينَ

مِنْ أَمْرِ اللّهِ رَحْمَتُ اللّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ (هود/۷۲-۷۳): (د ابراهيم ښځې) وويل: ((های های! پدې بوډۍ توب کې به مې اولاد وشي؟! او (حال دا، ) دا مېړه هم بوډا دی؟!دا يو عجيبه څيز دی!)) (پرښتو) وويل: ((ايا د خدای پر کار تعجب کوې؟ دا د خدای رحمت او برکتونه ستاسې پر کورنۍ دي؛ ځکه چې هغه ستايل شوی اوستر دی؛))
نو خدای په بوډاتوب کې حضرت ابراهيم ته زوی ورکړ او تر هغه چې ځوان و؛ نو اولاد يې نه درلود او حضرت ابراهيم هغه مهال د اولاد څښتن شو، چې پيغمبر شوی و او داچې د حضرت ابراهيم په اړه خورا آيتونه دي، ښيي، چې ابراهيم عليه السلام چې تر کلونو روسته پيغمبر شو؛ نو خدای ورته د عمر په روستيو کلونو؛ يعنې په اته اويا کلنۍ کې زوی ورکړ او تر هغه روسته هم لس شل کاله روسته ژوندی و، چې حضرت اسحاق او حضرت اسماعيل عليهم السلام دواړه غټ شول او اسماعيل عليه السلام دومره غټېږي، چې د حضرت ابراهيم په مرسته د کعبې خونه جوړوي.
((وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ: او (درياد کړئ) چې کله خدای ابراهيم په ډول ډول وسايلو وازمېيه؛ او هغه هم لدې ازمېښتونو ښه راووت (؛ نو) خدای ورته وويل: ((زه تا د خلکو امام او مشر ټاکم.)) ابراهيم عرض وکړ: ((او له ځوځاته مې هم (مشران او امامان وټاکه.))) خدای ورته وويل: ((ظالمانو ته مې وعده نرسي (او يوازې ستا د اولادې سپېڅلي ددې مقام وړ دي))).
وايي خدای حضرت ابراهيم وازمېيه او له دې ازمېښوتونو سرلوړی راووت؛ بيا ورته خدای وويل: زه به دې امام کړم. ابراهيم عليه السلام وويل: آيا له ځوځاته به مې هم امام وي؟ ځواب ورکړ شو: ظالمان يې نه! دا آيتونه په وخت پورې اړوند دي؟ آيا د حضرت ابراهيم د ځوانۍ د پېر دي؟ څرگنده ده، چې تر نبوت په مخکې پېر پورې اړوند نه دي؛ ځکه د وحې خبره ده او د نبوت په پېر پورې اړوند دی؟ د نبوت د پيل پېر دی؟ نه! د نبوت روستي کلونه دي؛ په دوو دليلونو: يو داچې وايي: تر ازمېښتونو روسته ول او د حضرت ابراهيم ازمېښوتونه د نبوت په پېر کې ول او خورا مهم د حضرت ابراهيم د عمر روستي کلونو ول او بل داچې په همدې آيت کې د ځوځات خبره ده. داچې ويلي يې دي: وَمِن ذُرِّيَّتِي؛ څرگندېږي، چې اولاد يې درلود.
دا آيت رسول ابراهيم نبي ته د عمر په روستي کلونو کې وايي، چې موږ يو نوی او اضافه منصب او مقام درکوو: إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا. څرگندېږي، چې حضرت ابراهيم پيغمبر و، رسول و او دا پړاوونه يې تېر کړي ول؛ خو يو بل پړاو و، چې لا تر اوسه حضرت ابراهيم عليه السلام نه و ورسېدلی او تر هغه ور و نه رسېد، څو له ټولو ازمېښوتونو سرلوړی راووت.

آیا دا نه ښيي، چې د قرآن په منطق کې یو بل حقیقت هم شته، چې نوم یې امامت دی؟؛ نو د امامت مانا څه ده؟

## امامت؛ الهي ژمنه ده

امامت؛ یعنې یو انسان هغه برید ته ورسي، چې په اصطلاح یو کامل انسان شي، چې دا کامل انسان پخپل ټول وجود کړای شي، چې د نورو مشر شي.
ابراهیم علیه السلام بې ځنډه د خپل ځوځات په فکر کې شي: خدایه له ځوځاته مې څنګه؟ ځواب ورکوي: لاَ یَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِینَ. دلته د امامت مسئلې ته "الهي ژمنه" وایي؛ نو شیعه ځکه وایي کوم امامت چې موږ وایو؛ له خدای سره دی؛ نو قرآن وایي: عَهْدِي؛ یعنې زما ژمنه ده؛ نه د خلکو. موږ چې پوه شو، چې امامت بې د حکومت له مسئلې دی؛ نو نور به نه حیرانېږو، چې له خدای سره دی. وایي: حکومت له خلکو سره دی که له خدای سره؟دا حکومت چې موږ یې وایو، غیر د امامت له مسئلې دی. امامت زما ژمنه ده او زما ژمنه ستا د اولاد، ظالمانو ته نه رسي. او په ټولیزه توګه یې و نه ویل: ((نه!)) او په ټولیزه توګه یې و نه ویل: ((هو!))؛ ځکه یې داسې بېل کړل او ظالمان یې څنډې ته کړل؛ نو بې له ظالمانو نور پاتې کېږي او دا آیت ښیي، چې اجمالاً د حضرت ابراهیم په ځوځات کې امامت شته.

**بل آیت**
د [((وَجَعَلَهَا کَلِمَةً بَاقِیَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُونَ (زخرف/۲۸): او هغه ترځان روسته، په خپل ځوځات کې دا تلپاتې خبره پرېښوده، ښایي د خدای لوري ته راوګرځي.] آیت.
هم د حضرت ابراهیم په هکله دی، وایي: خدای دا یو باقي حقیقت د ابراهیم په ځوځات کې پرېښود.

**له ظالم نه مراد څه دی؟**

د "ظالمین" مسئله رامخې ته کېږي. امامانو به تل د "ظالمین" پر آیت استدلال کاوه. له ظالمه مراد څه دی؟ د قرآن له نظره هغه ظالم دی، چې پر خپل نفس او یا پر بل ظلم وکړي. د خلکو په عرف کې موږ هغه ته ظالم وایو، چې د نورو پر حقوقو تېری وکړي؛ خو ظالم په قرآن کې عمومي دی که څوک پر بل تېری وکړي او که پر ځان.

چا چې پر بل یرغل کړی؛ بیا یې هم پر ځان ظلم کړی دی او په قرآن کې د ظلم د شرح لپاره خورا آیتونه دي.

علامه طباطبایي د خپل یو استاد له خولې د هغه پوښتنې په اړه رانقلوي، چې حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل ځوځات په اړه وکړ. د حضرت ابراهیم نسل او ځوځات د بدوالي او ښه والي له نظره داسې تفسیرېږي: یو دا فرض کړو، چې داسې وګړي ول، چې د عمر له ړومبۍ ورځې تر روستۍ ټول ظالم ول. بل دا فرض کړو، چې د عمر په لومړیو کې ظالمان ول او بیا ښه شول. دریم دا د عمر په ړومبیو کې ښه ول او بیا روسته ظالمان شول. څلورم دا هېڅکله ظالمان نه ول. وایي: ناشونې ده، چې حضرت ابراهیم علیه السلام دا دومره ستر منصب خپل هغه ځوځات ته غوښتی وي، چې د عمر له پیله تر پایه ظالمان او بدچاري ول او همداراز ناشونې ده، چې دا منصب هغه اولاد ته وغواړي، چې د عمر په پیل کې ښه ول او اوس چې دې منصب ته رسي؛ نو بدچاري دي. ابراهیم علیه السلام که دا منصب غوښتی وي؛ نو خپلو نېکچارو او ښه اولاد ته یې غوښتی دی. ښه وګړي دوه ډوله دي: هغه ښه، چې د عمر له پیله تر پایه ښه ول او هغه ښه، چې په پیل کې بد ول؛ خو اوس ښه شوي دي. چې کله د ابراهیم علیه السلام د غوښتنې ځای مشخص شو، چې بې له دې دوو ډلو هاخوا نه اوړي؛ نو هغه کسان هم پکې شاملېږي، چې سره له دې، اوس ظالمان نه دي؛ خو ښه مخینه نه لري او پخو ککړ ول؛ خو ګورو، چې قرآن وایي: لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ. هغوی پکې نه شاملېږي، چې د ظلم مخینه لري. نه! زما ژمنه ظالمانو ته نه رسي؛ نو څرګنده ده، چې د امامت غوښتنه هغوی ته نه ده، چې بالفعل ظالمان دي یا داچې تل ظالمان ول او یا پخوا نه ول او اوس ظالمان دي؛ نو قرآن دا خبره نفې کوي، چې امامت به هغوی ته رسي، چې مخینه یې بده وه.

نو ځکه شیعه استدلال کوي، چې ناشونې ده امامت هغو ته ورسي، چې د خپل عمر په یوه برخه کې مشرکان ول.

**پوښتنه: معصوم؛ یعنې څه؟**

آیا دا خبره شیعه وو جوړه کړې، چې بنسټ هم لري؛ خو موږ پاللې او ښه کړې ده؟ اصولاً هغه ته معصوم وايي، چې وايو گناه نه کوي يا هغه چې پر گناه نه کولو سربېره تېر هم نه وځي. موږ شل کاله مخکې د مرحوم ميرزا ابولحسن خان فروغي په غونډو کې گډون کاوه. هغه د عصمت په اړه ځانگړي مطالعات او گروهې درلودې او ډېر روښانه او اوږدې ويناوې يې هم کولې؛ خو موږ يې په اتيا سلنه خبرو نه پوهېدو او په هغو شل سلنو يې هم چې پوهېدو؛ نوعصمت يې بل ډول تعريفاوه، ويل يې: معصوم هغه نه دی، چې گناه نه کوي؛ موږ ډېر وگړي لرو، چې گناه يې نه ده کړې؛ خو معصوم ورته نه وايو؛ اوس له هغه منطق سره کار نه لرو. قطعاً استاد مطهري به خپل ځواب لري، چې معصوم څه ته وايي؛ خو که معصوم هغه وي، چې بايد تېروتی هم نه وي؛ موږ گورو، چې په دولس گونو امامانو کې يوازې دوو تنو يې؛ يعنې امام علي او امام حسن د لنډ مهال لپاره خلافت کړی دی او شک نشته، چې دوی د خلافت په چارو کې خورا تېروتنې کړې وې او د تاريخي منطق له پلوه په دې تېروتنو کې بحث نشته او دا خبره د معصوم له هغه تعريف سره اړخ نه لگوي. د بېلگې په توگه: امام حسن له معاويه بن ابي سفيان سره د جگړې لپاره عبيدالله عباس ته دنده ورکړه يا پخپله حضرت علي، چې عبدالله بن عباس يې د بصرې واکمن کړ؛ نو که حضرت علي پوهېده، چې دا سړی به هاغسې رسوايي او چټلي کوي؛ نو څرگنده ده، چې دا کار يې نه کاوه؛ نو څرگنده ده، چې له دې مطلبه خبر نه و؛ يعنې پخوا يې فکر کاوه، چې دا سړی دې کار ته غوره وگړی دی، چې روسته ښه وگړی و نه خوت او که د حضرت علي د حکومت په اړه نورې څېړنې وکړو؛ نو هرومرو پکې داسې مسايل شته، چې د عصمت له دې تعريف سره اړخ نه لگوي.

. . . . دا په اصطلاح يو اړخيز بحث کول، چې ټول موافق په يو بحث کې گډون وکړي؛ نو دا چار ډېر گټور نه دی؛ ځکه انسان چې کومه گروهه لري؛ نو ورسره مينه لري او لېوال نه وي، چې د گروهې پر خلاف يې خبره وشي؛ په تېره چې له وړوکتوبه مو په افکارو کې له علي او کورنۍ سره يې مينه وي او هېڅکله مو نيوکه پرې نه ده ليدلې ان پخپله د دين د اصولو، توحيد او خدای لمانځنې په اړه مو ډېر په اسانه نيوکې اورېدلې؛ خو په تشيع، امامانو او داچې څوک يې پر ژوند نيوکه وکړي؛ نو دا مو کله هم نه دي ليدلي؛ نو ځکه موږ ته خورا درنده وي، چې څوک پر امام حسين نيوکه وکړي؛ خو د بېلگې په توگه دا آيت، چې استاد مطهري پرې په لومړۍ غونډه او هم په دې غونډه کې استناد وکړ، چې وايي: هغوی چې لمونځ کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي او بيا وايي، چې دا آيت يوازې د حضرت علي په هکله دی او دا پېښه هم يوازې حضرت علي ته ورپېښه شوې، چې د رکوع په حال کې زکات ورکوي؛ نو زما په نظر ډېره منطقي او معقوله نه ښکاري؛ ځکه موږ د حضرت علي د حال په شرح کې

ويلي، چې د لمانځه پر مهال به يې دومره خدای ته پام و، چې خلک به يې نه پېژندل او ان د اودس کولو پر مهال، به يې هم هغه وګړي نه پېژندل، چې په مخ کې يې تېرېدل؛ نو څرنګه کېدای شي، چې دداسې سړي د لمانځه پر مهال پام يې بل ته وي، چې ګدايي کوي او څوک ورته څه نه ورکوي او بيا حضرت علي خپله ګوته ورکوي او دا خو څه ښه کار نه دی، چې سوالګر ته پيسې ورکړو او ګدا ته پيسې ورکول دومره ارزښت نه لري، چې انسان پرې خپل لمونځ ټکنی کړي او پردې سربېره د شيعه فقهاوو له نظره ګوته هغه څه نه دي، چې زکات پرې کېږي او که له دې راتېر شو؛ نو ځينې متعصبين، چې غواړي دا موضوع ستره وښيي، ويلي يې دي، چې دا ګوته خورا ګرانبيه وه، حال دا، حضرت علي ګرانبيه ګوتې نه په ګوته کولې.
ځواب: کومه خبره، چې ده وکړه، چې په غونډو کې مخالف کسان هم بايد وي، چې البته دا چار ټولو غونډو ته ګټور چار دی. ددې ځواب زه بايد ور نه کړم؛ زه همدومره اقرار کوم، چې ګټور چار دی.
د عصمت مانا څه ده؟ يو وخت انسان داسې فکر کوي، چې عصمت يعنې داچې خدای ځينې ځانګړي وګړي ځاري او همداچې د ګناه کولو هوډ ونيسي؛ نو بې ځنډه يې مخه نيول کېږي؛ نو څرګنده ده، چې عصمت په دې مانا نه دی او که وي هم؛ نو چا ته کمال شمېرل کېدای نشي. که څوک تل يو ماشوم و ځاري او يو کار ته يې هم پرې نه ږدي او تل يې مخنيوی وشي؛ نو دا ماشوم ته کمال نه ګڼل کېږي؛ خو دلته يو بل مطلب دی، چې له قرآنه استنباطېږي او هغه داچې قرآن د حضرت يوسف عليه السلام په هکله، چې زليخا ترې غوښتنه لري، وايي:
((وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ وَهَمَّ بِهَا لَوْلا أَن رَّأَى بُرْهَانَ رَبِّهِ كَذَلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوءَ وَالْفَحْشَاء إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِينَ(يوسف/٢٤): او په حقيقت کې ښځه د يوسف پر لور ورمخکې شوه او که (يوسف هم) دخپل پالونکي څرګند دليل نه وای ليدلي (؛ نو) د هغې پر لور به ورمخکې شوی وای! دغسې (مو وکړل) چې له هغه بدي او بې حيايي (زنا او خيانت) لرې کړو؛ (ځکه) چې هغه زموږ له مخلصو او غوره کړای شويو بندګانو و.))
يعنې هغه يو بشر او يو ځوان و او غريزه يې درلوده. هغه ښځه يوسف ته ورنږدې شوه؛ خو حضرت يوسف ورنږدې نه شو او که حضرت يوسف عليه السلام شهود نه وای کړی؛ نو هغه به هم ورغلی و او داچې حضرت يوسف ايمان درلود او ايمان يې د شهود تر بريده کامل ايمان و او ددې کار په بدۍ او تاوان پوهېده؛ نو هماغه ايمان، چې خدای حضرت يوسف ته ورکړی و؛ نو له دې کاره يې ژغورنکی لامل شو.
په موږ کې هم هر وګړی، بې له دې، چې کوم ځواک مو مخه نيولې وي، د هغه ايمان له امله، چې د هغه ګناه پر خطر يې لرو له ځينو تېروتنو او ګناهونو معصوم يو. د ساري په ډول: له څو

پوړیزه تعمیره ځان راګوزارول او په اور کې ځان سیځل ګناه ده، چې موږ دا ګناه هېڅکله نه کوو؛ ځکه ګناه او تاوان یې راته جوت او انځور شوی دی. پوهېږي د برېښنا لوڅ تار په لاس کې نیول له مرګ سره مساوي دی او یوازې هغه مهال دا کار کړای شو، چې له خطره یې سترګې پټې کړو؛ خو یو ماشوم اور ته لاس وروړي، ولې؟؛ ځکه ددې ګناه خطر څومره، چې موږ ته څرګند دی، ماشوم ته څرګند نه دی. د یو عادل انسان چې تقوا عادت شوې وي؛ نو ځکه ډېرې ګناهونه اصلاً نه کوي او د تقوا همدا عادت ورته د عصمت دا برید ټاکي؛ نو پردې بنسټ، له ګناه عصمت، د هغه ګناه د ګناهتوب او د خطر په خطرتوب د ایمان په درجې پورې اړه لري. موږ ګناهونه تعبداً منلي دي، چې ګناه ده؛ یعنې وایو: داچې اسلام ویلي شراب مه څښئ؛ نو نه یې څښو، جواري مه کوئ؛ نو نه یې کوو. څه نا څه هم پوهېږو، چې دا چارې بدې دي؛ خو هاغسې ددې ګناه راته خطر انځور شوی نه دی؛ لکه څوک چې ددې ګناه خطر هومره وګڼي؛ لکه په اور کې، چې ځان اچوي. که موږ هومره، چې پر هغه خطر ایمان لرو، ددې ګناه پر خطر هم ایمان ولرو؛ نو موږ به له دې ګناهونو معصوم وای؛ نو له ګناه عصمت؛ یعنې د ایمان د کمال روستی برید. هغه چې وایي: [((لو کشف الغطاء ما ازددت یقیناً: که پرده هم راولوېږي؛ نو پر یقین به مې څه اضافه نشي)) وګ: سفینة البحار ۷۳٤/۲] له حضرت علي څرګنده ده، چې له ګناه معصوم دی؛ هغه له پردې، له دې خوا هم، د پردې هاخوا انځور ویني؛ یعنې د بېلګې په توګه هغه حسوي، چې په یوه کنځل یې په واقع کې یو شمېرم ځان ته جوړ کړی دی؛ نو ځکه دا کار نه کوي او په دې کې هېڅ شک نشته قرآن هم د ایمان ددې درجې خبره یاده کړې ده.

نو عصمت نسبي دی؛ یعنې پوړونه او درجې لري. معصومین د هغو څیزونو پر وړاندې معصوم دي او هېڅکله ګناه نه کوي، چې موږ ته ګناه ده او کله پرې ککړېږي او کله ترې ځان ژغورو؛ خو هغوی هم مراتب او مراحل لري او ټول یو شان نه دي؛ په ځینو مراحلو او درجو کې هغوی زموږ په شان دي او لکه څنګه چې موږ د ځینو ګناهونو پر وړاندې معصوم نه یو؛ هغوی یې په هغو مراحلو او مراتبو کې عصمت نه لري. له هغو څیزونو معصوم دي، چې موږ یې ګناه شمېرو؛ خو هغه څیزونه ورته ګناه ده، چې موږ ته حسنه ده؛ ځکه موږ هغه پوړ ته نه یو رسېدلي، د بېلګې په توګه: د پینځم ټولګي یو زده کوونکی که د شپږم ټولګي د ریاضي پوښتنه حل کړي؛ نو دا ورته فضیلت دی او که همدا سوال د نهم ټولګي یو زده کوونکی حل کړي؛ نو دا کار یې ارزښت نه لري. کوم څیزونه، چې موږ ته حسنات دي؛ هغوی ته ګناه دي. دادی چې وینو قرآن سره له دې، چې انبیاوو ته د عصیان تړاو ورکوي: ((وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ (طه/۱۲۱): (هو) آدم د خپل پالونکي سرغړاوی وکړ)) یا پیغمبراکرم ته وایي: ((لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ

مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ(فتح/۲): چې خدای ستا له هغو تېرو او راتلونکېو ګناهونو تېر شي چې په تا پورې يې تړل))
دا ټول ښيي، چې عصمت نسبي چار دی؛ هغه پخپل برید کې او موږ پخپل برید کې؛ نو د عصمت منځپانګه د ایمان د کمال په درجې پورې اړه لري. انسان د ایمان په هره درجه کې، چې وي د هغې موضوع په تړاو، چې د کمال هومره ایمان پرې لري؛ یعنې ((ولو لا ان رای برهان ربه)) په پړاو کې وي؛ نو قهراً ددې موضوع پر وړاندې عصمت لري؛ نه داچې معصوم هم زموږ په څېر دی، چې په ګناه پسې ځي؛ خو د خدای له لوري یو مامور راځي او مخه يې نیسي او که داسې وي؛ نو زما او د حضرت علي ترمنځ به هېڅ توپیر نه وي؛ ځکه زه هم د ګناه پر لور ځم او هغه هم؛ خو هغه ته خدای یو مامور ګومارلی، چې د ګناه کولو مخه يې ونیسي؛ خو زما د مخنیوي لپاره يې څوک نه دی ګومارلی. که بهرنی مامور د انسان د ګناه کولو مخنیوی وکړي؛ نو دا خو څه هنر نه دی؛ لکه یو سړی، چې غلا کوي او زه يې نه کوم او زه ځکه غلا نه کوم، چې تل یو څارونکی راسره دی؛ نو په دې ښه کې زه هم د هغه غله په څېر یم؛ په دې توپیر، چې مخه يې څارونکی نه ده نیولې او زه هغه غل یم، چې څارونکي مې مخه نیولې ده، چې دا کوم هنر نه دی.
په عصمت کې اصلي خبره، له ګناه د عصمت خبره ده او له تېروتنې عصمت بله خبره ده، چې پخپله دوه ډوله ده: یوه د احکامو په تبلیغ کې د تېروتنې خبره ده، چې ووایو: پیغمبر موږ ته احکام ویلي؛ خو کېدای شي تېروتی وي، کېدای شي خدای ورته یو ډول وحې کړې وي او هغه په تېر کې بل شان راته ویلې وي؛ لکه څنګه چې موږ تېروځو؛ موږ ته وایي: ولاړ شه او دا پیغام ورسوه او بیا موږ همدا پیغام بل شان رسوو؛ یعنې اصلاً د پیغمبراکرم پر خبره ځکه ډاډ نه وي، چې کېدای شي تېروتی وي؛ نو څرګنده ده، چې دا خبره غلطه ده.
دلته مهندس کتیرایي په بېړه قضاوت وکړ او پر امیرالمؤمنین يې ستر تېری وکړ، تاسې څرنګه په بېړه قضاوت وکړ، چې که پر ځای يې وای؛ نو عبدالله بن عباس به مو نه ټاکه او. . .؟ په دا ډول تاریخي مسایلو کې ظني قضاوتونه پروا نه لري. انسان د یو چا په هکله قضاوت کوي، چې فکر کوم که پلانې پینځه سوه کاله پخوا داسې کړي ول؛ نو ښه به ول. یو څوک وواییي: قطعاً؟ وایي: زه داسې فکر کوم، چې دا پروا نه لري؛ خو په دې ډول مسایلو کې نه یوازې د امیرالمؤمنین په اړه؛ بلکې د بل هر چا په اړه داسې قضاوت کول سم چار نه دی. هغه د پېښو او مسایلو په بهیر کې و او عبدالله بن عباس او نور یاران يې تر موږ ښه پېژندل او بیا موږ داسې قضاوت کوو، چې حضرت علي د عبدالله بن عباس پر ځای بل څوک ټاکلی وای؛ نو دا دنده به يې ښه ترسره کړې وه، چې دا په دې ډول مسایلو کې په قضاوت کې بېړه کول دي. پردې

سربېره تاسې پخپلو ويناوو کې تل ويلي، چې علي کرم الله وجهه ځانګړی سياست درلود او نه يې غوښتل او نه ښايي، چې لږ هم ترې پر شا شوی وای او په دې سياست کې يې ملګري نه درلودل؛ پخپله يې هم تل ويل، چې وګړي نه لرم؛ همدا عبدالله بن عباس او نورو تل علي کرم الله وجهه ته سپارښتنه کوله، چې لږ نرم او راکوز شه؛ يعنې هماغه څه چې نن ورته سياست ويل کېږي. راشئ او راته يې جوته کړئ، چې امام علي بسيا کادر درلود او د هغه کادر په درلودو سره هم تېرووت؛ زه خو نشم جوتولی، چې بسيا کادر يې درلود. زه همدومره پوهېږم، همداچې پيغمبراکرم د خلافت لپاره وټاکه او خلافت ترې واخستل شو او د حضرت عثمان (رض) تر وژل کېدو روسته، چې د خلافت د چارو د سمبالولو لپاره ورپسې راغلل؛ نو شا ته شو او و يې ويل: ((حالات خراب شوي او څه چار کړای نشو؛ يعنې زه وګړي نه لرم او وګړي مې له لاسه ورکړي دي او زه هغه وګړي نه لرم، چې د ټولنې د حالاتو سمونه پرې وکړم. همدارزا وايي: زما غاړه خلاصه ده، زه د تاريخ پر وړاندې پړ نه يم او تاريخ له ما دا خبرې نه مني، وايي: علي فرصت له لاسه ورکړ او سره له دې، چې دا فرصت ماته فرصت نه دی؛ خو ځکه يې منم، چې بيا تاريخ و نه وايي، چې ښه فرصت يې له لاسه ورکړ؛ نو امام علي پخپله مدعي دی، چې کافي وګړي يې نه درلودل او اوس مې د خلافت وخت نه دی.
که د هر چا په اړه ځوک شک وکړي؛ خو د امام علي په اړه ان تاريخ هم شک نشي کړای، چې هغه تر نورو ځان خلافت ته وړ ګڼه. اهلسنت هم دا مني، چې حضرت علي تر حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) ځان خلافت ته وړ ګانه؛ نو سره له دې، چې ځان يې له دوو لومړيو خلفاوو وړ ګانه؛ نو د حضرت عثمان (رض) تر وژل کېدو روسته، چې د خلافت وړانديز ورته کېږي؛ نو څرنګه پر شا ځي او وايي: که تردې روسته هم درته سلاکار ووسم؛ نو تر اميرۍ به راته غوره و؛ نو کسان يې نه درلودل، داچې ولې يې کسان نه درلودل، دا بېل بحث دی.
د ((و يوتون زکاة و هم راکعون)) مسئله. لومړی مو وويل: ((په ګوته کې زکات نشته)) اصلاً په ټوليزه توګه د خير کار کولو ته زکات ويل کېږي. دا اصطلاحي زکات، چې نن کارول کېږي، د فقهاوو په عرف کې د فرض زکات لپاره عَلَم (بيرغ) شوی؛ ګنې په قرآن کې داسې نه ده، چې په هر ځای کې: ((يقيمون الصلوة و يوتون الزکوة)) وي؛ مراد ترې همدا فرض زکات دی.
زکات؛ يعنې د مال پاکول او ان د روح او نفس پاکول. په ټوليزه توګه قرآن مالي انفاق او لګښت ته د مال زکات يا د روح زکات او يا د نفس زکات وايي او د "صدقه" ټکی هم همداسې دی. نن صدقه ځانګړی مفهوم لري. قرآن د خير هر کار ته صدقه وايي. د بېلګې په توګه که روغتون

جوړ کړئ او يا کتاب وليکئ، چې خير يې ټولو خلکو ته ورسي؛ نو دا چار د قرآن له نظره صدقه ده (صدقه جاريه)؛ نو هغو اهلسنتو، چې هم له دې آيته پر اخستل شوي مفهوم نيوکه وکړي؛ په دې ټکي يې نيوکه نه ده کړې، چې په گوته کې زکات نشته؛ ځکه هغوی په عربي ادبياتو پوهېږي او پوهېږي، چې زکات يوازې په فرض زکات پورې ځانگړی نه دی.

خو داچې ويلې يې په رکوع کې داسې وشول؟دا نيوکه پخوانيو؛ لکه "فخررازي" کړې، چې امام علي تل په لمانځه کې داسې بېخوده و، چې شاوخوا ته يې پام نه و؛ نو څنگه واست، چې په لمانځه کې يې داسې وکړل؟ ځواب: داچې امام علي په لمانځه کې بېخوده کېده يو حقيقت دی؛ خو داسې هم نه ده، چې د ټولو الهي اولياوو حالات تل يو شان وي؛ پخپله د پېغمبراکرم لپاره هم دوه حالته ويل شوي دي: کله به په لمانځه کې ورته داسې حالت راپېښ شو، چې بېخي د اذان تر پای ته رسيدو يې طاقت نشوکړای او حضرت بلال (رض) ته يې ويل، چې ژر اذان وکړه، چې لمونځ پيل کړو. کله به هم په لمانځه کې پر سجده و او لمسي يې امام حسن او امام حسين راتلل او سپرېدل به پرې او پېغمبراکرم به تر هغه خپله سجده غځوله، چې لمسي به ترې کوز شول. همداراز پېغمبر اکرم لمونځ کاوه او يو چا يې مخې ته لياړې واچولې، پېغمبراکرم يو گام ورمخکې شو او پر پښه يې پر توکانو خاورې واچولې، چې له دې مسئلې فقهاوو د لمانځه په هکله احکام استخراج کړي دي. سيد بحرالعلوم وايي:

و مشى خير الخلق بابن طاب يفتح منه اكثر اكثر الابواب

يعنې: داچې پېغمبراکرم په لمانځه کې دوه گامه مخکې ولاړ، هغه کار يې وکړ او راستون شو؛ نو دا چار ډېرې مسايل هواروي، چې په لمانځه تر کومه خارجي عمل جايز دی او ډېر نور مسايل؛ نو بېلابېل حالات ول.

بل مطلب، عرفاني دی، چې دادی: هغوی چې په عرفاني ترنمونو خبرې کوي، گروهن دي که انجذاب ډېر کامل شو، په هغه حالت کې راستنېدل دي؛ يعنې سره له دې، چې له خدای سره بوخت دی، له ماوراء سره هم بوخت دی. هغوی داسې وايي او زه هم دا خبره منم؛ خو په دې غونډه کې کېدای شي، ډېر د منلو وړ نه وي، چې مور يې ووايو؛ لکه د بدن د خلع مسئله. څوک چې نوي دې پړاو ته رسي، د يوې شېبې، دوو شېبو او يا يو ساعت لپاره بدن خلع کوي. ځينې وگړي په هر حال کې د بدن د خلع په حالت کې دي (البته زه پرې گروهن يم او ليدلي مې هم دي) د بېلگې په توگه: همدا اوس له مور او تاسې سره ناست دي او د بدن د خلع په حالت کې دي. ښايي په هغه حالت کې، چې په لمانځه کې له پښې يې غشی وباسي او پام يې نشي، تر هغه حالته نيمگړی وي، چې د لمانځه پر حال بېوزليو ته پام وکړي؛ نه داچې

دا مهال له خدایه غافل شي او ببوزله ته پام وکړي؛ بلکې خدای ته یې توجه دومره کامله ده، چې په هغه حالت کې ټوله نړۍ ویني؛ نو پردې قرآینو نشو کړای، چې دا چارې رد کړو.

## امامت د امامانو له نظره

بحث مو د امامت د ټولیزو مسئلو په هکله روستی بحث دی. تردې روسته ټول بحثونه به مو نقلي اړخ ولري؛ لکه هغه احادیث چې د حضرت علي په هکله له پیغمبراکرمه رانقل شوي یا تر ځان روسته د نورو امامانو په اړه د حضرت علي نقلونه او یا د امامانو په اړه د رسول اکرم نقلونه یا داچې هر امام تر ځان روسته امام څرنگه وټاکه.
اوس د امامانو د خبرو پر استناد بحث کوم او د کافي د "کتاب الحجه" یوه برخه لولم.
تل مې ویلي، چې په شیعه وو کې د امامت مسئله بې له هغې مسئلې ده، چې په اهلسنتو کې مطرح ده او بې د حکومت له مسئلې ده، چې زموږ په وخت کې مطرح ده. د امامت مسئله د نبوت په څېر ده؛ خو نه په دې مانا، چې تر هر نبوته ټیټ وي؛ بلکې مقصد ترې دادی، چې نبوت ته ورته یو چار دی، چې سترو انبیاوو هم درلود؛ یعنې نبوت یې له امامت سره یو ځای درلود؛ نو داسې یو معنوي چار دی. په ټولیزه توگه په دې چارو کې د امامانو د خبرې ډډه د انسان مسئله ده. موږ لومړی باید د انسان په اړه پخپلو انگېرنو کې بیا کتنه وکړو، چې مطلب روښانه شي.

## انسان څرنگه موجود دی؟

داچې انسان څرنگه موجود دی؛ په دې اړه دوه ډوله نظرونه دي: یو داچې انسان هم د نورو موجوداتو په څېر سل په سلو کې ـ په اصطلاح ـ خاورین موجود دی؛ یعنې مادي دی؛ خو هغه مادي موجود، چې د مادي تحولات په بهیر کې یې هغه حداکثر تکامل موندلی، چې یوه ماده یې موندلای شي. په بوټو، څارویو او انسانانو کې ژوند د تکاملونو یوه وړانگه ده، چې په تدریج یې پخپل بهیر کې لاس ته راوړی دی؛ یعنې بې له مادي عناصرو یو بل عنصر ددې موجود په وجود کې لاسوهنه نه لري. (ځکه "عنصر" وایو، چې بل تعبیر ورته نه لرو) هر کمال چې په دې موجود کې دی، له همدې مادي ختې یې سرچینه اخلي؛ نو په دې حساب لومړني انسانان او هغه انسانان، چې په پیل کې پیدا شول، تر ټولو کوز انسانان به ول او څومره، چې انسان مخکې راغلی، د تکامل درجه یې لوړه شوې ده؛ که لومړنی انسان د پخوانیو د تصور په بڼه وانگېرو، چې نېغ په نېغه له خاورې پیدا شوی یا په هغه بڼه، چې نن ځینو ښاغلیو رامخې ته کړی ـ او پخپله یوه فرضیه ده او د فرضیې له نظره مخونه ورکړای شوـ، چې انسان له نورو

پرېوتو موجوداتو ټاکل شوی او له ټيټې طبقې يې تحول موندلی او جرړه يې په خاوره کې ده؛ نه داچې لومړنی انسان نېغ په نېغه له خاورې پيدا شوی دی.

## لومړنی انسان، په قرآن کې

د اسلامي او قرآني؛ بلکې د ټولو مذاهبو د گروهې له نظره لومړنی انسان هغه موجود دی، چې تر ځان روسته تر ډېرو انسانانو ان له نننی انسانو خورا متکامل و؛ يعنې له هماغه پيله، چې دې انسان نړۍ ته پښه کېښوه، د خليفة الله او په بله وينا يو پېغمبر و او دا د دين په منطق کې پاموړ ټکی دی، چې لومړنی انسان، چې په نړۍ کې رامنځ ته شو، د خدای د حجت او د پېغمبر په بڼه رامنځ ته شو، حال دا ښايي د عادي تکاملي بهير له مخې بايد انسان راشي او د پرمختگ هسکو څوکو ته تر رسېدو روسته، يو يې د نبوت او پېغمبرۍ مقام ته ورسي؛ نه داچې لومړنی انسان پخپله پېغمبر وي.
قرآن لومړني انسان ته ستر مقام ورکړی دی:
((وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلاَئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُواْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاء وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لاَ تَعْلَمُونَ. وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلاَئِكَةِ فَقَالَ أَنبِئُونِي بِأَسْمَاء هَـؤُلاء إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (بقره/۳۰-۳۱): (هغه وخت درياد کړه) چې ستا پالونکي پرښتو ته وويل: ((زه پر ځمکه ځايناستی، خليفه (استازی) ټاکم.)) (پرښتو) وويل: ((پالونکيه!) ايا ته داسې څوك ټاکې چې فساد او وينه تويه کړي؟ (؛ ځکه له آدم نه مخکې ځمکني موجودات پرفساد او وينه تويدنه ککړ وو، که ددغه انسان له پيدايښته موخه عبادت وي)؛ نو موږ (خو) ستا ستاينه کوو او تا پر سپېڅلتوب ستايو.)) خدای وويل: ((زه، چې پرڅه پوهېږم تاسې پرې نه پوهېږئ.)) او (خدای) آدم ته د اسماوو علم [: د پيدايښت د رازونو پوهه او د موجوداتو نومونه ]وښود، بيايې پرښتو ته وړاندې کړ او و يې ويل: ((که رښتيني ياست؛ نو ددې (شيانو) نومونه وښيئ))
لنډه دا: لومړي انسان پرښتې حيرانې کړې، چې راز او رمز پکې دی؟ د لومړني انسان په اړه د[((وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي(حجر/۲۹): او له خپل (ښکلي اوستر) روح نه مې په هغه کې پوکړ))] آيت
دا ښيي، چې ددې موجود په وجود کې بې له مادي عناصرو يو عِلوي عنصر هم شته، چې په ((له روح نه مې په کې پوکړ)) تعبير شوی دی؛ يعنې له "من عنداللهی" يو ځانگړی څيز پکې

شته. پردې سربېره، ولې د "خليفة الله" تعبير لري: إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً؛ ځان ته مې خليفه.
نو په قرآن کې انسان ته دومره په درنه سترگه کتل شوي دي، چې لومړی انسان، چې نړۍ ته راځي، د خدای حجت، پېغمبر او د غيبو له نړۍ سره په اړيکه کې راځي. زموږ د امامانو د وينا ډډه د انسان همدا اصالت دی، په دې مانا، چې هغه لومړی انسان چې ځمکې ته راغلی، له هغه سنخ او ډول و او روستی انسان هم به له همدې ډوله وي او هېڅکله د انسانيت نړۍ له هغه موجوده تشه نه ده، چې «إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً» وي.
(اصلاً د خبرې چورليد همدا مسئله ده) نور انسانان ددې انسان پر وجود فرع دي او که داسې انسان نه وي؛ نو نور انسانان به هم نه وي. داسې انسان د خدای پر حجت تعبيرېږي: ((اللهم بلی لاتخلو الارض من قائم لله بحجة)) دا جمله يې په نهج البلاغه او ډېرو نورو کتابونو کې هم رانقل کړې ده. ما دا خبره له مرحوم بروجرودي اورېدلې؛ خو ياد مې نه دي، چې په بل ځای کې مې ليدلې که نه؛ يعنې ورپسې نه وم؛ هغه به ويل: دا هغه خبره ده، چې حضرت علي کرم الله وجهه په بصره کې کړې وه او شيعه او سني متواتر رانقل کړې ده. حضرت کميل وايي: يوه ورځ حضرت علي له لاسه ونيوم او له ځان سره يې له ښاره بهر بوتلم، چې د "جبان" سيمې ته ورسېدو؛ همداچې له ښاره ووتو او چوپتيا شوه؛ حضرت اوږده ساه واخسته او سوړ اوسېلی يې وکړ او بيا يې وويل: کميله! د آدم د اولادې زړونه د لوښو په څېر دي او غوره لوښی هغه دی، چې غوره ساتل وکړي؛ يعنې سوری و نه لري، څه چې درته وايم، په ماغزو کې يې وساته.
لومړی هغه مشهور وېش يې راته ووايه: خلک درې ډلې دي: يوه ډله رباني عالمان دي (البته د حضرت علي په اصطلاح رباني عالم له هغه سره توپير لري، چې موږ په ست کې هر چا ته رباني عالم وايو؛ يعنې واقعاً هغه سل په سلو کې الهي او سوچه عالمان، چې کېدای شي دا تعبير يوازې پېغمبرانو او امامانو ته وي) دويمه ډله زده کوونکي دي؛ هغوی، چې له دې رباني عالمانو گټنه کوي (داچې هغه عالم ددې زده کوونکي پر وړاندې دی، مراد ترې هغه عالم دی، چې له کوم بشره زده کړه نه کوي) درېيمه ډله هغه خلک دي، چې د علم له رڼا يې څه وړانگه نه وي اخستې او په مضبوطه اډانه يې ډډه نه وي. بيا يې د خپل وخت له خلکو گيله وکړه، و يې ويل: زه خورا پوهه لرم؛ خو وړ يې نه مومم. و يې ويل: داسې خلک شته، چې هوښيار دي؛ خو هغه هوښياران، چې هر څه زده کوي، پخپله گټه يې کاروي، غواړي دين د خپلې دنيا په گټه وکاروي؛ نو مجبور يم، چې له دې خلکو گوښه شم. بله ډله ښه خلک دي؛ خو احمق دي؛ نه پوهېږي؛ خو که پوه شو؛ نو سرچپه پوهېږي، تردې ځايه د حضرت علي خبرې نهيلې کوونکي دي؛ ځکه شايي څوک نه پيدا کېږي؛ خو لاندې يې وايي: هو! ځمکه

کله هم له حجته تشه نه وي؛ که په خلکو کې ښکاره او مکتوم (پټ) وي شته؛ خو خلک يې نهويني او له سترګو پټ دی او په هماغو حجتونو خدای په خلکو کې خپل دلایل خوندي ساتي او هغوی هم پر څه چې پوهېږي، دا تخم پخپلو زړونو (چې دوی هم د خپل ځان په څېر دي) کې کري؛ داسې نه ده، چې بې له کرلو ولاړ شي؛ يعنې داسې نه ده، چې څه لرم، بې ويلو يې پرېږدم او ولاړ شم. بیا د هغو خلکو په هکله، چې له یوې ملکوتي مبداء ګټنه کوي، داسې وايي: پوهه پرې يرغل کوي؛ نه داچې دوی پر پوهه يرغل وکړي (مراد يې دادی، چې پوهه يې افاضي ده) او کوم علم، چې پرې يرغل کوي؛ په حقيقي مانا بصيرت او ليد ورکوي؛ يعنې په هغه پوهه کې غلطي، نيمګړتيا او تېروتنه نشته، له بلې نړۍ سره يې اړيکه ښښلېدلې ده او څه چې بډايانو او هوسايانو ته سخت وي؛ دوی ته اسان وي. د بېلګې په توګه: هوسايانو او بډايانو ته، له خدای سره يوه ساعت خلوت سخت چار وي او تر هر چاره ورته سخت وي؛ خو هغوی له دې چار سره مله وي؛ له خلکو سره پخپلو بدنونو مرسته کوي؛ خو په هماغه وخت کې روح يې له "اعلی ځای" سره په ښښلون کې وي؛ يعنې بدن يې له خلکو سره دی؛ خو روح يې دلته نه وي؛ کوم خلک، چې له دوی سره محشور دي؛ هغوی د ځان په څېر ګڼي او د ځان او هغوی ترمنځ پر هېڅ توپير قايل نه وي؛ خو نه پوهېږي، باطن يې له بل سره په تړاو کې دی.

په هر حال داسې يو منطق شته او "کافي" هم د "باب الحجة" په نامه يو باب خلاص کړی دی، وايي: که په دنيا کې دوه تنه هم پاتې شي؛ نو يو به يې داسې يو انسان وي؛ لکه چې کله لومړی انسان پيدا شو، چې دغسې يو انسان و. داچې ددې منطق له روح سره مو ښه اشنا کړم؛ د کافي د الحجة کتاب مې راوړی، چې په دې اړه څه مطالب يې درته ووايم او و يې ژباړم. نور مسايل ـ لکه داچې امام بايد وي، چې پر خلکو پر عدالت واکمني وکړي يا په ديني چارو کې د خلکو د اختلاف مرجع وي ـ ټول له دې اصله راولاړ شوي؛ نه داچې امام ددې لپاره وټاکي، چې پر خلکو واکمني وکړي. خو خبره تردې چارو اوچته ده او دا يې په اصطلاح استجراري؛ يعنې تبعي ګڼې دي. له هر حديثه يوه جمله درته وايم، چې له دې منطق سره اشنا شئ.

## د امام صادق روایت

د انبياوو او رسولانو په اړه يو روايت دی، چې يو زنديق امام صادق وپوښت: په کوم دليل انبياء او رسولان اثباتوې؟ امام په خپل ځواب کې د توحيد پر مسئلې ډډه ووهله، و يې ويل:

لنډه داچې د انبیاوو او رسولانو د اثبات جرړه، له صفاتو او چارو سره یې د خدای اثبات دی، چې کله پوه شو، چې خالق او صانع لرو، چې تر موږ حکیم او متعالي دی؛ یعنې موږ نشو کړای، پر هغو حواسو او مدارکو، چې لرو ورسره په اړیکه کې شو او یا یې لمس کړو یا ورسره محاجه او سوال و ځواب وکړو، داچې موږ اړمن یو، چې هغه راته لارښوونه وکړي؛ ځکه هغه چې یوازې حکیم دی؛ زموږ له واقعي ګټو او مصالحو خبر دی؛ نوځکه یو موجود، چې دوه اړخه لري: له یوه اړخه له خدای سره په اړیکه کې دی؛ یعنې کړای شي له هغه وحې او تلقي وکړي او بلخوا نور موږ کړای شو، ورسره په اړیکه کې شو او دداسې کسانو شتون لازم او واجب دی.
بیا یې ددې خلکو په اړه وویل: دوی باید پخپله حکیمان وي او په حکمت تادیب شوي وي، په حکمت مبعوث شوي وي؛ یعنې بلنه یې حکمت ته بلنه وي، سره له دې، چې په خلقت کې له خلکو سره شریک دي، په ځینو اړخونو کې باید ورسره شریک نه وي، یو اضافه اړخ او اضافه روح پکې وي او د هغه له اړخه موید وي او په هر وخت کې او ځای کې داسې لازمې وزلې ولري.
وګ: کافي ۲۳۶/۱ د "الحجة" کتاب.

## زید بن علي او امامت

زید بن علي بن الحسین د امام باقر ورور او خورا صالح انسان و. زموږ امامانو او لارویانو یې ستایلی دی. په دې اړخ کې یې اختلاف دی، چې زید ځان لپاره د خلافت مدعي، و که نه یوازې "پر نېکیو امر او له بدیو منع" یې کوله او خلافت یې امام باقر ته غوښته؛ خو دا څرګنده ده، چې زموږ امامانو ستایلی او شهید یې ورته ویلی دی. د کافي په کتاب کې راغلي، چې زید له دنیا شهید ولاړ؛ خو خبره په دې کې ده، چې آیا هغه پخپله مشتبه و که نه؟ لاندې روایت به جوته کړي، چې هغه پخپله مشتبه و؛ نو اوس دا بېله خبره ده، څرنګه شونې ده، چې داسې سړی مشتبه وي.
د امام باقر یو ملګری ابوجعفر احول نومېده. وایي: زید بن علي، چې کله پټ و؛ نو په ما پسې یې څوک راولېږه، راته یې وویل: که په موږ کې څوک پاڅون وکړي؛ نو چمتو یې، مرسته وکړې؟ ورته مې وویل: که ورور او پلار دې یې ومني؛ نو مرستې ته چمتو یم او که و یې نه مني؛ نو نه! و یې ویل: زه پخپله یم او له ورور سره مې کار نه لرم؛ آیا چمتو یې چې ملاتړ مې

شي که نه؟ ورته مې وويل: نه! و يې ويل: څرنګه؟ آيا ځان دې راڅخه نه بلهاروې (ځان تر ما جيګ ګڼې)؟
ورته مې وويل: زه يو ځان لرم او ته خو هم څه ادعا نه لرې، چې د خدای حجت يې. که د خدای حجت بې له تا وي؛ نو څوک چې درسره پاڅون وکړي؛ نو ژوند يې توي تللی؛ بلکې هلاک شوی دی او که د ځمکې پر مخ حجت نه و؛ نو که پاڅون درسره وکړم که و يې نه کړم؛ نو دواړه يو شان دي.
هغه پوهېده چې د زيد مطلب څه و. ددې روايت له مخې وايي: نن د ځمکې پر مخ حجت شته او هغه حجت ستا ورور دی او ته نه يې. د زيد د خبرې لنډيز دادی، چې ته څنګه په دې مطلب پوه شوې او زه، چې مې د خپل پلار زوی يم؛ پوه نشوم او پلار مې راته و نه ويل؟ آيا پر پلار مې ګران نه وم؟ پر خدای، چې پر پلار مې دومره ګران وم، چې په ماشومتوب کې يې تل په څنګ کې کېنولم او خواړه به يې راته پخپله سړول او ولې يې دا مطلب راته و نه وايه، چې ته پرې پوه شوی يې؟ ابو جعفر حول ورته وويل: ددې لپاره يې درته و نه ويل، چې د دوزخ په اور کې و نه سوځې او داچې پرې ګران وې؛ نوځکه يې درته و نه وايه؛ ځکه پوهېده که درته يې ووايي؛ نو ته به مخالف کوې او بيا به دوزخي کېدې او ځکه يې درته و نه ويل، چې ستا د روح له سرغړاندی خبر و، غوښتل يې په ناپوهی کې پاتې شې، چې د عناد حالت و نه لرې؛ خو دا مطلب يې ځکه ما ته ووايه، چې که و يې منم؛ نو خلاصی به ومومم.
بيا وايي، ورته مې وويل: تاسې اوچت ياست که انبياء؟ځواب يې راکړ: انبياء. ورته مې وويل: حضرت يعقوب عليه السلام ، چې د خدای پېغمبر دی او حضرت يوسف عليه السلام هم چې د خدای پېغمبر او د حضرت يعقوب عليه السلام ځايناستی دی؛ نو ورته وايي: خوب دې ورونو ته مه وايه. آيا دا يې له ورونو سره د دښمنی له امله ول يا د دوستی له امله؛ ځکه هغه ورونه پېژندل، چې که پوه شي، يوسف عليه السلام داسې مقام ته رسي؛ نو له همدا اوسه به ورسره دښمني پيل کړي. له تا سره دې د ورور او پلار کيسه، له يوسف عليه السلام سره د يعقوب عليه السلام او ورونو کيسه يې ده.
دلته چې راورسېد؛ نو ځواب يې ور نه کړای شو او په ټوليزه توګه يې پر زيد لار وتړله. بيا زيد ورته وويل: اوس، چې ته دا خبره کوې؛ نو زه هم دا خبره درته کوم: صاحب دې (صاحب؛ يعنې ورور مې امام باقر) په مدينه کې راته وويل: ته به په کوفه کې غرغره او ووژل شې او راته يې وويل په هغه کتاب کې، چې راسره دی، ستا وژل کېدل او غرغره کېدل پکې شته. [1]

[1] وګ: هماغه سرچينه: ٢٤٤ او ٢٤٥ مخونه.

دلته زيد، ابوجعفر ته وايي؛ څکه يودمي منطق بدلېږي او دويم نظر تاييدوي؛ نو لومړی يې، چې هغه خبرې ابوجعفر ته کولې؛ نو ځان يې نانگاره کړ، بيا يې چې وليدل، ابوجعفر دومره په امامت پوهېږي؛ نو له ځان سره يې وويل، زه هم له دې مطلبه غافل نه يم، مه تېروځه زه هم پوهېږم او اعتراف کوم او د جملې په پای کې وايي: زه په لوی لاس او د زورور په حکم مې څم. تردې، چې ابوجعفر وايي: يو کال مکې ته ولاړم او هلته مې دا کيسه امام جعفر صادق ته وکړه او امام هم زما نظريات تاييد کړل.

## د امام صادق دوه نور حديثونه

۱-((ځمکه هېڅکله بې امامه نه وي.)) [۱]
۲- ((که پر ځمکه دوه تنه پاتې شي؛ يو به يې د ځمکې پر سر حجت وي.)) [۲]
د امام رضا روايت:
په دې اړه موږ ډېر روايتونه لرو. يو اوږد روايت دی، چې عبدالعزيز بن مسلم ته وايي: موږ په هغه سفر کې له امام رضا سره وو، چې د ولايتعهدۍ په بهير کې خراسان ته تللی و، په"مرو" کې د جمعې پر ورځ په جامع جومات کې وو؛ خلک راغونډ شوي ول او د امامت د مسئلې خبره رامنځ ته شوې وه، زه امام رضا ته ورغلم او خبرې مې ترې رانقل کړې. امام په ملنډيزې موسکا وويل، چې دوی څه پوهېږي؟اصلاً خبر نه دي، چې اصلي خبره څه ده. بيا يې وويل: دوی ناپوه دي او پخپلو گروهې کې تېروتي دي. خدای تر هغه خپل پيغمبر له دې دنيا يو نه ووړ، څو دين يې پشپړ کړ، قرآن يې راولېږه، چې پکې له حلالو تر حرامو، حدود او ټول احکام او هغه څه چې ددين لار ورته اړتيا لري شته او بيا يې وويل: ((مَّا فَرَّطْنَا فِي الكِتَابِ مِن شَيْءٍ (انعام/۳۸): موږ په کتاب کې هېڅ شی ندی پرېښی)؛ يعنې هر څه مو ويلي دي (لږ تر لږه د حلالو او حرامو او د خلکو ديني دندې دي او پيغمبر اکرم د عمر په روستيو کې په حجة الوداع کې دا آيت ولوست: ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا)) او د امامت چار د دين له بشپړونکيو چارو دی ولم يمض حتی بين لامته معالم دينهم

---

[۱] وگ: هماغه سرچينه: ۲۵۱ مخ
[۲] وگ: هماغه سرچينه: ۲۵۳ مخ.

او پیغمبراکرم تر هغه له دې دنیا ولاړ، څو دین یې خلکو ته وښود او لار یې ورروښانه کړه و اقام لهم عليا علما.
لنډه دا قرآن په ډاګه وایي، چې موږ څه نه دي پرېښي؛ خو آیا جزییات یې هم نه دي پرېښي که نه یوازې کلیات، اصول او هغه څېزونه یې ویلي، چې خلک ورته اړتیا لري؟ یو یې دادی، چې قرآن تر پیغمبر روسته یو تن معرفي کړي، چې څه چې د قرآن په تفسیر، د ماناوو په توضیح او د کلیاتو په تشریح کې دي نه د اجتهاد او رای له مخې، چې ځینې یې سم او ځینې یې تېروتنه وي[؛ بلکې په الهي علم پوهېږي] او هغه د هغه ترڅنګ د اسلام حقیقت دی؛ نو داچې وایي موږ هر څه ویلي؛ یعنې نور څه نه دي پاتې؛ یعنې کلیات مو ویلي، جزییات مو هم ویلي او له یوه تن سره مو ایښي، چې پوه شي. تل یو تن په اسلام پوهېږي او په خلکو کې وي او که څوک ووایي، چې خدای دین نه دی پوره کړی؛ نو د قرآن پر ضد خبره یې کړې ده او څوک چې د خدای کتاب رد کړي؛ کافر دی. هغوی چې وایي امامت انتخابي دی، آیا اصلاً پوهېږي، چې امامت؛ یعنې څه؟ دوی انګېرلي، چې د امام ټاکل هم لښکر ته د قومندان ټاکلو په څېر دی، حال دا امام؛ یعنې هغه څوک چې د قرآن د وینا له مخې په انتصاب یې دین کامل شو او همداراز پوهېږو، چې د چارو جزییات په قرآن کې نشته او د اسلام حقیقت له هغه سره دی. آیا پوهېدای شي، چې داسې وګړی څوک دی، چې پخپله یې وټاکي؟داسې به وي؛ لکه چې وایي، موږ پیغمبر په خپله ټاکو. امامت د خلکو د فکر تر کچې لوړ دی، چې انتخابي وي. یوه مسئله باید وویل شي: هغه انتخاب، چې تشخیص یې پر خلکو وي. دین هېڅکله په هغه چارو کې نېغ په نېغ لاسوهنه نه کوي، چې تشخیص یې پر خلکو وي او له بېخه په داسې چارو کې د اسلام لاسوهنه ناسمه ده؛ ځکه که داسې وي؛ نو د خلکو فکر او عقل د څه لپاره دی؟تر هغه چې د بشر د عقل او فکر سیمه وي؛ بشر دې په خپله ټاکنه وکړي؛ خو هله چې خبره د بشر له فکر او خیاله ووته؛ نو بیا یې د ټاکنې ځای نه وي. [امامت] "اجل قدراً، اعظم شاناً، اعلی مکاناً، امنع جانباً او ابعد غوراً" دی له دې، چې خلک وکړای شي، په خپل عقل امام درک کړي او په خپله رای ورورسي او داسې وګړي په خپله ټاکنه وټاکي؛ که غواړئ د امامت په واقعي مانا پوه شئ [نو پوه شئ]، چې امامت بې له دې چارو دی، چې زموږ د وخت خلک یې وایي، چې یو خلیفه به پیغمبر ته وټاکو او د پیغمبر ځایناستی دې یوازې د خلکو چارې سمبالوي. امامت هغه مقام دی، چې حضرت ابراهیم علیه السلام تر نبوت روسته ورورسېد او پر هغه حال خوشحالېږي او وایي: خدایه زما ځوځات هم دې مقام ته ورسوې، حال دا پوهېږي، دا چار یې ټول ځوځات ته ناشونی دی. ځواب ورکول کېږي: ((لا ینال عهدی الظالمین)) او دا هغه چار دی، چې ظالمانو ته نه ورکول کېږي (چې و مې ویل، چې

ویلي يې دي، چې دلته مراد څه دی؟ آیا ظالم؛ یعنې داچې اوس ظالم دی، که پخوا ښه و؟ وايي: دا ناشونې ده، چې ابراهیم ووايي: خدایه! [امامت] زما د ځوځات ظالمانو ته هم ورکړه؛ نو ښايي امامت يې د ځوځات ښو ته غوښته. ځواب ورکړ شو: [امامت] ستا د ځوځات هغو ښو ته ورکول کېږي، چې د ظلم مخینه و نه لري دا چار په دغسې منتخبانو کې دی؛ د حضرت ابراهیم د ځوځات په غوره کړای شویو او صفوه وو کې دی (صفوه هغه څیز ته ویل کېږي؛ لکه کوچ چې له شړومبو اخستل کېږي. بیا خدای ستر مقام ورکړ، چې امامت يې د هغه د ځوځات په صفوه وو او سپېڅلیو کې کېښود. بیا امام د قرآن پر آیتونو استدلال کوي: ((وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً وَكُلًّا جَعَلْنَا صَالِحِينَ. وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ (انبیاء/۷۲-۷۳): او ابراهیم ته موږ پراسحاق سربېره یعقوب (هم) ور وباښه، چې دا ټول مو نېکان کړل. او موږ هغوی لارښوونکي کړل، چې زموږ په امر يې (خلکوته) لار ښوونه کوله او موږ ورته د ښو چارو د کولو او لمونځ درولو او زکات ورکولو وحې وکړه او یوازې زموږ لمانځونکي وو.))
په قرآن کریم کې په دې چار خورا ډډه شوې، چې د حضرت ابراهیم ځوځات د امامت حامل او (وړونکی) دی.
بیا وايي: داسې مقام دا ناپوهان څنګه ټاکي، چې حضرت ابراهیم ورته تر نبوت روسته وررسېد؟ آیا شونې ده، چې دا مقام انتخابي وي. امامت یو وراثتي چار دی؛ په دې مانا چې استعداد يې له هر نسله بل نسل ته لېږدول کېږي؛ نه قانوني وراثت. امامت خلافة الله دی؛ هماغه چې لومړي آدم درلود او خلافة الرسول دی. بیا وايي: امامت د ددین مشري، د مسلمانانو نظام، د دنیا سمونه، د مؤمنینو عزت او د اسلام جرړه ده. . . . . . . . . . . [1]

[1] کافي ۲۸۶/۱-۲۸۳ مخونه. (د الحجة کتاب)

## پایله

په ټول کې یو منطق ته رسو او که ویې منو؛ نو یو بنسټ لري او که فرضاً څوک یې رد کړي؛ نو دا بله خبره ده. دا منطق بې له دې مسایلو ډېر رغی دی، چې د ډېری متکلمینو په څېر ووایو: تر پیغمبراکرم روسته حضرت ابوبکر (رض) خلیفه شو او حضرت علي کرم الله وجهه څلورم خلیفه شو.

آیا علي کرم الله وجهه باید لومړی خلیفه وي که څلورم؟ آیا حضرت ابوبکر (رض) د امامت شرایط درلودل که نه؟ او د مسلمانانو د واکمنۍ په مانا د امامت په شرایطو پسې ولاړ شو؛ البته دا یو بنسټیز مطلب دی او شیعه وو د واکمن د شرایطو له نظره هم پرې پر ځای نیوکې لري؛ خو اصولاً په دې نامه د امامت مسئله مطرحول سم نه دي، چې آیا حضرت ابوبکر (رض) د امامت شرایط درلودل که نه. اصلاً په خپله اهلسنت هم پر داسې مقام اعتراف نه کوي. د اهلسنتو د گروهې لنډیز دادی: څه چې خدای له حضرت آدم علیه السلام او حضرت ابراهیم علیه السلام او. . . پیغمبراکرم پورې د انسان د ماوراء الطبیعي اړخ په اړه ویلي، تر هغه روسته نور پای ته رسېدلي. تر پیغمبراکرم روسته نور ټول بشر عادي بشر دی؛ یوازې علماء دي، چې د علم په لاس ته راوړو عالمان شوي، کله تېروځي او کله هم نه تېروځي او ځینې واکمنان دي، چې ځینې عادل او ځینې فاسق دي. مسئله په دې بریدونو کې ده. بل هغه باب، چې موږ د الهي حجتونو په نامه لرو، هغوی چې له طبیعت هاخوا سره اړیکه لري [نو اهلسنت پرې گروهن نه دي] او د پیغمبراکرم په مړینه دا دسترخوان ټول شوی دی.

شیعه ځواب ورکوي: تر پیغمبر اکرم روسته د رسالت مسئله او داچې یو بل بشر به راشي او یو بل قانون به راوړي، پای ته رسېدلی.

پر ځمکه لومړی انسان داسې و او روستی هم باید داسې وي، هېڅکله په بشر کې پای ته نه ده رسېدلې. په اهلسنتو کې یوازې صوفیان دا مسئله په نورو نومونو لري او د اهلسنتو صوفیان سره له دې، چې صوفیان دي، د امامت مسئله یې په ځینو مسئلو کې هاغسې منلې؛ لکه څنگه یې چې شیعه منې. محیی الدین عربي، اندلسي و او ددې سیمې خلک نه یوازې اهلسنت دي؛ بلکې له شیعه وو سره کینه هم لري؛ علت یې دادی، چې اندلس امویانو فتح کړی و او کلونه کلونه پرې د امویانو واکمني وه او امویان د اهلبیتو دښمنان ول؛ نو د اهلسنتو په علماوو کې ناصبي اندلسي علماء دي او کېدای شي په اندلس کې شیعه نه وي او که وي هم؛ نو خورا لږ به وي. محیی الدین اندلسي د عرفاني ذوق له مخې گروهن دی، چې ځمکه هېڅکله له حجت او ولي تشه نه پاتې کېږي، د شیعه وو نظر یې منلی او د امامانو نومونه اخلي، چې امام مهدي

ته رارسي او مدعي کېږي، چې ما پر ۶۰۰ س کال په پلاني ځای کې امام مهدي ليدلی دی. البته ځينې خبرې يې، چې کړې، ددې خبرې ضد دي او اصلاً متعصب سني دی؛ خو داچې د عرفاني لېوالتيا غوښتنه يې ده، چې ځمکه هېڅکله له حجت او ولي تشه نه وي؛ نو دا مسئله يې منلې او ان د امام د ليدو مدعي هم دی.

**پوښتنه:**
لکه چې څنګه مو ووېل اهلسنت او شيعه د خلافت او ولايت په مسئله کې اختلاف لري او په خواشينۍ هغه شيعه، چې د امامت له مسئلې خبر نه دي، نيوکه کوي دا څنګه ده، چې د ولايت ټکی په قرآن کې شته؛ خو د خلافت ټکی په قرآن کې نشته او خلافت بې له ولايته دی؛ نو زه په لټه کې وم، چې وګورم ((مولا)) يې په خليفه هم مانا کړی که نه؟ په المنجد کې مې وليدل، چې د "مولا" يوه مانا يې "خليف" کښلې؛ نو په دې بڼه يې دا نيوکه ځوابېږي؛ خو داچې "خليف"يې ورته کښلی؛ غواړم پوه شم، چې "خليف" سم دی که "خليفه"؛ البته په قرآن کې "خليفه" راغلی دی.

**ځواب:**
داسې نه ده. په قرآن کې خليفه په دې مانا نه لرو؛ خو په هغو احاديثو کې خليفه خورا ډېری دی، چې شيعه وو رانقل کړي دي. دومره مهم ټکی نه دی، چې د خليفه پر ټکي بحث وکړ.
استاد: خليفة الله يوه مسئله ده او د پېغمبر اکرم خليفه بله مسئله ده. خليفه؛ يعنې ځايناستی. نه ښايي دومره ټينګار وکړو، چې آيا دا ټکی د پېغمبراکرم په اړه په قرآن يا سنتو کې راغلی که نه، ددې مطلب په مانا کې خبره ده. مانا يې راغلې ده؛ که ټکی يې راغلی وي او که نه وي راغلی.
خو داچې و مو ويل: د "مولا" د ټکي مانا "خليف" دی؛ نو دا يې مانا نه ده. فکر کوم غلط مو ووايه؛ هلته "خليف" نه دی او "حليف" دی. حليف؛ يعنې "همقسم"؛ ځکه د "مولا" يوه مانا مرستندوی دی او عرب به کله يو له بل سره همقسمېدل؛ ټېرونه به همقسمېدل، چې خُلفاء يې ورته ويل، يا دوه تنه به همقسمه شول او يو د بل مرستندويانېدل؛ نو د مولا ټکی که د "حليف" په مانا راغلی وي؛ نو بيا هم د مرستندوی مانا ورکوي.

ځیني پوښتي: ولې په قرآن مجید کې د پیغمبر اکرم د "وصي"؛ حضرت علي کرم الله وجهه نوم راغلی نه دی او همدا راز د "مشرتوب" موضوع نوموتې نه ده؟
موږ د مسئالې د ړناوی لپاره لومړی مشرتوب یا امامت مانا کوو:
په عربي کې ((امام)) مشر ته وایي او یوه بشري ټولنه هم بې مشره پاتې کېدای نشي؛ نو ځکه په دې باب بحث-وبینه وشي، چې څوک د بشري ټولنو مشران ټاکي؟
خدای تعالی یا د بشري ټولنې وګړي؟!
په دې اړه خدای پاک وایي:
((وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ(بقره/١٢٤): او (درياد کړئ) چې کله خدای ابراهیم په ډول ډول وسایلو وازمېیه او هغه هم له دې ازمېښتونو ښه راووت (؛ نو) خدای ورته وویل: ((په واقع کې زه دې د خلکو امام او مشر ټاکم.)) [ابراهیم] عرض وکړ: ((او له ځوځاته مې هم (مشران او امامان وټاکه.))) [خدای] ورته وویل: ((ظالمانو ته مې وعده نه رسي (او یوازې ستا د اولادې سپېڅلي ددې مقام وړ دي)))
نو ددې آیت له مخې خدای خلکو ته مشر ټاکلی دی، چې باید سپېنلمنی وي. دا مشر کله د شریعت خاوند استازي دي؛ لکه حضرت نوح، ابراهیم، موسی، عیسی او محمد علیهم السلام او کله یې ((وصیان)) وي؛ لکه "سام" د نوح زوی، "يَسَع" د حضرت موسی وصي او تر دوی مخکې "هبة الله" یا "شیث" د حضرت آدم وصي و، چې په قرآن کې د ځینو نومونه راغلي او د ځینو نه؛ نو ځکه په قرآن مجید کې د ((وصي)) د نوم نه یادول یې ((نه وصي توب)) نه رانبیي. څه چې لازم په نظر راځي، دا دي، چې هر پیغمبر تر ځان روسته، وصي خپلو لارویانو ته ورښیي. د اسلام د دین په اړه هم په ښرګنده په قرآن کریم او نبوي سنتو کې د "خاتم النبیین" وصي ښوول شوی دی.
په دې لیکنه کې موږ صحیح روایات کاروو. په اهل سنتو کې صحیح روایات هغه دي، چې د حدیث د راویانو شمېرئ سره ښېتې وي او د رسول اکرم یوه صحابي ته ورسي؛ خو په شیعه و کې صحیح روایت هغه دی، پردې سربېره، چې د حدیث د راویانو د شمېرئ وینا سمه او دوی یو له بل سره ښېتي وي، روایت یوازې یو څوارلس ګوني سپېنلمني ته ورسي. په دې اړه وګورئ: اسدالغابه، تهذیب التهذیب، الاصابة او میزان الاعتدال.

# قرآن او سنت يو د بل مکمل دي

قرآن مجيد د ټولو عقيدوي آرونو، احکامو او د اسلامي علومو سرچينه ده.
په قرآن مجيد کې د ټولو ګروهيز آرونو، احکامو، معارفو او اسلامي علومو جرړه ده، چې تشرح، تفسير او عملي کول يې د خاتم النبيين په وينا او چلن کې راښوول کېږي؛ نو له همدې امله، خدای د خپل استازي لاروي، د خدای لاروي بللي ده.
((يَسْأَلُونَكَ عَنِ الأَنفَالِ قُلِ الأَنفَالُ لِلّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُواْ اللّهَ وَأَصْلِحُواْ ذَاتَ بِيْنِكُمْ وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ (انفال/۱): له تا د انفال [: غنيمتونه او هر ډول مال، چې ځرګنداو ټاکلی خاوند نه لري] په باب پوښتي (ورته) ووايه: ((انفال يوازې د خدای او د هغه د استازي دي؛ نو (د خدای د فرمان له مخالفته) ووېرېږئ او خپلمنځي اړيکې سمې کړئ او د خدای او د هغه د استازي اطاعت وکړئ، که مؤمنان ياست.))
((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ (انفال/۲۰): مؤمنانو! د خدای او د هغه د استازي اطاعت وکړئ او غاړه ترې مه غړوئ، حال دا، (خبرې يې) اورئ.))
قُلْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ فإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ الْكَافِرِينَ (آل عمران/۳۲): ورته ووايه: ((د خدای اواستازي (يې) اطاعت وکړئ او که غاړه مو کېښوه؛ نو خدای کافران نه خوښوي.))
((وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (آل عمران/۱۳۲): او د خدای او استازی (يې) لاروي وکړئ، چې رحم درباندې وشي.))
((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً (نساء/۵۹): مؤمنانو! له خدای استازي او اولوالامر ځنې مو اطاعت وکړئ او که ستاسې ترمنځ په کومه [ديني] چار کې شخړه پېښه شي (؛ نو د منځګړتوب لپاره د) خدای [کتاب] او د رسول [سنتو] ته مخه کړئ که (په رښتيا) پرخدای او د اخرت پر ورځې ايمان لرئ. دا (کار) غوره او ښه پايله لري.))
((وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَاحْذَرُواْ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُواْ أَنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلاَغُ الْمُبِينُ (المائده/۹۲): او د خدای او پيغمبر اطاعت وکړئ او (د هغه د فرمان له مخالفته) ډډه وکړئ؛ نو که مخ مو واړاوه (؛ نو د جزا وړ به شئ او) پوه شئ، چې زموږ پر پيغمبر د ځرګندې پيغام رسونې مسووليت دی (او دا دنده يې تاسې ته تر سره کړه).))

((إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ (محمد/٣٣): مؤمنانو! د خدای اطاعت وکړئ او (د خدای) د استازي اطاعت وکړئ او (په گناهونو) خپلې کړنې مه پوپنا کوئ.))
((وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ (التغابن١٢): او د خدای اطاعت وکړئ او د استازي يې اطاعت وکړئ؛ نو که مخ واړوئ؛ نو زموږ پراستازي يوازې د څرګند (پيغام) د رسونې مسؤوليت دی.))
((قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّوا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُم مَّا حُمِّلْتُمْ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ (النور/٥٤): ووايه: ((دخدای اطاعت وکړئ او د استازي اطاعت وکړئ؛ خو که شا کړئ؛ نو پېغمبر د خپلو کړنو مسؤول دی او تاسې د خپلو کړنو؛ خو که اطاعت يې وکړئ؛ نو سمه لار به ومومئ او (د خدای) پر استازي بې له څرګند پيغام رسونې نور څه (مسؤوليت) نشته.))
((وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (النور/٥٦): او لمونځونه ودروئ او زکات ورکړئ او د (خدای د) استازي اطاعت وکړئ، ښايي لورنه در باندې وشي.))
((مَّن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَن تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا(النساء/٨٠): چا چې د پېغمبر اطاعت وکړ؛ نو په حقيقت کې د خدای اطاعت يې کړی دی او چاچې ترې مخ واړاوه؛ نو ته موږ ورته (د همېشه) ساتونکي(په توګه) نه يې لېږلی (او پر وړاندې يې مسوول نه يې)))
خدای، له خاتم النبيين څخه سرغړونه، له خپلو لاربنوونو سرغړونه ګڼلې ده:
((إِلَّا بَلَاغًا مِّنَ اللَّهِ وَرِسَالَاتِهِ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا (جن/٢٣): [زما دنده] يوازې د خدای له لوري د پېغام رسونه ده او څوك چې د خدای او د هغه د استازي حکم ته غاړه کېنږدي؛ نو په واقع کې هغه ته د دوزخ اور دی، چې تل به پکې اوسېږي!))
((فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ (شعراء/٢١٦): نوکه هغوی له تا سروغړوي؛ نو ورته ووايه: ((په حقيقت کې څه چې کوئ، په اړه يې ژمن نه يم))
همدا راز خدای او استازي يې، چې کوم احکام وضع کړي، پر وړاندې يې د مؤمنانو واک سلب کړای شوی دی.
((وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا (احزاب/٣٦): او چې کله خدای او د هغه استازی د يو کار(د ترسره کولو) پرېکړه وکړي؛ نو هېڅ مؤمن او مومنه حق نه لري، چې د خپل هماغه کار په باب (د خدای د حکم پرخلاف) اختيار ولري او څوك چې د خدای او د هغه له استازي سرغړونه وکړي؛ نو په يقين، چې په څرګنده بې لارې شوی دی.))

خدای، خاتم النبیین په وینا او چلن کې یې، پر خلکو خپل حجت کړی دی او دا یې د امت مشر ټاکلی، چې ورپسې ولاړ شي:
((مَّا أَفَاء اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاء مِنكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ(حشر/۷آیت): څه چې خدای ددغو کلیو له اوسېدونکیو خپل استازي ته را اړوي؛ نو هغه د خدای او د(هغه) د استازي او خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو او پردیسانو لپاره دي، چې (دا ډېره شتمني) ستاسې د بډایانو ترمنځ لاس په لاس نشي او څه چې درته د (خدای) استازي راوړي دي؛ نو وا یې خلئ (او عمل پرې وکړئ) او چې له څه مو منع کوي؛ نو ډډه ترې وکړئ او د خدای له (مخالفته) ځان وساتئ، چې خدای سخت عذابی دی.))
((وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى. عِندَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى (نجم/۱۳و۱٤): او په یقین، هغه یې په بل ځل راکښوتو کې ولید، له سدرة المنتهی (کوزنۍ ډېرې برکتي ونې) سره.))
((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً (احزاب/۲۱): په یقین، چې د خدای د استازي په ژوند کې ستاسې هغو خلکو ته غوره بېلگه ده، چې خدای او د آخرت ورځې ته هېلمن وي او خدای ډېر یادوي.))

## د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم اټکل

دلته پېغمبر اکرم د هغو کسانو په اړه خبرې کوي، چې په راتلونکي کې به ووایي، چې موږ ته یوازې د قرآن په اړه وایه او له بېخه د پېغمبر اکرم حدیث ته پام نه وراړوي:
۱- د ترمذي، ابن ماجه او دارمي په ((سننو)) او د امام حنبل په ((مُسنَد)) کې راغلي دي: ((له مِقدام بن معدی کَرِب)) [1] روایت شوی، چې رسول اکرم ویلي: ((په دې پوه شئ، چې پر ما قرآن نازل شوی او ورسره په څېر یې سنت دي. با خبر! لرې نه ده، چې یو سړی- چې په گېډه

---

[1]. مقدام بن معدي کرب کندي، د ((کنده)) له استازیو سره رسول اکرم ته راغلل. مقدام له رسول اکرم نه یې (٤٧) حدیثونه روایت کړي، چې بې له ((امام مسلم)) څخه د صحاحو او سننو لیکوالو احادیث ترې روایت کړي دي. نوموړی پر ۸۷س په شام کې په ۹۱ کلنۍ کې ومړ.
وگورئ: ((اسدالغابه)) څلورم ټوک: (٤١مخ.((جوامع السیرة)) ۲۸۰مخ ((تقریب التهذیب)) دویم ټوک: ۲۷۲مخ.

موړ شوی او بې غمه يې پر خپل ځای دډه وهلې- ووايي: يوازې قرآن وموئ، چې څه مو پکې حلال وليدل، حلال يې وګڼئ او چې څه مو پکې حرام وموندل، حرام او ناروا يې وبولئ.))
د ترمذي په ((سننو)) کې دا حديث دغسې دوام مومي: ((حال دا بيشکه، څه چې رسول اکرم حرام کړي دي؛ لکه چې خدای حرام کړي دي))
او د ابن ماجه په ((سننو)) کې د پورته وينا په روستيو کې راغلي دي: ((د خدای د حرامو په څېر دي))
د امام احمد حنبل په ((مُسند)) کې له "مقدام بن معدی کرب" روايت شوی: ((رسول اکرم د خيبر په غزا کې څه څيزونه حرام کړل، روسته يې وويل: لرې نه ده، چې له تاسې ځينې زما د مقام په درواغ ګڼلو پسې راپاڅي، سره له دې، چې بې غمه به يې پر خپل بالښت دډه وهلې وي، زما حديث به ورته ووايي او هغه به وايي: زموږ او ستاسې تر منځ د خدای کتاب شته، چې څه مو پکې حلال وموندل، روا به يې ګڼو او چې څه مو پکې حرام وليدل، حرام به يې وګڼو. باخبر، چې څه د خدای رسول حرام کړي؛ لکه چې خدای حرام دي))
۲- د ترمذی، ابن ماجه، ابوداوود په ((سننو)) او د احمد په ((مسند)) کې ((عبيدالله بن ابي رافع)) [1] له خپل پلاره روايت کوي، چې رسول اکرم وويل: باخبر! يو مو هم و نه وينم، چې بې غمه مو دډه وهلې وي، يو چا ته هغه څه چې ما يې د کولو لارښوونه کړې وي يا مې منع کړې وي، ور وړاندې کړي او هغه ووايي: نه پوهېږم! چې څه د خدای په کتاب کې ووينم، عملي کوم يې!!))
د پورته حديث روستۍ غونډله د احمد په ((مسند)) کې داسې راغلې: ((ما خو دا د خدای په کتاب کې ليدلې نه ده!!))

---

[1]. عبيدالله د ((ابو رافع)) [د رسول اکرم ازاد کړای شوی] زوی دی.
عبيدالله د حضرت علی کرم الله وجهه د ديوان ليکوال هم و، هغه د دريېمې پېړۍ د حديث پوهانو له ډاډمنو شمېرل کېږي او حديث پوهانو ترې احاديث راخستي دي. وګورئ: ((تقريب التهذيب)) لومړی ټوک ۵۳۲مخ ۱٤٤۱۰ ګڼه.

۳- د ابوداوود په سننو [کتاب خراج، باب: تعشیر اهل ذمه] کې له ((عیرباض بن ساریه)) [۱]
روایت دی، چې و یې ویل ((موږ له پیغمبر اکرم سره خیبر ته ولاړو، حال دا څو تنه اصحاب ورسره ملګري ول. د خیبریانو مشر، چې ډېر غوسناک ښکارېده، رامخې ته شو او په سپین سترګۍ یې رسول اکرم ته وویل: محمده!دا سمه ده، چې څاروي مو ووژنئ، مېوې مو وخورئ او ښځې مو وځوروئ؟!

د خدای استازی له دې موضوع سخت خپه شو، حضرت ((عبدالرحمن بن عوف)) ته یې وویل: پر اس دې سپور شه او په خلکو کې غږ کړه، چې جنت یوازې مؤمنانو ته روا دی او وواېه، چې خلک لمانځه ته راټول شي.

"عیرباض" وایي: خلک راټول شول او رسول اکرم تر لمانځه روسته وویل: ځینې مو (چې بې غمه پر خپلو بالښتونو ډډه وهلې ده) ګڼلې، چې د خدای حرام یوازې په قرآن کې دي؟! باخبر، چې ما درته نصیحت وکړ او د ځینو چارو د کولو او د ځینو د نه کولو حکم مې کړی، چې دا ټول د قرآن په منزله دي یا ترې ډېر [اهمیت لري او لازم الاجرا دي] خدای دا درته حلال کړي نه دي، چې کتابیانو خپله ژمنه پوره کړې وي؛ خو تاسې یې بې اجازې کورونو ته ننوځئ یا یې ښځې وځوروئ یا یې مېوې وخورئ))

د امام حنبل په ((مسند)) کې له حضرت ((ابوهریره)) [۲] روایت دی، چې رسول اکرم وویل: ((یو مو هم ونه وینم، چې کله زما حدیث او خبره ورته وشي، بې غمه یې ډډه وهلې وي او وواېي: په دې اړه له قرآنه راته وواېه!!))

۵- د دارمي د ((سننو)) په سریزه کې له ((حسان بن ثابت انصاري)) [۳] روایت شوی، چې و یې وویل: ((لکه څنګه چې جبرئیل، قرآن پر رسول اکرم نازلاوه، سنت یې هم پرې نازلول))

---

[۱]. ابونجیح، عیرباض بن ساریه سلمي، له رسول اکرم څخه (۳۱) احادیث روایت کړي او بې له ((بخاري او مسلم)) نورو ټولو ترې روایتونه راوړي دي. عیر باض پر ۷۵س ومړ. وګورئ: ((اسدالغابه)) دریم ټوک ۳۹۹مخ، ((جوامع السیره)) ۲۸۱مخ، ((تقریب التهذیب)) دویم ټوک: ۱۷مخ.

[۲]. حضرت ابوهریره قحطاني دَوسي، کنیه یې ابوهریره و او په دې لقب څکه و نومول شو، چې یوه اموخته پیشو یې درلوده او یا داچې کله رسول اکرم ته ولاړ، اموخته کړې پیشو یې په خپل لستوڼي کې پټه کړې وه او آنحضرت ورته ((ابوهریره)) وویل. نوموړی د خیبر په غزا کې رسول اکرم ته راغی او اسلام یې ومانه او ۵۳۷۴احادیث یې ترې روایت کړي دي او عمومي حدیث پوهانو ترې روایتونه اخستي دي. وګورئ: ((اسد الغابه)) ۵ټ: ۳۱۵مخ ((جوامع السیره)) ۲۷۵مخ، عبدالله بن سبا: ټوک۱۶مخ.

[۳]. ابوعبدالرحمن یا ابوالولید، حسان بن ثابت انصاري خزرجي د رسول اکرم شاعر و، چې په جومات کې به یې د پیغمبر ځانګړنې ستایلې او داسې دعا یې ورته وکړه: ((خدای تعالی، حسان تر هغه وخته، چې له خپل

دا د قرآني آيتونو او نبوي احاديثو بېلګې وې، چې مسلمينو ته امر کوي، چې په رسول اکرم او سنتو پسې يې ولاړ شئ او د هغه له مخالفته يې منع کوي او هغوی سنتوته ورشا کوي، چې پر قرآن د منګولو لګولو په پلمه، سنت لتاړي او څه پام ورته نه اړوي.
پردې سربېره، اصلاً موږ اسلام يوازې د قرآن د آيتونو له ترخ او بې د نبوي سنتو له مراجعې زده کولای نشو. دوه لاندې مثالونه دا حقيقت ښه څرګندوي:
په قرآن کې امر او ټينګار شوی، چې لمونځ وکړو؛ خو داچې دا چار څرنګه او تر کومو شرايطو لاندې تر سره شي، بې له نبوي سنتو له مراجعې نه څرګندېږي. احاديثو او د رسول اکرم سيرت ته په مراجعې د رکعتونو او سجدو پر شمېر، اذکار، قوانين او د لمانځه پر باطلونکيو پوهېدای شو. حج همداسې دی. نبوي سنتو ته په مراجعې د احرام، نيت، د ميقاتونو پېژندنه، د طواف طريقه، په عرفات کې تمېدل او حرکت، مشعر او منی، د شيطان ايشتل، قرباني، حلق او تقصير او په خپل وخت او ځای ددې هرې يوې دندې کول، فرايض، مستحبات، مکروهات او حرام يې زده کولای شو.
همدا دوه بيلګې راښيي، چې بې له نبوي سنتو له مراجعې او يوازې قرآن ته په مراجعې، دا دوه فرض شرعي دندې تر سره کېدای نشي؛ البته د اسلام ټول شرعي احکام همداسې دي.
نو ځکه پر موږ لازم دي، چې د اسلام د زده کړې لپاره او له دې جملې، پر احکامو او الهي لارښوونو د پوهېدو لپاره په يوه ځای قرآن او نبوي سنتو ته مراجعه وکړو او يو له بله يې پېل کړو؛ نو بيشکه داسې يې ګڼلې، چې ځان د اسلام له چوکاټه وباسي او قوانين په خپلې خوښې تفسير کړي؛ نو ځکه د نبوي سنتو (چې د قرآن د پوهېدو کونجي او تفسير دی) په ګوښه کېدو به قرآن په اسانی په خپله خوښه او سليقې تاويل کړي.

## پېغمبراکرم تر ځان روسته، د ځايناستی موضوع ته پام درلود

تر پېغمبراکرم روسته د مشرتوب مسئاله د اسلام يوه خورا مهمه مسئاله وه او اهميت او حساسيت يې پخپله له رسول اکرم او صحابو يې پټ نه و؛ بلکې د بعثت او بلنې له پيله ډېر

---

پېغمبره دفاع کوي، په سپېڅلي روح تاييدوي)) حسان د خپلې زمانې ډارن و، چې له امله يې د پېغمبر په يوې غزا کې هم ګډون و نه کړ. يوازې يو حديث يې روايت کړی، چې هغه هم يوازې((ترمذی)) راخستی دی. نوموړی پر ٤٠يا ٥٠يا٥٤س په ١٢٠کلنی کې ومړ. وګورئ: اسدالغابه: دويم ټوک ٥-٧مخونه: ((جوامع السيرة)) ٣٠٨مخ ((تقريب التهذيب)) ټوک ١٦١مخ

وګړي د مشرۍ په فکر او هيله کې ول او نقشې يې ورته کاږلې. له دې امله وينو، چې د "بني صعصعه" له ټبره "بُحيره" د خپل ټبر اسلام منلو شرط دا و، چې تر پیغمبر اکرم روسته مشري د ده او ټبر يې وي او همدا راز "هوذه حنفي" د خپل اسلام راوړو په بدل کې، تر پیغمبراکرم روسته په واکمنۍ کې حق وغوښت.

رسول اکرم د بعثت له پيله-البته د وحې په ښوونه-تر ځان روسته د مشرۍ مسئالې ته پام درلود. په ټبره چې پر لومړۍ ورځ يې له خپلو لارويانو د اسلامي ټولنې د جوړښت لپاره بيعت اخسته؛ نو دې مهم چار ته يې پوره پاملرنه درلوده. دا مسئاله بخاري او مسلم په ((صحيح)) کې، نسايي او ابن ماجه په ((سننو)) کې، امام مالک په ((المُوَطا)) کې، امام احمد حنبل په ((مُسند)) کې او نورو په خپلو کتابونو کې راوړې ده.

موږ دلته د صحيح بخاري خبره راخلو: ((عباده بن صامت وويل: موږ له رسول اکرم سره پردې بنسټ بيعت کړی، چې په تنګسه او پراخۍ او غم و خپګان کې د آنحضرت لاروي وسو او د مشرۍ له وړ سره په شخړه لاس پورې نه کړو.)) [1]

"عباده بن صامت" د ((عقبه کبرى)) [2] د بيعت پر ورځ د انصارو له دولس ګونو نقيبانو و، چې آنحضرت پر هغه ورځ له څو اويا تنو وغوښتل، چې په خپلو کې دولس تنه ډاډمن غوره کړي او آنحضرت صلى الله عليه و آله وسلم ته يې معرفي کړي، چې هر يو په مدينه کې د خپلې ډلې مسووليت پر غاړه واخلي. رسول اکرم ټاکل شويو ته وويل: ((په ټولو چارو کې د خپلې ډلې مسووليت ستاسې پر غاړه دی او تاسې هماغه دنده لرئ، چې حواريونو عيسى بن مريم ته درلوده)) [3]

"عباده بن صامت" يو له دولس ګونو نقيبانو دی، چې څرګندوي، چې د عقبې پر ورځ له رسول اکرم سره د بيعت له مادو، يوه هم دا وه، چې تر رسول اکرم روسته د مشرتوب په اړه له وړ سره يې په شخړه لاس پورې نه کړو: ((ان لا تنازعوا الامر اهله)) په دې حديث کې له ((امر)) ويی-

---

[1]. صحيح بخاري، کتاب الاحکام. . . . د عباده بن صامت د حالاتو شرح راغلې ده په: يسيراعلام النبلاء دويم ټوک: ۳مخ.ابن عساکر، تهذيب ۷ټوک: ۲۰۷-۲۱۹مخونه.

[2]. هغه مهال، چې د يثرب څو تنه د رسول اکرم تر هجرت مخکې آنحضرت(ص) ته راغلل او ايمان يې راوړ، پيغمبر(ص) ورته دنده وسپارله، چې خپل ښار ته ستانه شي او د اسلام په تبليغ او د احکامو پر زده کړه لګيا شي. بل کال همدا ډله له څو اويا تنو نويو مؤمنان شويو سره په عقبه کبرى (جمراتو ته نژدې) کې له آنحضرت سره وکتل او بيعت يې ورسره وکړ.

[3]. طبري تاريخ، لومړی ټوک: ۱۱۲۱مخ، د اروپا چاپ.

کلمې د آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم مطلب هماغه مشرتوب او واکمني ده، چې د ((بني ساعده)) په څېرگي کې يې لاس ته راوړو ته په شخړه لگيا شول، سره له دې، چې خدای ددې واکمنۍ وړ وگړي داسې ستايي:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً(نساء/۵۹): مؤمنانو! له خدای، استازي او اولوالامر څنې مو اطاعت وکړئ او که ستاسې ترمنځ په کومه [ديني] چار کې شخړه پېښه شي (؛ نو د منځگړتوب لپاره د) خدای [کتاب] او د رسول [سنتو] ته مخه کړئ که (په رښتيا) پر خدای او د اخرت پر ورځې ايمان لرئ. دا (کار) غوره او ښه پايله لري.)) که څه رسول اکرم د ((عقبه کبری)) د ورځې د بيعت پر مهال تر څان روسته څايناستي څکه معرفي نه کړل، چې له انصارو څنې نه و، چې دا د حکمت غوښتنه وه؛ څکه د بيعت پر مهال د انصارو روحيه ددې موضوع منلو ته چمتو والی نه درلود؛ خو سره له دې رسول اکرم ترې ژمنه واخسته، روسته چې آنحضرت خپل څايناستی ټاکي، په شخړه ورسره لاس پورې نه کړي.

# د پیغمبراکرم د وصي ټاکنه

## لومړی: د بعثت پر درېیم کال

تاریخ او معتبر احادیث گواهي لي، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم تر ځان روسته مشر د هغې کوچنۍ غونډې پر لومړی ورځ، چې خپل نژدې خپلوان یې د اسلام منلو ته را بللي ول، په نښه کړ او وښود. دا موضوع حدیثپوهانو او د سیرت لیکوالو؛ لکه طبري، ابن عساکر، ابن اثیر، ابن کثیر، متقي هندي او نورو په خپلو کتابونو کې راوړې ده. طبري دا پېښه د حضرت علي کرم الله وجهه له خولې په خپل تاریخ کې دغسې راخستې ده: ((چې کله پر رسول اکرم د شعرا۲۱٤آیت[: وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ] نازل شو؛ نو آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وغوښتم او راته یې وویل: ((علي! خدای حکم راکړی، چې نژدې خپلوانو ته مې خبرداری ورکړم او له بېلاریتوبه یې وډاروم. دې ته مې پام دی، چې دا یو دروند چار دی؛ ځکه پوهېږم، چې څنگه مې په دې اړه په خبرو پیل وکړ، له ناوړو غبرگونو سره به یې مخ شم، چې دې چار ته غاړه نږدم؛ نو چوپ کېناستم، چې جبرئیل راباندې راکېوت او و یې ویل: محمده!که غاړه دې کېنښووه؛ نو خدای به دې په عذاب کړي. اوس نو د پسه له ورانه خواړه چمتو کړه او له شملو یوه کټوه هم او د عبدالمطلب اولاده راوبله، چې د خدای حکم ورته اعلان کړم.

حکم مې پر ځای کړ او د عبدالمطلب د اولادې څلوېښت تنه (یو زیات یا کم) مې راوبلل، چې پکې یې ترونه؛ لکه ابوطالب، حمزه، عباس او ابولهب ول.

مېلمانه، چې راغلل؛ نو پیغمبراکرم راته د خوړو راوړو امر وکړ، چې دا چار مې وکړ؛ نو لومړی آنحضرتصلی الله علیه و آله وسلم خوړو ته لاس وغځاوه او یوه ټوټه غوښه یې راواخسته او په خپلو غاښونو یې څو برخې کړه او په لوښي کې یې واچوله او بیا یې مېلمنو ته وویل: د خدای په نامه پر خوړو بوخت شئ او هر یو خپله برخه واخلئ. ټولو تر مړښته وخوړه، ان چې د گوتو د څوکو نښې یې د خوړو په لوښي کې کتل کېدې، پر هغه خدای قسم، چې د علي ساه یې په واک کې ده، چې دا ټول خواړه یوازې د یوه تن د مړښت لپاره بسیا وو. تر خوړو روسته رسول اکرم راته وویل، چې د شملو لوښی راوړه! ټولو ترې وڅښلې او خپله تنده یې پرې ماته کړه، پر خدای قسم، چې د کټوې شملې یوازې د یوه تن تندې ماتولو ته بس وې. په دې وخت کې رسول اکرم ځان خبرو ته جوړاوه؛ خو ابولهب پرېښود او رامخې ته شو او

ویې ویل: ملګري مو درباندې بدې کوډې کړي دي. په دې خبره، ټول مېلمانه پاڅېدل او ولاړل او پیغمبراکرم خبرې و نه کړې.

تر وتو روسته، رسول اکرم راته وویل: علي!دا سړی په خبرو کې را مخکې شو او لکه چې دې ولیدل، مخکې تردې چې خبرې ورسره وکړم خپاره شول. بیا څه چې دې چمتو کړي ول، چمتو یې کړه او سبا یې غرمې ته راوبله. دا چار مې وکړ، ټول د پیغمبر دسترخوان ته کېناستل او د پرون په څېر یې خوراک څښاک وکړ.

روسته رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم خبرې پیل کړې او ویې ویل: د عبدالمطلب اولادې!ما په عربو کې داسې ځوان لیدلی نه دی، څه چې ما درته راوړي، تردې یې غوره خپلو خپلوانو ته راوړي وي. ما درته د دنیا او آخرت خیر راوړی او خدای حکم راته کړی، چې دغې خیر ته مو راوبولم. اوس په تاسې کې کوم یو، ددې مهم چار په پر مخ وړو کې، زما لاسنیوی کوئ، چې هغه مې په تاسې کې ((ورور))، ((وصي)) او ((ځایناستی: خلیفه)) وي؟ یو هم دې وړاندیز ته "هو" و نه ویله او سرغړونه یې وکړه. زه چې په عمر کې تر ټولو کوچنی وم په ژړغونو سترګو او. . . . مې وویل: رسول الله!زه به دې په دې مهم چار کې ملاتړ او مرستندوی یم.

نو په دې وخت کې رسول اکرم زما پر غاړه لاس کېښود او رابللو ته یې وویل: ((ان هذا((اخی)) و ((وصیی)) و ((خلیفتی)) فیکم؛ فاسمعوا له و اطیعو؛ دا به په تاسې کې زما ((ورور))، زما ((وصي)) او زما ((خلیفه: ځایناستی)) وي، حکم ته یې غوږ ږدئ او اوامر یې منئ. رابلل شویو سخت خندل، راولاړ شول او له کوره د وتو پر مهال یې ابوطالب ته وویل: تا ته یې وویل، چې د زوی خبره به دې منې او ورپسې به ځې)) [1]

---

[1]. وګورئ: طبري تاریخ، د اروپا چاپ، لومړی ټوک؛ ن ۱۷۱-۱۷۲مخونه . ابن عساکر تاریخ، د محمد باقر شرح لومړی ټوک (د امام علي د حالاتو شرح) . ابن اثیر تاریخ، دویم ټوک ۲۲۲، مخ.ابن ابی الحدید معتزلي شافعي، نهج البلاغه دریم ټوک۲۶۳مخ.ابن کثیر تاریخ۳۹/۳.

(ابن کثیر د حضرت علي په اړه د پیغمبر اکرم(ص) خبره لرې کړې او پر ځای یې ((کذا و کذا)) کښلې ده) .متقي هندي، کنزالعمال، ۱۵/ ۱۱۶، ۱۱۵، ۱۰۰(او په ۱۳۰مخ کې یې راوړي دي: اخی و صحابی و ولیکم بعدي، ورور مې، دوست مې او تر ما وروسته ستاسې پالندوی) .سیره الحلبیه: لومړی ټوک: ۲۸۵مخ.امام احمد حنبل په خپل مسند کې په دې اړه دوه لنډ روایتونه راوړي دي.

## دويم: په تبوک غزا کې

په ((صحيح)) بخاري، مسلم، د طيالسی په ((مُسنَد))، د امام احمد حنبل په ((مُسنَد))، د((ترِمذي)) په ((سننو)) د ابن ماجه په ((سننو)) او په نورو حديثي سرچينو کې راغلي، چې موږ د((بخاري)) خبره راخلو:

رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ، حضرت ((علي)) ته وويل: ((انت منی بمنزلة هارون من موسی الا انه ليس نبی بعدی؛ مقام دې راته داسې دی؛ لکه د هارون چې موسی ته و؛ خو په دې توپير، چې تر ما روسته به بل پيغمبر نه وي))

په صحيح مسلم کې ددې حديث پای داسې راغلې: ((الا انه لانبی بعدی، په دې توپير، چې تر ما روسته به پيغمبر نه وي))

ابن سعد په خپلو((طبقاتو)) کې د "براء بن عازب" او "زيد بن ارقم" له خولې ليکي، چې دواړو اصحابو وويل: د تبوک جگړه، چې راغله؛ رسول اکرم، حضرت علي ته وويل: يا بايد زه په مدينه کې پاتې شم يا ته او داچې علي يې خپل ځايناستی وټاکه، پخپله له مشرکانو سره جگړې ته له مدينې ووت.

د پيغمبر اکرم تر تلو روسته چا وويل: رسول اکرم ځکه علي په مدينه کې پرېښود، چې له علي يې يو ناسم چار ليدلی و!دا خبره، چې علي ته ورسېده، ځان يې رسول اکرمصلی الله عليه و آله وسلم ته ورساوه. پر علي کرم الله وجهه چې د پيغمبر اکرم سترگې ولگېدې، ويې پوښتل: څه پيښ شوي؟!علي وويل: نه! رسول الله! له اورېدو، داسې ډنډوره خپره شوې، چې له ما څخه يو ناوړه چار شوی او ته پرې خپه يې؛ نو ځکه دې نه يم بوتلی!

رسول اکرم په موسکا شو او ويې وويل: ((علي!نه غواړې ته راته داسې يې؛ لکه هارون چې موسی ته و، په دې توپير، چې تر ما روسته به پيغمبر نه وي.)) علي ځواب ورکړ: د خدای رسوله ښه مې ايسي.

او رسول اکرم وويل: او هاغسې ستا مقام او رتبه ده. [1]

[1]. وگورئ: ابن سعد، طبقات۱۵/۳. هيثمي مجمع الزوايد۱۱۱/۹ (په جزيي اختلاف سره).

## د ((مِنی)) مطلب

په ((انت مِنی بمنزله هارون من موسی)) حدیث کې، چې د ((مِنی)) لفظ راغلی، په نورو احادیثو کې، چې دا لفظ کارول شوی، د پېغمبر اکرم مطلب ترې څرګندېږي.
او هغه داچې هارون علیه السلام له حضرت موسی علیه السلام سره په پېغمبرۍ کې شریک و او د الهي احکامو په تبلیغ کې یې ملاتړ او مرستندوی و.
حضرت علي هم د منزلت د حدیث له امله، خاتم النبیین ته داسې و؛ لکه موسی ته چې هارون و؛ خو بې له نبوته او پېغمبرۍ؛ نو علي ته د هارون له مرتبې یوازې د الهي احکامو د تبلیغ په چار کې د پېغمبر اکرم ملاتړ او مرستندوي پاتې کیږي.
همدا راز رسول اکرم د عرفات پر ورځ په "حجة الوداع" کې له ((مِنی)) خپل مطلب ویلی دی:
((علی منی و انا من علی، لا یودی عنی الا انا او علی: علي له ما څنې دی او زه له علي څنې یم او زما دنده یوازې زه پخپله یا بې له علي، بل څوک تر سره کولای نشي.)) [1]
په زیات شمېر احادیثو کې د((منی)) د لفظ له کارولو د رسول اکرم مطلب دادی، چې حضرت علي، مکلفینو ته د الهي احکامو د تبلیغ په مقام کې د خاتم النبیین پر منزلت دی.
له همدې ځایه د((منی)) مانا او مفهوم، چې په نورو نبوي احادیثو کې د حضرت علي په اړه سر پوښلی راغلی، څرګندېږي؛ لکه د((بریدة)) په روایت کې، چې له حضرت علي کرم الله وجهه یې شکایت کړی او پېغمبر اکرم ورته وویل: ((لا تقع فی علی فانه منی)) یا د "عمران بن حصین" په روایت کې، چې رسول اکرم ورته وویل: ((ان علیا مني)) [2]
په دې ټولو روایاتو کې د رسول اکرم مطلب دا و، چې خلک وپوهوي، چې د رسول اکرم پر وړاندې د حضرت علي او له ځوځاته یې د امامانو دنده داده؛ لکه چې څنګه پېغمبر اکرم، مکلفینو ته د بې واسطې تبلیغ دروند پیټی پر غاړه کړی و، دغسې دوی هم د پېغمبر دنده پر غاړه لري؛ نو ځکه دوی ټول له پېغمبره دي او خاتم النبیین له دوی دی. دوی یې د تبلیغ په چار کې شریک دي او یوازې په یوه ځای کې یو له بل سره توپیر لري او هغه داچې رسول اکرم، الهي احکام بې واسطې او نېغ په نېغ په وحې له خدای اخستل؛ خو دوی یې له خاتم

---

[1]. ابن ماجه سنن: لومړی ټوک: کتاب المقدمه، باب فضایل الصحابه۹۲مخ.ترمذي، مناقب: ۳ت، ۱۶۹مخ، ۲۵۳۱حدیث.متقي هندی کنزالعمال (لومړی چاپ) شپږم ټوک: ۱۵۳مخ.د امام احمد حنبل مسند۱٦٤/٤-۱٦٥مخونه (په بېلابېلو لارو یې د حبشي بن خباده حدیث راخستی دی)

[2]. وګورئ: مرتضی عسکري، دو مکتب در اسلام لومړی ټوک، تر۶۰۸مخ وروسته.

النبيين اخلي؛ نو امامان د پيغمبر اکرم له لوري اسلامي امت ته د اسلام مبلغين دي او خدای او رسول يې دې درون پېټې وړو ته، له مخکې چمتو کړي دي. ؛ نو ځکه دوی خدای له هر ډول چټلۍ خوندي کړي او د سپينلمنتوب او سپېڅلتيا جامې يې ور اغوستي دي. پردې سر بېره، څه چې رسول اکرم ته وحې کېدل، حضرت علي يې ترې په ځانګړي ډول برخمناوه او امامانو پرله پسې دا ټول له خپل پلار؛ حضرت علي نه په ميراث وړي ول. لاندې روايتونه دا مطلب څرګندوي.

## د پيغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم د علومو حاملان

په رازی تفسير(د ان الله اصطفى آدم و. . . . تر آيت لاندې) او د متقي هندي په کنزالعمال (٦ټ: ٣٩٢ او ٤٠٥مخونه) کې راغلي، چې علي کرم الله وجهه وويل: رسول اکرم د حکمت او پوهې زر ورونه رازده کړل، چې له هر يو يې راته د نورو علمونو زر ورونه پرانستل شو))

په طبري تفسير، د ابن سعد په طبقاتو، تهذيب التهذيب، کنزالعمال او فتح الباري کې لاندې روايت راغلی، چې مورږ يې له فتح الباري راخلو:

((ابوطفيل روايتوي: د علي په يوې وينا کې وم، چې يې وويل: څه غواړئ، و مې پوښتئ، پر خدای قسم، چې څه تر قيامته پيښيږي له ما يې وپوښتئ، چې ځواب يې درکړم. د قرآن په اړه مې وپوښتئ، چې پر خدای قسم پر هر آيت يې پوهېږم، چې د ورځې يا شپې په بېديا يا غره کې. . . پر پيغمبر نازل شوی دی.)) [1]

له همدې امله رسول اکرم د جابر بن عبدالله د روايت له مخې د علي په حق کې وويل: ((زه د علم ښار يم او علي يې((ور)) دی، چې څوک غواړي دې ښار ته راننوځي، بايد له وره راننوځي.))

حاکم وايي: ددې روايت اسناد سم دي. [2]

---

[1]. طبري تفسير: ٢٦ټ١١٦مخ.ابن سعد، طبقات: ٢ټ: ١٠١مخ تهذيب التهذيب: ٧ټ، ٣٣٧مخ.فتح الباري: ١٠ټ٢٢١مخ.حلية الاوليا لومړی ټوک: ٦٧-٦٨مخونه.کنزالعمال: لومړی ټوک: ٢٢٨ مخ.

[2]. وګورئ: مستدرک الصيحين: ١٢٦/٣ (په١٢٦مخ کې يې په بله لار راغلی دی)؛ بغداد تاريخ٣٤٨/٤ او١٧٢/٧ او ٤٨/١١-٤٩مخونه؛ اسدالغابه: ٢٢/٤. هيثمي مجمع الزوايد١١٤/٩. تهذيب التهذيب ٣٢٠/٦ او ٤٢٧/٧. فيض القدير٤٦/٣. کنز العمال (دويم چاپ) ٢٠١/١٢. صواعق المحرقه: ٧٣مخ.

او د بل روایت له مخې د پورته حدیث په روستیو کې راغلي: ((او څوک چې پوهه غواړي، باید له وره راننوځي)) [1].

همدا موضوع په بل روایت کې داسې راغلې ده: ((د حدیبې په جګړه کې مې ولیدل، چې رسول اکرم د علي لاس ونیو او و یې ویل: دا سړی، د آزادګانو مشر، او د متقیانو مشر دی، ملاتړی یې بریمن دی او خوارونکی یې خوار او ناځیزه دی.)) دلته رسول اکرم غږ لوړ کړ او خبرو ته یې داسې دوام ورکړ: ((زه د علم ښار یم او علي یې ور دی، چې څوک غواړي دې ښار ته راننوځي باید په وره یې راننوځي)) [2]

د ابن عباس په روایت کې د پیغمبر خبره داسې راغلې ده: ((زه د علم ښار یم او علي یې ور دی، چې څوک ددې ښار هوډ وکړي؛ نو باید په وره یې راننوځي)) [3]

خو د امام علي کرم الله وجهه په روایت کې راغلي، چې پیغمبر وویل: ((انا دارالعلم و علی بابها)) [4]

او د ابن عباس په روایت کې: ((انا مدینه الحکمة و علی بابها، فمن اراد الحکمه فلیات الباب)) [5]

او له علي کرم الله وجهه په بل روایت کې راغلي: ((انا دارا الحکمه و علی بابها)) [6]

او د حضرت ابوذر(رض) په روایت کې، پیغمبراکرم د حضرت علي په حق کې وویل: ((علی باب علمي و مبین لامتی ما ارسلت به بعدی. . . . . علي زما د پوهې ور دی او تر ما روسته، امت ته به مې هغه څه څرګند کړي، چې پرې را استول شوی یم)) [7]

د حضرت انس بن مالک(رض) په روایت کې راغلي: پیغمبر اکرم، علي کرم الله وجهه ته وویل: ((انت تبین لامتی ما اختلفوا فیه بعدی؛ ته به تر ما روسته د امت اړپیچ هوار کړي)) حاکم لیکي دا حدیث د بخاري او مسلم د شرایطو له مخې سم دی. [8]

---

[1]. مستدرک الصحیحین: ۱۲۷/۳-۱۲۹

[2]. بغداد تاریخ ۳۷۷/۲.

[3]. کنزالعمال (دویم چاپ) ۲۱۲/۱۲.

[4]. ریاض النضره۱۹۳/۲.

[5]. خطیب، بغداد تاریخ ۲۰٤/۱۱. صحیح ترمذي، کتاب المناقب د علي د مناقبو باب.

[6]. وګورئ: صحیح ترمذي۱۷۱/۱۳. ابونعیم حلیةالاولیا ٦٤/۱. کنزالعمال (لومړی چاپ) ۱٥٦/٦.

[7]. کنزالعمال (لومړی چاپ) ۱٥٦/۲.

[8]. مستدرک الصحیحین۱۲۲/۳. کنزالعمال (لومړی چاپ) ٦ / ۱٥٦. المناوي کنوز الحقایق: ۱۸۸مخ.

په بل روايت کې پېغمبرصلی الله علیه و آله وسلم ، علي کرم الله وجهه ته وويل: ((انت تودی عنی و تسمعهم صوتی و تبین لهم ما اختلفوا فیه بعدی؛ ته به مې رسالت ته دوام ورکړې او غږ به مې امت ته ورسوې او تر ما روسته اړپېچ به يې هوار کړې)) [1]

## درېيم: د خم ډنډ تر غاړې

د معتبرو رواياتو له مخې، د خم ډنډ داستان داسې و:

د ذې حجې پر اتلسم [2] د هجرت پر لسم کال او له حجة الوداع [3] نه په راستنېدو کې د خم ډنډ تر غاړې، په جُحفه [4] نومې ځای کې چې د مدينې، مصر او شام لارې ترې بېلېږي [5] دا آيت پر رسول اکرم نازل شو:

((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ (مائده/٦٧): او پېغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پر تا نازل شوي، (ټول يې خلکو ته) ورسوه اوکه داسې و نه کړې؛ نو د هغه پېغام دې نه دی رسولی، خدای تا د خلکو (له احتمالي زيانونو) ساتي، هو! خدای، "خدای ناپېژاندو" ته سمه لار نه ښيي.)) د آيت تر نازلېدو روسته، رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم کاروانونو ته د تمېدو حکم وکړ، چې تېر دې راستانه او ورپسې دې ورسره يو ځای شي [6] او خپل اصحاب يې تر اغزنو بوټيو لاندې له کېناستو منع کړل، چې خپاره شي او و يې وويل: تر ونو لاندې خس او ډکي ټول کړئ [7] او بيا يې په جماعت لمانځه ته راوبلل [8]. اصحابو د ونې پر لښتو او پاڼو ټوټې خپرې کړې او آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ته يې سيوری جوړ کړ [9] او په

---

[1]. وگورئ: ابو نعيم، حلية الاولياء: ٦٣/١.

[2]. حاكم حسكاني ١٩٢/١-١٩٣

[3]. مجمع الزاويد ١٠٥/٩-١٦٣او ١٦٥.

[4]. تېره سرچينه.ابن كثيرتاريخ ٢٠٩/٥-٢١٣.

[5]. په معجم البلدان کې د((الجحفه)) اصطلاح

[6]. د ابن كثيرتاريخ ٢١٣/٥.

[7]. مجمع الزايد ١٠٥/٩ .ابن كثيرتاريخ ٢٠٩/٥.

[8]. د امام احمد حنبل مسند ٢٨١/٦ .ابن ماجه سنن، د علي د فضايلو باب. ابن كثيرتاريخ ٢٠٩/٥-٢١٠.

[9] احمد مسند ٣٧٢/٤ .د ابن كثيرتاريخ ٢١٢/٥.

هغه سخته گرمۍ کې يې [1] د ماسپښين لمونځ وکړ. بيا خطبې ته را پاڅېد او خدای يې وستايه او خلکو ته يې نصيحت وکړ او بيا يې وويل: ((نژدې دی، چې ما وبلي او زه هم دا بلنه ومنم (د مرگ وخت مې را نژدې شوی دی) او موږ او تاسې د خدای پر وړاندې مسوول يو، پر هغه ورځ به خدای ته څه ځواب ورکوئ؟))

خلکو غږ وکړ: موږ گواهي لي، چې تا خورا ښه خپل رسالت تر سره کړ، موږ ته دې لار وښووه او خدای دې ددې غوره بدله درکړي. ورپسې خاتم النبيين و پوښتل: ((ايا د خدای پر وحدانيت او زما پر رسالت شاهدي نه ورکوئ؟! ايا گواهي نه ورکوئ، چې جنت او دوزخ رښتيا دي او شته؟)) خلکو غږ وکړ: هو! پردې ټولو شاهدي ورکوو. خاتم النبيين وويل: ((خدايه!گواه وسه)) بيا يې وپوښتل: غږ مې اورئ؟ ځواب ورکړ شو: هو! بيا يې وويل: ((خلکو!زه تر تاسې مخکې له دې نړۍ ځم او تاسې به د کوثر ډنډ پر غاړه راته راځئ، داسې ډنډ، چې پراخوالی يې د بصرې تر صنعا پورې دی [2] او د اسمانو د ستوريو هومره د سپينو جامونه يې پر غاړه ايښوول شوي دي او زه به پر هغه مهال له تاسې د دوو ارزښتمنو څيزونو په اړه وپوښتم، چې په تاسې کې مې پرېښي دي؛ نو ځير شئ، چې تر ما روسته ورسره څرنگه چلېږئ!)) دلته له غونډه والو يو وپوښتل: رسول الله!دا دوه گرانبيه څېزونه کوم دي؟ رسول اکرم ورته وويل: ((يو د خدای کتاب دی، چې يو لوری يې د خدای په لاس کې دی او بل يې ستاسې. ښه يې وساتئ او لارښوونې يې وکاروئ او پر کوم بل څيز يې بدل نه کړئ، چې بې لارې به شئ. بل زما عترت او اهل بيت دي او لطيف خدای خبر کړی يم، چې دا دواړه(قرآن-اهل بيت) يو له بله نه بېلېږي، چې د کوثر ډنډ پر غاړه ماته راشي. دا مې له خدايه غوښتي دي: نو پر دې دواړو مه ړومبي کېږئ، چې هلاک او بې لارې به شئ. روسته هم ترې مه پاتې کېږئ، چې هلاکېږئ، څه مه ورښيئ، چې هغوی تر تاسې ښه پوه دي))

ويې وويل[3]: ((ايا پوهېږئ، چې زه تر ټولو مؤمنانو پر دوی وړ او ړومبی يم؟)) خلکو غږ وکړ: هو يا رسول الله![4] حضرت بيا وپوښتل: ((پوهېږئ (يا گواهي ورکوئ) چې زه پر هر مؤمن،

---

[1]. احمدمسند٢٨١/٤. .ابن ماجه سنن، د علي دفضايلو باب.ابن کثيرتاريخ٢١٢/٤.

[2]. بصره دمشق ته نژدې يو ښار دی او صفا بغداد ته نژدې؛ البته د پېغمبر اکرم دا تشبيه د دې لپاره وه، چې د غونډې برخوال د حوض پراخوالي ته پام وکړي نه بل څه ته.

[3]. مجمع الزوايد١٦٢/٩-١٦٥مخونه.ځينې الفاظ يې راغلي دي. په حاکم حسکاني١٠٩/٣-١١٠مخونه.ابن کثيرتاريخ٢٠٩/٥.

[4]. د احمد مسند١١٨/١-١١٩مخونه او٢٨١/٤مخ.ابن ماجه سنن ٤٣/١ .ابن کثيرتاريخ٢٠٩/٥.

ورمخکې او ړومبيتوب لرم؟)) خلکو غږ کړ: هو يا رسول الله! [١] نو پېغمبر اکرم د علي لاس ونيو او پورته يې کړ، تردې چې د دواړو د تښرگونو سپين ښکاره شول [٢] او و يې ويل: ((خلکو! خدای زما مولا او پالندوی دی او زه ستاسې مولا او پالندوی يم [٣]؛ نو د چاچې زه مولا يم؛ نو دا علي يې هم مولا دی)) [٤]

دعا يې وکړه او و يې وويل: ((خدايه! د علي دوست، دوست ولره او دښمن يې دښمن[٥]د ملاتړي يې ملاتړ شه او خواروونکی يې خوار کړه [٦] هغه دوست ولره، چې علي دوست لري او پر هغه غوسناک وسه، چې پر علي غوسه وي [٧]او په پای کې يې وويل: ((خدايه!شاهد وسه [٨]. راوي وايي: ((پېغمبر او علي بېل شوي نه ول، چې دا آيت پر پېغمبر رانازل شو: ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا (مائده/٣): نن مې ستاسې دين تاسې ته بشپړ کړ او خپله لورنه مې درته پوره کړه او اسلام مې درته ستاسې (تلپاتې) دين غوره کړ)) ورپسې رسول اکرم وويل: ((الله اکبر، د دين په بشپړېدو، د نعمت په پوره کېدو او زما په رسالت او د علي په ولايت د خدای په خوښېدو)) [٩]. يعقوبی په خپل تاريخ (د مدني آيتونه په باب) کې ليکي: ((روستی آيت، چې پر آنحضرتصلی الله عليه و آله وسلم نازل شو

---

[١]. د احمد مسند٢٨١/٤او ٣٧٠، ٣٦٨او ٣٧٢ .ابن کثيرتاريخ ٢٠٩/٩او ٢١٢.

[٢]. حاکم حسکاني حنفي١٩٠/١ ((فرفع يديه حتی يری بياض ابطيه)) او ١٩٣مخ کې يې ((حتی يان بياض ابطيهما)) راغلي دي.

[٣]. دا مطلب په ټولو تېرو سرچينو کې راغلی دي.

[٤]. احمد مسند١١٨/١ .حاکم مستدرک١٠٩/٣. ابن ماجه سنن، د علي د فضل برخه.حاکم حسکاني١٩٠/١-١٩١ .ابن کثيرتاريخ: ٢٠٩/٥-٢١٣. ابن کثير په٢٠٩مخ کې ليکي: زيد ته مې وويل: تا له رسول اکرم واورېدل؟ويې وويل: په بېديا کې ټولو واورېدل او وليدل. وروسته ابن کثير زياتوي: دا حديث ابوعبدالله د مخي صحيح گڼلی دی.

[٥]. احمد مسند١١٨/١-١١٩. مجمع الزوايد١٠٤/٩-١٠٧. حاکم حسکاني، شواهد التزيل١٩٣/١. ابن کثيرتاريخ٢١٠/٥.

[٦]. شواهدالتزيل١٩١/١. ابن کثيرتاريخ٢١٠/٥.

[٧]. شواهدالتزيل١٩٠/١.

[٨]. حاکم حسکاني په شواهدالتزيل ١٥٧/١-١٥٨مخونه کې له حضرت ابوهريره روايت اخستی؛ همدا مطلب په لنډو ابن کثير هم په خپل تاريخ کې اخستی دی.

[٩]. يعقوبي تاريخ٤٣/٣.

د((اليوم اكملت لكم دينكم)) آيت و او دا سم روايت دى او پر هغه ورځ نازل شو، چې رسول اكرم په خم ډنډ کې په ډاگه د علي ولايت اعلان کړ)) [1]
تردې مراسمو روسته، حضرت عمر بن خطاب (رض)، علي كرم الله وجهه وكوت او و يې وويل: ((د ابوطالب وزيه!دا ستره پېرزوينه دې درته مبارک وي، چې سهار دې ماښام کړ، حال دا د گردو مؤمنانو مولا او پالندوى شوې)) [2]
په بل روايت کې يې ورته وويل: ((د ابوطالب زويه پر حالاتو دې خوښي وي)) [3]
او په بل روايت کې: ((د ابوطالب زويه!خوندور دې وي درته، سهار دې ماښام کړ، حال دا، د گردو مؤمنانو پالندوى شوې)) [4].

## پېغمبراكرم علي ته پگړۍ وتړله

رسول اكرم د((سحاب)) په نامه يوه توره پگړۍ درلوده [5]، چې په ځانگړو ورځو [6]؛ لكه د مكې په سوبې کې يې چې پر سر کړې وه [7] پېغمبر همدا پگړۍ د خم غدير پر ورځ د علي پر سر كېښووله.
له ((عبدالاعلي بن عدى التبهواني)) روايت شوى، چې ويې وويل: ((رسول اكرم، علي ځان ته راوغوښت او په خپل لاس يې پگړۍ وروتړله او پاتې يې ورته پر اوږه واچوله)) [8]
له حضرت علي كرم الله وجهه روايت دى، چې ويې وويل: ((رسول اكرمصلى الله عليه و آله وسلم د خم غدير پر ورځ راته پگړۍ پر سر كېښووه او پاتې يې راته پر اوږه پرېښووله)) [9]

---

[1]. احمد مسند ٢٨١/٢.
[2]. شواهدالتزيل ١٥٧/١-١٥٨.
[3]. احمد مسند ٢٨١/٤مخ.ابن ماجه سنن د علي فضايل.الرياض النضره ١٦٩/٢. ابن كثير ٢١٠/٥.
[4]. توره پگړۍ، چې د عبدالله بن بشير او حضرت علي په روايتونو کې راغلی د تاج پر مفهوم ده.
[5]. دې مطلب ته په حديثي كتابونو کې اشاره شوې ده.
[6]. صحيح مسلم، كتاب الحج.ابوداود سنن ٥٤/٤ باب العمائم؛ شرح المواهب ١٠/٥.
[7]. د ابن اليقم زاد المعاد، فصل فى ملابسه پر المواهب اللندنية د زرقاني د شرح په لمن ليک کې.
[8]. الرياض النضره ٢٨٩/٢ .اسدالغايه ١١٤/٣
[9]. اصابة ٢٧٤/٢ د عبدالله بن بشير د حالاتو په شرح کې.
٢. كنزالعمال ٤٥/٢٠. طيالسي مسند ٢٣/١. بيهقي سنن ١٤/١٠

د طیالسي په مُسند او د بیهقي په سننو کې د حضرت علي خبره داسې ده: ((رسول اکرم راته د خم غدیر پر ورځ پګړۍ پر سر کېښووه او پاتې یې راته شاته خوشې کړه. بیا یې وویل: خدای د بدر او حنین په غزاګانو کې په هغو پرښتو زما لاسنیوی وکړ، چې دغسې پګړۍ یې پر سر وې، روسته یې وویل: پګړۍ ددې لامل دی، چې مسلمانان له مشرکانو وپېژندل شي))

## د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم دولس ځایناستي

دلته هغه روایات راخلو، چې د نبوي کورنۍ عمومي مشرتوب جوتوي، چې پکې متعال خدای او رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم تر خاتم النبیین روسته امامان او وصیان ټاکلي او خلکو ته ښوولي دي او ورپسې یې په ځرګندونه هم لاس پورې کوو.
(الف) په روایاتو (ثقلینو حدیث) کې د نبوي کورنۍ عمومي مشرتوب: په دې شمېر احادیثو کې، د کوم امام، ځانګړی نوم اخستل شوی نه دی؛ خو د نبوي کورنۍ عمومي مشرتوب پکې نوموتی دی. دوه بیلګې یې دا دي:
په صحیح مسلم(۱۲۲/۷-۱۲۳) او نورو لس ګونو کتابونو؛ لکه د امام حنبل مُسنَد، د دارمي سنن، د بیهقي سنن او مستدرک الصحیحین (۱۰۹/۳او۱٤۸) کې روایت شوی:
زید بن ارقم وایي: رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم (له حجة الوداع نه په ستنېدو کې یې) د مکې او مدینې په لار کې د ((خم)) ډنډ پر غاړه، خلکو ته وینا وکړه: ((خلکو! باخبر، زه [ستاسې په څېر]یو بشر یم، نژدی دی، چې ما[تلپاتې نړۍ ته]وبولي او د حق بلنه ومنم. زه درته دوه ارزښتمن څیزونه په میراث پرېږدم: د خدای کتاب، چې پکې ښیون-هدایت او رڼا ده، مه یې پرېږدئ او منګولې پرې ولګوئ)) بیا یې وویل: ((او زما اهلبیت، کورنۍ مې، د خپلو اهل بیتو په اړه خدای دریادوم!(دا غونډله یې درې ځله وویله)))
بیا د مستدرک د روایت له مخې زیاتوي: ((هوښیار وسئ، چې تاسې تر ما روسته له دې دوو پاتې شونو سره څرنګه چلن کوئ. دا دواړه بیخي یو له بله نه بېلیږي، څو په کوثر ډنډ کې ماته راشي))
د پیغمبراکرم له روستۍ غونډلې پوهېدای شو، چې باید د نبوي کورنۍ یو امام (چې په معتبرو روایاتو کې ټاکل شوی دی) اوږد عمر ولري، چې د نړۍ تر پایه ژوندی وي او تل په بشري ټولنه کې له قرآن سره جوخت او اوږه په اوږه وي او ددې دواړو (قرآن-اهل بیت) د نه بېلتون په اړه د پیغمبر وینا رښتیا شي.

۲-همدې ته ورته وينا حضرت جابر (رض) د پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم د عرفې له خطبې روايتوي، وايي: پېغمبرصلی الله علیه و آله وسلم مې د حج پر مهال په عرفات کې وليد، چې پر خپل اوښ ((غضباء)) نومي سپور و او خلکو ته يې وويل: ((. . . خلکو!زه درته داسې څه پرېږدم، که منګولې پرې ولګوئ او لاس ترې وانخلئ، بيخي به بې لارې نشئ: د خدای کتاب او کورنۍ مې، چې زما اهل بيت دي. [1]))

ترمذي ددې خبرې تر راوړو روسته زياتوي، چې دا حديث له ابوذر، ابوسعيدخِدري، زيدبن ثابت او حُذيفة بن اُسيد(رضی الله علیهم) هم روايت شوی دی.

په دې روايت کې، پېغمبر اکرمصلی الله علیه و آله وسلم خپل اهل بيت د قرآن هم څنګ کړي او ښيون په دوی او قرآن پورې ګنې او د دوی د لمن نيول له بې لارۍ د ژغورنې لامل ښيي او وايي: هوښيار وسئ او ځير شئ، چې تر ما روسته له دې دواړو سره څرنګه چلېږئ او پوه شئ، چې دا دواړه بيخي يو له بله نه بېلېږي او د کوثر ډنډ(د قيامت د ژغورنديو د راټولېدو ځای) ته به را ته راشي.

له نظري اړخ دا يوه غوڅه قرآني مساله ده، چې اسماني کتابونه د خلکو ګروهيز، اخلاقي او د عمل لارښوونکي او امامان دي:

((وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً وَهَٰذَا كِتَابٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَبُشْرَىٰ لِلْمُحْسِنِينَ (احقاف/۱۲): او له دې مخکې د موسی کتاب، چې لارښود او رحمت و (د قرآن نښې ښوولې دي) او دا کتاب په عربي ژبه د تورات له نښو سره اړخ لګوي، چې ظالمان ووېروي او نېکانو ته زېری ورکړي.))

د همدې اصل په پامنيوي او ډېره پرې وهل، له قرآن سره د پېغمبر د اهل بيتو يوځای کېدل د دوی مشرتوب او امامت هم جوتوي.

په بله وينا، د اسلام نظري اړخ په قرآن کريم کې ويل شوی دی؛ خو بهرنی انځور يې د اهل بيتو په سيرت کې ښوول کېږي.

داچې په نظري اړخ کې مو د قرآن امامت او مشرتوب منلې؛ نو بايد په عملي اړخ کې هم د اهل بيتو امامت ومنو.

پردې سربېره، د پېغمبراکرم د وينا له مخې، ښيون يوازې په دې دوو ارزښتمنو ميراثونو پورې اړوند دی او پوهېږو، چې د قرآن ښيون په ټوليزه بڼه د ګروهيزو، اخلاقي او عملي مسايلو په

---

[1]. (سنن ۵/۶۶۲، ۳۷۸۶حديث)

باب دی؛ نو هرومرو به د قرآني اسلام[؛ يعنې هغه اسلام، چې په قرآن کريم کې راغلی او مطلب، ددې دين اصول او تولیز مسايل دي]څرګندول، بيانول او رڼا پرې اچول د اهل بيتو دنده وي، چې ښیون پوره شي.

(ب) په رواياتو کې د امامانو د شمېر ټاکنه

رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم خبر کړي يو، کوم امامان، چې ترې روسته راځي ((دولس)) تنه دي، چې دا مساله په صحاحو او مسانيدو کې روايت شوې ده:

۱-امام مسلم په خپل صحيح کې له جابر بن سُمَرة(۱) روايت کړی چې: رسول اکرم وويل: ((دا دين، تل او تر قيامته او هله چې دولس تنه خلفاء مو پالندويان وي، ټينګ او پر ځای دی. دا خلفاء ټول له قريشو دي.))

په دوو نورو روايتونو کې، داسې راغلي: ((تر هغې چې دولس تنه خلفاء مو پالندويان شي))

په بل حديث کې: ((د دولس تنو تر پايه)) (۲)

په صحيح بخاري کې راوي وايي: له پيغمبراکرمصلی الله عليه و آله وسلم مې واورېدل، چې يې ويل: ((دولس تنه اميران او بولندويان دي)) راوي وايي: پيغمبرصلی الله عليه و آله وسلم تردې روسته خبرې وکړې، چې زه پوه نشوم. پلار مې وويل: ويې وويل: ((هغوی ټول له قريشو دي)).

بل روايت دی، چې يې وويل: ((د چا دښمني يې زيانمولای نشي)). [1]

۲-بل روايت دی، چې رسول اکرمصلی الله عليه و آله وسلم وويل: ((لا تزال هذه الامه مستقيماً امرها، ظاهرة على عدوها، حتى يمغى منهم اثنا عشر كلهم من قريش؛ ((ددې امت چارې به تل سمې او پر دښمنانو به برلاس وي، چې دولس تنه قريشي خلفا پرې تېر شي)) [2]

۳-په بل روايت کې راغلي، چې يې وويل: ((دا امت دولس تنه پالندويان لري، چا يې چې لاسنيوی و نه کړ، زيان ورته نشي رسولای، ټول له قريشو دي.)) [3]

په بل روايت کې يې وويل: ((ددې امت چار به تل په جريان کې وي، تر هغې چې دولس تنه پرې ولايت ولري.)) [4]

---

[1]. فتح الباري۳۳۸/۱۶.

[2]. وګورئ: د کنزالعمال غورچاڼ يا: ۳۲۱/۵. د ابن کثير تاريخ۲۴۹/۶. سيوطي، تاريخ الخلفا ۱۰مخ. کنز العمال ۲۶/۱۳. الصواعق المحرقه، ۲۸مخ.

[3]. وګورئ: کنزالعمال ۲۷/۱۳ او غورچاڼ (منتخب) يې۳۱۲/۵

[4]. وګورئ: نووي، د صحيح مسلم شرح۲۰۲/۱۲. الصواعق المحرقه ۱۱۸مخ. سيوطي، تاريخ الخلفا: ۱۰مخ.

۵-له حضرت انس (رض) روایت دی، چې آنحضرتصلی الله علیه و آله وسلم وویل: دا دین په هیڅ توگه نه ورکېږي، چې له قریشو دولس تنه وي او چې له دنیا ولاړل، ځمکه خپل اوسېدونکي ډوبوي))[1]

٦-په بل روایت کې یې ویلي: ((ددې امت چار تل بریا ته نژدې دی، چې هغه ټول دولس تنه راپاڅي، هغوی ټول قریشي دي)) [2]

٧-امام احمد بن حنبل، حاکم او نور له مسروق څخه روایت کوي، چې و یې ویل: ((یوه شپه له عبدالله بن مسعود سره ناست وو او قرآن یې را زده کاوه، چې یو سړي ترې وپوښتل: اباعبدالرحمانه!ایا رسول اکرم دې پوښتلی و، چې ددې امت څو تنه خلافت ته رسي؟عبدالله وویل: عراق ته چې راغلی یم، داسې نه یم پوښتل شوی. په دې اړه مې پیغمبر پوښتلی او راته یې ویلي: ((هغوی د بني اسرائیلو د نقیبانو په شمیر دولس تنه دي.)) [3]

٨-ابن مسعود وایي، رسول اکرم وویل: ((تر ما روسته خلفاء د موسی علیه السلام د اصحابانو په شمېر دي.)) [4]

تېر روایتونه په څرگنده وایي: د والیانو شمېر دولس تنه دی، چې ټول له قریشو دي.

امام علي کرم الله وجهه په خپلې یوې وینا کې له قریشو مطلب څرگند کړی دی چې یې وویل: ((ټول امامان قریشي دي او د بني هاشمو (اهل بیتو) له تېره ټاکل شوي دي، بې له دوی (ولایت) بل چاته روا نه دی او یوازې دوی (پر امت د ولایت) وړ دي.

---

[1]. [کنزالعمال۲۷/۱۳.]

[2]. وگورئ: تېره سرچینه.

[3]. وگورئ: د امام احمد حنبل مُسند۳۹۸/۱و۴۰٦مخونه (احمد شاکر په لومړی حاشیه کې وایي: سندونه یې سم دي.)؛ حاکم، مستدرک او لنډیز یې۵۰۱/٤. فتح الباري۳۳۹/۱٦. مجمع الزواید۱۹/۵مخ. ابن حجر الصواعق المحرقه۱۲مخ. سیوطي، د خلفاوو تاریخ لسم مخ. سیوطي، جامع الصغیر ۷۵/۱. کنزالعمال۲۷/۱۳. فیض القدیر۴۵۸/۲. ابن کثیر، تاریخ۲٤۸/٦-۲۵۰مخونه باب ذکر الائمه الاثنی عشر الذین کلهم من قریش، له ابن مسعوده روایت.

[4]. وگورئ: ابن کثیر، تاریخ۲٤۸/٦. کنزالعمال۲۷/۱۳. حسکاني، شواهد التنزیل ٤۵۵/۱؛ ابن کثیر د خپل تاریخ په شپږم ټوک، ۲٤۸مخ کې وایي، د دې په څېر له عبدالله بن عمر، حذیفه او ابن عباس (رضی الله عنهم) هم روایتونه شوي دي.

وگورئ: نهج البلاغه، ۱٤۲خطبه، د مصر چاپ، مطبعة الاستقامه او همدا راز ويې ويل: هو، پر خدای قسم، ځمکه به بيخي د خدای لپاره د حق له حجته خالي نشي[دا قايم امام] يا بريمن دی او ښکاره او يا ډارن او پټ، چې الهي حجتونه او روښانه الهي نښې تل وي)) [۱]

## د ټېرو احاديثو نچوړ

د تېرو احاديثو پايله او لنډيز دادی: ددې امت د امامانو شمېر پر له پسې دولس تنه دی، چې د نړيوالو دنيوي او اُخروي نېکمرغي به د دوی په ښوونو وي.
په لومړی حديث کې راغلي:
په دې حديث کې تر قيامته د اسلام تلپاتېتوب ته اشاره شوې او د امت امامان يې دولس تنه ښوولي دي.
په پينځم حديث کې راغلي:
دې حديث هم، د دين شتون او پاينښت د دولس ګونو امامانو د عمر تر پايه تاييد کړی او عمر يې د دنيا پای بولي.
اتم حديث، د امامانو شمېر يوازې دولس تنه ښيي: ((تر ما روسته خلفا، د موسی د اصحابو د شمېر هومره دي.))
دا حديث راښيي، چې تر رسول اکرم روسته به، بې له دولس ګونو خلفاوو، بل خليفه نه وي.
ددې رواياتو الفاظ په ډاګه وايي: ((د خلفاوو شمېر يوازې دولس تنه دی او روسته ترې ګډوډې، د ځمکې نابودي او قيامت دی)) نور روايتونه، چې دغسې ځرګندتوب نه لري، همدا(روايت) يې بيانوي.
نو ځکه شونې ده، چې د دولس ګونو امامانو د يو امام عمر دعادي انسانانو د عمر پر خلاف، اوږد او خارق العاده وي؛ لکه چې همدا اوس دی او دولسم امام؛ حضرت مهدي په همدې توګه دی.

---

[۱]. وګورئ: شيخ سليمان حنفي قندوزي، ينابيع المودة، سلم باب۵۳۲مخ. غزالي، احياالعلوم الدين ۳/۱. حلية اولياء۸۰/۱. نهج البلاغه، ۲٤۷حکمت.

## علما څرنګه د دولس ګونو امامانو حديث تفسير وي

په دې اړه عالمان بېلا بېلې څرګندونې لري:
د((ترمذي دسننو)) شارح، ابن عربي وايي: تر رسول اکرم روسته اميران، مې، چې وشمېرل؛ نو دا دي: ((ابوبکر، عمر، عثمان، علي، حسن، معاويه، يزيد، معاويه بن يزيد، مروان، عبدالمالک مروان، سليمان، عمربن عبدالعزيز، يزيدبن عبدالمالک، مروان بن محمد بن مروان، سفاح او. . .)) ورپسې، تر خپل وخته ۲۷تنه عباسي خلفاء شمېري او وايي: که له دوی په ظاهري بڼه «دولس تنه» وشمېرو، روستی يې تر سليمان ابن عبدالمالک دی او که خليفه په واقعي مانا په پام کې ونيسو، موږ ته يوازې پينځه تنه پاتې کېږي: څلورګوني خلفاء او عمربن عبدالعزيز؛ نو ځکه زه دې حديث ته کومه مانا نه مومم.)) [1]
قاضي عياض، ددې خبرې [چې له دې شمېر (دولس ګونو تنو) ډېر ولايت او واکمنی ته رسېدلي دي] په ځواب کې وايي: ((دا سمه نيوکه نه ده؛ ځکه پېغمبر ويلي نه دي، چې يوازې دولس تنه ولايت ته رسي؛ البته دا شمېر ولايت ته رسېدلي دي او دا مطلب د هغوی پر شمېر د ور زياتوالي مخه نه نيسي)) [2]
((سيوطي)) د خپل تاريخ په دولسم مخ کې، د ده په ځواب کې يوه خبره راوړی او وايي: ((د حديث مراد، د اسلام په اوږدوکې تر قيامته د((دولس ګونو خلفاوو شتون دی، چې پر حق عمل کوونکي وي، که څه پر له پسې نه وي.))
د فتح الباري (٣٤١/٦) مؤلف او هم سيوطي د خپل تاريخ په دولسم مخ کې ليکي: ((په يقين چې له دې شمېره(دولس ګونو) څلورګوني خلفا تېر شوي او پاتې نور د قيامت تر راتلو مخکې بايد هرومرو پوره شي.))
ابن جوزي وايي: ((نو ځکه داچې يې ويلي: ((روسته به فتنه او ګډوډې وي)) مراد ترې د قيامت تر جوړېدو مخکې فتنې دي؛ لکه د دجال راوتل او روسته هغه دی)) [3]
سيوطي وايي: ((له دې "دولسو تنو" څلور ګوني خلفا، حسن، معاويه، عبدالله بن زبير او عمربن عبدالعزيز، دا اته تنه واکمن شوي او احتمال داچې عباسي خليفه مهدي(چې په عباسيانو کې؛ لکه په امويانو کې چې عمربن عبدالعزيز و) هم پرې ور زيات کړو او همدا راز طاهر عباسي

---

[1]. وګورئ: د ترمذي پر سننو د ابن عربي شرح٦٨/٩-٦٩.
[2]. پر صحيح مسلم د نووي شرح٢٠١/١٢-٢٠٢؛ فتح الباری٣٣٩/١٦.
[3]. وګورئ: دسيوطي تاريخ دولسم مخ او فتح الباری شپږم ټوک٣٤١مخ.

د عدالت له امله يې؛ نو بيا هم دوه تنه پاتې کيږي او د انتظار وړ دی، چې يو يې مهدي آل محمدصلی الله عليه و آله وسلم له اهل بيتو وي)). [1]

همدا راز ويل شوي دي: ((د حديث مراد دادی، چې هغه ((دولس تنه)) د خلافت د عزت په دوران، د اسلام په ځواکمنی او چارې يې ښه سمبالې وي، هغه کسان (دولس تنه)، چې د واکمنی پر مهال يې اسلام عزتمن شوی وي او ټول مسلمانان پرې راټول وي)). [2]

بيهقي وايي:

((دا شمېر (دولس تنه) د وليدبن يزيد بن عبدالمالک تر مهاله واکمن شول بيا ستره ګډوډي شوه او ورپسې د عباسيانو حکومت راغی او داچې پر نوموړي شمېر يې ور زياتوي علت يې دادی، چې د حديث ځانګړنې يې پرېښې يا يې له دولس تنو هغه کسان شمېري، چې له سترې ګډوډۍ روسته راغلي دي.)) ابن کثير، تاريخ۲٤۹/٦، له بيهقي نه په روايت.

او همدا راز ويلي يې دي: ((پر چا چې امت يوه خوله شوې؛ درې ګوني خلفا ورپسې علي په صفين کې د منځګړتوب تر وخته، چې معاويه يې پر هغه ورځ خليفه ونوماوه. بيا د حسن له سولې سره، پر معاويه يوه خوله شول او تردې روسته يې پر زوی يزيد. حسين هم خلافت ته تر رسېدو مخکې ووژل شو. د يزيد په مړينه اړپېچ پيدا شو، تردې چې د عبدالله ابن زبير تر وژنې روسته، پر عبدالملک مروان يوه خوله شول او ورپسې پر څلورو زامنو يې: وليد، سليمان، يزيد او هشام، چې په دوی کې عمربن عبدالعزيز د سليمان او يزيد تر منځ په يوه واټن کې و او دولسم يې وليدبن يزيدبن عبدالملک و، چې خلک له هشام روسته پرې يوه خوله شول او څلور کاله يې واکمني وکړه)) [3]

نو ځکه ددې دولسو تنو خلافت په دې دليل سم دی، چې مسلمانان پرې يوه خوله ول او پيغمبر مسلمانانو ته دوی ته د خپل خلافت- چې خلکو ته به اسلام ورلېږي- زېری ورکړی دی.

ابن حجر ددې مخونې په اړه وايي: ((دا خورا غوره مخونه ده)) او ابن کثير وايي: ((د بيهقي لار د منلو نه ده، چې يو شمېر ورسره يوه خوله دي؛ يعنې داچې له پرله پسې خلفاوو؛ د حديث مراد تر وليدبن يزيدبن عبدالملک پورې دی؛ ځکه ددې "وليد" تر وخته خلفاو تر "دولسو

---

[1]. ابن حجر، الصواعق المحرقه، ۱۹مخ؛ سيوطي، دخلفاوو تاريخ۱۲مخ.

[2]. نووي، د صحيح مسلم شرح۲۰۲/۱۲او۲۰۳؛ فتح الباري۳۳۸/۱٦-۳٤۱.

[3]. سيوطي، د خلفاوو تاريخ۱۱مخ؛ الصواعق المحرقه، ۱۹ مخ؛ فتح الباري۳٤۱/۱٦.

تنو" زيات ول، په دې دليل، چې د ابوبکر، عمر، عثمان او علي خلافت سم ول او روسته ترې حسن بن علي دی. په دې دليل، چې علي وصيت کړی و او د عراق خلکو ورسره بيعت کړی و، تردې چې له معاويه سره يې سوله وکړه. ورپسې يزيد ابن معاويه، معاويه بن يزيد، مروان بن حکم، عبدالملک بن مروان، وليدبن عبدالملک، سليمان بن عبدالملک، عمر بن عبدالعزيز، يزيدبن عبدالملک او هشام بن عبدالملک دی، چې ټول پينځلس تنه کيږي. ورپسې وليدبن يزيدبن عبدالملک او که تر عبدالملک مخکې د عبدالله بن زبير واکمني وشمېرو؛ نو اولس تنه کيږي. په دې شمېرنې سره يزيد بن معاويه په هغو دولسو تنو کې راځي؛ خو عمربن عبدالعزيز ترې وځي، هغه عمربن العزيز، چې ټول مشران يې پر ستاينه يوه خوله دي او له خلفای راشدينو يې شمېري او ټول خلک يې پر عدالت قايل دي او د واکمنۍ پير يې خورا ښه وخت و، ان شيعه هم پرې منښته کوي.
که ووايي: ((ما يوازې هغه کسان شمېرلي، چې امت پرې يوه خوله شوی؛ نو لازمه يې داده، چې علي او زوی يې و نه شمېرل شي؛ ځکه ټول خلک پرې يوه خوله نه ول؛ ځکه ټولو شاميانو ورسره بيعت و نه کړ)) نو ددې ليد له مخې وايو: ((په دې مسلک کې، درې ګوني خلفاء معاويه، يزيد، عبدالملک، وليدبن سليمان، عمربن عبدالعزيز، يزيد او هشام شمېرل کيږي، چې ټول لس تنه کيږي او په دوی پسې وليدبن يزيدبن عبدالملک دی، چې ددې ليد لازمه د علي او زوی (حسن) يې ترې ايستل دي، چې دقيقاً دا نظر د اهل سنتو د امامانو او؛ بلکې د شيعه و د ځرګندونو پر خلاف دی)) [1]
ابن جوزي په ((کشف المشکل)) کتاب کې ددې مخونو په ځواب کې دوه نور دلايل وړاندې کوي چې وايې: لومړی: ((پېغمبر په خپل حديث کې تر ځان او اصحابو روسته پېښنو ته اشاره نه کوي؛ ځکه د اصحابو حکم د آنحضرتصلی الله عليه و آله وسلم له حکم سره تړلی دی؛ نو پايله داچې، تر اصحابو روسته، راغليو واکمنو په اړه روايت دی، وينا يې د اموي خلفاوو شمېر ته اشاره ده؛ لکه چې د آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم خبره ((لايزال الدين))؛ يعنې ولايت تر هغه دوام لري، چې دولس تنه واکمن شي. بيا اوضاع تر لومړي حالته هم بدتريږي. په دې شمېر کې لومړی اموي خليفه يزيدبن معاويه او روستی يې مروان حمار دی، چې ((ديارلس تنه)) کيږي. عثمان، معاويه او عبدالله بن زبير نه شمېرل کيږي؛ ځکه دوی اصحاب دي، که مروان بن حکم هم (له دې امله، چې د صحابيتوب په اړه يې اړپېچ دی او د عبدالله بن زبير پر وړاندې يې ماته وخوړه او خلک پر ابن زبير راټول شول) ترې وباسو؛ نو

[1]. وګورئ: ابن کثير، تاريخ٦/٢٤٩-٢٥٠.

((دولس تنو شمېر)) رښتیا کېږي. له امویانو، چې خلافت ووت؛ نو سترې فتنې، ګډوډۍ او خونړۍ حالت رامنځ ته شو، تردې چې عباسیانو حالات کابو کړل او حالات یې له بیخه واړول)) [1]
ابن حجر په ((فتح الباري)) کې دا استدلال رد کړی دی.
دویم: ابن جوزی دا برخه له هغې لیکنې راخستې ده، چې((ابوالحسین ابن منادي)) د ((مهدي)) په اړه کښلې ده او وایي: دا شونې ده، چې دا موضوع تر مهدی روسته حالاتو پورې اړوند وي، چې په آخرالزمان کې راووځي؛ ځکه ما د ((دانیال)) په کتاب کې لیدلي، چې مهدي وفات شي؛ نو ((سبط اکبر)) له کړوسو پینځه تنه واکمنۍ ته رسي، ورپسې د ((سبط اکبر)) له کړوسیو پینځه تنه د دوی روستۍ د((سبط اکبر)) یو تن خپل وصي کوي، چې روسته یې خپل زوی واکمنېږي او په دې توګه ((دولس تنه)) واکمنېږي، چې هر یو یې امام او مهدی دی))
همدا راز وایي: ((په بل روایت کې دي، چې روسته ترې دولس تنه نارینه (شپږ تنه د حسن اولاده، پینځه تنه د حسین اولاده او بې له دوی یو تن) حکومت ته رسي او داچې روستۍ تن مومي؛ نو فساد نړیوالېږي.))
ابن حجر په صواعق کې پردې حدیث یو لمن لیک کښلی او وایي: ((دا یو خوشی روایت دی، چې ډاډ پرې نشته)) [2]
بله ډله وایي: ((غالب ګومان دادی، چې پیغمبراکرم په دې حدیث کې تر ځان روسته له عجایبو خبر کړي یو؛ هغه فتنې، چې خلک په یوه وخت کې تالاترغۍ کوي او د((دولسو تنو امیرانو)) ولکې ته یې راکاږي او که یې بې له دې غوښتي وای؛ نو یې ویل: ((دولس امیران دي، چې دغسې کوي)) او داچې دغسې ځانګړنې یې ورته ویلي نه دي؛ نو پوهېږو، چې دوی به پر یوه وخت کې وي.)) [3]
ویلي یې دي: پر پینځمه لېږدیزه پېړۍ کې په ((اندلس)) کې یوه پېښه وشوه، چې شپږو تنو ځانونه ((خلیفه)) ګڼل، پردې سر بېره، د مصر واکمن، د بغداد عباسي خلیفه او له علویانو او خوارجو او همدا راز د خلافت نور مدعیان هم ول. [4]

---

[1]. وګورئ: فتح الباري١٦/٣٤٠مخ. [دا مخونه یې د ابن جوزي له ((کشف المشکل)) نه راخستې ده]
[2]. فتح الباري١٦/٣٤١. ؛ الصواعق المحرقه: ١٩مخ.
[3]. فتح الباري١٦/٣٣٨.
[4]. د نووي شرح١٢/٢٠٢. ؛ فتح الباري١٦/٣٣٩مخ.

ابن حجر ددې مخونې په اړه وايي: دا د هغه چا خبره ده، چې تش په بخاري کې په لنډه يو راغلي حديث پوهېږي؛ نو نور څه. [1]
او همدا راز وايي: په يوه وخت کې شتون يې، ګډوډي او بېلتون دی او د حديث مرادېدای نشي.))
وګورئ: تېره سر چينه.
نو د همدې څېرنې له مخې د هېواد ستر عالمان او فرهنګي شخصيتونه؛ لکه محمد جلال الدين بلخي (٦٧٢س مړ) شيخ نورالدين عبدالرحمان جامي (٨٩٨س مړ) شيخ سليمان قندوزي حنفي او خوشال بابا او همدا راز امام جويني په فرايد السمطين کې، شيخ علي بن محمد مالکي په ابن صباغ مشهور (٨٥٥س مړ) په خپلو اثارو کې د دولس ګونو امامانو نومونه راخلي.

## ددې روايتونو حقيقي مفهوم

د دولس ګونو امامانو په اړه، چې کوم روايتونه راغلي، که دا ټول راټول کړو او په ځير ورته وګورو؛ نو حقيقي مفهوم ترې لاس ته راځي او د هغو مخونو په ناسموالي به هم وپوهېږو، چې په دې اړه يو له بل سره اړخ نه لګوي:
١-د پېغمبر اکرم خلفا او د اسلام مخکښان تر دولسو تنو نه اوړي او ټول قريشي دي.
و يکون لهذه الامع اثنا عشر قيما کلهم من قريش: دې امت ته دولس تنه پالندويان دي، چې ټول له قريشو دي. [2]
او يا: يملک هذه الامه اثنا عشر خليفه: دې امت ته به دولس تنه خلفا وي.
اويا: يکون بعدی اثنا عشر خليفه کلهم من قريش: تر ما روسته به دولس تنه خلفا وي، چې ټول له قريشو دي.
٢-دوی پر له پسې تر قيامته په امت کې وي:
((د خلافت چارې تر هغې، چې ان په نړۍ کې دوه تنه پاتې وي، په قريشو کې به وي)) [3]
چې دا حديث د خلافت تداوم د نړۍ تر پايه اعلانوي. دا حديث [. . . دا دين، تر هغې چې دولس تنه خلفا پر تاسې واکمن وي، تر قيامته پاتې کيږي] تر قيامته د دين د پاتې کېدو زېرى

[1]. فتح الباري١٦/٣٣٨.
[2]. کنزالعمال١٣/٢٧.
[3]. صحيح مسلم (٣/٢د مصر چاپ)

راکوي او همدا راز د دولس تنو خلافت اعلانوي، په دې مانا چې پېغمبر اکرم څرګندوي، چې دین مې تر قیامته پاتې کېږي، چې دا موده د دولس ګونو امامانو د خلافت موده هم ده، چې باید لږ تر لږه له دې خلفاو د یوه عمر دومره اوږد وي، چې د خلافت وخت یې تر قیامته وغځېږي.

## د اهل سنتو په سرچینو کې د دولس ګونو امامانو نوموونه:

(الف): امام جویني [1] له عبدالله بن عباس څخه روایت کوي، چې و یې ویل: رسول اکرم وویل: ((انا سید النبیین و علی بن ابی طالب سید الوصیین و ان اوصیائی بعدی اثنا عشر اولهم علی بن ابی طالب و اخرهم المهدی: زه د پیغمبرانو ښاغلی یم او علي بن ابیطالب د وصیانو ښاغلی دی او بېشکه تر ما روسته وصیان مې ((دولس)) تنه دي، چې لومړی یې علي بن ابیطالب او روستی یې مهدي دی)).

(ب) امام جویني بیا هم په خپل سند له حضرت ابن عباس څخه روایت کوي چې و یې ویل: رسول اکرم وویل: ((په واقع کې تر ما روسته خلکو ته مې خلفاء، وصیان او حجتونه ((دولس)) تنه دي، لومړی یې زما ورور او روستی یې زما زوی دی)) ورته وویل شو: رسول الله!ورور مو څوک دی؟ورته یې وویل: ((علي بن ابیطالب)) ورته وویل شو: زوی مو څوک دی؟ورته یې وویل: ((هغه مهدي دی، هغه چې ځمکه به له عدله ډکوي لکه چې له ظلم او تېري ډکه شوې. پر هغه سوګند، چې زه یې پر حق زېری ورکوونکی او ګواښنګری لېږلی یم، که له نړۍ یوه ورځ هم پاتې نه وي، خدای به دا ورځ دومره اوږده کړي، چې زوی مې مهدي راووځي، د خدای روح عیسی بن مریم راکېوځي او ورسره لمونځ وکړي، ځمکه د پالونکي له رڼا روښانه شي او واکمني به یې ختیځ او لویدیځ راونغاړي))

(ج) امام جویني بیا هم په خپل سند روایت کوي، چې راوي وویل: وا مې ورېدل، چې رسول اکرم وویل:

((انا و علی و الحسن و الحسین و تسعه من ولد الحسین مطهرون معصومون: زه، علي، حسن، حسین او د حسین نهه تنه زامن سپېڅلي او سپینلمني یو)) [2]

---

[1]. مشهور رجالي، ذهبي په ((تذکرة الحفاظ)) (۱۵۰۵مخ کې) د امام جویني په اړه وایي: یوازېنی حدیثپوه امام، اکمل، فخرالاسلام، صدرالدین ابراهیم بن محمد بن صمویه جویني شافعي، د صوفیانو شیخ، په خورا ځیر یې روایتونه راټولول او ټکیو او اجزاوو ته یې پوره پام و. "غازان شاه" د ده له لارې اسلام ومانه.

[2]. الف، ب او ج احادیث په فرائدالسمطین کتاب کې راغلي، چې د دې کتاب خطي نسخه د تهران پوهنتون په مرکزي کتابتون کې شته

د اسلام د تاریخ په اوږدو کې واکمنو هڅه کړې، چې دغسې احادیث د اسلامي امت له لاسرسی لرې وساتل شي؛ خو بیا هم عالمانو خورا هڅې کړي، چې احادیث د خلکو غوږونو ته ورسول شي، موږ دلته د خپلې موضوع سره په اړه هغه متواتر روایتونه راوړو، چې د دولس گونو امامانو نومونه پکې دي.

## د دولس گونو امامانو نومونه

## لومړی امام: اميرالمؤمنين علي كرم الله وجهه

پلار: ابوطالب بن عبدالمطلب بن هاشم
مور: فاطمه بنت اسد بن هاشم
كنيه: ابوالحسن و الحسين ابوتراب
لقب: اميرالمؤمنين
زوكړه: په كعبه كې، [1] تر ((عام الفيل)) دېرش كاله روسته.
شهادت: پر څلوېښتم لېږديز كال يو خارجي عبدالرحمن بن ملجم شهيد كړ او له كوفې بهر په نجف اشرف كې ښخ شو.
د حضرت علي كرم الله وجهه مور، فاطمه بنت اسد د دوه ځانې پر حال پر طواف بوخته وه، چې د زوكړې درد پرې راغی، په دې وخت كې د كعبې په دېوال كې چاود رامنځ ته شو او هغه ورننووته او زوی يې ((علي)) وزيږېد. په دې اړه د زياتو معلوماتو لپاره وگورئ:

## دويم امام: حسن بن علي بن ابيطالب

مور: فاطمه الزهرا د رسول اكرم لور
كنيه: ابومحمد
لقب: سبط اكبر، مجتبی
زوكړه: په مدينه كې په لېږديز درېيم كال د رمضان په نيمايي كې
شهادت: د پينځوسم لېږديز كال د صفرې پر اته ويشتم شهيد شو او د مدينې په بقيع هديره كې ښخ شو.

---

[1]. د حضرت علي كرم الله وجهه مور، فاطمه بنت اسد ددوه ځانې پر حال، پر طواف بوخته وه، چې د زوكړې درد پرې راغی. په دې وخت كې د كعبې په دېوال كې چاود رامنځ ته شو او ورننووته او زوی يې علی وزيږېد. د زياتو معلوماتو لپاره وگورئ: د حاكم مستدرک۴۸۳/۳؛ تذكرة خواص الامه ۱۰مخ؛ د ابن مغازلي مناقب: ۷مخ.

## دریيم امام: حسين بن علي بن ابيطالب

مور: فاطمه الزهرا د پیغمبراکرم لور

کنیه: ابوعبدالله

لقب: سبط، د کربلا شهید

زوکړه: په مدینه کې پر لېږدیز څلورم کال د شعبان دریيمه

شهادت: پر ٦١س د محرم پر لسمه له خپلو اهلبیتو او یارانو سره یزیدیانو په کربلا کې شهیدان کړل او زیارت یې د عراق په کربلا کې دی.[١]

## څلورم امام: علي بن الحسين

مور: غزاله یا د ښځو پاچا

کنیه: ابوالحسن

لقب: زین العابدین، سجاد

زوکړه: ٣٣یا٣٧یا٣٨س په مدینه کې

شهادت: پر٩٤س پر شهادت ورسېد او په بقیع کې د خپل تره امام حسن تر څنګ ښخ شو.[٢]

## پینځم امام: محمد بن علي

مور: ام عبدالله د امام حسن بن علي لور

کنیه: ابوجعفر

لقب: باقر

زوکړه: ٥٧س، مدینه

---

[١]. د علي او دوه زامنو حسن او حسین د حالاتو شرح او د ٥٠، ٤٠او٦٠هجري کلونو پېښې په طبري، ابن اثیر، ذهبي او ابن کثیر تاریخ کې ولولئ او همدا راز د حالاتو شرح یې په بغداد تاریخ، دمشق تاریخ، استیعاب، اسدالغابه، اصابه او د ابن سعد په طبقاتی کې ولولئ.

[٢]. د ٩٤س پېښې د ابن اثیر، ابن کثیر او ذهبي په تاریخونو کې ولولئ او همدا راز د امام د حالاتو شرح د ابن سعد په طبقاتو، حلیة الاولیاء، وفیات الاعیان، یعقوبي تاریخ(٣٠٣/٢) او مسعودي تاریخ (١٦٠/٣مخ) کې ولولئ.

شهادت: پر۱۱٤پا۱۱۷س په مدینه کې شهید کړای شو او په بقیع کې د خپل پلار تر څنګ ښخ شو. [۱]

## شپږم امام: جعفربن محمد

مور: ام فروه د قاسم بن محمد بن ابي بکر لور

کنیه: ابو عبدالله

لقب: صادق

زوکړه: ۷۳س، مدینه

شهادت: ۱٤۸س شهید شو او په بقیع کې د خپل پلار تر څنګ ښخ شو. [۲]

## اووم امام: موسی بن جعفر

مور: حمیده

کنیه: ابوالحسن

لقب: کاظم

زوکړه: ۱۲۸س، مدینه

شهادت: پر ۱۸۳د هارون الرشید عباسي خلیفه زندان په بغداد کې شهید شو او د قریشو په هدیره کې، د ننني بغداد په لویدیځ کې (په کاظمه ښار مشهور) ښخ شو. [۳]

## اتم امام: علي بن موسی

مور: خیز ران

کنیه: ابوالحسن

لقب: رضا

زوکړه: ۱۵۳س، مدینه

---

[۱]. ذهبي، تذکرة الحفاظ، وفیات الاعیان، صفوة الصفوة، حلیة الاولیاء. یعقوبي تاریخ۳۲۰/۲مخ. ذهبي، تاریخ الاسلام. ابن کثیر، تاریخ (د۱۱۷، ۱۱۵او۱۱۸کلونو پیښې، د امام باقر د حالاتو شرح)

[۲]. په حلیة الاولیاء، وفیات الاعیان، یعقوبی تاریخ(۳۸۱/۲) او مسعودي تاریخ (۳٤٦/۳مخ) کې د امام جعفر د حالاتو شرح ولولئ.

[۳]. مقاتل الطالبین، بغداد تاریخ، وفیات الاعیان، صفوة الصفوة، ابن کثیر تاریخ (۱۸/۲) او یعقوبي تاریخ (٤۱۳/۲) کې د امام کاظم د حالاتو شرح ولولئ.

شهادت: ۲۰۳س، د خراسان په طوس کې ښخ دی.[1]

## نهم امام: محمد بن علي

مور: سکينه

کنيه: ابوعبدالله

لقب: جواد

زوکړه: ۱۹۵س، مدينه منوره

شهادت: پر ۲۲۰س په بغداد کې شهيد او د خپل نيکه موسی بن جعفر په څنګ کې ښخ شو.[2]

## لسم امام: علي بن محمد

مور: سمانه مغدبيه

کنيه: ابوالحسن عسکري

لقب: هادي

زوکړه: ۲۱٤س، مدينه منوره

شهادت: پر۲٥٤س شهيد شو او د عراق په سامرا کې ښخ شو.[3]

## يولسم امام: حسن بن علي

مور: د سوسن په نامه ام ولد

کنيه: ابومحمد

لقب: عسکري

زوکړه: ۲۳۱س، سامرا

شهادت: پر ۲٦۰س شهيد شو او په سامرا کې ښخ دی.[4]

---

[1]. (۱) بحارالانوار۱۳/٤۹و۷مخونه؛ په طبري تاريخ، د ذهبي په تاريخ الاسلام، وفيات الاعيان، يعقوبي تاريخ (٤٥۳/۲) مسعودي تاريخ (٤٤۱/۳) او کامل تاريخ کې د امام رضا د حالاتو شرح ولولئ.

[2]. د بغداد تاريخ (٥٤/۳) وفيات الاعيان، شذرات الذهب (٤۸/۲) مسعودي تاريخ (٤٦٤/۳)

[3]. بغداد تاريخ (٥٦/۱۲)، وفيات الاعيان، يعقوبي تاريخ (٤۸٤/۲) مسعودي تاريخ (۸٤/٤)

[4]. وګورئ: وفيات الاعيان، تذکرة الخواص، د شيخ کمال طلحه شافعي (٦٥٤س مړ) مطالب السول (مناقب آل رسول)، يعقوبي تاريخ (٥۰۳/۲)

## دولسم امام: حجة بن الحسن

مور: د نرجس یا صیقل په نامه ام ولد
کنیه: ابوعبدالله، ابوالقاسم
لقب: قائم، منتظر، خلف، مهدي، صاحب الزمان
زوکړه: ۲۵۵س، سامرا
امام مهدي له ((دولس گونو امامانو)) روستی امام دی، چې تر اوسه ژوندی دی، چې کله خدای وغواړي، په امر به یې راپاڅي او نړۍ به له قسط وعدله ډکه کړي.

## د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وصیان؛

## د شریعت ساتندویان او مبلغان

پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم د خدای په امر د شریعت ساتنې، تبلیغ او د احکامو پلي کولو ته خپل دولس تنه وصیان وټاکل، چې دې چارو د وصیانو په زمانه کې دوه څیزونه لازم گڼل:
(الف) پېغمبر خپلو وصیانو ته د اسلام شریعت تبلیغاوه.
(ب) وصیانو په مسلمانانو کې اسلامي شریعت خپراوه.
دلته پر دواړو چارو رڼا اچوو:
(الف) پېغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم خپلو وصیانو ته د اسلام شریعت تبلیغاوه. په قرآن کریم کې د حقایقو جرړه او د اسلام احکام دی، چې د شرح ذمه واري یې پر پېغمبراکرم او د اسلام پر نورو لومړیو درجو مبلغانو ده. پر رسول اکرم چې څه وحې کېدل او بشر ورته تر قیامته اړتیا درلوده، ټول یې د خپل تره زوی علي کرم الله وجهه ته املا کول او علي دا ښوونې تدوینولې. دا ښوونې په بېلابېلو ناستو کې تر سره کېدې، چې شرح کوو یې:
۱-د ښوونو منظمې ناستې ۲-د ښوونو نامنظمې ناستې

# دښووونو منظمې ناستې

له رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم سره د علي کرم الله وجهه د ښوونو د ناستو پاستو په اړه تفصيلي مطالب روايت شوي دي، چې په ((کافي)) کې د حضرت علي کرم الله وجهه له خولې لولو: ((زه د ورځې يو ځل او هم د شپې يو وار رسول اکرم ته ورتلم او راسره به گوښه کېده او چې چېرې به تله، زه به ورسره وم. ټول اصحاب پوهېدل، چې پېغمبراکرم يوازې له ما سره دغسې ليده کاته کوي او دغه کتنې زما په کور کې وې او آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم به راکره راته. که زه به د آنحضرت کور ته ورتلم؛ نو مېرمنې به يې له خونې دباندې لېږلې او يوازې له ما سره يې خبرې کولې او که زما کور ته به راغی؛ نو نه فاطمه او نه کوم اولاد مې له خونې وته. په داسې ليدو کاتو کې، چې څه مې پوښتل، پوره ځواب يې راکاوه او چې چوپ به شوم او پوښتنې مې پای ته ورسېدې؛ نو آنحضرت به پخپله خبرې پيلولې، د قرآن هر آيت، چې پر آنحضرتصلی الله علیه و آله وسلم نازل شوی، ما ته يې لوستی او ښـوولی، په خپله مې ليکلی او د هغه تاويل و تفسير، ناسخ و منسوخ، محکم و متشابهه او خاص و عام يې راښوولی او له خدايه يې وغوښتل، چې پر علي د پوهېدنې او ساتنې وس ولوروه. د پېغمبر تر دعا روسته د قرآن مجيد هر آيت او چې څه يې راته املا کول او کښلم مې، هېر کړي مې نه دي))

ددې روايت تر دوام مخکې د زيد بن علي بن الحسين (۱۲۱س مړ) يو روايت راوړو، چې په دې اړه نيوکې ځوابوي: ((زيد بن علي وويل: اميرالمؤمنين وويل: ((چې د ورځې به جبرئيل پر آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم د يوه څيز يا د چا په اړه، حلال و حرام او سنت يا هر ډول امر و نهی رانازلاوه؛ نو يې راښود؛ نو هله به خوب وړم))

زيد ته وويل شو: چې کله به دوی يو له بله لرې شول او د ډېر واټن له امله يې ليدای نشول؛ نو بيا يې څه کول؟زيد ځواب ورکړ: ((په کومو ورځو کې چې به ليده کاته نه کېدل؛ نو دا ورځې به د پېغمبر يادې وې؛ نو چې کله بيا علي ورته، ورته يې ويل: ((علي!پر پلانی ورځ پلانی مطلب راغلی او پر پلانی ورځ، دغسې يو مطلب رانازل شوی دی)) [1]

په تېر روايت کې د علي کرم الله وجهه خبرې راځلو:

---

[1]. بصائرالدرجات، ۱۹۷مخ، څلورم حديث؛ د نسايي سنن ۱/ ۱۷۸باب التنحنح فی الصلاة؛ د ابن ماجه سنن، کتاب الادب، باب الاستئذان۳۷۰۸حديث؛ د امام احمد حنبل مسند ۱/٦٤٧، ۸۵حديث، ۱۰۷مخ، ۸٤۵حديث او ٦۰۸حديث؛ د بخاري تاريخ ۲/٤، ۱۲۱حديث.

((رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم راته ټول اوامر او نواهي، الهي حلال او حرام راوښوول، که دا په هماغه وخت پورې اړوند و او که په راتلونکې پورې او همدا راز له هغو څیزونو یې هم خبر کړم، چې په آسماني کتابونو کې، پر تېرو پېغمبرانو نازل شوي ول او د خدای د طاعت او سرغړونې یې خبر کړي ول، ټول یې راوښوول. ما هم ټول خپل ذهن ته وسپارل او ان یو ټکی مې هم هېر نه کړ. بیا رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم خپل لاس زما پر سینه کېښود او له خدایه یې وغوښتل، چې زړه مې له پوهې، حکمت او رڼا ډک کړي.[1]

[1]. کافي ۱/۶۲-۶۳مخونه؛ وسایل الشیعه (پخوانی چاپ) ۳/۳۹٤.

مستدرک الوسایل ۱/۳۹۳؛ د طبرسي احتجاج: ۱۳٤مخ؛ تحف العقول: ۱۳۱-۱۳۲مخونه؛ وافي ۱/۶۳؛ مرآة العقول ۱/۲۱۰؛ د ابن سعد د طبقاتو دویم ټوک، دویم مخ، ۱۰۱حدیث (اروپا چاپ) کې درې حدیثونه د دې روایت په تایید کې راغلي، چې یو یې د امام احمد حنبل د مسند په خطي نسخه کې د((علي بن ابیطالب د فضایلو)) په نوم روایت شوی دی.

## نامنظمې ناستې

ددې ډول ناستو په اړه لاندې روایتونه لولو:
ترمذي کاږي: له حضرت جابر بن عبدالله انصاري [1] روایت شوی، چې ویلي یې دي: ((د طایف په غزا کې رسول اکرم، علی کرم الله وجهه راوغوښت او په گوښه کې ورسره په خبرو شو، خلکو[په نیوکې ]وویل: د خپل تره زوی علي سره یې پسپسکې (نجوا) څومره اوږدې شوی!!دا خبره چې رسول اکرم ته ورسېده؛ نو یې وویل: ((ما له ځانه ورسره پسپسکی نه دي کړي؛ بلکې دا خدای دی، چې ورسره پسپسکې کوي)). [2]
ترمذي ددې حدیث په توضیح او څرگندونې کې وایي: ((د خدای پسپسکې))؛ یعنې خدای پېغمبر ته امر کړی، چې له علي سره پسپسکې وکړي.
اوس گورو، چې واقعاً څه مساله وه، چې رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم د خدای په امر، له علي کرم الله وجهه سره او هغه هم د طایف په غزا کې پسپسکې کوي؟!
ایا په دې گوښه کېناستو کې، پوځي سلا مشوره وه؟ حال دا، پېغمبر په جگړییزو چارو کې له ټولو سره مشوره کوله او له ځانگړي سړي سره یې مشوره نه کوله، چې د بدر، احد، خندق او. . . غزاگانو کې دا مطلب په تاریخ کې ثبت شوی دی.
نو له ناچارۍ باید ومنو، چې دا لیده کاته او په څېر یې د هماغو منظمو لیده کاتو شمېرۍ ده. پر ځای ده، چې ووایو، دا لیده کاته شونې ده، چې هماغه وي، چې((زید بن علي بن الحسین)) یې یادوي. [3]
تردې ځایه پوه شو، چې په منظمو او نامنظمو ناستو کې پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم علي کرم الله وجهه ته اسلامي علوم؛ گروهې او احکام ورښوول او سپارل.

---

[1]. جابربن عبدالله بن عمر انصاري (رض) د رسول اکرم یو صحابي دی، چې امام باقر یې لیدلی. تر اویاوم لېردیز کال روسته په مدینه کې ومړ. (تقریب التهذیب ۱۲۲/۱)

[2]. صحیح ترمذي: کتاب المناقب: باب مناقب علي۱۳/ ۳۱۰-۳۱۱مخونه له جابربن عبدالله انصاري یې روایت کړی؛ ابن کثیرتاریخ/۳۵۶مخ؛ اسدالغابه۲۷/٤ په څېر یې له جندب بن ناجیه (یا ناجیه بن جندب) څخه په کنزالعمال (حیدر آباد چاپ) ۳۹۹/٦ او دویم چاپ، ۲۰۰/۱۲مخ، ۱۱۲ حدیث؛ الریاض النضره۲۶۵/۲مخ.

[3]. ورته لیدنې په مدینه کې وې، چې په تفاسېرو کې تر نجوی آیت [د مجادلې۱۱۲و۱۳آیتونه] لاندې ورته اشاره شوې، د ډېرو معلوماتو لپاره وگورئ: معالم المدرستین ۳۲۲/۱.

## نورو وصيانو ته الهي علوم وليکه

د شيخ طوسي په امالي(۵٦/۲) بصائرالدرجارت (۱٦۷مخ) او د شيخ قندوزي حنفي په ينابيع المودة (۲۰مخ) کې راغلي: احمد بن محمد بن على بن امام باقر له خپلو پلرونو روايت کوي: رسول اکرم، حضرت علي ته وويل: ((چې څه وايم، ويې ليکه)) علي وپوښتل: رسول الله!وېرېږې، چې هېر به يې کړم؟ورته يې وويل: نه يې هېروې او له دې اړخ درباندې نه ډارېږم، له خدايه مې غوښتي، چې دا علوم دې په حافظه کې وساتل شي او په هېر اخته نشې؛ بلکه[د خلافت په چارو کې]شريکانو ته دې يې وليکه.

علي وپوښتل: رسول اللهصلى الله عليه و آله وسلم !شريکان مې څوک دي؟

رسول الله ورته وويل: ((ستا له ځوځاته امامان دي، چې له برکته يې، پر امت مې د رحمت باران اوري. له امله يې دعا قبلېږي، د شتون له امله يې خداى زما له امته بلاگانې او افتونه لرې کوي او له امله يې، له اسمانه، الهي لورنه پرې ورنازلېږي)) بيا يې به گوته امام حسن ته اشاره وکړه او ويې ويل: ((دا يې لومړنى دى)).

روسته يې حسين ته اشاره وکړه او ويې ويل: ((امامان ددې له ځوځاته دي)).

## دوه ډله تبليغ

چې خداى خپل پيغمبر ته وحې کوله، د تبليغ له اړخ يې په دوه ډوله وېشل کېږي:

لومړى هغه برخه ده، چې د ويلو لپاره يې شرايط چمتو ول او آنحضرت صلى الله عليه و آله وسلم مخامخ خلکو ته ويل.

دويمه هغه برخه ده، چې تر پيغمبراکرم روسته وخت کې عمل پرې وشي، چې دا برخه يې يوازې علي کرم الله وجهه ته ښووله او علي دواړه برخې مطالب په بېل کتاب کې په خپل لاس کښل. دې کړلار دوام درلود، تر هغې چې د بېلتون او له پيغمبر سره د وحې د خداى پامانۍ وخت راورسېد. پيغمبر د ژوند په روستيو شېبو کې په يوې مهمې ځانگړې ناسته کې روستي الهي ښوونې امام علي کرم الله وجهه ته ولېږدولې.

## د ښوونې روستۍ ناسته

عبدالله بن عمروعاص (رض) وايې: رسول اکرم په روستۍ ناروغۍ کې وويل: ((ورور مې راوبولئ)) علي ورته راغی. پېغمبر اکرم پرې خپل څادر واچو او پټ يې کړ او ځان يې پوره ورنژدې کړ او په ورو يې ورسره خبرې وکړې.[1]

ام سلمه رضی الله عنها دا داستان داسې نقلوي:

((پر هغه قسم، چې دا سوگند پرې يادوم، په واقع کې علي روستی تن و، چې له پېغمبر سره يې خبرې وکړې. گهيځ مهال د آنحضرت پوښتنې ته ورغلو، په څو څو ځل يې پوښتل: ((آيا علي راغی؟ آيا علي راغی؟)) فاطمې بي بي وويل: ((لکه چې هغه يې په کوم کار پسې لېږلی و!؟)) څه وخت روسته علي راغی. پوهېدم، چې آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم له علي سره څه کار لري؛ نو له نورو سره له خونې راووتو او په درشل يې کېناستو، زه تر نورو خونې ته نژدې وم، رسول اکرم خپل ځان پوره علي کرم الله وجهه ته ورنژدې کړ او په راز لگيا شول. آنحضرت پر همدې ورځ وفات شو؛ نو ځکه روستي تن، چې خبرې ورسره وکړې، علي کرم الله وجهه و.[2]

خپله امام علي کرم الله وجهه په دې اړه وايې: رسول اکرم په روستۍ ناروغۍ کې وويل: ((رور ته مې ووايه، چې راشي)) بيا يې وويل: ((رانژدې شه)). ورنژدې شوم. بيا يې راباندې ډډه ووهله او خبر يې راسره کولې-داسې چې کله يې د خولې لاړې رارسېدې-تردې چې د رحلت وخت يې راورسېد او زما په غېږ کې وفات شو.[3]

په تېرو احاديثو کې مو وکتل، چې رسول اکرم ټول اسلامي معارف او علوم، علي ته املا کړل او په يوه کتاب کې يې ور ته ډالۍ پرېښوول، چې د اسلام ټولگه د «کښلي سند» په توگه د خپل ځوځات امامانو ته وسپاري.

---

[1]. ابن عساکرتاريخ (د بيروت چاپ، ۱۳۵۹س) ترجمه الامام علي؛ ابن کثير تاريخ۳۵۹/۷؛ کنزالعمال (لومړی چاپ) ۳۹۲/۶.

[2]. دا حديث د حاکم په مستدرک او د ذهبي په لنډيز۱۳۹/۳مخ کې سم او صحيح گڼل شوی دی؛ د حاکم په مستدرک (۳/۱۴-۱۷مخونه، باب کان اقرب الناس عهداً برسول الله(ص)]کې د حضرت د حالاتو په شرح کې د څو اسنادو روايت شوی دی؛ ابن ابی شيبه، مصنف۳۴۸/۶؛ مجمع الزوايد۱۱۲/۹؛ کنزالعمال (دويم چاپ) ۱۲۸/۱۵؛ تذکره خواص الامه: باب حديث النجوی والوصيه.

[3]. د ابن سعد طبقات، باب من قال توفی رسول الله فی حجر علی بن ابيطالب. د اروپا چاپ۵۱/۲.

## وصیان په مسلمانانو کې اسلامي شریعت خپروي

## جامعه یا د امام علي کتاب

په کافي او بصائرالدرجات کې له ابوبصیره [1] یو روایت شوی، چې موږ یې کټ مټ له ((کافي)) [2] راخلو:

ابوبصیر ویلي دي: امام جعفرصادق ته ولاړو، ورته مو وویل: ځار مو شم، پوښتم؛ ایا دلته څوک شته، چې خبرې مې واوري؟)) امام تر څنګ خونې پرده وکاږله او سر یې دننه کړ او راته یې وویل: ((ابومحمده! وپوښته)). و مې ویل: ستا لارویان د احادیثو په ترڅ کې مدعي دي، چې رسول اکرم د علي پر مخ داسې یو ور پرانستی، چې زر نور ورونه ترې پرانستلېږي. امام ورته وویل: ((ابومحمده!موږ جامعه لرو او هغوی څه پوهېږي، چې جامعه څه ده)) و مې پوښتل: ځار دې شم؛ جامعه څه ده؟ امام راته وویل: ((د رسول اکرم په ذراع، یوه اویا ذراع اوږده صحیفه ده، چې د آنحضرتصلی الله علیه و آله وسلم له مبارکو شونډو، چې هر څه راوتلي، هغه یې علي ته املا کړي او علي په خپل لاس کښلي دی. په دې صحیفه کې ټول حلال او حرام او هر څیز، چې خلکو ورته اړتیا درلوده او لري، په اړه یې خبرې شوي ان د بدن د پوټکی د سرسري ګرولو دیه)) بیا یې لاس زما پر اوږه کېښود او راته یې وویل: ((ابومحمده!اجازه راکوې)) ځواب مې ورکړ: ځار دې شم، ستا په واک کې یم، چې څه غواړې ویې کړه. بیا یې په خپل لاس زما اوږې ته زور ورکړ او ویې ویل: ((ان ددې دیه!)) او مطلب یې په غوسه ووایه. و مې ویل: پر خدای قسم، چې دا پخپله علم دی))

د امام علي د کتاب (جامعې) په اړه ګڼ شمېر روایتونه راغلي دي، چې موږ یې پر همدې یوه بسیا کوو.

اوس په دې خبره لګیا کېږو، چې تر امیرالمؤمنین روسته امامانو، د امام کتابونه په تېره جامعه د خپل دوران له پای ته رسېدو روسته څرنګه بل امام ته امانت ورسپارله.

---

[1]. سلیم بن قیس ابوصادق الهلالي العامری، د حضرت علي له یارانو او امامان یې تر حضرت سجاده لیدلي دي (قاموس الرجال٤/٤٤٥)

[2]. کافي ١/٢٩٧-٢٩٨مخونه او وافي ٢/٧٩مخ.

## له امامانو سره د امام علي كرم الله وجهه كتابونه

## *د امام حسن، امام حسين او امام سجاد مواريث

شيخ كليني په اصول كافي كې د سليم بن قيس روايت داسې راوړی: زه امام حسن ته، د اميرالمؤمنين د وصيت شاهد وم. حضرت علي تر وصيت روسته، حسين، محمد حنفيه، ټول زامن، د شيعه و مشران او كورنۍ يې پرې گواه ونيوه، بيا يې كتاب او خپله وسله خپل زوی امام حسن ته وسپارل او ويې ويل: ((زويه!رسول اكرمصلی الله عليه و آله وسلم امر راته كړی و، چې تا خپل وصي كړم او كتابونه او وسله مې دروسپارم؛ لكه چې رسول اكرم زه خپل وصي كړی وم او كتابونه او وسله يې راوسپارله. همدا راز حكم يې راته كړی، چې حكم درته وكړم، چې مرگ دې راورسېد، دا به دې خپل ورور حسين ته ورسپارې)) بيا اميرالمؤمنين حسين ته وويل: ((او رسول اكرم تا ته هم حكم كړی چې دابه خپل زوی علي بن الحسين ته ورسپارې)) بيا يې د علي بن الحسين لاس ونيو او ورته يې وويل: ((رسول اكرم تاته هم لارښوونه كړې، چې دا به خپل زوی ((محمد)) ته سپارې او د رسول اكرم او زما له لوري ورته سلام ورسوه)).

بيا په كافي او بصائرالدرجات كې دغسې راغلي دي، چې حمران [1] وايي: له ابوجعفرامام باقر عليه السلام نه مې د هغې مهر او موم شوې صحيفې په اړه وپوښتل، چې له حضرت ((ام سلمې)) بي بي سره په امانت اېښوول شوې وه او خلكو يې په اړه خبرې كولې. امام راته وويل: ((د رسول اكرم چې اجل راورسېد، علي د رسول اكرم علم، وسله او[د امامت له مواريثو] چې څه ورسره ول، په ميراث يووړل. [دا علوم، معارف او د رسول اكرم وسله همداسې له حضرت علي سره وه] تردې، چې حسن او وروسته حسين ته ورسېدل. هغه مهال، چې د دښمنانو له برلاسۍ ډارېدو؛ نو نيكه مې حسين دا څيزونه له حضرت ((ام سلمه)) بي بي سره په امانت كېښوول او بيا علي بن الحسين ترې واخستل))

ما ورته وويل: ډير ښه[نو څكه] بيا ستا پلار ته ورسېدل او وروسته تا ته. امام ځواب راكړ: ((هو همداسې ده!)) [2]

---

[1].) ابوحمزه يا ابوالحسن حمران بن اعين شيباني او يو ډاډمن تابعي دی، چې له امام باقر او امام جعفرصادق يې روايتونه كړي دي. (قاموس الرجال٤١٣/٤)

[2]. كافي ٢٣٥/١. بصائر الدرجات ١٨٦، ١٧٧ او ١٨٨ مخونه. وافي ٣٢١/٢.

## د امام محمدباقر مواريث

په کافي، اعلام الورى، بصائرالدرجات او بحارالانوار کې د عيسى بن عبدالله [1] له پلاره، له نيکه يې داسې روايت دى:

((د امام سجاد د مړينې پر مهال، اولادونه يې ترې راټول ول او چې سترگې يې پر محمد بن علي (باقر) ولگېدې ورته يې وويل: ((محمده!دا صندوق واخله او خپلې خونې ته يې يوسه))

بيا امام خپلې خبرې ته دوام ورکړ او و يې ويل: ((په دې صندوق کې څه دينار او درهم نشته؛ بلکې له علومو ډک دى)) [2]

له امام صادق عليه السلام روايت دى: ((مخکې تردې، چې امام سجاد وفات شي، ټوکرۍ يا صندوق يې راوړ او خپل زوى ته يې وويل: محمده! دا صندوق يوسه. هغه هم صندوق په څلورو تنو يووړ. د امام سجاد تر وفات روسته ترونو مې له صندوقه خپله برخه غوښته، امام باقر ورته وويل: پر خداى قسم ستاسې برخه پکې نشته، که ورکې واى؛ نو پلار مې ماته نه راسپاره))

[بيا امام صادق زياتوي:] ((په صندوق کې د رسول اکرم وسله او کتابونه ول)) [3]

## د امام صادق مواريث

په بصائرالدرجات (۱۵۸مخ) کې له زُراره روايت دى، چې امام صادق وويل: ((لا امام باقر ژوندى و، چې هغه مواريث او کتابونه راولېږدول شول))

په قاموس الرجال (۱۵٤/٤) کې راغلي: زراره، ابوالحسن او نوم يې عبدربه د اعين زوى دى، چې له امام صادق يې روايتونه کړي او پر ۱۵۰ومړ.

---

[1]. عيسى بن عبدالله بن عمربن علي بن ابيطالب، د امام صادق له يارانو و او ډېر احاديث يې ترې روايت کړي دي. (قاموس الرجال ۲۷۵/۷-۲۷۶)

[2]. کافي ۳۰۵/۱؛ اعلام لورى: ۲۶۰مخ؛ بصائرالدرجات: ٤٤مخ، بحارالانوار ۲۲۹/٤٦، وافي ۸۳/۲.

[3]. کافي ۳۰۵/۱، وافي ۸۲/۲مخ، بصائرالدرجات: ۱۶۵مخ، اعلام الورى: ۲۶مخ، بحارالانوار: ٤٦ټ: ۲۲۹مخ.

## د امام موسی بن جعفر مواریث

د نُعماني په ((غیبت)) کتاب (۱۷۷مخ) او د مجلسي په بحارالانوار (۲۲/٤٨) کې له "حماد صائغ" روایت دی: . . . امام جعفرصادق امام کاظم ته اشاره وکړه: ((دا د علي د کتاب وارث او مالک دی))

## د امام رضا مواریث

په کافي، د مفید په ارشاد، دشیخ نعماني په ((غیبت)) او بحارالانوار کې له امام کاظم روایت دی: ((علي مې مشر زوی، خورا ښه سړی او راته ګران دی او زما ترڅنګ جعفر ته ګوري، چې بې له پېغمبر یا وصي یې بل څا ورته نه دي کتلي)) [1]

## امامانو"جامعې"ته مراجعه کوله

## *"جامعه" د امامانو مرجع کتاب و

امام علي بن الحسین زین العابدین لومړی امام و، چې د امیرالمؤمنین د کتاب په اړه یې خبرې کړي دي، چې دا مطلب په کافي، من لایحضره الفقیه، تهذیب، معانی الاخبار او وسایل الشیعه کتابونو کې راغلی دی، چې دلته موږ د کافي نقل راخلو:
له "ابان بن تغلب" روایت شوی: علي بن الحسین د څا په اړه وپوښتل شو، چې د خپلې شتمنۍ د یوې برخې په باب یې وصیت کړی و؛ یعنې مبهم وصیت یې کړی و، چې له شتمنۍ مې یوه برخه په پلاني ځای کې ولګوي؛ خو اندازه یې ورته ټاکلې نه وه او د((شئ من مالی)) عبارت یې ورته کارولی و) امام ورته په ځواب کې وویل: ((د علي په کتاب کې شپږمه برخه شمېرل کېږي)) [2]

---

[1]. وګورئ: کافي ۳۱۱/۱. مفید، ارشاد: ۲۸۵مخ، شیخ نعماني: الغیبة: ۲۸مخ، وافي ۸۲/۲، بصائرالدرجات: ١٦٤مخ.

[2]. کافي ٤٠/٧؛ من لایحضره الفقیه ١٥١/٤؛ معاني الاخبار: ۲۱۷مخ؛ تهذیب ۲۱۱/۹؛ وسایل الشیعه ٤٥٠/١٣.

همدار راز امام ویلي دي: ((د علي په کتاب کې راغلي: درې خویونه دي، چې خاوند یې تر هغې نه مري، چې په ژوندون یې زیان ونه مومي چې دا دي: سرغړونه، له خپلوانو سره پرېکړه او پر دروغو قسم)) [1]
امام باقر او امام صادق ددې کتاب متن ځینو یارانو؛ لکه زراره، محمدبن مسلم [2] عمروبن اذینه [3] ابوبصیر، ابن بُکیر [4] عبدالملک بن اعین [5] او متعب [6] ته لوستی دی.
همدا راز اهل سنتو ته یې هم پرانستی، چې لاندې روایت دې مطلب ته اشاره ده: نجاشي روایت کړی:
عذافرحیرفي [7] له حکم بن عُتیبه [8] سره امام باقر ته ولاړل، حکم خبرې پیل کړې او مسالې یې مطرح کړې او امام سره له دې، چې حکم یې ښه نه ایسېده، پوښتنې یې ځوابولې، تردې چې د یوې مسالې په اړه یې ورسره اړیپچ پیدا شو[او حکم د امام ځواب نه مانه]. پر دې وخت، امام خپل زوی ته وویل: ((پورته شه او د علي کتاب راوړه)) کتاب یې راوړ، چې د اوږدې شمېرۍ په څېر رانغاړل شوی و. امام پرانست او تر وینې لاندې موضوع یې پکې پیدا کړه او ویې ویل: ((دا د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم املا او د علي لیک دی)) بیا یې حکم ته وویل: ((ابواحمده! ته او سلمه [9] او ابوالمقدام [10] ختیځ او لویدیځ ته، چې ولاړ شئ او هر

---

[1]. د شیخ صدوق خصال: ۱۲٤مخ؛ د شیخ صدوق عقاب الاعمال: ۲٦۱مخ؛ وسایل الشیعه۱۱۹/۱٦؛
[2]. په قاموس الرجال (۳۷۸/۸) کې راغلي: ابوجعفر او قص محمد بن مسلم بن ریاح طحان، له امام باقر روایت کړی او د((اربعمائة مسالة فی ابواب الحلال والحرام)) د کتاب لیکوال دی. پر ۱۵۰س ومړ.
[3]. وایي: نوم یې محمد بن اذینه و، چې د پلار نوم یې پر خپل نوم وړاندې شوی دی. د امام صادق له یارانو و؛ (معجم رجال الحدیث۲۱/۱۳)
[4]. عبدالملک بن اعین، ابوفراس شیباني دی، چې له امام باقر او امام صادق یې روایتونه کړي او د امام صادق پر مهال له دنیا ولاړ (قاموس الرجال۱۸۱/٦)
[5]. متعب، د امام صادق ازاد کړای شوی دی. د عباسي خلیفه منصور دوانیقي د حکم له مخې په زرو کوړو ووهل شو، چې ترې ومړ(قاموس الرجال٤۷/۹)
[6]. معالم المدرستین ۳۳۹/۲-۳٤۳.
[7]. عذافر بن عیسی خزاعی صیرفی کوفي له امام جعفرصادق یې روایتونه کړي دي (قاموس الرجال۲۹۵/٦)
[8]. حکم بن عتیبه د کوفې دی، له امام باقر او امام صادق یې روایتونه کړي دي، پر۱۱۳یا۱۱٤یا۱۱۵په شپېته کلنۍ کې ومړ د اهل سنتو په صحاحو کې ترې روایتونه شوي دي؛ قاموس الرجال۳۷۵/۳؛ تهذیب ۲۹۲/۱.
[9]. سلمه بن کهیل، ابویحیی حضر مي کوفي دی. امام باقر او امام صادق یې کتلي دي (قاموس الرجال٤۳۹/٤)
[10]. ابوالمقدم، ثابت بن هرمز د پارس یو ښی و، امام باقر او امام صادق یې کتلي دي (قاموس الرجال۲۸۷/۲-

چېرې، چې ولاړ شئ، پر خدای قسم کوم، داډمن علم، چې له موږ کورنۍ سره دی او جبرئیل راکوز کړی، له بل هیچا سره به یې ونه مومئ)) [1].
د نبوي کورنۍ امامانو کله د یوې مسالې حکم د امام علي له کتابه وایه او د کتاب نوم یې یاداوه او کله یې هماغه حکم بې د کتاب له یادولو ښووه، چې موږ دا مطلب د((معالم المدرستین)) په دویم ټوک۳٤٤مخ کې شرح کړی دی.
نو له همدې امله د نبوي کورنۍ د امامانو ټول احادیث ((واحد)) سند لري او احادیث یې له یوه بیخه راولاړ شوي او له پوره یورنګوالي برخمن دي.
هشام بن سالم [2] حماد بن عثمان [3] او نورو روایت کړی، چې امام صادق ویلي: ((زما حدیث، زما د پلار حدیث دی او د پلار حدیث مې، د نیکه حدیث دی او د نیکه حدیث مې، هماغه د حسین حدیث دی او د حسین حدیث، د حسن حدیث دی او د حسن حدیث د امیرالمؤمنین حدیث دی او د امیرالمؤمنین حدیث د رسول اکرم حدیث دی او د رسول اکرم حدیث د خدای تعالی خبره ده)) [4]
حضرت جابربن عبدالله له امام باقر وغوښتل، چې حدیث دې راته وایه؛ نو سند یې وایه، امام ورته وویل: ((پلار مې، له نیکه له رسول اکرم له جبرئیل د خدای له لوري راته دغسې روایت وکړ او هر حدیث مې همدغسې دی)) [5]
له همدې امله امام صادق ((حفص بن بختري)) [6] ته وویل: ((چې څه دې له ما اورېدلي، کړای شې هغه زما د پلار له اړخ روایت کړې او چې څه دې له ما اورېدلي، اجازه لرې د رسول اکرم له اړخ یې روایت کړې)) [7]

(۲۸۹)
[1]. د نجاشي رجال: ۲۷۹مخ.
[2]. هشام بن سالم، ابو محمد جوالیقي کوفي دی. له امام صادق یې روایتونه کړي دي او یو کتاب یې هم کښلی دی (قاموس الرجال۹/ ۳۵۷.
[3]. حماد بن عثمان فرازي له امام صادق، امام کاظم او امام رضا روایتونه کړي دي (قاموس الرجال۳/۳۹۷)
[4]. کافي ۱/۵۳؛ د مفید ارشاد: ۲۵۷مخ.
[5]. د مفید امالي: ۲٦مخ
[6]. حفص بن بختري بغدادي په اصل کې د کوفې و او له امام صادق یې روایتونه کړي او کتاب هم لري (قاموس الرجال۳/۳۵۵)
[7]. وسایل الشیعه۳/۳۸۰مخ، ۸٦حدیث؛ کتاب القضا۱۸/۷٤ د بیروت چاپ، داراحیاءالتراث العربي.

یو شاعر په دې باب ښومره ښه ویلي دي: ((له داسې کسانو سره دوستي وکړه او لار یې ونیسه، چې وینا او حدیث یې دغسې دی: نیکه مې له جبرئیل، له خدایه روایت کړی دی)).
په پایله کې، د نبوي کورنۍ امامانو امت دغسې پوهاوه، چې دوی (سپېڅلي امامان) په الهي علومو کې د پېغمبر وارثان دي او دا علوم حضرت علي کرم الله وجهه په خپل لیک او د رسول اکرم په املا په ځانګړي کتاب کې راټول کړي دي.

# په اهلسنتو کې پر

# مهــــــــــــدويـــــت

# گروهه

پر امامیه شیعه و، د خلفاوو ښوونځي د لارویانو یوه شبهه داده، چې:
((شیعه گروهن دي، چې پیغمبراکرمصلی الله علیه و آله وسلم دولس تنه خپل ځایناستي ښوولي، چې لومړی یې علي بن ابیطالب او روستی یې حضرت مهدي علیه السلام دی؛ خو شیعیان چې پر کوم ((مهدي)) گروهن دي، د څه له پاسه دولسو سوو کالو راهیسې تر اوسه غیب دی؛ نو په حقیقت کې خو په دې دومره موده کې اسلام، بې له لارښوده او مسلمین بې له مشره یا د پیغمبر له ځایناستي بې برخې دي.))
په ځواب کې وایو: پر مهدي گروهه یوازې په موږ پورې اړوند نه؛ بلکې د خلفاوو د ښوونځي لاروي عالمان هم پرې گروهن دي. دلته په دې اړه د خلفاوو ښوونځي له کتابونو صحیح او سم روایات راوړو:

## پر امام مهدي علیه السلام ټول مسلمانان ګروهن دي

په دې اړه دیني سرچینو ته مراجعه کوو او څه پوښتنې ګروېګنې چې وي، ځان پرې پوهوو:

## مهدي د حضرت پېغمبر همنومی دی

په سنن ترمذی، سنن ابوداوود او نورو کتابونو کې له رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم روایتوي، چې یې ویلي دي: ((نړۍ به تر هغې پای ته ونه رسي، چې له اهل بیتو مې یو همنومی سړی د عربو واکمن شي))

## مهدي له اهل بیتو دی

د حاکم نیشابوري په مستدرک، د امام احمد حنبل په مسند او نورو کتابونو کې له حضرت ((ابوسعیدخدري)) رضي الله عنه روایت شوی، چې رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم وویل:

((قیامت تر هغې نه راځي، چې ځمکه له تېري او دښمنۍ تر خولې نه وي ډکه شوې؛ بیا له اهل بیتو مې یو وګړی راپاڅي او له عدله یې داسې ډکوي؛ لکه چې له ظلم او تېري ډکه شوې وه.))

د ابن ماجه په سننو کې [ابواب جهاد] له حضرت ((ابوهریره)) رضي الله عنه روایت شوی، چې رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم وویل: ((که له نړۍ یوازې یوه ورځ پاتې نه وي، خدای تعالی هغه ورځ اوږدوي، چې له اهل بیتو مې یو سړی واکمنی ته ورسي او د دیلم او قسطنطیه د لوړو واکمن شي))

همدا راز د همدې کتاب په ((ابواب فتن)) [باب خروج مهدي] او د امام احمد حنبل په مسند او نورو کتابونو کې له امام علي کرم الله وجهه روایتوي چې رسول اکرم وویل: ((مهدي زموږ له اهل بیتو دی او خدای یې په یوه شپه کې پاڅون ته چمتو کوي)).

د حاکم په مستدرک کې له حضرت ((ابوسعیدخدري)) رضی الله عنه روایت شوي، چې رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم وویل: ((مهدي زموږ له اهل بیتو دی؛ پوزه یې اوږده راښکلې، اوږد مخ او نوراني تندی لري، چې ځمکه له عدله ډکوي، چې له ظلم او تېري ډکه شوې وه))

## مهدي د فاطمې(س) له څوځاته دی

د ابو داوود په سننو کې له حضرت ((ام سلمی)) بي بي روايت دی، چې وامې ورېدل، رسول اکرمصلی الله عليه و آله وسلم وويل: ((مهدي زما له کورنۍ او د فاطمې له اولادې دی))
او په کنزالعمال (لومړی چاپ۲٦۱/۷) کې له حضرت علي کرم الله وجهه روايت شوی، چې رسول اکرمصلی الله عليه و آله وسلم وويل: ((مهدي زموږ له سړيو؛ د فاطمې له اولادې دی))

## مهدي د حسين عليه السلام له اولادې دی

په ذخائرالعقبی(۱۳٦مخ) کې له حضرت ((ابوايوب انصاري)) رضي الله عنه روايت کوي، چې رسول اکرم وويل: ((ددې امت مهدي به له دې دواړو؛ يعنې حسن و حسين زېږولېږي))
او همدا راز په ذخايرالعقبی کې له حضرت ((حذيفه)) روايت شوی، چې پېغمبراکرم وويل: ((که له نړۍ يوازې يوه ورځ پاتې نه وي، هغه ورځ به اوږده شي، چې له اولادې مې (يو) همنومی راپاڅي))
حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه وويل: ((يا رسول الله!له کوم اولاددې؟))
ورته يې وويل: ((له دې زوی مې))؛ او پر حسين يې خپل لاس کېښود.

## مهدي د امام حسن عسکري زوی دی

د اهل سنتو ځينې عالمان، امام مهدي د امام حسن عسکري زوی ګڼي چې يو شمېر يې دا دي.
۱- ارواښاد علامه شيخ ابوبکر، احمدبن حسين بن علي بيهقي نيشاپوري شافعي فقيه(٤٥۸ل س مړ) په خپل کتاب (شُعَب الايمان) کې ليکي:
((خلکو د مهدي په اړه اړپيچ کړی او ټولو خوله نيولې او پوهه يې د هغه عالم ته پرېښې او ګروهن دي، چې هغه د رسول اکرمصلی الله عليه و آله وسلم د لور فاطمې له اولادې دی، چې خدای هر وخت وغواړي، پيدا کوي يې او د خپل دين مرستې ته يې رالېږي.
او يوه ډله وايي: موعود مهدي د۲۵۵ل س د شعبان پر پينځلسمه د جمعې پر ورځ زېږېدلی او هغه هماغه امام دی، چې په حجت قايم منتظر محمد بن حسن عسکري ملقب دی، چې په سامرا کې سرداب ته ننوتی او د خلکو له ليده پټ شوی دی او خپل پاڅون ته سترګې پر لار

دی. هغه راښکاره کېږي او ځمکه له عدله ډکوي؛ لکه چې له تېري او ځورونې ډکه شوې ده. د حضرت عیسی بن مریم، خِضر و حضرت نوح (علیهم السلام) په څېر اوږد عمری او پېر یې غځېدلی دی)).

د حضرت مهدي د اوږد عمری په اړه وایو، قرآن د حضرت نوح علیه السلام د عمر په باب وایي: ((وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ (عنکبوت/١٤): او په رښتیا موږ نوح د هغه قوم ته [په رسالت] ولېږه؛ نوح د هغوی په منځ کې نهه سوه او پنځوس کاله تېر کړل؛ خو په پای کې (د خپل ظلم له امله) توپان او نېز لاندې کړل، حال دا، دوی [مشرک] ظالمان ول.))

له بېړۍ تر راکېوتو روسته یې هم، نور درې سوه او پنځوس کاله عمر وکړ؛ نو څکه په ټول کې یې عمر دیارلس سوه کالو ته رسي.

حال دا، همدا اوس د حضرت مهدي عمر تر ١٢٠٠کالو لږ دی او د حضرت خضر علیه السلام عمر تردې ډېر دی، پر شیعه و سربېره د اهل سنتو یو شمېر عالمان هم دغسې استدلال کوي.

٢-ارواښاد شیخ محي الدین ابو عبدالله محمد بن علي بن محمد، په ابن حاتمي طايي اُندلسي شافعي مشهور(٦٣٨ل س مړ) چې د شام په ((صالِحیه)) کې یې زیارت دی، د خپل کتاب((فتوحاتو)) په٣٣٦باب کې لیکي:

((یوه شئ، چې مهدي علیه السلام به په رښتیا راپاځي؛ خو پاڅون به یې هله وي، چې ځمکه له تېري او ځورونې تر پوزې راغلې وي او هغه به یې له قسط او عدله ډکه کړي، که د نړۍ له عمره یوازې یوه ورځ پاتې وي، خدای دا ورځ دومره اوږدوي، چې دا خلیفه ولایت ته ورسي. هغه د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم له څوځاته دی، د فاطمې له اولاده، نیکه یې حسین بن ابیطالب دی، پلار یې ((حسن عسکري)) د امام علي نقي زوی، د امام محمد تقي زوی، د امام علي بن موسی الرضا زوی، د امام موسی کاظم زوی، د امام جعفرصادق زوی، د امام محمد باقر زوی، د امام زین العابدین زوی، د امام حسین زوی، د علي بن ابیطالب زوي (رضی الله عنهم) د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم همنومی دی او مسلمانان به[په کعبه کې ]د((رکن)) او (د ابراهیم علیه السلام) د مقام تر منځ بیعت ورسره کوي.

څېره یې رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم ته ورته ده او خُلق و خوی یې هغه ته نه دی؛ څکه په خویونو کې د رسول اکرمصلی الله علیه و آله وسلم سیال نشته، چې خدای وایي:

((وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ (قلم/٤): او په رښتیا، چې ته ستر خویونه لرې.))

تندی یې پراخ او پوزه یې لوړه ده، له کوفې یې ښه ډېر یاران دي. بیت المال مساوي ویشي او له خلکو سره په عدالت چلېږي؛ لکه چې یو تن راځي او وایي: ((مهدي!پېرزو راباندې وکړه))

او د مهدي په مخ کې له پرتې شتمنۍ يې، دومره جيبونه او څادر ډکوي، چې وړای يې شي))
بيا يې په څانګړنو او ځينو کړنو لګيا کېږي.
دا چارې ((ابن خبان)) په ((اسعاف الراغبين)) کې د((نورالابصار)) په لمنليک کې هم راوړي
دي.
ويلي يې دي: د امام مهدي په څانګړنو کې شيخ محي الدين دا شعر ويلی، چې په ((فتوحاتو))
کې هم راغلی دی:
هغـــه، همـــاغه سيـــد او د آل احـــــمد مهــدي دی
هغه، هماغه هنـدي توره ده، چې[دښمنۍ]له منځه وړي
هغه، هماغه لمـــر دی، چې هر غم او تيارې لـرې کــوي
او هغـــه، هماغه پسرلنی باران دی، چې په پېرزو وربېږي.
په ينابيع المودة(٤٦٧مخ) کې راغلي: شيخ محي الدين عربي په مکيه فتوحاتو(٣٣٦باب) کې
د مهدي آخرالزمان د وزيرانو مقام يادوي او وايي:
((هغه له اهل بيتو دی او د خدای يو خليفه دی، چې پاڅون کوي، حال دا، ځمکه له تېرې او
ځورونې ډکه شوې وي او هغه پکې قسط و عدل خپروي او که له نړۍ يوازې يوه ورځ هم
پاتې نه وي، خدای(ج) يې دومره اوږدوي، چې د پېغمبر له ځوځاته يو تن واکمنۍ ته ورسي.
د ((رکن)) او ((مقام)) تر منځ ورسره بيعت کېږي او کوفه وال ډېر ورماتېږي. شتمنۍ مساوي
ويشي له ولس سره په عدالت چلېږي، قضاوت-ورمندون پای ته رسوي او چې څوک يې و نه
مني، وژل کېږي، جګړه مار ورسره خوارېږي. اسلام لکه څنګه چې دی، پلی کوی يې؛ داسې
چې که رسول اکرمصلی الله عليه و آله وسلم هم ژوندی وای، هماغسې يې کول. مذاهب له
منځه وړي او يوازې سوچه دين به پاتې کېږي. دښمنان يې د((اهل رای)) عالمانو لارويان
دي، چې په زوره به يې حکم ته غاړه ږدي؛ ځکه چې له ځواکمنۍ يې ډارېږي او په ورسره
څېزونو يې زړه تړلی دی. په شتون يې عام مسلمانان خوشحاله دي او عارفان او اهل حقايق د
کشف او شهود له مخې ورسره بيعت کوي. الهي انسانان ورسره دي، چې بلنه مني او ملاتړ يې
کوي، هغوی يې وزيران دي، چې د هېوادنيو چارو پېتې يې پر اوږو وړي)).
همدا راز وايي: ((هغه، هماغه ښاغلی او د آل محمد مهدی او هماغه پسرلنی باران دی، چې
په پېرزو وربېږي، هغه تاييد شوی او مضبوط خليفه دی، چې د ځارويو په خبرو پوهېږي،
عدالت يې په پېريانو او انسانانو کې خپرېږي. وزيران يې عربان نه دي؛ خو په عربي به خبرې
کوي. د وزيرانو ساتندويان به د دوی له خپل خپله نه وي. مهدي هېڅکله د خدای له حکمه
سرغړونه نه کوي، سوچه (د خدای د دين) مرستندوی او خورا غوره امين دی.))

همدا راز د((اسعاف الراغبين)) کتاب په ۱۳۱مخ کې د((نورالابصار)) په لمنليک کې راغلي:
((پوه شه، چې د مهدي په پاڅون کې شک نشته، هغه د امام علي بن ابيطالب -رضی الله عنه- زوی او د رسول اللهصلی الله علیه و آله وسلم همنومی دی. مسلمانان د((رکن)) او((مقام)) تر منځ ورسره بيعت کوي، څېره يې د رسول اکرم په څېر ده او خوی يې د هغه په څېر نه دی؛ ځکه په خوی کې هېڅوک د رسول اللهصلی الله علیه و آله وسلم سيالېدای نشي. د کوفې اوسېدونکي يې تر نورو ډېر ملاتړ کوي، شتمني يو رنګ ويشي او له ولس سره په عدالت چلېږي. خضر يې په مخ کې روان وي او پينځه يا اوه يا نهه کاله ژوند کوي. له رسول اکرم لاروي کوي او بيخي ګناه نه کوي، داسې پرښته لري، چې ټينګ يې ساتي. روم په اويا زرو مسلمانانو په تکبير ويلو سوبوي. خدای، خوار شوی او (په فکر او کړنوکې) مړ شوی اسلام عزتمن او ژوند کوي. د((جزيي)) حکم جاري کوي او خلک په ځواک د خدای لوري ته رابولی، چې څوک يې (بلنه) ونه مني، وژل کېږي او چې څوک جګړه وکړي خوارېږي. حکم يې د سوچه اسلام له مخې او له ځانه له نظر ورکولو لرې دی او په ډېری احکامو کې له علماوو سره اړپيچ کوي؛ نو له دې امله عالمان ترې خپه کېږي؛ ځکه په دې ګومان دي، چې د دوی له امامانو روسته يې کوم مجتهد پيدا کړی نه دی))
بيا زياتوي: ((پوه شه مهدي، چې کله راپاڅي، خاص و عام مسلمانان پرې خوشحالېږي او هغه الهي انسانان لري، چې بلنه يې منلې او ملاتړ يې کوي. هغوی يې وزيران دي، چې د واکمنی درنې چارې تر سره کوي او خدای، چې پر مهدي څه ژمنې ايښې، وزيران يې په اړه مرستندويان دي. حضرت عيسی بن مريم عليهما السلام د دمشق د ختيځ په سپينه مناره کې پرې په داسې حال کې راکېوځي، چې په خپلو دوو ښې او کيڼو پرښتو به يې ډډه وهلي وي. د هغه په زمانه کې د دمشق په چاپېريال کې له ونې سره ((سفياني)) وژل کېږي او لښکر يې په بېديا کې ډوبېږي))
او په مشارق الانوار(۱۰٤مخ، دويم څپرکي) کې هم همدا عبارت راغلی دی.
همداراز قاضي حسين بن محمدبن حسن د ياربکري مالکي(۹٦٦س مړ) په خپل کتاب ((تاريخ الخميس)) دويم ټوک ۳۲۱مخ کې دا مطلب په لنډو او په الفاظو کې(پر څه) اړپيچ راوړی دی.
۳-ارواښادشيخ کمال الدين ابوسالم محمد بن طلحه حلبي شافعي (٦٥۲يا٦٥٤س مړ) په خپل کتاب ((مطالب السول)) (د ايران د۱۲۸۷س چاپ، ۸۸مخ) کې ليکي: ((دولسم باب د ابوالقاسم محمدبن الحسن الخالص بن علي المتوکل بن محمد القانع بن علي الرضا بن موسی الکاظم بن جعفرصادق بن محمدالباقر بن علي زين العابدين بن الحسين(الشهيد) بن علي

المرتضی امیرالمؤمنین بن ابیطالب په اړه دی، هماغه مهدي (چې) د خلف حجت او صالح منتظر دی، چې د خدای سلام، رحمت او بركتونه دې پرې وي))
بيا يې دا بيتونه راوړي دي، چې پښتو مفهوم يې دادی:
((په رښتيا، چې دا د خلف حجت خدای تاييد كړی دی او موږ ته يې د حق كړنلار ښوولې او نېكی يې وركړي دي.
او په عزتمنې كورنۍ كې يې د درناوي وړ گرځولی دی او د لوړنې په سترو جامو كې يې رانغاړلی دی.
او رسول اكرم يوه خبره يې كړې، چې موږ روايت كړې ده.
او كه عالم د رسول اكرمصلی الله عليه و آله وسلم د خبرې پر مانا پوه شي؛ نو مومي، چې د((مهدي)) په اړه رارسېدلي روايتونه يوازې پر همدې مسمی تطبيقېږي، چې د هغه تړاو، ځانگړنې او نوم اخستل يې په ډاگه ويلي دي.
او د پېغمبراكرم دا وينا((چې له موږه دی، زما د بدن د ټوټې؛ له زهرا دی)) د مهدي د ځېرې او مقام د پېژندو لپاره بسيا دي.
او تېرې بېلگې، چې مې وويلې؛ نو هېڅوک به ورته و نه رسي؛ نو كه ووايي: ((هغه مهدي دی)) نو د خپلې خبرې به پوروړی شوی نه وي))
تر شعر روسته وايي: د نبوت له اصيلو جوړو يې ځان موږ كړی او له پاتې جامو يې ځنبلي او د هغوی له ځوښا يې ځان خړوب كړی دی او شريعت پرې پای ته رسېدلی دی، په خورا غوره نسب پورې تړاو لري او د ښيون(هدايت) مېوه يې له هماغه كانه راختستې ده.
هو، هغه له پاكلمنې زوكړی دی، هماغه چې د رسول اكرم د بدن ټوټه ده او رسالت يې بنسټ دی؛ هغه بنسټ، چې د عناصرو او اصولو اشرف دی.
زوكړه يې په ((سر من رای)) (سامرا) پر(۲۵۸س) د رمضان پر**۲۳**مه وه او پلار يې((الحسن الخالص)) او مور يې((ام ولد))، چې له نومو يې((صيقل)) او((حكيمه)) وو.
خو خپل نوم يې((محمد)) كنيه يې((ابوالقاسم)) او القاب يې ورته ((حجت))، ((صالح خلف)) او((منتظر)) ويل شوي دي. بيا هماغه احاديث راوړي، چې موږ راوړي او جوتوي، چې هغه هماغه ((موعود منتظر مهدي)) دی.
په پای كې د حضرت((مهدي)) د غيبت او اوږد عمر په اړه، چې څه نيوكې شوي، ځواب يې وركړی دی.
٤- اروانباد شيخ شمس الدين يوسف بن قزاعلي حنفي بن عبدالله په سبط ابن الجوزي مشهور(٦٥٤ي مړ) په خپل كتاب تذكرة خواص الائمه(۸۸مخ د ايران چاپ د۱۲۸۷س لومړی

چاپ) د حسن بن على بن محمدبن علي بن موسى بن جعفربن محمدبن علي بن الحسين بن علي بن ابيطالب په څېړکي کې ليکي:
((مور يې ام ولد وه، چې په ((سوسن)) هم يادېده او کنيه يې ابومحمد او عسکري هم ويل شوې ده. حضرت پر ۲۳۱س په ((سرمن راى)) کې زيږدېدلى او پر ۲٦۰س د معتمد عباسي خلافت پر مهال په نهه ويشت کلنى کې مړ شوى دى.
بيا وايې: ((او له اولادونو يې يو ((محمد)) امام دى. . . هغه محمدبن حسن بن علي بن محمد. . . بن علي ابيطالب دى. کنيه يې ابوعبدالله او ابوالقاسم دى، هغه د خلف حجت، صاحب الزمان، قائم منتظر او روستى امام دى)).
زياتوي: عبدالعزيز بن محمود بن بزاز له ابن عمره روايت کوي، چې رسول اکرم وويل: ((په روستي وخت به زما له اولادې يو تن راپاڅي، چې نوم يې زما نوم او کنيه يې زما کنيه ده او ځمکه له عدله ډکوي؛ لکه چې له تيري ډکه شوې ده او هغه مهدي دى))
سبط ابن الجوزي وايي: ((دا يو مشهور حديث دى او ابوداود او زهري له علي کرم الله وجهه روايت کړى دى))
زياتوي: ((هغه ته ذوالاسمعين وايي: او محمد او ابوالقاسم. ويلي يې دي، مور يې ام ولد، چې په صيقل هم يادېده)).
٥- اروابښاد شيخ ابوعبدالله محمدبن يوسف بن محمد قرشي گنجي شافعي (٦٥٨س مړ) په خپل کتاب [البيان فى اخبار صاحب الزمان ٢٥باب، ٣٣٦مخ] کې جوتوي، چې د مهدي عليه السلام پايښت شونى دى، وايي: ((مهدي د حسن عسکري زوى دى او د غيبت له پيله تر اوسه ژوندى، شته او پاتې دى)). همدا مطلب په ينابيع المودة (٤٧١مخ) کې هم راغلى دى.
امام بخاري په خپل صحيح (٣٥٧/٣د١٣٧٢س د هند چاپ) له حضرت ابوهريره(رض) روايت کوي، چې رسول اکرم وويل:
((څرنگه به وي، چې عيسى بن مريم په تاسې کې راکوز شي او امام مو خپل وي؟))
همدا حديث ابن ماجه په خپلو سننو(٢٦٧/٢مخ) کې يې د امام بخاري په همدې عبارت راوړى دى.
په الحاوي للفتاوي (١٦٧/٢) کې راوړي دي، چې ابوداود او ابن ماجه په خپلو اسنادو له ((ابوامامه باهلي)) روايت کړى، چې رسول اکرم وويل: ((رسول الله راته وينا وکړه او له ((دجال)) او کړنو يې خبر کړو))
تردې چې وايي: ((او امام يې صالح نارينه دى، چې کله د گهيځ لمانځه ته ځي، ناڅاپه عيسى بن مريم راکېوځي او امام د گهيځ پر لمانځه ولاړ وي، چې شاته کيږي، چې عيسى بن مريم

رامخې ته شي او د لمانځه امامت وکړي؛ نو دلته عيسى خپل لاس د نوموړي پر وليو بږدي او وايي: ((مخکې ولاړ شه او لمونځ ورکړه، چې درته اقامه شوی دی)) او امام يې ورسره لمونځ کوي.))
را روسته حديث د((الملاحم و الفتن)) [لومړی ټوک، ۱۸۶باب، ۵٤مخ] ليکوال د ابونعيم له((فتن)) کتابه او ده دا حديث له ابوامامه باهلي روايت کړی دی، چې وايي: ((رسول اکرم د د جالو په اړه وينا وکړه)) ام شريک وويل: ((رسول الله!نو مسلمانان به پر هغه ورځ چېرې وي؟)) ويې ويل: ((دجال په بيت المقدس کې راوځي او دا ځای محاصره کوي او پر هغه ورځ د مسلمانانو امام، يو صالح نارينه دی. ورته ويل کېږي: د ګهيځ لمونځ وکړه او چې تکبير ووايي او لمانځه ته ورمخکې شي؛ نو عيسى بن مريم له آسمانه راکوزېږي او چې کله (دا) امام هغه وپېژني؛ نو پر لمانځه ولاړ، شاته کېږي، چې عيسى بن مريم رامخې ته شي؛ نو عيسى يې پر وليو لاس بږدي او ورته وايي: ((لمونځ وکړه، چې درته اقامه شوی دی)) او عيسى ورپسې لمونځ کوي.))
او په مشارق الانوار (۳۲۲/۲) کې وايي:
((عيسى د هغه[امام مهدي ]په زمانه کې، د دمشق د ختيځ پر سپينه مناره، د شپې په روستيو کې راکېوځي او مهدي راځي او ورسره پاتې کېږي او ګهيځ مهال خلک د لمانځه د امامت هيله ترې کوي؛ خو هغه ډډه کوي او وايي: ((امام مو خپل دی)) او مهدي ددې امت او د پېغمبر د کرامت له امله پر عيسى ورمخکې کېږي))
له دې حديثه او بېلګو يې راڅرګندېږي، چې حضرت عيسى عليه السلام په مهدي عليه السلام پسې لمونځ کولو ته اوږد مهاله ژوندی پاتې کېږي؛ نو ځکه د امام مهدي ژوندي پاتې کېدل څه لرې چار نه دی؛ لکه څنګه چې عيسى عليه السلام ژوندی پاتې کېږي. پېغمبراکرم ويلي: ((چې څه تېرو امتونو کې پېښ شوي، زما په امت کې به هم پېښ شي))؛ نو لکه څنګه چې عيسى عليه السلام له تېرو امتونو ژوندی پاتې دی، امام مهدي هم ژوندی او پاتې دی.
مسلمانانو ته د((خضر او الياس)) عليهماالسلام ژوندي پاتې کېدل ثابت دي او لکه څنګه چې خدای تعالى خضر عليه السلام ته اوږد عمر ورکړی؛ نو غوښتي يې دي، چې امام مهدي عليه السلام هم ژوندی وي او پاتې شي؛ ځکه چې د ځمکې پر مخ د خدای حجت دی او که نه وي ځمکه پر خپل ځای نه پاتې کېږي؛ نو ځکه د ځمکې پايښت د هغه دشتون له امله دی.
په تذکرة خواص الائمه(۳۷٦مخ، د نجف چاپ) کې له سدی روايت دی:
((مهدي له عيسى بن مريم سره يو ځای وي او چې د لمانځه وخت شي؛ نو مهدي، عيسى ته وايي: ((مخکې شه)). عيسى وايي: ((ته دې لمانځه ته وړ يې او عيسى ورپسې درېږي))

بیا له خپل نظره په هغو دلایلو لگیا کېږي، چې حضرت عیسی علیه السلام په امام مهدي پسې لمونځ وکړ او ورپسې خبره ډېر اوږد عمر ته غځوي او د امام مهدي د ژوندیتوب او پایښت خبره پیاوړې کوي او وایي، چې تر اسلام مخکې ددې چار بېلگې هم وې.
اروابناد گنجي شافعي په کنایة الطالب (۳۱۲مخ) کې وایي:
((د ابومحمد حسن عسکری زوی تر ده روسته امام دی. دا (امام حسن عسکري) پر ۲۳۲س په ربیع الاول کې په مدینه کې دنیا ته راغی او پر ۲۶۰س د ربیع الاول پر اتمه پر۲۸کلنۍ کې ومړ او په سامرا کې د خپل پلار امام هادي سره په څنگ کې خاورو ته وسپارل شو او زوی یې منتظر امام ځایناستی شو))
ورپسې وایي: ((ډېر ژر به یې ژوند لیک وکاږم)). روسته یې د((البیان فی اخبار صاحب الزمان)) کتاب وکښله، چې چاپ شوی هم دی.))
٦- اروابناد جلال الدین محمدبلخي په ((مولوی)) مشهور[٦٧٢س مړ]په مثنوي کې د اهل بیتو او امام مهدي په باب شعرونه ویلي چې: له نېکه مرغه مثنوي په پښتو هم په ښو ادبیاتو ژباړل شوې ده.
٧- اروابناد شیخ کامل صلاح الدین صفدي (٧٦٤س مړ) په ((شرح الدائره)) کې کاږي:
((موعود مهدي له دولس گونو امامانو، هماغه (روستی) امام دی، چې لومړی یې زموږ ښاغلی علي او روستی یې مهدي(رضی الله عنهم و نفعناالله بهم) دی))
٨- اروابناد شیخ ابوعبدالله اسعد بن علي بن سلیمان عفیف الدین یافعي یمني شافعي (٧٦٨س مړ) پخپل کتاب ((مرآة الجنان)) (دویم ټوک، ١٠٧ او ١٧٢مخونه، د١٣٢٨س د حیدرآباد چاپ) کې لیکي: ((پر ٢٦٠س شریف عسکري ابومحمدحسن[بن علي بن محمدبن علي بن موسی الرضابن جعفرصادق]د امامیه شیعه و د گروهنې له مخې له دولس گونو امامانو، یو امام ومړ، هغه د منتظر[امام]پلار د سرداب خاوند دی، چې په عسکري پېژندل کېږي او پلار یې هم په همدې نوم پېژندل کېده. هغه د جمعې پر ورځ د ربیع الاول پر شپږمه ومړ-ځینو اتم او ځینو نورې ورځې ښوولي دي-او په سامرا کې د خپل پلار تر څنگ خاوروته وسپارل شو))
٩- اروابناد علامه سید علي بن شهاب الدین همداني شافعي(٧٨٦س مړ) په خپل کتاب((مودة القربی في المودة العاشره)) کې د امام مهدي د شتون په اړه ډېر احایث راوړي، چې په روستي وخت کې به راښکاره کېږي او ځمکه به له عدله ډکوي؛ لکه چې له ظلمه تر خولې راغلې ده.
١٠- اروابناد شمس الدین ابوعبدالله محمدبن احمدذهبي شافعي(٨٠٤س مړ) په خپل کتاب (دُوَل الاسلام١٢٢/١ د١٣٣٧س کال حیدرآباد چاپ) کې کاږي: ((امام مهدي د امام حسن

عسکري له اولاده دی، هغه ژوندی پاتې کیږي، چې خدای ورته د پاڅون اجازه ورکړي او ځمکه به له قسط و عدله ډکه کړي؛ لکه چې له ظلم او ځورونې ډکه شوې ده))

۱۱- اروابناد شیخ جمال الدین احمدبن حسین بن علي بن مهنا(۸۲۸س مړ) په خپل کتاب((عمدة الطالب)) [د نجف د۱۳۲۳س چاپ، ۱۸٦ او ۱۸۸مخونه]کې کاږي:

((خو[امام] علي هادي، چې د سامرا په پوځي غونډ کې د اوسېدانې له امله په ((عسکري)) مشهور شوی و، مور یې ام ولد د اخلاقي ښو ځانګړنو او ذکاوت خاونده وه. متوکل هغه سامرا ته بوت، هلته و، چې مسموم او ورپسې شهید شو. دوه اولادونه یې درلودل، چې یو یې امام ابومحمدحسن عسکري دی، چې په زهد او پوهه کې د سترې مرتبې خاوند و، هغه د امام محمدمهدي پلار د امامیه شیعه و دولسم امام دی او پر وړاندې یې هماغه قائم منتظر دی، چې د نرګس په نامه ام ولده دې دنیا ته راغلی دی.

۱۲- اروابناد شیخ شهاب الدین دولت آبادي (۸٤۹س مړ) په تفسیر او مناقبو کې ډېر تالیفات لري، چې یو یې((هدایة السعداء)) دی، چې پکې یې د امام حسن عسکري د زوی امام مهدي په اړه احادیث راوړي، چې امام مهدي، له نظرونو پټ شوی او د اوږد عمر خاوند دی؛ لکه چې نور مؤمنان عیسی، الیاس او حضر(علیهم السلام) اوږد عمرونه لري او له کفارو هم دجال، شیطان او سامري.

۱۳- اروابناد شیخ علي بن محمدبن احمد مالکي مکي، په ابن صباغ مشهور (۸۵۵س مړ) په خپل کتاب[((الفصول المهمة))، دولسم باب، ۲۷۳ او۲۷٤مخونه] کې د امام مهدي د ژوند په باب څرګندونې کړي، د زوکړې وخت او د مور (نرګس) نوم یې راوړی دی: ((ابوالقاسم محمدالحجة بن الحسن الخالصي په سامرا کې په نیمه شپه د شعبان پر پینځلسمه پر ۲۵۵س وزیږېد او د پلار او مور له اړخ یې نسب دادی: ابوالقاسم محمدالحجه بن الحسن الخالصي بن علي الهادي بن محمدالجواد بن علي الرضا بن موسی الکاظم بن جعفرصادق بن محمدباقر بن علي (زین العابدي) بن الحسین بن علي بن ابیطالب او مور یې د نرګس په نامه ام ولده وه، چې خورا غوره وینځه وه او ویل کیږي، چې نور نومونه یې هم درلودل؛ کنیه یې ابوالقاسم او لقب یې حجت، مهدي، خلف، منتظر قائم او صاحب الزمان دی او ښه مشهور یې مهدي دی. ځانګړنې یې دا دي: په قد کې برابر ځوان، ښکلی، ویښتان به یې پر اوږو پراته وي، پوزه یې لوړه او تندی یې پراخه او نوراني دی، کارمند یې محمدبن عثمان او د معتمد هم عمری دی))

ابن صباغ زیاتوي: ((له هغو عالمانو، چې د امام مهدي د حالاتو په باب کتابونه کښلي، یو هم شیخ جمال الدین ابوعبدالله محمدبن ابراهیم په نعماني مشهور دی، چې د امام مهدي د غیبت او اوږد غیبت په اړه یې کتاب کښلی دی.))

همدا راز زياتوي: ((حافظ ابونعيم د امام مهدي په اړه څلويښت ځانګړي احايث راټول کړي او شيخ ابوعبدالله محمدبن يوسف ګنجي شافعي يې په اړه د ((البيان فی الخبار صاحب الزمان)) کتاب کښلی دی.
١٤-د افغانستان ستر عالم او مشهور شاعر اروانښاد شيخ نورالدين عبدالرحمن بن احمدبن قوام الدين په جامي شافعي مشهور (٨٩٨س مړ، او زيارت يې په هرات کې دی) په خپل کتاب ((شواهد النبوه)) کې د دولسم امام، د امام مهدي په اړه خبرې کړي او د هغه حالات او کرامات يې بيان کړي دي او ليکي: ((هغه به ځمکه له قسط و عدله ډکه کړي)).
بيا يې د زوکړې داستان د امام مهدي له ترور حکيمې او نورو راخلي، چې کله امام وزېږېد؛ نو پر ګونډو کېناست او د شهادت ګوته اسمان ته ونيوه او پرنجی يې وکړ او ويې ويل: ((الحمدلله رب العالمين)).
همدا راز جامي په هغو وګړيو لګيا شوی، چې امام مهدي يې ليدلی دی او د هغه چا يادونه هم کوي، چې له امام حسن عسکري يې، د ځايناستي په اړه پوښتلي او وايي: ((امام کور ته راننووت او بهر شو او د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر درې کلن ماشوم ورسره و او يوښتونکي ته يې وويل: که الهي ارزښت دې نه وای، دا زوی مې نه درښووه، چې نوم يې د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم او کنيه يې هم!هغه به ځمکه له عدله ډکوي؛ لکه چې له ظلم او تېري ډکه شوې ده.))
همدا راز د هغه چا کيسه راخلي چې: ((امام حسن عسکري ته تلل او تر هغه روسته د ځايناستي په اړه يې پوښتي او امام ورته وايي: ((پرده راکاږه، چې يې وکاږله؛ نو امام مهدي يې وليد)).
همداراز هغه کيسه هم راخلي: ((معتمد عباسي يا معتمندعباسي د امام مهدي د نيولو لپاره يوه ډله د امام حسن عسکري کور ته استوي؛ خو ډله هغه نه مومي او سرداب ته ننووتل او هغه په سرداب کې، د اوبو پر مخ ويني او چې غواړي و يې نيسي، په اوبو کې ډوبېږي او نيوای يې نشي. عباسي چارواکی يې له پېښې خبر کړ هغه ورته وايي، چې څه مو ليدلي پټ يې کړئ او مه يې وايئ: که دا حال مو چاته ووايه؛ نو وژنم مو، هغوی هم دا پېښه د خليفه تر ژونده پټوي.))
١٥- اروانښاد شيخ عبدالوهاب بن احمدبن علي شعراني (٩٧٣يل ٩٦٠س مړ) په خپل کتاب ((اليواقيت و الجواهر)) [١٤٥مخ، د١٣٠٧س د مصر چاپ] کې ليکي: ((پينځه شپېتم بحث ددې په بيان کې، چې سپېځلي شارع د قيامت له ټولو شرطونو خبر ورکړی، چې ټول حق دي او بايد د قيامت تر راتلو مخکې پېښ شي، چې له دې د مهدي عليه السلام پاڅون هم دی، هغه د امام حسن عسکري له زامنو دی، چې د ٢٥٥س د شعبان په نيمايي کې دنيا ته راغلی

دی او تر هغې به ژوندی وي، چې له عیسی بن مریم سره یوځای شي او عمر یې تر اوسه، چې کال ۹۸۵س دی، ۷٦٦ کاله دی))
شعراني زیاتوي: ((دا پېښه، چې له شیخ حسن عراقي سره وم، راته وویله (شیخ په مصر کې ښخ دی) چې ورسره وم او زموږ شیخ ((سید علی الخواص)) هم ورسره ومنله))
١٦-شهاب الدین احمد بن حجر هیثمي شافعي د مکې هستوګن (۹۹۳س مړ) په خپل کتاب ((الصواعق المحرقه)) [۱۲۷مخ، د ۱۳۰۸ س د مصر چاپ] کې د دولس ګونو امامانو د حالاتو په شرح کې لیکي:
((ابومحمدحسن خالصي پر ۲۳۲س دنیا ته راغلی، چې له مشهورو کراماتو یې په سامرا کې د استسقا داستان دی. دا د یوه نصراني عالم داستان دی، چې د ځینو پیغمبرانو هډوکي ورسره ول، چې بهر به یې راوړل، باران ورېده او چې پټول یې؛ نو باران درېده او امام پرې پوه شو او هډوکي یې ترې واخستل او چې راهب څومره دعا وکړه، باران و نه ورېده او خلکو له اشتباه راووتل او د مسیحي ملا په چل پوه شو))
زیاتوي: ((امام حسن عسکري په سامرا کې تر مړینې عزتمن او د درناوي وړ و او د خپل پلار (علي الهادي) تر څنګ ښخ شو او ۲۸ کلن و)) همدا راز وايي: ((هغه یوازې یو زوی پرېښود او هغه ابوالقاسم حجت و او د پلار د مړیني پر مهال پینځه کلن و، چې خدای پرې حکمت ولوراوه. هغه قایم او منتظر نومېږي او ویل کېږي، چې پټ شوی او معلوم نه دی، چې چېرې تللی دی)).
۱۷- اروابناد شیخ عبدالله بن محمدعامرشبراوي شافعي (١١٥٤ س مړ) په خپل کتاب ((الاتحاف بِحُب الاشراف)) [۱۷۸مخ، د ۱۳۱٦ س د مصر چاپ] کې کاږي: ((یولسم امام، حسن خالصي په عسکري مقلب دی، چې پر ۲۳۲س د ربیع الاول پر اتمه په ۲۸ کلنۍ کې ومړ. په شرافت کې یې همدومره بس دی، چې امام مهدي منتظر یې زوی دی. د امام عسکري مړینه په سامرا کې وه او قبر یې د خپل پلار تر څنګ دی او تر ځان روسته یې دولسم امام ځایناستی کړ؛ ابوالقاسم محمد، حجت، امام زاده، امام، چې پر ۲۵۵ س د شعبان په نیمايي کې د خپل پلار تر مړینې پینځه کاله مخکې دنیا ته راغی او داچې سخت پېر و او له عباسي خلفاوو ډار و؛ نو پلار یې زوکړه پټه ساتله؛ ځکه هاشمیان د واکمنو تر تعقیب او څارنې لاندې ول؛ هغوی یې بندیان او وژل او له منځه یې وړل؛ ځکه هغوی د رسول اکرم له احادیثو پوهېدلي ول، چې امام مهدي د ظالمانو واکمني له منځه وړي. امام محمد، حجت او په مهدي، قائم، منتظر، صالح خلف او صاحب الزمان ملقب دی، چې خورا مشهور یې مهدي دی.

نو ځکه شیعه وايي: ((دا هماغه دی، چې سم روايتونه يې په روستي وخت کې په اړه خبر ورکوي او اوس هم شته د مهدي د نسب شمېری، دا ده: محمدحجت بن الحسن الخالصي بن علي الهادي بن محمدالجواد بن علي الرضا بن موسی الکاظم بن جعفرصادق بن محمدالباقر بن زين العابدين بن امام الحسين (د امام حسن ورور) بن اسدالله غالب علي بن ابيطالب رضی الله عنهم اجمعين))

۱۸- ارواښاد شيخ حسن عراقي (د مصر په کُرم الرئيس کې ښخ دی) د امام مهدي پر شتون منښته کوي او وايي: ((امام يې ليدلی دی)) شعراني په لواقح الانوار فی طبقات الاخبار (دويم ټوک، د مصر ۱۳۰۵س چاپ) کې کاږي: ((شيخ حسن عرقي د خپلې گرځېدنې (سياحت) په ترڅ کې له امام مهدي سره ليده کاته کړي دي او عمر يې ترې پوښتل شوی او ځواب يې اورېدلی، چې ((زويه! عمر مې همدا اوس ٦۲۰ کاله دی)) شعراني وايي: ((دا مې خپل استاد علي الخواص ته وويل، چې د مهدي-رضی الله عنه-له عمر سره يې توافق وښود.))

د امام مهدي د عمر په اړه وايو:

قرآن مجيد (عنکبوت/١٤) د حضرت نوح عليه السلام د عمر په اړه وايي: ((وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ: او په رښتيا موږ نوح د هغه قوم ته [په رسالت] ولېږه؛ نوح د هغوی په منځ کې نهه سوه او پنځوس کاله تېر کړل؛ خو په پای کې (د خپل ظلم له امله) توپان او نېز لاندې کړل، حال دا، دوی [مشرک] ظالمان ول.))

نوح عليه السلام تر توپان او بېړۍ راوتو روسته، هم درې سوه او پينځوس کاله عمر وکړ؛ نو ځکه ټول عمر يې ديارلس سوه کاله کېږي، حال دا، همدا اوس د حضرت امام مهدي عليه السلام عمر تر ۱۲۰۰ کالو لږ دی او د حضرت خضر عليه السلام عمر تردې ډېر دی؛ پر شيعه و سربېره د اهل سنتو يو شمېر عالمان هم دا استدلال مطرحوي.

استاد ناصر مکارم شیرازي په "اعتقاد ما" کتاب کې ليکي:

**امامت**

## تل يو امام وي

عقيده لرو: لکه څرنگه چې د خدای د حکمت غوښتنه ده، چې د انسانانو د هدايت لپاره پېغمبران ولېږي، د حکمت غوښتنه يې هم ده، چې تر پېغمبرانو روسته په هرې زمانې او وخت کې د خدای له لوري د انسانانو د هدايت لپاره يو امام اولاربښود وي، چې د انبياوو شريعتونه او الهي دينونه له تحريفاتو او بدلونونو وساتي، د هرې زمانې اړتياوې روښانه کړي او خلک د خدای او د پېغمبرانو د دين په لور وبلي او بې له دې د انسان د پنځولو موخه، چې تکامل او نېکمرغي ده نه پوره کېږي، انسان د هدايت له لارې بچ پاتې کېږي، د انبياوو شرايع ضايع او خلک لالهانده کېږي.

نو ځکه عقيده لرو چې د اسلام تر پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم روسته په هر زمانه او وخت کې يو امام موجود و «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ؛ ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، الهي تقوا خپله کړئ او له رښتينو سره اوسئ»[1]

دا آيت کوم ځانگړي وخت ته ځانگړی نه دی او له صادقانو سره بې قيد و شرطه ملگرتيا په دې دليل ده، چې په هره زمانه کې يو پاکلمنی مشر شته، چې بايد لاروي يې وشي؛ لکه څرنگه چې ډېرو شيعه او سني مفسرانو په خپل تفسير کې دې ته اشاره کړې ده.[2]

---

۱. توبه سوره ۱۱۹ آيت

۲. فخر رازي د دغه آيت په هکله له ډېر بحثه روسته وايي: دا آيت په دې دليل دی چې هر کس جايز الخطا دی نو واجبه ده چې د داسې کس منونکی معصوم وي او معصومان هماغه دي چې خداي تعالی ورته صادقين ويلي دي، نو دا خبره په دې دليل ده چې په هر جايز الخطا واجبه ده چې له معصوم سره ملگری او غبرمله وي چې (له خطا معصوم کس) جايز الخطا له خطا وساتي، او دا معنا په ټولو زمانو کې ده او په کوم خاص وخت پورې مخصوصه نه ده او په دې دليل په هره زمانه کې له خطا معصوم کس موجود دی (تفسير کبير ۱٦ ټوک ۲۲۱ مخ)

## د امامت حقیقت

عقیده لرو چې امامت یوازې د ظاهري حکومت مقام نه؛ بلکې یو ډېر لوړ معنوي او روحاني مقام دی او امام د اسلامي حکومت پر مشرۍ سربېره د دین او دنیا په چاور کې د ټولنې هدایت پر غاړه لري. د خلکو فکر او روح هدایتوي او د اسلام د پېغمبر شریعت له هر ډول تحریف او بدلون ساتي او هغه موخې، چې رسول الله مبارک ورته راواستول شو، پوره کوي.
دا هماغه لوړ مقام دی چې خدای تعالی د نبوت او رسالت د لارې له کچ کولو او په ډېر ازمېښتونو کې تر بریالي کېدو روسته ورکړ، آنحضرت هم د خپلو ځینو اولادونو او کورنۍ لپاره له خدانه ددې مقام غوښتنه وکړه او ځواب ورکړل شو چې هېڅکله به ظالمان او گناهکاران دغه مقام ته ونه رسي.
«وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ؛ رایاد کړه هغه وخت چې د ابراهیم رب هغه په بېلابېلو چارو سره وازمېیه او له الهي ازمېښتونو بریالی راووته، خدای تعالی وفرمایل ته مې د خلکو امام وټاکلې، ابراهیم عرض وکړ: زما له کورنۍ هم امامان وټاکه، خدای تعالی وفرمایل: زما عهد او ژمنه (امامت) هېڅکله ظالمانو ته نه رسي. (او یوازې ستا له ځوځاته معصومانو ته رسي) [1]
څرگنده ده چې دا ډول مقام یوازې په ظاهري حکومت کې نه راټولیږي او که امامت په هغه ډول، چې وویل شول تفسیر نشي دا آیت به څرگند مفهوم ونه لري.
باوري یو: ټولو اولواالعزم پېغمبرانو د امامت مقام درلود. څه چې په خپل رسالت یې خلکو ته و ړاندې کول په عمل کې به یې هم پوره کول او د خلکو ظاهري، معنوي او مادي مشران ول، په تېره رسول الله مبارک د نبوت له لومړیو د امامت او الهي رهبرۍ لوړ مقام هم درلود او کار یې یوازې د الهي حکمونو رسول نه وو.
عقیده لرو: د امامت شمېرۍ تر پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم روسته هم د ده د ځوځات او اولاد په معصومو امامانو کې پاتې شوه.
هغه تعریف ته په پام، چې پاس د امامت په هکله راغی ښه معلومېږي، چې دغه مقام ته رسېدل، درانه شرائط لري، هم د تقوا له نظره (له هر ډول گناه د معصوم والي په حد کې تقوا) او هم د علم او پوهې له نظره او هم د دین په ټولو اوامرو او تعلیماتو د برلاسۍ له اړخ او په هره زمانه کې د انسانانو او د دوی د اړتیاوو د پېژندو له نظره. دقت وکړئ.

---

۱. بقره سوره ۱۲٤ آیت

## امام له گناه معصوم او پاک دی

عقیده لرو: امام باید له هرې گناه او خطا پاک او معصوم وي؛ ځکه پر هغه څه سربېره، چې د تېر آیت په تفسیر کې راغلل، په غیر معصوم کس باندې په هره چاره کې باور نه شي کېدای او په هره چاره کې له هغه د دین اصول او فروع نه شو اخستلای؛ نو ځکه عقیده لرو چې (د امام وینا) د هغه د (اعمالو) او (تقریر) په شان شرعي دلیل او حجت دی (د تقریر مطلب دادی چې یو څوک یې پر وړاندې یو کار وکړي او هغه (معصوم) پرې غلی پاتې شي او په خپلې چوپتیا سره یې د کار په سموالي ټاپه ووهي.

## امام د شریعت ساتی دی

عقیده لرو: امام هېڅکله له ځانه (نوی شریعت او قانون) نه راوړي؛ بلکې دنده یې د اسلام د پیغمبر د شریعت او دین ساتنه او د کار یې دغه سپېڅلي دین ته د خلکو لارښوونه، د دین معرفي، تبلیغ، تعلیم او ساتنه ده.

## امام په اسلام تر ټولو باخبر او پوه دی

او همداراز عقیده لرو: امام باید د اسلام په ټولو اصولواو فروعو، په احکامو او قوانینو او د قرآن په تفسیر او معنا پوره پوره پوه وي او په دغه څیزونو یې علم او پوهه الهي اړخ لري او له رسول الله مبارکه وررسېدلي دي.
هو همداسې علم دی، چې خلک پرې پوره باور او اعتماد کولای شي او پر اسلام پوهېدو کې تکیه او با ور پرې کولای شي.

امام باید منصوص (ټاکل شوی) وي
موږ عقیده لرو چې امام او (د پیغمبر ځاناستی) باید منصوص وي؛ یعنې د پیغمبر اکرم په تصریح او نص او همداراز د راتلونکي امام لپاره د تېر امام په تصریح ټاکل کیږي. په بله ژبه، امام هم د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم په شان د خدای له لوري (د پیغمبر په وسیله) ټاکل کیږي؛ لکه څرنگه چې د حضرت ابراهیم علیه السلام د امامت په هکله په آیت کې مو

ولوستل: إنيّ جَاعِلُکَ لِلنّاسِ إمَاماً؛ ما، ته د خلکو امام وټاکلې.
پردې سربېره، د عصمت په حد کې د تقوا د شتون او د ستر علمي مقام (په دې حد کې چې بې له څه خطا او تېروتنې په ټولو الهي تعليماتواو احکامو پوهه ولري) تشخيص يې بې له خدای اورسوله بل څوک نشي کړای.
او په دې ډول موږ د معصومو امامانو امامت، د خلکو په ټاکنه نه ګڼو.

## امامان، پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ټاکلي دي

عقيده لرو: د اسلام پېغمبر تر ځانه روسته امامان ټاکلي دي. په يو ځای کې يې په عامه توګه، د ثقلينو په نامه مشهور حديث کې فرمايلي دي.
په صحيح مسلم کې لولو: پيغمبر اکرم د مکې او مدينې په منځ کې د (غدير خم) په نامه په يوه ځای کې پاڅېده، يوه خطبه يې وويله، بيا يې وفرمايل: «نزدې ده، چې زه له تاسو ولاړ شم؛ إني تارک فيکم الثقلين، اولهما کتاب الله فيه الهدی والنور. . . . و اهل بيتي اذکرکم الله في اهلي بيتی؛ زه ستاسو په منځ کې دوه قيمتي څيزونه پرېږدم؛ لومړی يې د خدای کتاب دی، چې پکې رڼا او هدايت دی. . . . او اهل بيت مې، تاسو ته سپارښتنه کوم، چې زما د اهل بيتو په هکله خدای مه هېروئ» (دا جمله يې درې ځله تکرار کړه) [1].
همدا معنا په صحيح ترمذي کې هم راغلې ده او په ډاګه وايي: (که د دغو دوو لمنه راټينګه ګړئ؛ نو هېڅکله به بې لارې نشئ) [2]
دا حديث په سنن دارمي[3] او خصائص نسائي[4] او مسند احمد[5] او په ډېرې مشهورو اسلامي کتابونو کې راغلی دی او په دې کې هېڅ شک نشته او په حقيقت کې متواتر حديث ګڼل کېږي، چې هېڅ مسلمان ترې انکار نشي کولای او له روايتونو معلومېږي، چې رسول الله مبارک نه يوازې يو ځل؛ بلکې په بېلابېلو ځايونو کې څو څو ځله تکرار کړی دی.
څرګنده ده چې ټول اهل بيت د قرآن په څنګ کې دا لوړ مقام نشي درلودای؛ نو يوازې د

---

۱. صحيح مسلم، ٤ ټوک ۱۸۷۳ مخ
۲. صحيح ترمذي، ٥ ټوک ٦٦۲ مخ
۳. سنن دارمي، ۲ ټوک ٤۳۲ مخ
٤. خصائص نسائي، ۲۰ مخ
٥. مسند احمد، ٥ ټوک ۱۸۲ مخ او کتاب کنز العمال، ۱ ټوک ۱۸٥مخ ۹٤٥حديث

پېغمبرصلی الله علیه و آله وسلم له ځوځاته معصومو امامانو ته اشاره ده (یوازې په ځینو کمزوریو او مشکوکو حدیثونو کې د اهل بیتي په ځای، سنتي راغلی دی)
موږ په یوه بل مشهور حدیث کې چې په مشهورو سرچینو؛ لکه صحیح بخاري، صحیح مسلم، صحیح ترمذي، صحیح ابو داود او مسند حنبل او نورو کتابونو کې راغلی دی استناد کوو: رسول الله مبارک وفرمایل: لایزال الدین قائماان تقوم الساعة او یکون علیکم اثنتی عشر خلیفة کلهم من قریش، د اسلام دین، د قیامت تر ورځې پر ځای دی او تر هغه وخته، چې دولس خلیفه ګان پر تاسو حکومت وکړي، چې ټول له قریشو دي.[1]
عقیده لرو: د دغو روایتونو لپاره د منلو وړ تفسیر نه تصور کېږي، بې له هغه څه چې د امامیه شیعه په کتابونو کې د دولسو امامانو په هکله راغلي دي.

## د پېغمبرصلی الله علیه و آله وسلم لخوا د علي علیه السلام ټاکنه

عقیده لرو: رسول الله مبارک په بېلابېلو ځایونو کې علي علیه السلام په ځانګړې توګه د خپل ځاناستي په توګه (د خدای په امر) معرفي کړی دی. منجمله په غدیر خم کې (جحفې ته نزدې یو ځای) له حجة الوداع د ستنېدو پر مهال یې د خپلو ګڼ شمېر اصحابو په ټول کې خطبه وویله او دا مشهوره جمله یې: ایها الناس الست اولی بکم من انفسکم، قالوا بلی، قال: فمن کنتم مولاه فعلی مولاه؛ ای خلکو! زه پر تاسو تر تاسو زیات حق نه لرم؟ ویې ویل: هو! و یې فرمایل: د هغه چې زه یې مولا او لارښود یم او پرې زیات حق لرم، علي یې هم مولا، لارښود او د زیات حق خاوند دی.[2]
داچې زموږ مقصد دا نه دی، چې د دغو اعتقاداتو په بیان کې ډېر استدلالونه راوړو او ټینګار او بحث ولرو؛ نو دومر ه وایو، چې دا حدیث داسې نه دی، چې په اسانۍ ترې انسان تېر شي یا د یوې عامې دوستۍاو محبت په توګه تفسیر کړای شي، چې رسول الله مبارک په دومره تاکیداتو او تشریفاتو بیان کړی دی.

---

۱. دا تعبیر په صحیح مسلم دریم ټوک ۱۴۵۳ مخ کې له جابر بن سمره له پیغمبر (ص) نقل شوی دی او په لږ شان توپیر سره په نورو کتابونو کې چې نومونه مو یې واخستل راغلی دی (صحیح بخاري، ۳ ټوک ۱۰۱ مخ صحیح ترمذي ٤ټوک ۵۰۱مخ او صحیح ابي داود ٤ټوک کتاب المهدي)
۲. داحدیث په مختلفو طرقو (لارو) له پیغمبر اکرم (ص) نقل شوی دی او د صحیح راویانو شمیر تر ۱۱۰ اصحابو او ۸٤ تابعینو زیات دی او په ۳٦۰ مشهورو اسلامي کتابونو کې راغلی دی چې تفصیل یې په دې وړوکي کتاب کې نه ځاییږي (د پیام قرآن نهم ټوک ۱۸۱ مخ نه وروسته ته مراجعه وکړئ)

ایا دا هماغه څیز نه دی، چې په کامل کې د ابن اثیر په ویناپیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د خپل رسالت په پیل کې، چې کله دا آیت (و انذر عشیرتک الاقربین) نازل شو، خپل خپلوان راغونډ کړل او اسلام یې وروړاندې کړ. بیا یې وفرمایل: ایکم یوازرني علی هذ الامر علی ان یکون اخی و وصی و خلیفتی فیکم، په تاسو کې کوم یو په دې کار کې راسره مرسته کوي، چې په تاسو کې زما ورور، وصي او خلیفه شي.
هیچا د پیغمبر اکرم بلنې ته ځواب ورنه کړ، یوازې علي علیه السلام عرض وکړ «انا یا نبی الله اکون وزیرک علیه، زه به ای رسول الله په دې کار کې ستا وزیر او ملګری یم.
رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ورته اشاره وکړه او و یې فرمایل: (ان هذا اخی و وصیی و خلیفتی فیکم) دا هلک په تاسو کې زما ورور، وصي او خلیفه دی[1]
او ایا دا هماغه نه ده چې پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د خپل عمر په روستیو شپو کې غوښتل یو ځل بیا یې بیان کړي او ټینګار پرې وکړي او د صحیح بخاري په وینا امر یې وکړ چې: ایتوني اکتب لکم کتابا لن تضلوا بعده ابدا، ما ته یوه وسیله راوړئ چې یوه لیکنه درته وکړم، چې په برکت به یې تر ما روسته هېڅکله نه ګمراه کېږئ او د حدیث په دوام کې راغلي، چې ځینې کسانو له پیغمبر سره مخالفت وکړ او ان ډېرې سپکې خبرې یې وکړې او ددې کار مخه یې ونیوه.[2]
بیا تکراروم، چې دلته زموږ موخه په مختصر دلیل د عقایدو بیانول دي؛ نه زیات، که نه وي؛ نو بحثونه به په بل ډول وو.

## تر ځان روسته په امام د هر امام ټینګار

عقیده لړو: په دولسو امامانو کې هر یو امام تر ځان روسته د بل امام په راتللو ټنیګار کړی دی، چې لومړی یې علي ابن ابي طالب علیه السلام بیا یې زوی امام حسن مجتبی علیه السلام بیا یې بل زوی حسین بن علي سید الشهدا علیه السلام وروسته یې زوی علي بن الحسین علیه

۱. کامل ابن اثیر ۲ ټوک ٦٣ مخ، بیروت چاپ دارصاد همدا معنا په مختصر شان توپیر سره په مسند احمد حنبل، ۱ټوک۱۱ مخ او ابن ابی الحدید په شرح نهج البلاغه، ۱۳ ټوک ۲۱۰ مخ او نورو په نورو کتابونو کې نقل کړی دی.
۲. داحدیث بخاري په پنځم ټوک ۱۱ مخ باب (مرض النبي کې نقل کړی دی او تر هغه زیات واضح صحیح مسلم په دریم ټوک ۱۲۵۹ مخ کې ذکر کړی دی.

السلام بیا یې زوی محمد بن علي الباقر علیه السلام او بیا یې زوی جعفر ابن محمد الصادق علیه السلام بیا یې زوی موسی ابن جعفر علیه السلام وروسته یې زوی علي ابن موسی الرضا علیه السلام وروسته یې زوی محمد بن علي التقي علیه السلام بیا علي ابن محمد النقي علیه السلام او بیا حسن ابن علی العسکري علیه السلام او تر ټولو روستی یې محمد بن الحسن المهدي ـ سلام الله علیهم ـ دی او عقیده لرو، چې هغه اوس هم ژوندی دی؛ البته یوازې موږ نه یو چې د مهدي په وجود عقیده لرو، چې نړۍ به له عدل او انصافه ډکوي؛ لکه څرنګه چې به له ظلم او زیاتي ډکه وي. دا عقیده یوازې موږ ته ځانګړې نه ده؛ بلکې ټول مسلمانان پرې عقیده لري او ځینو اهل سنتو عالمانو د مهدي(عج) د روایتونو د متواتر والي په هکله روغ روغ کتابونه لیکلي دي، ان په هغه رساله کې چې څه موده مخکې د (رابطة العالم الاسلامي) لخوا د هغه پوښتنې په ځواب کې چې د حضرت مهدي علیه السلام په هکله خپره شوې وه، د مهدي د راښکاره کېدوه په مسلم او هرومرو والي په ټینګارسره له پېغمبر اکرم څخه د مهدي په هکله ډېر روایت شوي حدیثونه او اسناد ذکر کړي دي. [1]خو ډېر یې عقیده لري، چې مهدي(عج) به په اخره زمانه کې پیدا کیږي؛ خو موږ عقیده لرو، چې هغه دولسم امام دی او اوس هم ژوندی دی او په هغه وخت کې چې خدای ورته ماموریت ورکړي، له عدل اوانصافه به د ځمکې د ډکولو لپاره پاڅون کوي.

## علي علیه السلام تر ټولو اصحابو غوره و

عقیده لرو چې حضرت علي تر ټولو اصحابو غوره و او تر رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم روسته یې په اسلامي امت کې لومړ ی مقام درلود؛ خو سره له دې په دې مسئله کې هر ډول غلو او افراط حرام ګڼو او عقیده لرو، هغې چې د حضرت علي لپاره د خدایی مقام یا داسې بل څه قائل دي کافر دي او د مسلمانانو له لیکې وتلي دي اوموږ د هغوی له عقیدو بېزاره یو، که څه له بده مرغه د شیعه له نامې سره یې اغږل کېدل او ګډېدل په دې مسئله کې کله نا کله د غلط فهمۍ لامل کیږي. حال دا، تل د امامیه شیعه وو عالمانو دغه کسان له اسلامه بهر ګڼلي دي.

---

۱. دا لیک د ۱۳۹۶ کال د شوال په ۱٦ نیته د (رابطة العالم الاسامي) لخوا د (ادارة المجمع الاسلامي) دمشر المحمد المنتصر الکتاني په لاسلیک سره خپور شوی دی.

## اصحاب د عقل او تاریخ د قضاوت پر وړاندې

عقیده لرو: د پیغمبرصلی الله علیه و آله وسلم په اصحابو کې ستر سرښندونکي او غوره کسان وو او قرآن او اسلامي روایتونه یې په فضیلت کې ډېر بحثونه لري؛ خو ددې دا معنا نه ده، چې د پیغمبر اکرم ټول اصحاب معصوم او عملونه یې بې له استثنا صحیح وګڼو؛ ځکه قرآن په ډېرو آیتونو کې (په برائت، نور او منافقین سورتونو کې) د منافقانو خبره کوي، چې د پیغمبر اکرم د اصحابو په منځ کې وو او په ظاهره د پیغمبر اصحاب ګڼل کېدل، حال دا، قرآن په ډېرو سختو ټکیو غندلي دي. بلخوا داسې کسان هم وو، چې تر رسول الله روسته یې په مسلمانانو کې د جنګ اور بل کړ او د وخت له امام او خلیفه سره یې بیعت مات کړی او د زرګونو مسلمانانو وینې یې وبهولې، ایامونږ دغو ټولو کسانو ته له هر نظره پاک او سپېڅلي ویلای شو؟
په بله وینا: څرنګه د جنګ (مثلا د جمل او صفین د جنګونو) دواړه لوري سم او په حقه وګڼو؟
دا هغه تضاد دی، چې زمونږ لپاره د منلو وړ نه دی او هغه کسان، چې ددې خبرې د مخونې لپاره د[اجتهاد] په شان مسائل کافي ګڼي، چې په دوی کې یو لوری په حقه و او بل په غلطه؛ خو له دې امله چې په خپل اجتهاد یې عمل کړی، د خدای په نزد معذور؛ بلکې د ثواب خاوندان دي، مونږ ته ددې خبرې منل مشکل دي.
څرنګه د اجتهاد په پلمه د پیغمبر اکرم له ځاناستي سره بیعت ماتولای او بیا د جنګ اور بلولای شي او د زرګونو بېګناه کسانو وینه بهول کېدای شي. که دا دومره خونریزي په اجتهاد د مخونې وړ وي؛ بیا خو هر کار په اجتهاد مخونه ورکېدای شي.
صفا ووایو: عقیده لرو: ټول انسانان ان د پیغمبر اکرم اصحاب په خپل عمل پوړه دي او د قرآن دا اصل چې «إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ؛ په تاسوکې خدای ته تر ټولوغوره کس هغه دی چې زیات متقي وي[1]
په اصحابو کې هم صادق دی؛ نو باید حالت یې په عمل سره وارزوو او روښانه یې کړو او په دې ډول یې د ټولو په هکله یو منطقي قضاوت ولرو او ووایو: هغه کسان، چې د پیغمبرصلی الله علیه و آله وسلم په وخت کې د مخلصو اصحابو په لیکه کې وو او تر پیغمبرصلی الله علیه و آله وسلم روسته یې هم د اسلام د حفاظت هڅه وکړه او په هغه تړون، چې له قرآن سره یې

۱ ۱. حجرات سوره ۱۳ آیت

کړی و، وفاداره پاتې شول هغوی ښه ګڼو او درناوی یې کوو او هغه کسان، چې د پیغمبرصلی الله علیه و آله وسلم په وخت کې د منافقانو په لیکه کې وو او داسې کارونه یې وکړل، چې د رسول الله مبارک زړه یې خپه کړ او یا یې د پیغمبر اکرم تر وفات روسته خپله لار بدله کړه او داسې کارونه یې وکړل، چې د اسلام او مسلمانانو په تاوان شول؛ نو ورسره مینه ونه کړو. قرآن مجید فرمایي:

«لا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الإِيمَانَ؛ هیڅ قوم چې په خدای او د قیامت پر ورځ یې ایمان راوړی، نشې موندلی، چې له هغو کسانو سره، چې د خدای او د هغه د رسول نافرماني یې وکړه دوستي او مینه وکړي که څه د هغوی پلار ان ورونه یا یې خپلوان وي، دا هغه کسان دي، چې خدای تعالی یې ایمان په زړونو لیکلی دی»[1]

هو! هغه کسان، چې د پیغمبر په ژوند کې یا یې تر رحلت روسته آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وځوراوه زموږ په عقیده د ستاینې وړ نه دي.

خو باید هیر نه کړو، چې د پیغمبر اکرم ځینو اصحابو د اسلام د پرمختګ په لار کې سترې قرباني کړي او زیارونه یې ایستي دي او د خدای له لوري یې ستاینه شوې ده؛ همدا راز هغه کسان چې ترې روسته راغلل یا به په راتلونکي کې پیدا کیږي د دنیا تر پایه پورې، دوی که د ربښتینو اصحابو لارې ته دوام ورکړي اوکړلار یې جاري وساتي، د هر ډول مدحې اوستاینې وړ دي «وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ؛ له مهاجرو او انصارو لومړي مخکښان او هغه کسان، چې په نېکه یې د هغوی لاروي وکړه، خدای تعالی ترې خوشحاله شو او هغوی له خدایه خوښ دي.[2]

دا د پیغمبر اکرم د اصحابو په هکله زموږ د عقیدې نچوړ او لنډیز دی.

**د اهل بیتو امامانو علیه السلام علم له پیغمبرصلی الله علیه و آله وسلم څخه دی**

عقیده لرو: د هغه حکم له مخې، چې د خدای رسولصلی الله علیه و آله وسلم د متواترو روایتونو پر بنسټ د قرآن او اهل بیتو علیه السلام په هکله موږ ته راکړی چې د دغو دوو لمن پرې نه ږدو، چې هدایت شو او همداراز دې ته په پام سره، چې موږ، امامان علیه السلام چې له اهل بیتو دي، معصوم ګڼو، د هغوی ټولې خبرې او عمل زموږ لپاره حجت او سند دی او

---

۱. مجادله سوره ۲۲ آیت

۲. توبه سوره ۱۰۰ آیت

همداراز يې تقرير (؛ يعني كه د دوی په مخکې کوم کار وشي او منع يې نه کړي) نو تر قرآن اوپيغمبرصلی الله عليه و آله وسلم روسته زموږ يوه فقهي منبع د امامانو عليه السلام وينا، عمل او تقرير دی.

او چې کله دې ټکي ته پام وکړو، چې له ډېرو او معتبرو روايتونو سره سم، امامانو عليه السلام فرمايلي دي: څه چې وايي له خپلو پلرونو، نيکونو او په اخر کې تر پېغمبره صلی الله عليه و آله وسلم نقلوي او په دې پوهېږو چې له پېغمبره د ثقه او باوري کس روايتونه د اسلام د ټولو عالمانو په نزد د منلو وړ دي.

امام محمد بن علي الباقر (جابر ته) وفرمايل: يا جابر انا لو كنا نحدثكم برايناو هوانا لكنا من الهالكين، و لكنا نحدثكم باحاديث نكنزها عن رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم : جابره! كه موږ د خپل نفس او هوا په غوښتنه تاسو ته کوم حديث نقل کړو له هلاک شويو کسانو به وګرځو. خو موږ تاسو ته داسې حديثونه نقلوو، چې له رسول الله مبارک مو د يوې خزانې په شان ستاسو لپاره زېرمه کړي دي. [1]

له امام صادق عليه السلام نه يو بل حديث دی، چې يو کس له آنحضرته پوښتنه وکړه، هغوی ځواب ورکړ، هغه کس د امام د نظر د بدلولو لپاره بحث او خبرې اترې پيل کړې، امام صادق عليه السلام وفرمايل: داخبرې پرېږده (ما اجبتک فيه من شيء فهو عن رسول الله) هر ځواب مې چې د يو څيز په هکله درکړ له پېغمبرهصلی الله عليه و آله وسلم دی (او د بحث ځای نه لري). [2]

پاموړ ټکی دادی چې موږ په حديث کې معتبرې سرچينې لکه «کافي، تهذيب، استبصار او من لايحضره الفقيه» او داسې نورې لرو؛ خو زموږ له نظره د دغو منابعو معتبروالی په دې معنا نه دی، چې هر روايت چې پکې دی، زموږ له نظره د منلو وړ وي، موږ د روايتونو په څنګ کې د رجال کتابونه لرو، چې د سندونو په ټولو سلسلو کې د اخبار (حديثونو) د راويانو حال پکې بيان شوی دی، زموږ له نظره هغه روايت د منلو دی، چې د هغه د سند په سلسله او شمېرې کې ټول کسان يې ثقه او باوري وي؛ نو هغه روايتونه، چې په دغو کتابونو کې راغلي، که دغه شرط ونه لري زموږ له نظره د منلو وړ نه دي.

پردې سربېره کېدای شي يو روايت داسې وي، چې د سند سلسله يې هم معتبره وي؛ خو زموږ عالمانو او فقيهانو له اوله تر اوسه پرې سترګې پټې کړې او ترې تېر شوي وي؛ ځکه نورې

---

۱. جامع احاديث الشيعه، اول ټوک ۱۸ مخ د ۱۱۸ حديث له مقدماتو

۲. اصول کافي اول ټوک ۵۸ مخ ۱۲۱ حديث

غلطۍ او خنډونه يې پکې موندلي وي؛ موږ دغه روايت ته (معرض عنها) وايواو زموږ له نظره اعتبار نه لري.
له دې څانه روښانېږي، چې هغه کسان، چې زموږ پر عقيدې دپوهېدو لپاره يوازې په هغو ځينو روايتونو، چې په دغو کتابونو کې راغلي، استناد کوي بې له دې چې د سندس په هکله يې تحقيق وکړي سمه لار نه وهي.
په بله وينا: په ځينو مشهورو اسلامي مذهبونو کې د (صحاح) په نامه کتابونه شته چې د دوی د روايتونو صحيحوالی د دوی د ليکونکو لخوا تضمين شوی دی او نور هم پرې د سموالي ټاپه وهي؛ خو زموږ په نزد معتبر کتابونه داسې نه دي؛ بلکې داسې کتابونه دي، چې ليکونکي يې ستر او باوري کسان دي؛ خو د دغو کتابونو د روايتونو د سند صحيحوالی، د علم رجال په کتابونو کې د سند د رجالو په ارزونې پورې تړلی دی.
دې ټکي ته (چې ومو وايه) پام کول د هغو ډېرو پوښتنو ځواب ويلی شي، چې زموږ د عقيدې په هکله موجود دي، لکه څرنګه چې ترې غفلت زموږ د عقايدو په هکله د ډېرو تېروتنو او غلطيو لاملېدای شي.
په هر حال د قرآن مجيد تر آيتونو روسته د پيغمبرصلی الله عليه و آله وسلم روايتونه او د اهل بيتو د دولسو امامانو عليه السلام حديثونه زموږ په نزد معتبر دي، په دې شرط چې د دغو روايتونو صدور په معتبره طريقه له امامانو عليه السلام معلوم شي.